د مسؤل مدير يادښت:

پوهه او څېړنې د ژوند لوری بدلولی شي!

دا چې د انسان ظاهري بڼه خوراک، څښاک، پوښاک او د ژوند ټولو اړينو مادي توکو ته ضرورت لري، په همدې توګه له معنوي اړخه تر دې زيات دالهيت او انسانيت پېژندنې لپاره زده کړې او پوهې ته اړتيا لري. همدا وه، چې الله تعالی د انسانانو پلار ادم (عليه السلام) له پيدا ايښت وروسته د علم څښتن وګرځاوه او په خپل دې ستر نعمت سره يې پر ملايکو د کاميابۍ او برترۍ لوړ مقام وروباښه.
که د لومړني انسان ادم (عليه السلام) د علم له برکته کاميابي په برخه شوه، د نوموړي په څېر د نبوت په سلسله کې تر ټولو وروستی بهترين شخصيت حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د (اقرأ) ولوله په الفاظو سره د لومړي ځل لپاره د الله جل جلاله د استازي له لوري مخاطب کړی شو. خو د علم په ډګر کې بيا د هغه د ستر نيکه او د انبياو د پلار حضرت ابرهيم (عليه السلام) څېړنيز عملي ثبوت او کړنلاره د ستورو، سپوږمۍ او لمر د خدايتوب څخه انکار له ياده نه شو ويستلی.
له همدې کبله په عربي ژبه کې د تحقيق يوه معنی مضبوطتيا او ثبات ده، چې زده کړه او علم په څېړنو او ليکنو سره پوخوالی مومي، له نشت څخه يې شته کوي او د انسان د شخصيت او علميت ترجماني کوي.

نو راځئ!
چې د خپل ستر لارښود (صلی الله عليه وسلم) د وينا سره سم ((قيدو العلم بالکتاب –او- بالکتابة)) يعنې علم په ليکنې سره مهار کړئ، عمل ته متې راونغاړو او د هېواد د بچيانو، علمي، معنوي او مادي پرمختګ لپاره پوهنتونونه او علمي مجلې په ريښتينو علمي څېړنو ښکلې او د هېواد دا ستر علمي بنسټونه د نړۍ د پوهنتونونو سره سيال وګرځوو.

په همدې هيله

پوهنوال اسرارالحی منيب
د پوهې علمي مجلې سرپرست مدير

د ننګرهار پوهنتون د رئیس پېغام:

درنو لوستونکو، قدرمنو استادانو، زړه ته راتېرو محصلینو او مینه والو !

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته.

خوشاله یم، چې پوهه یو ځل بیا د چاپ په ګاڼه ښکلې او ستاسې مخې ته علمي او پوهنیز مطالب ږدي، د ننګرهار پوهنتون پوهو او علمي کادرونو تل هڅه کړې چې د خپل پوهنتون د علمي بډاینې تر څنګ د ختیزې او جنوب ختیزې سیمې د نویو جوړو شویو پوهنتونو نو پوهنیزه وړتیا هم لوړه کړي نو په همدې پار یې د دوی د علمي ترفیعاتو، ازموینو، کنفرانسونو او نورو چارو په تر سره کولو کې خولې توبې کړې دي.

د ننګرهار پوهنتون نوې رهبري، د پوهنتون د علمي، چارو د پرمختګ تر څنګ د پوهنتون فزیکي چا پیریال ته هم پام ور اړولی دی، او دا چاره مو له فرهنګي اړخه پېل کړې ده، زموږ ګمان دادی چې موږ پوهنتون فرهنګي نه کړو، د علمي چارو پرمختګ به یې ستونزمن وي. ددې کار عملي بېلګې د پوهنتون او د بېلابېلو پوهنځیو بروشرونه، او پېژندلیکونه، د پوهنتون عمومي لوحې، د کنفرانس هال رغونه، د پارک جوړونه، او د بېلابېلو لوبو سیالۍ دي چې وخت پر وخت په پوهنتون کې جوړیږي.

ددې تر څنګ د کیفیت د تضمین په برخه کې، د پوهنتون اداري ګټور ګامونه پورته کړي دي او تر ډېره په دې اروزونه کې د پوهنتون حالت ښه ښودل کېږي. خو لا هم ډېرو هڅو ته اړتیا ده چې د پوهنتون د فزیکي چاپېریال او علمي برخو د پیاوړې کولو لپاره وشي.

لکه څرنګه چې مو ژمنه او تعهد دی موږ به هڅه کوو چې په رښتیني ډول د پوهنتون د سمسورتیا لپاره کار وکړو.

په دې برخه کې د وزارت له محترم مقام، او د ننګرهار له ولایتي ادارې نه هیله لرو چې زموږ غږ واوري، پر خپلو درنو استادانو او د علمي کادر پر غړو هم غږ کوو چې د پوهنتون په سمسورتیا کې راسره لاس یو کړي او په ګډه هغه حق ادا کړو چې دا پوهنتون، او خپل ځوان نسل یې پر موږ لري نور ستاسې وخت نه نیسم.

د هیواد د ښیرازۍ او د ننګرهار پوهنتون د هر اړخیزې سمسورتیا په هیله

پوهندوی ببرک میاخېل

د ننګرهار پوهنتون رئیس

پوهندوی دوکتور عزيزالرحمن (مکي)
شرعياتو پوهنځي اسلامي تعليماتو څانګه
تقريظ ورکوونکی: پوهاند دوکتور دل اقا (وقار)
د شرعياتو پوهنځي استاد

د امام ابو داود په سنن کې مسکوت عنه احاديث

(هغه احاديث چې حکم يې ورباندې نه دی کړی)

لنډيز:

امام ابوداود په خپله هغه رساله کې چې د مکې مکرمې خلکو ته يې د خپل کتاب السنن د احاديثو په هکله معلومات ارايه کړي داسې يې ليکلي ؤ: هغه احاديث چې دهغو په هکله يې سکوت(چوپتيا) اختيار کړي هغه صالح دي.
څرنګه چې دنوموړي دغه اصطلاح (صالح) دوه احتماله لري، چې يو يې د احتجاج صلاحيت دي، او بل يې د اعتبار صلاحيت دي، له دې کبله علماء هم د امام ابوداود دنوموړي اصطلاح په هکله په دوو ډلو وېشل شوي، ځينو په لومړي ډول تعبير کړې، او ځينو نورو په دويم ډول.
خو څرنګه چې نوموړو علماؤ د خپلې وينا لپاره دلايل نه وو وړاندې کړي، او نه يې هم په دې اړه کومه دقيقه احصائيه وړاندې کړې وه، و مې غوښتل چې دغه موضوع په علمي ډول وڅيړم او د شواهدو پر بنسټ کره معلومات ارايه کړم.

سريزه:

په دريېمه هجري قمري پيړۍ کې دنبوي احاديثو تدوين په پراخه پيمانه ترسره شو، ځکه چې د احاديثو شپږ مشهور کتابونه[1]، مصنفات[2] او مسانيد[3] په همدې پيړۍ کې تأليف شول، له دې کبله دريېمه هجري قمري پيړۍ د نبوي احاديثو دخدمت لپاره زرينه پيړۍ بلل کيږي.
دنبوي احاديثو د شپږو مشهورو کتابونو له جملې څخه يو هم دامام ابوداود د سنن کتاب دی، چې د نوموړو شپږو کتابونو په منځ کې د محدثينو له نظره دريېم مقام لري. امام ابوداود په خپل دې کتاب کې هڅه کړې چې د فقهي احکامو اړوند احاديث را ټول کړي، څرنګه چې په فقهي احکامو کې په هغو احاديثو استدلال کېږي چې هغه د قبول وړ وي، له دې کبله دغه کتاب د علماؤ پام ځانته را وګرځاوه، خو څرنګه چې په کتاب کې د ذکر شويو احاديثو دهر حديث حکم په صراحت سره نه دی بيان شوی، او نه هم امام ابوداود په دې هکله خپله تګلاره بيان کړې، نو علماؤ ته د کتاب د احاديثو د مرتبې په هکله پوښتنې را پيدا شوي، تر دې چې د مکې مکرمې علماؤ امام ابوداود ته په دې هکله ليک وليږه او دهغه څخه يې د کتاب د احاديثو په هکله معلومات وغوښتل.
امام ابو داود د هغوی ليک ته په ځواب کې د کتاب د احاديثو په هکله داسې معلومات وړاندې کړل، چې د علماؤ پوښتنې او نيوکې يې را وپارولې، او د نوموړې ليکنې په هکله يې مختلف نظرونه رامنځته کړل، چې تفصيل به يې وروسته راشي.
په پيل کې به د دې څېړنې د عنوان مفهوم واضح کړم او وروسته به په اصلي موضوع خبرې وکړم.
سنن: عربي کلمه ده چې د سنة د کلمې جمع ده، او سنة په لغت کې: "السيرة والطريقة المعتادة حسنة كانت أو قبيحة" (۲: ج ۱۳، ص ۲۲۵). يعنې: سنت په لغت کې سيرت او عادت شوې طريقې ته ويل کېږي ښه وي او که بده.

---

[1] يعني: صحيح بخاري، صحيح مسلم، سنن ابي داود، سنن الترمذي، سنن النسائي او سنن ابن ماجه.
[2] يعني: مصنف د عبد الرزاق او مصنف د ابوبکر ابن ابي شيبة.
[3] لکه: د ابوبکر ابي شيبة مسند، د امام احمد مسند، د ابويعلي مسند او داسې نور.

او په اصطلاح کې: د احاديثو هغو کتابونو ته ويل کيږي چې ددين د زياتو بابونو په هکله په کې مرفوع احاديث ذکر شوي وي او موقوف احاديث په کې نه وي يا ډېر کم وي، ځکه چې محدثين موقوف حديث ته سنت نه وايي، بلکه حديث ورته وايي. (۱۱: ص ۲۱).

ابوداود: نوم يې سليمان بن الأشعث بن الجارود سيستاني دی، چې په کال (۲۰۲ ه) کې د سيستان (اوسني نيمروز) په سيمه کې زيږيدلی او وروسته بغداد ته تللی دی، او هلته يې د ژوند زياته برخه تېره کړې ده، د عمر په آخره کې د عباسي خلافت د يو امير له خوا بصرې ته وغوښتل شو او هلته څه موده پاتې شو، او بيا بېرته بغداد ته راغی او هلته په کال (۲۷۵ ه) کې وفات شو.

مسکوت عنه: مسکوت د اسم مفعول صيغه ده، او مراد ترې دلته هغه احاديث دي چې امام ابوداود يې په هکله په خپل کتاب کې سکوت (چوپتيا) اختيار کړې او څه حکم يې پرې نه دی کړی.

احاديث: د حديث جمع ده، او په لغت کې: د قديم (پخواني) ضد دي (۲: ج۲، ص ۱۳۱).

حديث په اصطلاح کې: "ما أضيف إلى النبي صلى الله عليه وسلم من قول أو فعل أو تقرير أو وصف خِلقيّ أو خُلُقيّ". (۱۰: ۲۲).

يعنې: هغه څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته منسوب شوي وي قول وي که فعل او که تقرير، او خلقتي صفت وي يا اخلاقي صفت.

موخې:

ددې څېړنې موخې دادي:

- دامام ابوداود په کتاب کې د مسکوت عنه داصطلاح مفهوم، څرنګوالی او دنوموړو احاديثو کره شمېره معلومول.
- د امام ابوداود د نوموړې وينا مطابقت او پرتله کول د کتاب د واقعيت سره.
- د کتاب د احاديثو هر اړخيزه څېړنه.

منځپانګه:

کله چې امام ابوداود رحمه الله د (السنن) کتاب تاليف کړ، او هغه مهال د اسلامي خلافت په لويو ښارونو کې د علماؤ لاسونو ته ورسيد، هغوی ته ځينې پوښتنې پيدا شوې، دهغو له جملې څخه د مکې مکرمې علماؤ امام ابوداود ته يو ليک وليږه او د هغه څخه يې د هغه د کتاب د احاديثو په هکله معلومات غوښتي وو چې آيا د کتاب ټول احاديث صحيح دي که څنګه؟ امام ابوداود دهغوی د ليک په ځواب کې د خپل کتاب په هکله داسې څرګندونه کړې: "ذَكَرْتُ فِيهِ الصَّحِيحَ وَمَا يُشْبِهُهُ وَيُقَارِبُهُ، و مَا كَانَ فِي كِتَابِي مِنْ حَدِيثٍ فِيهِ وَهَنٌ شَدِيدٌ فَقَدْ بَيَّنْتُهُ، وَمَا لَمْ أَذْكُرْ فِيهِ شَيْئًا فَهُوَ صَالِحٌ" (۳: ۲۵).

ژباړه: ما په خپل کتاب کې صحيح او صحيح ته ورته او هغه ته نږدې احاديث ذکر کړي دي، او زما په کتاب کې چې کوم احاديث ډېر ضعيف دي هغه مې بيان کړي دي، او د کوم حديث په هکله مې چې څه نه دي ويلي هغه صالح دي.

هغه دا هم ويلي چې زه به ټول منکر [۴] روايات بيانوم. او دا يې هم ويلي چې: د سنن په کتاب کې د هيڅ متروک [۵] راوي څخه روايت نشته (۳: ۲۵).

او له هغه څخه داعبارت هم نقل شوي چې: ما په خپل کتاب کې داسې حديث نه دي ذکر کړي چې ټولو خلکو ترک کړي وي (۷: ج۱، ص ۲).

د پورته عبارتونو څخه دا تر لاسه کيږي چې امام ابو داود په خپل کتاب کې د مختلفو مراتبو لرونکي احاديث ذکر کړي دي، او د کتاب ټول شديد الضعف احاديث يې بيان کړي دي، او همدارنګه هغه احاديث چې د هغو پر وړاندې يې سکوت (چوپتيا) اختيار کړې هغه صالح دي. دامام ابوداود دغه عبارت پوره واضح نه دي.

---

[۴] منکر: هغه حديث ته ويل کيږي چې ضعيف راوي يې روايت کړي او د ثقة راوي د روايت سره مخالف وي (۱۰: ۱۱۴).

[۵] متروک: هغه راوي ته ويل کيږي چې د حديثو په روايت کې په دروغو ويل تورن وي او دهغه روايت شوي حديث بل څوک روايت نه کړي. او دغه راز په خبرو کې په دروغو پيژندل شوي وي که څه هم چې په حديثو کې به داسې څه ترې څرګند شوي نه وي (۱۰: ۲۹۹).

له دې کبله امام ابراهيم البقاعي (ت ۸۸۵ ه) د امام ابوداود د کتاب د اصطلاحاتو په هکله وايي:
د امام ابوداود د نوموړي عبارت څخه څرګندېږي چې په خپل کتاب کې يې احاديث پنځه مرتبو ته ويشلي دي:
لومړي صحيح: او کېدای شي مطلب يې صحيح لذاته وي.
دويم: صحيح ته ورته: او کېدای شي مطلب يې صحيح لغيره وي.
دريم: صحيح ته ورنږدې: او کېدای شي مطلب يې حسن لذاته وي.
څلورم: هغه چې ضعف يې ډېر شديد وي، او هغه چې داسې نه وي، ددې عبارت څخه دا لاس ته راځي چې هغه احاديث چې ضعف يې ډېر شديد نه وي، که چېرته تقويه نه شو نو هغه د صلاحيت وړتيا لري چې دا يې پنځم ډول کيږي، خو که تقويه شو نو د مجموع په اعتبار حسن لغيره دي او شپږم ډول کيږي.) (۲: ج ۷، ص ۳۰).

***

د امام ابوداود د سنن کتاب په هکله د علماؤ نظر:
ځينو علماؤ د نبوي احاديثو د پنځو مشهورو کتابونو (صحيح بخاري، صحيح مسلم، سنن ابي داود ، سنن الترمذي، سنن النسائي) په هکله چې دامام ابوداود د سنن کتاب په کې دريم مقام لري داسې ويلي دي: ددې کتابونو په صحت د شرق او غرب علماؤ اتفاق کړی دی (۷: ج ۴، ص ۳۲۲).
دغه راز صديق حسن خان القنوجي هم دې ته ورته نظر لري، ځکه هغه د نوموړو پنځو کتابونو او ورسره د سنن ابن ماجه کتاب په هکله يو کتاب ليکلی چې (الحطة في ذکر الصحاح الستة) يې نومولی دی.
خو علماؤ دا دواړه خبرې مبالغه بللي، ځکه چې امام ابوداود په خپله د خپل کتاب د ټولو احاديثو د صحت خبره نه ده کړې، بلکه د ضعيفو احاديثو په شتون يې اعتراف کړی، خو دا يې ويلي چې هغه مې په ګوته کړي دي.
دامام ابوداود د (صالح) داصطلاح په هکله د علماؤ نظر:
څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه علماء د امام ابوداود د نوموړې اصطلاح په هکله دوه نظرونه لري، چې په لاندې ډول بيانيږي.
لومړی نظر:
امام ابو عمرو عثمان بن عبدالرحمن (ت ۶۴۳ ه) چې په ابن الصلاح شهرت لري د امام ابوداود په نوموړي عبارت داسې ليکنه کړې ده:
" مَا وَجَدْنَاهُ فِي كِتَابِهِ مَذْكُورًا مُطْلَقًا ، وَلَيْسَ فِي وَاحِدٍ مِنَ الصَّحِيحَيْنِ ، وَلَا نَصَّ عَلَى صِحَّتِهِ أَحَدٌ مِمَّنْ يُمَيِّزُ بَيْنَ الصَّحِيحِ وَالْحَسَنِ ، عَرَفْنَاهُ بِأَنَّهُ مِنَ الْحَسَنِ عِنْدَ أَبِي دَاوُدَ " (۱: ۳۲).
ژباړه: د هغه – يعنې ابوداود - په کتاب کې چې کوم احاديث په مطلق ډول ذکر شوي دي (دهغو په هکله يې څه نه دي ويلي) او هغه په صحيح بخاري يا صحيح مسلم کې هم نه وي او نه يې دصحت په اړه هغه چا چې د صحيح او حسن تر منځ په توپير قايل دي څه تصريح نه وي کړی نو هغه احاديث دامام ابو داود له نظره حسن دي.
د امام ابن الصلاح ددې وينا څخه داسې څرګندېږي چې امام ابوداود فقط په هغو احاديثو باندې سکوت اختيار کړی چې هغه د صحيح يا حسن په رتبه کې دي.
دويم نظر:
امام شمس الدين محمد بن احمد الذهبي (ت ۷۴۸ ه) دامام ابوداود په نوموړي عبارت داسې ليکنه کړې ده:
(فقد وفى - رحمه الله - بذلک بحسب اجتهاده، وبيّن ما ضعفه شديد ، ووهنه غير محتمل، وکاسر عن ما ضعفه خفيف محتمل، فلا يلزم من سکوته - والحالة هذه - عن الحديث أن يکون حسنا عنده، ولا سيما إذا حکمنا على حد الحسن باصطلاحنا المولد الحادث، الذي هو في عرف السلف يعود إلى قسم من أقسام الصحيح، الذي يجب العمل به عند جمهور العلماء،... فکتاب أبي داود أعلى ما فيه من الثابت ما أخرجه الشيخان، وذلک نحو من شطر الکتاب، ثم يليه ما أخرجه أحد الشيخين، ورغب عنه الآخر، ثم يليه ما رغبا عنه، وکان إسناده جيدا ، سالما من علة وشذوذ ، ثم يليه ما کان إسناده صالحا ، وقبله العلماء لمجيئه من وجهين لينين فصاعدا ، يعضد کل إسناد منهما الآخر ، ثم يليه ما ضعف إسناده لنقص حفظ راويه،

فمثل هذا يمشيه أبو داود، ويسكت عنه غالبا، ثم يليه ما كان بين الضعف من جهة راويه، فهذا لا يسكت عنه، بل يوهنه غالبا، وقد يسكت عنه بحسب شهرته ونكارته، والله أعلم. (٨: ج ١٣، ص ٢١٤- ٢١٥).

ژباړه: (امام ابوداود) د خپل اجتهاد له مخې په کړې ژمنه وفا کړې، او که د کوم حديث ضعف شديد وي يا دا چې ضعف يې د بل څه احتمال و نه لري نو هغه يې بيان کړي خو که ضعف يې کم او د احتمال جوګه وي نو په دې حالت کې هم د نوموړي له چوپتيا څخه دا نه لازميږي چې نوموړي حديث دې د هغه په نزد حسن وي، په ځانګړې توګه که موږ د حسن حديث په نوې بڼه او اصطلاح سره واخلو نو بيا خو د سلفو په عرف کې د صحيح حديث له هغو اقسامو څخه ګڼل کېږي چې د جمهورو علماؤ په نزد پرې عمل کول واجب دي.

امام ذهبي دابوداود د کتاب احاديث په لاندې توګه ډلبندي کړي دي:

(د ابوداود په کتاب کې لوړ رتبه احاديث هغه ثابت احاديث دي چې بخاري او مسلم دواړو په خپلو کتابونو کې روايت کړي دي، او د ابوداود د کتاب د ټولو احاديثو تقريبا نيمايي برخه تشکيلوي، تر دې وروسته هغه احاديث دي چې يوازې بخاري يا مسلم روايت کړي دي، تر دې وروسته هغه صحيح احاديث دي چې اسناد يې د هر ډول شذوذ او علت څخه خالي دي خو په صحيح بخاري يا صحيح مسلم کې نه دي روايت شوي، تر دې وروسته هغه احاديث چې اسناد يې صالح دي او علماؤ له دې کبله قبول کړي چې ددو يا زياتو ضعيفو لارو څخه روايت شوي او يو بل تقويه کوي، تر دې وروسته هغه احاديث دي چې اسناد يې د راوي د حافظې د کمزورۍ له امله ضعيف وي، دا ډول احاديث امام ابو داود په خپل کتاب کې ذکر کوي، او غالبا سکوت پرې اختياروي، تر دې وروسته هغه احاديث دي چې د راوي له کبله يې ضعف څرګند وي، د دا ډول احاديثو پر وړاندې ابوداود چوپ نه پاتې کېږي، بلکه ضعف يې بيانوي، او کيداي شي د حديث د ضعف د شهرت يا منکر والي له کبله پرې چوپ پاتې شي).

***

د امام ابوداود د نوموړي عبارت او د علماؤ د دريځ د بيان وروسته دا اړينه برېښي چې د امام ابوداود نوموړی عبارت په دقيقه توګه تحليل او وڅېړل شي، تر څو يې د کتاب د فعلي وضعيت سره تطابق تر لاسه شي، دې موخې ته درسيدو لپاره مې د امام ابوداود د کتاب احاديث له پيل څخه تر پايه ټول له نظره تېر کړل، او موضوع مې په لاندې ډول را ونغاړله:

و مو ليدل چې امام ابن الصلاح د ابو داود دکتاب پر مسکوت عنه احاديثو دحسن حکم کړ دی، البته په دې شرط چې کوم بل معتبر عالم پرې د صحيح حکم نه وي کړی.

او امام ذهبي ويلي: د نوموړي د ذکر شوې اصطلاح په اساس د هغه دکتاب احاديث متفاوت مراتب لري، په دې معنی چې په هغو کې صحيح، حسن او ضعيف هم شته، او غالبا مسکوت عنه احاديث صحيح احاديث دي.

او دا چې امام ابوداود ويلي: زما د سنن په کتاب کې د کوم متروک الحديث راوي روايات نشته، علماؤ په دې هکله څېړنه کړې او يو شمېر راويان يې وموندل چې په لاندې توګه ورڅخه يادونه کوم:

اسحاق بن ابي فروة، الحارث بن وجيه، عمرو بن واقد العمري، سليمان بن ارقم، ابو جناب الکلبي، محمد بن عبد الرحمن بن البيلماني، جابر بن يزيد الجعفي، صدقه بن فرقد الدقيقي او نور.

څرنګه چې دا دواړه قولونه سره له غوراوي يې موږ ته د (مسکوت عنه) د اصطلاح، او د نوموړو احاديثو کره شميره نه راښيي، له دې کبله ددې څېړنې اړتيا رامنځته شوه، چې په نتيجه کې لاندې حقائق را برسيره شول:

نوموړې اصطلاح د احاديثو لاندې ډولونه دربر نيسي: صحيح، حسن، ضعيف، شديد ضعيف او حتی موضوعي هم.

د امام ابوداود په کتاب کې ټول پنځه زره دوه سوه څلور اويا (٥٢٧٤) احاديث دي.

له دې جملې څخه: څلور زره اوه سوه دېرش (٤٧٣٠) احاديث مسند دي، او پنځه سوه څلور څلويښت (٥٤٤) احاديث مرسل دي.

هغه احاديث چې امام ابوداود پرې په صراحت حکم کړی دی په لاندې ډول دي:

صحيح: ٢، حسن: ١، ضعيف: ١٥، منکر: ١٤، منقطع: ١٢، نور علت لرونکي: ٥٥.

د نوموړو ټولو ډولونو داحاديثو شميره يو سل او درې (١٠٣) دی.

د ټولو مسکوت عنه احاديثو کره شمېره پنځه زره يو سل او يو اويا ۵۱۷۱ ده، ځکه چې: ۵۲۷۴ – ۱۰۳ = ۵۱۷۱ احاديثو سره ده.

دغه راز د امام ابوداود د کتاب د ټولو احاديثو له جملې څخه د هغو احاديثو شمېره چې:

په صحيح بخاري او صحيح مسلم کې روايت شوي: ۹۱۷.

يوازې په صحيح بخاري کې روايت شوي: ۲۲۹.

يوازې په صحيح مسلم کې روايت شوي: ۲۲۱.

ددې ټولو احاديثو شمېره يوزر اوه سوه اوه شپېته (۱۷۶۷) چې تقريبا د کتاب د ټولو احاديثو دريېمه برخه کېږي ځکه چې: ۵۲۷۴ ÷ ۳ = ۱۷۵۸. او دا د امام ذهبي د وينا بر خلاف چې ويلي دي شمېره يې د کتاب نيمايي احاديث دي.

د امام ابوداود د کتاب د هغو احاديثو شمېره چې د سننو په نورو کتابونو کې روايت شوي: (۱۴۵) ده.

نتيجه:

ددې څېړنې څخه جوته شوه چې د امام ابوداود د کتاب ډېر احاديث مسکوت عنه دي، او هغه د مختلفو مراتبو لرونکي احاديث دي، چې په هغو کې صحيح او غير صحيح احاديث شامل دي، د مسکوت عنه احاديثو څخه هغه احاديث چې په صحيحينو او د سننو په نورو کتابونو کې روايت شوي دي امام ابوداود پرې حکم نه کوي، علت يې دا دی چې هغه د علماؤ تر منځ مشهور دي، هغه په دې هکله په خپله نوموړې رساله کې ويلي دي: (زما د کتاب د احاديثو زياته برخه مشهور احاديث دي، او دا د فخر ځای دی چې هغه مشهور دي). (۳: ۲۹).

پاتې شو نور مسکوت عنه احاديث چې امام ابوداود يې په هکله ويلي هغه د صلاحيت لرونکي دي، او په دې هکله د علماؤ نظرونه مخکې بيان شول.

امام ابو داود د خپل کتاب شپږ څلويښت (۴۶) احاديث ضعيف ګڼلي چې دا ډېره کمه شمېره ده، په داسې حال کې چې شيخ محمد ناصر الدين الباني د امام ابو داود د کتاب احاديث څېړلي چې زه يې د ضعيفو احاديثو د شمېرې خلاصه په لاندې ډول را نقلوم:

ضعيف احاديث: ۸۲۵، ډېر ضعيف (ضعيف جدا): ۷، منکر: ۴۶، موضوعي: ۲ چې په (۵۰۸۱ او ۵۲۷۳) شمېرو کې روايت شوي.

چې د نوموړو ټولو مجموعه نهه سوه شل (۹۲۰) احاديث کېږي، چې د کتاب د ټولو احاديثو (۱۷٪) جوړوي.

د يادوني وړده چې امام ابو داود په خپل کتاب کې په دوه حديثونو (چې په ۴۸۴۲ او ۴۹۲۴ شمېرو ذکر شوي) د منکر حکم کړي او الباني يې مخالفت کړی او د صحيح حکم يې پرې کړی.

مناقشه:

ځينو علماؤ د امام ابوداود په کتاب السنن کې د مسکوت عنه د اصطلاح په هکله پرته له کومې څېړنې او تدقيق ويلي چې په نوموړي کتاب کې ټول احاديث صحيح دي او په دې موضوع باندې د لويديځ او ختيځ ټول علماء متفق دي.

ځينو نورو بيا په نوموړي کتاب کې د مسکوت عنه احاديثو په هکله ويلي چې: که بل چا پرې د صحيح حکم نه وي کړی، نو هغه د حسن په مرتبه کې دي.

ځينو نورو بيا په نوموړي کتاب کې د صحيحو احاديثو کچه د نوموړي کتاب د ټولو احاديثو نيمايي برخه ښوولې ده، او دا يې هم ويلي دي چې امام ابو داود د خپل کتاب ټول ضعيف احاديث بيان کړي دي.

خو دغې څېړنې دا وښوده چې د نوموړو ټولو ويناؤ څخه يوه هم کوم دقيق څېړنيز او احصائيوي بنسټ نه لري، بلکه حقيقت بل شی دي، او هغه دا چې د امام ابوداود په کتاب السنن کې ټول مسکوت عنه احاديث صحيح نه دي، بلکه په کتاب کې مختلف النوع احاديث وجود لري، چې په هغو کې صحيح، حسن، ضعيف، ډېر ضعيف، او موضوع وجود لري، البته زياته برخه مسکوت عنه احاديث صحيح دي، او لږه برخه يې ضعيف احاديث تشکيلوي.

دغه راز دغې څېړنې دا وښوده چې امام ابوداود دخپل کتاب ټول ضعيف احاديث نه دي بيان کړي، بلکه د هغه له خوا بيان شوي کچه د ټولو ضعيفو احاديثو (۹ ٪) تشکيلوي.

وړانديزونه:

۱. د نبوي احاديثو د کتابونو هر اړخيز خدمت، تر څو خلک په ډاډه زړه پرته له کوم تردد څخه ترې ګټه واخلي.
۲. د نبوي احاديثو د کتابونو په هکله دځينو علماؤ د اقوالو څېړنه او حقايق راڅرګندول.
۳. علمي څېړنيزو مؤسساتو ته وړانديز کوم چې دغه ډول څېړنو ته ځانګړې پام وکړي او ددې لپاره اړين امکانات برابر کړي.
۴. د نبوي احاديثو متخصصينو ته وړانديز کوم چې دنبوي احاديثو په هکله په څېړنيزو ګټور بحثونو لاس پورې کړي او خپاره يې کړي تر څو د خلکو د استفادې وړ وګرځي.

ماخذونه:

۱. ابن الصلاح، عثمان بن عبدالرحمن.(۱۹۸۶). علوم الحديث، تحقيق نور الدين عتر، سورية، دارالفكر.
۲. ابن منظور، محمد بن مكرم.(بدون). لسان العرب، بيروت، دار صادر.
۳. ابوداود، سليمان بن الأشعث.(بدون). رسالة أبي داود، تحقيق محمد لطفي الصباغ، بيروت، دار العربية.
۴. ابوداود، سليمان بن الأشعث.(بدون). سنن أبي داود، تحقيق: عزت عبيد الدعاس و عادل السيد، القاهرة، دار الحديث.
۵. الألباني، محمد ناصر الدين.(بدون). صحيح و ضعيف سنن ابي داود، الاسكندرية، مركز نور الاسلام لأبحاث القرآن والسنة.
۶. البقاعي، ابراهيم.(بدون). النكت الوفية بما في شرح الألفية، تحقيق: ماهر ياسين الفحل.
۷. الخطابي، حمد بن محمد.(۱۹۳۲). معالم السنن، حلب، المطبعة العلمية.
۸. الذهبي، محمد بن احمد بن عثمان.(۱۹۸۵). سير اعلام النبلاء، تحقيق شعيب الأرنؤوط، بيروت، مؤسسة الرسالة.
۹. الصباغ ،محمد بن لطفي.(۱۹۸۵). ابو داود حياته وسننه، بيروت، المكتب الاسلامي.
۱۰. عتر، نورالدين.(۱۹۸۵). منهج النقد في علوم الحديث، دمشق، دار الفكر.
۱۱. الكتاني، محمد المنتصر.(۱۹۸۶). الرسالة المستطرفة لبيان مشهور كتب السنة المشرفة، بيروت، دارالبشائر الاسلامية.

پوهنوال مسعود (نېکبخت)
ژبو او ادبياتو پوهنځی
عربي څانګه
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی فضل ولي ناګار

د عربي ژبې مثل او د پښتو ژبې متل

لنډيز:

هره ژبه هرو مرو يوه اندازه ځانګړتياوې لري چې ممکن بله ژبه کې ونه موندل شي. خو ځينې شيان داسې موندل کيږي چې د ډېرو ژبو او د هغوی د ادب تر منځ شريک يا ګډ دي. د يوې ژبې پر ادبياتو پوهيدل لوستونکی د دې جوګه کوي چې د هغې ژبې اړوند پر ډېرو ځانګړتياوو، رمزونو، کناياتو او مسايلو وپوهيږي.

پښتو ژبه چې په وروستيو پيړيو کې يې ډېر پرمختګ کړی دی او د پرمختګ پر مهال يې له نورو ژبو او د هغوی له ادبياتو څخه يې مثبته ګټه پورته کړې ده، يوه له دغو ژبو څخه عربي ژبه حسابيږي چې پر پښتو ژبه يې بې شمېره تأثيرات ليدل کيږي. تر اوسه پورې مونږ چې په پښتو ژبه کې د بلاغت او فصاحت کوم بحث تر سره کوو، نو له عربي ژبې څخه يې تأثر موندلی دی، آن تر دې چې د عربي ژبې اصطلاحات او نومونه کټ مټ ليکو او لولو يې او بيا يې په خپله ژبه پښتو کې تطبيقوو.

په عربي ژبه کې (مثل) او په پښتو کې (متل) هم داسې يوه موضوع ده چې د معنی او لفظ له مخې سره ډېر ورته والی لري. په دې مقاله کې هڅه شوې ده چې دغه ورته والی رابرسېره شي او د پښتو هغه متلونه چې د عربي ژبې له امثالو سره نژدې دي د بېلګې په توګه وښوول شي.

سريزه:

د (مثل او متل) په اړه ډول ډول تعريفونه ويل شويدي، خو تر اوسه پورې داسې جامع او مانع تعريف نه موندل کيږي چې ټول علماء پرې يوه خوله واوسي. ممکن د دې اصلي لامل د (مثل او متل) هغه ګڼ شمېر خصوصيات، ځانګړتياوې او ښېګڼې وي چې په يو تعريف کې يې انساني عقل نشي رانغاړلی.

په حقيقت کې (مثل او متل) په ملت او قوم کې د هغوی د عقيدوي، سياسي او ټولنيز ژوندانه پورې ډېر تړاو لري چې د احساساتو، تجربو، تمدونونو او تهذيب څخه متأثر وي. له همدې امله يې وګړي د ژوند په مختلفو برخو کې کاروي. د هر ولس متلونه د هغه ولس او ملت ګډه پانګه او ميراث ګڼل کيږي. د يو قوم کومه ځانګړې قبيله يا افراد يې د جوړولو دعوه نشي کولی، زياتره دغه پانګه له يو نسل څخه بل نسل ته په شفوي توګه انتقاليږي چې بيا هغوی يې د ژوندانه په مختلفو برخو کې د دليل او سند په توګه ګټه ترې پورته کوي. هغه خبرې او ويناوې چې له (مثل او متل) څخه برخمنې وي د تأثير او منلو له اړخه ډېرې پياوړې وي. عوام د خپلو خبرو د ثبوت لپاره په ګڼ شمېر مواردو کې ترينه په پرېمانه توګه ګټه اخلي. متلونه او امثال لا هم د ايجاد په درشل کې دي او منځ ته راځي. داسې ويناوې په مختلفو وختونو کې د مختلفو انګېزو له امله منځ ته راځي چې د راتلونکې لپاره د يو متل يا مثل زيږنده ګرځي. هغه واقعات او انګېزې چې نن سبا يې وينو ممکن پرون او هغه بل پرون نه وو موجود، نو له همدې امله ښايي داسې متلونه منځ ته راشي چې د دغو واقعاتو زيږنده يې وګڼو. نو ويلای شو چې متل يا مثل ته د پای ټکی نه دی ايښودل شوی او د وخت پر تېرېدلو سره د اينده نسلونو لپاره متلونه لا هم منځته راتلای شي.

موخې:

د دې تحقيقي مقالې اصلي موخه او هدف دا دی چې جوته کړو ايا د عربي ژبې مثل او پښتو ژبې متل تر منځ د معنی او لفظ له رويه کوم تړاو شته او کنه؟ چې نوموړې موخې ته به د يو لړ څېړنې او تقابلي مقايسې په پايله کې ورسيږو. په دې مقاله کې به له يوې اندازې متلونو او امثالو څخه چې ګډ اهداف او موارد لري هم يادونه وشي او د بېلګې په ډول به راوړل شي.

مثل:

مثل د عربي ژبې کلمه ده چې له مثال څخه اخيستل شوې ده، جمع يې امثال ده، د تشبيه او نظير په معن استعماليږي.

په اصطلاح کې د خلکو تر منځ شيندل شوې وينا ته ويل کېږي چې د ممثل په څېر وي، له ممثل څخه لومړی او اصلي حال هدف دی چې د نوموړي وينا د زيږندې اصلي مورد ګڼل کېږي. د امثالو کلمې او الفاظو د ناربنه، ښځېنه او عدد له مخې تغيير نه مومي، بلکه تل د هغې اصل مورد ته کتل کيږي.(۸:م۷۴۷).

د مبرد په اند مثال له هغې وينا څخه عبارت دي چې د خلکو تر منځ مشهور وي، دوهم حال له لومړي سره تشبيه شوی وي او د تشبيه رکن پکې ښه څرګند وي. (۲:م۲)

ځينو پوهانو د مثل په تعريف کې ويلي دي چې څلور شيان پکې اړين دي:

لومړی: د لفظ ايجاز يعنې الفاظ او جمله بايد ډېره لنډه خو معنی لرونکې، قاطع، بې له ابهامه او پټوالي څخه وي.

دوهم: دا چې د معنی له مخې بايد صحيح او منل شوې وي، داسې معنی ولري چې معقوله او مقبوله وي، هر روغ عقل او ذهن ته په اسانۍ پريوځي او د دې قابليت ولري چې زر جذب شي. په فهم او ادراک کې کومه ستونزه ونلري او هر سالم عقل يې ومني.

درېيم: دا چې د تشبيه ماده پکې ډېره واضحه او روښانه وي، هر څوک وکولای شي چې ورته واقعات او مسايل پرې قياس کړلای شي. که د تشبيه ماده پکې ښه روښانه نه وي ممکن تر يوې واقعې پورې منحصر او تړلي پاتې شي او د نورو ورته واقعاتو د تشبيه کولو جوګه به نه وي چې بيا هم د مثل په توګه خپل اصلي موقعيت په ټولنه کې نشي تر لاسه کولای. او د خلکو تر منځ د شهرت درجې ته نشي رسيدلای.

څلورم خصوصيت چې مثل يې لري د کنايې ښه موجوديدل دي. بايد مکني او مکني به تر منځ کلک تړاو وجود ولري او په ښه توګه حس شي. که دغه تړاو کمزوری وي بيا هم ښه مثل نه ګڼل کيږي.(۴:م۲)

امثال له دې امله ډېر اهميت لري چې دا د تربيې يوه ښه وسيله ده ځکه په دې سره تذکير، وعظ، ښو کارونو ته تشويقول او له بدو څخه منع کول په ښه توګه ترسره کيږي، له همدې وجهې وايي: المثل أعون شيء علي البيان).(۵:م۱۲)

متل:

د پښتو ژبې متل په اړه هم زيات تعريفونه شوي دي چې د عربي ژبې له مثل سره لوی او غټ توپير نلري. ځينې پوهان وايي: متل يو داسې مشهورې فقرې يا جملې ته ويل کېږي چې يو ډول ځانګړی حقيقت، صداقت او يا نصيحت پکې بيان شوی وي. متل د يو قوم او ملت د ځانګړو حالاتو او د هغوی د وګړو د تجربو او شواهدو په رڼا کې منځ ته راځي، يادې فقرې او جملې د ګټې له امله دومره شهرت ومومي چې د هغې قوم او ملت په مختلفو سيمو کې د خلکو تر منځ خپور شي.

له دې امله چې د متلونو رامنځ ته کيدل مختلف حالات، کوائف او تجربې کيدلای شي نو د معنی او موضوع په اعتبار هم ډېر ډولونه لري، لکه هغه متلونه چې د تاريخي پېښو او يا عقيدوي، جغرافيوي، ټولنيز، قومي، ژبني... پورې تړاو لرلای شي. خو په دې ټولو کې د اختصار، مؤثريت او تشبيه خصوصيت له ياده نشو ايستلی.

په دې توګه ويلای شو چې د عربي مثل او د پښتو متل تر منځ د خصوصيت له مخې کوم توپير نه ليدل کيږي.

د پښتو متلونو او عربي مثلونو يو څو بېلګې:

لاتؤخر عمل اليوم لغدٍ. د نن ورځې کار سباته مه پرېږده.

پورتنی متل هغه وخت ويل کيږي چې څوک خپل کار په خپل وخت نه ترسره کوي او تل لټ او سست وي. د نن ورځې کار سبا ته او د سبا بل سبا ته پريږدي. په همدې مفهوم او معنی مونږ په پښتو ژبه کې هم متل لرو چې وايي: (د نن ورځې کار سباته مه پريږده). يعنې هرکار په خپل وخت ترسره کول پکار دي.

أمْرَ مبكياتك، لا أمر مضحكاتك. د هغه چا ومنه چې ژړوي دې، نه د هغه چا چې خندوي دي.

وايي د هغه چا خبره ومنه چې تا ويروي او د کوم بد کار له سختو پايلو څخه دې خبروي او په دې مه خپه کيږه، ځکه دا ستا ريښتينی دوست او خواخوږی دی، خو د هغه چا مه منه چې اوس خو به دې خوشحاله کړي خو ريښتيا درته نه وايي او په راتلونکي کې د کوم کار بده پايله نه درپه ګوته کوي، دا ستا دوست نه دی. په پښتو کې هم ويل کيږي چې(دوست به دې وژړوي، دښمن به دې وخندوي) مطلب يې همدا دی چې دوست درته رښتيا او حقيقت وايي ممکن ستا د خفګان لامل وګرزي خو اينده کې به يې پايلې ښې وي، او دښمن به دې سمدلاسه خوشاله وساتي، د يو کار بدې پايلې ممکن تا ته درپه ګوته نکړي، خو اينده کې به ستا د ډېرو ستونزو او سرګردانۍ لامل شي. نو هر چاته ښايي چې د دوست او دښمن ترمنځ توپير وکړي او په دې ځان پوه کړي چې څوک زما په خير خبره کوي او څوک زما په شر.

آمن من الأرض. له ځمکې څخه ډېر امانتدار دی.

کله چې څوک په امانت کې د نمونې مثال ثابت کړي او ډېر امانتدار وي نو خلک وايي چې فلانکی له ځمکې څخه هم ډېر امانتدار دی، ځمکه امانت نه خيانتوي. دا ځکه چې په ځمکه کې ډول، ډول تخمونه کرل کيږي او خلک يې په دې تمه ورغورځوي چې ځمکه يې نه خيانتوي، رښتيا هم ځمکه سره له دې چې مختلف النوع تخمونه پکې پراته وي، هر تخم څخه همغه ونه او بوټی زرغونوي، او بيا ترينه همغه تخم را وباسي چې ځمکه کې کرل شوی دی. مونږ هم وايو چې خيانت مه کوه ځکه(ځمکه هم امانت نه خيانتوي). دا متل هغه چاته ويل کيږي چې ډېر امانتدار وي.

الانسان عبدالاحسان. انسان د احسان مريی دی.

کله چې څوک د بل چا سره ښيګڼه او نيکي وکړي نو هغه يې بايد د تل لپاره په ياد ولري او هير يې نکړي. او بايد کوښښ وکړي چې څه وخت د بدلې په توګه له هغه سره ښيګڼه وکړي او تل د ځان سره فکر کوي چې زه به د هغه ددې ښو بدله کله ورکوم؟ ځان د هغه قرضدار او مديون ګڼي. پښتانه وايي(ښه وکړه او سيند ته يې واچوه) مطلب دا دی چې ښه هيڅوک بايد هير نکړي آن که سيند ته واچول شي يو وخت به يې پکار شي. الله تعالي هم فرمايلي دي: (هل جزاء الاحسان الا الاحسان)(۱: سورت الرحمن ايات ۶۰) يعنې د نيکۍ بدله له نيکۍ پرته بل څه کيدای شي؟ نو څوک چې چا سره نيکي وکړي بايد په بدل کې يې ورسره نيکي وکړي او ترهغه چې بدله يې نه وي ورخلاصه کړې ځان يې قرضدار وبولي.

ابنه علي کتفه وهو يطبله. (۳:م ۱۲۷). ځوی يې په اوږه او پلټي يې.

کله نا کله انسان متوجه نه وي داسې عمل ترينه وشي چې د نورو او همدا ډول د ده لپاره د حيرانتيا لامل شي. يو څه به لټوي او هغه به ورسره له هر چا څخه نژدې وي، او دا به يې نه ويني. پښتو کې يو متل دي وايي: (جغ په غاړه جغ غواړه) يو دهقان له کور څخه د پټې په لور د تللو نيت وکړ، غوښتل يې چې پټې قلبه او جوړ کړي، چيغې يې وهلې: ای ښځې جغ راکړه ! ای ښځې جغ راکړه ! ښځې چې ورته وکتل چغ يې په اوږو ايښی ؤ. ښځې يې ورته وويل: (جغ په غاړه جغ غواړه) دا بيا وروسته يو متل وګرځيدلو. د پورتني عربي متل همدا معنی ده. سړي خپل ځوي په اوږو سور کړي ؤ او چغې ئې وهلې ! ځوي مي، زما ځوي څه شو ! خلکو ورته وويل:(ابنه علي کتفه وهو يطلبه) ځوي ئې پرغاړه دي، او هغه يې پلټي. نو هر ځای کې چې يو څوک څه لټوي او هغه ورسره نژدې وي او دا يې نه ويني نو پورتني متل ورته استعمالولی شو.

لايثمر الشوک العنب. اغزي انګور نه نيسي.

له هرې ونې او بوټي څخه د عادت له مخې همغه ميوه او ثمره ترلاسه کيږي. که څوک اغزي خپله کرونده کې پريږدي او تمه ترينه لري چې غنم يا جوار به ونيسي سهوه کوي، او که څوک دا تمه لري چې اغزي به ورته انګور ونيسي هم غلط شوي دي. مطلب دا دی که څوک بد کارونه کوي او تمه لري چې پايله به يې کاميابي او بريالیتوب وي دا هم په سم فکر او اند نه دي. پښتانه وايي:(چې څه کړې هغه به ريبې) که څوک د چا سره ښه وکړي، ښه به ووينې. د عربي ژبې يو بل متل هم په همدې معنی شته دی چې وايي:(انک لا تجني من الشوک العنب) له اغزي څخه انګور نشي شکولای.

جزاء سنمار. د سنمار د کار بدله.

سنمار يو رومي وګړی وو چې د امرئ القيس زوی نعمان ته يې يوه ماڼۍ په کوفه کې جوړه کړله چې ډېر عالي او پرمخ تللې وه. کله چې له جوړولو څخه فارغ شو، نو د دې لپاره چې بل چاته داسې ښه او ډولي ماڼۍ جوړه نکړي له چت څخه يې را وغورځولو او مړ يې کړ، نو متل پاتې شو (جزاء سنمار) د سنمار بدله همدا ده. نو څوک چې يو ښه کار وکړي او بدله يې بده ورکړل شي دا متل ورته استعماليدلای شي. (۳ :م ۹۲) مونږ هم وايو:(ښه مکوه بد نشته). که سنمار د نعمان سره ښه نه ؤ کړي او داسې ښه او شانداره ماڼۍ يې ورته نه وي جوړه کړي نو ولې به وژل کيدلو.

جليس المرء مثله د هر چا ملګري د هغه په څېر وي.

وايي: (چې چرته اوسې په خوی به د هغوی شې) رښتيا هم که څوک ښه خوی او خصلت ولري نو ناسته پاسته به يې هم له ښو خلکو سره وي. او که څوک بد وي نو ناسته به يې هم له بدو خلکو سره وي، څوک چې چا سره ملګرتوب کوي ډېر تأثير لري لکه چې وايي: (لکل مجلس تأثير) هر مجلس پرخلکو ډېر تأثير کوي. نو که د ښو خلکو سره څوک ناسته لري، ويلای شو چې د ښو اخلاقو خاوند دي، او که څوک د بدو خلکو سره ناسته ولري نو بد ورته ويل کيږي. يو شاعر وايي: (کند همجنس با همجنس پرواز ـ کبوتر با کبوتر باز باز) د علم خاوندان د علماء او پوهانو سره ناسته پاسته کوي او د تجارت او کسب خاوندان د کسبګرو سره.

همدا راز رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: (المرء مع من أحبّ) (۷:م ۳۴۲) يعنې هر انسان له خپل محبوب سره وي او ورسره پاتې کيږي. که ښه سړی وي له ښو خلکو سره اوسي او که بد وي له بدو سره.

باب النجار مکسور (۲:م ۲۷۲). د نجار دروازه ماته ده.

پښتانه وايي: (کولال يې کنډول کې خوري) يعنې کولال چې نورو خلکو ته د خوراک او څښاک لپاره لوښي جوړوي د ډېرې لتې لامله يې خپل ځان ته نه جوړوي او مات کنډولي کې خوړل او څښل کوي، هدف دا دی چې د کسبګر له لوري کله ناکله بې غوري کيږي او خپلې دندې ته پوره اهميت نه ورکوي. همدا ډول په عربي ژبه کې هم متل دی وايي: د نجار دروازه ماته ده، حال دا چې نجار دنده لري چې نورو خلکو ته دروازې او کړکۍ جوړې کړي خو کله داسې لټ او بې کاره نجار وي چې خپلې دروازې نشي جوړولای نو نورو ته به يې څنګه جوړې کړي. هغه مهال چې د کسب خاوند سستي کوي نو خلک ورته دا متل ويلای شي.

کما تزرع تحصُد (۸:م ۹۹). څه چې کړې هغه به ريبې.

پښتانه وايي: څه چې کړې هغه به ريبې. که څوک اغزي وکري او هيله لري چې انګور به ورته ونيسي سم نه دي، که څوک بد کار کوي او بيا له خلکو د ښه عکس العمل تمه لري خطاء شوي دي. په يو حديث شريف کې راغلي دي: ستاسې عملونه پر تاسې واکمني کوي، د ښو خلکو بادشاه او حاکم هم ښه او عادل وي، او د بدو خلکو حکومت بد وي، ځکه حاکم او آمر د دوی له منځه ټاکل کيږي. نو که څوک تل بد کار کوي او له خلکو سره يې معامله بده وي، ده ته به هم بد رسيږي، او که څوک نيکو کار وي نو ښايي له خلکو څخه هم د نيکۍ هيله ولري. هر چاته د خپلو اعمالو بدله رسيږي، هم په دنيا او هم په اخرت کې.

پايله:

له پورتنۍ څېړنې څخه دې پايلې ته رسيږو چې:

۱ـ د پښتو (متل) کلمه د عربي له (مثل) کلمې څخه اخستل شوې ده فقط (ث) په (ت) بدله شوې ده.

۲ـ د (متل، مثل) له ځانګړتياو څخه اختصار، د معنی مؤثريت او تشبيه ده.

۳ـ (متل، مثل) کوم معلوم او پېژندل شوي رامنځ ته کوونکي نه لري، او هم د قومونو، ملت له معنوي شتمنيو څخه شمېرل کيږي چې د ټولو افرادو تر منځ شريک دي.

۴ـ (متل، مثل) د عامو وګړو تر منځ د استعمال له مخې کوم خاص قشر لکه پوهان او علماء و پورې نشي تړل کيدلای، عوام او بې سواده خلک يې هم استعمالولای شي.

وړانديزونه:

- متل د مؤثريت له مخې د خلکو تر منځ منل شوې وېنا ده، بايد د پوهې او علم خاوندان په دې اړه هڅه وکړي چې هغه متلونه چې مثبت دي او فحش کلمې او ښوونې پکې نه وي په خپرولو او نشرولو کې خپل رول ولوبوي.
- متل له دې امله چې جملې يې لنډې (او که اوږدې وي مسجعې) دي عام الفهمه دي نو ښايي چې عوامو او نيمه عوامو ته يې د يادولو توصيه وشي.
- هر څوک چې د وعظ او نصيحت چارې پر مخ بيايي نو بايد يوه اندازه متلونه په ياد ولري څو د خطابې او تقرير پر مهال ترېنه استفاده وکړي.
- هر متل د استعمال ځانګړي مورد لري چې د هغې سره مشابه ځاي کې ويل کيږي.

ماخذونه:

(۱) قرآنکريم.

(۲) اسماعيل بن علي الأکوع، الأمثال اليمانية، عام:۱۹۲۸م، جزء الأول، ط:الأولي، دارالمعارف بمصر، مطبعة المدني.

(۳) راحله ارم، الأمثال العربية و ما يقابلها الأردوية، عام:۲۰۰۴م، الجامعة الاسلامية العالمية، اسلام اباد، باکستان، غير مطبوع.

(۴) رياض عبدالحميد مراد، معجم الأمثال العربية، الجزء الأول، عام: ۱۹۸۲م المملکة العربية السعودية، وزارة التعليم العالي، جامعة الامام محمد بن سعود الاسلامية.

(۵) علي بن محمد بن حبيب المارودي، الأمثال والحکم، ناشر: مؤسسة شباب الجامعة، اسکندرية. بدون عام الطبع.

(۶) محمد بن أبي بکر عبدالقادر رازي، ترجمه و تصحيح داکتر فيروز حريرچي، امثال و حکم، عام:۱۳۷۱هـ ش انتشارات پوهنتون تهران،.

(۷) الدکتور مصطفي سعيد الخن\ الدکتور مصطفي البغا، نزهة المتقين شرح رياض الصالحين، رابطة العالم الاسلامي، بمعاهد التربية الاسلامية. بدون تاريخ الطبع.

(۸) لويس معلوف، المنجد ،ط:۲، عام: ۱۳۶۵ هـ ش. تهران، ناصر خسرو.

پوهنوال عزت الله
پوهنځی تعلیم وتربیه
دیپارتمنت جغرافیه
تقریظ دهنده: پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنایت
استاد پوهنځی انجنیری

روش تحقیق و تعیین زمان در زمین شناسی

خلاصه:

از آغاز خلقت و پیدایش زمین تا اکنون تحولات زیادی درآن رونما گردیده که پیوسته چهرهٔ آن را دیگرگون ساخته است. بررسی تاریخ وتثبیت زمان وقوع این حوادث، مستلزم اسناد و شواهد است. زمین شناسان قبل از تعیین سن مطلق زمین وقایع راکشف ومتقاعد شده اند که برزمین زمان زیادی سپری شده است.

یکی ازمسایل بسیارمهم دانش زمین شناسی، آگاهی ازرویدادهای گذشتهٔ زمین است، زیرازمین دراین مدت طولانی، وقایع زیادی راپشت سرگذاشته؛ ولی آنچه مهم است چگونگی اطلاع از وقوع زمان این حوادث میباشد. موضوع تعیین سن زمین ونحوهٔ تشکیل آن از دیر زمان به این سوفکر بشر را به خود مشغول داشته، نظریات متفاوت ومتضاد نیزدراین زمینه ارایه گردیده است. به خاطرآگاهی ازگذشت زمان وتعیین سن زمین، دو روش کاری وجود دارد: یکی شیوهٔ تعیین سن نسبی ودیگری شیوه های تعیین سن مطلق است.

به خاطرتعیین سن نسبی ومطلق رویدادها وپروسه های زمین، اصول زیادی وجوددارد. ولی آنچه که امروزبرای تعیین سن مطلق زمین شیوه کاربرددارد، استفاده ازتجزیهٔ طبیعی موادرادیواکتیف میباشد که تاحد زیادی درتعیین واندازه نمودن سن زمین دقیق نیزمیباشد.

مقدمه:

واضح است که حرکات و حوادث تکتونیکی درطول تاریخ زمین شناسی درتمام نقاط این کره همزمان ویکسان عمل نکرده است، طبیعتاً درمورد آن نظریات وفرضیه های متفاوت ومتضادی پیشکش شده است. بنأزمین شناسان درپیآن بوده اند که راه ها وشیوه هایی راجستجو و دریابند تابتوانند که سن مطلق زمین و پدیده های زمین شناسی رابه دست آورند. (۹: ۲۱۹).

ازآغازخلقت زمین الی امروز پیوسته حوادث و وقایع متعددی درآن رونما گردیده که ثبت درلایه های رسوبی آن میباشد. بررسی تاریخ زمین وتثبیت زمان وقوع حوادث زمین شناسی، ازوظایف علم زمین شناسی تاریخی (Historical Geology) وتاریخ حیات برروی زمین است. همچنان زمین شناسان مانندوقایع تاریخ بشر، برای تعیین سن زمین مستلزم اسناد و شواهد میباشند(۲:۴۵۷).

زمین شناسان قبل ازپی بردن به شیوه های تعیین سن مطلق زمین، وقایع وحوادثی راکشف و متقاعد شده اند که برزمین زمان زیادی سپری شده است. بدون شک دایناسورها۱۰۰میلیون سال پیش دردورهٔ کرته شیس (Cretaceous Period) می زیستند، و یاتشکیل ذغال سنگ۲۸۰میلیون سال قبل ازامروزدررسوباتپنسلوانین(Pennsylvanian) صورت گرفته است.(۶: ۲۲۳).

تااواسط قرن بیستم چنین فکرمیشد که جهان طورازلی وابدی وجودداشته اول وآخرندارد ،همین فکرومفکوره ها ،سبب پیدایش نظریات وایده های ماتریالستی(Materialism) درجامعه گردیده است. تاحال شمار زیادی ازفزیک دانان مشهورجهان، تجارب، تحقیقات ومحاسبات زیادی رادر زمینه انجام داده وعلاوه نموده اندکه جهان آغاز وانجام داشته، برخلاف نظریات کورکورانۀ ماتریالستان، کاینات ثابت نبوده بلکه همیشه درحرکت، تغییروتحول است. (۱۰: ۲۰).

اهداف:

- معرفی اصل های تعیین طبقات زمین.
- آشنایی باشیوه های تعیین سن نسبی پدیده های زمین شناسی.
- درک وچگونگی استفاده ازتجزیۀ طبیعی موادرادیواکتیف، درتعیین نمودن سن مطلق زمین.

تعیین زمان در زمین شناسی

یکی ازمسایل بسیارمهم دانش زمین شناسی داشتن آگاهی ازرویدادهای گذشتۀ تاریخ زمین است. کرۀ زمین از پیدایش الی اکنون وقایع زیادی راپشت سرگذاشته است، زمین شناسان بایدبدانند وبیاموزندکه چه رویدادهایی وچگونه درتاریخ گذشتۀ زمین رخ داده؟ زمان وقوع آن چه وقت بوده؟ تااین وقایع پشت سرهم ردیف ودوره بندی شود و تاریخ گذشتۀ زمین بازسازی گردد.

گرچه زمین شناسان درمورد شمار زیادی ازرویدادهای گذشتۀ زمین اطلاع حاصل کرده اند ؛ ولی آنچه که مهم است چگونگی اطلاع اززمان دقیق وقوع آن است. (۵:۲۰۵).

جیوکرونولوجی(Geochronology)علم تاریخ زمین است که ازپیدایش وتکامل کرۀ زمین بحث کرده، مانند هر علم تاریخی بایدازمفهوم زمان استفاده نماید. جیوکرونولوجی میتواندنسبی و یامطلق باشد.جیوکرونولوجی نسبی قدامت پدیده ها رانسبت به یکدیگرتعیین کرده،ولی جیوکرونولوجی مطلق حوادث زمین شناسی رابه هزارها ،میلیون ها وملیاردها سال طبقه بندی مینماید.(۳: ۳۵).

محقیقین درمرحلۀاول،درتاریخ تشکیل زمین سه مرحلۀ عمدۀ زیر را ازهم جداکرده اند ، این مرحله ها که سالیان درازی راپشت سرگذاشته عبارت انداز:

۱ـمرحلۀ استروفزیک یامرحلۀ تشکیل مادۀ جسم کیهانی به شکل زمین.

۲ـمرحلۀ تکامل جیولوجی قبلی که تقریباً از(۴، ۵) تا(۵) ملیارد سال قبل اتفاق افتاده، در این مرحله اقشارمختلف داخلی زمین تشکیل گردیده است.

۳ـمرحلۀ تکامل جیولوجیکی که این مرحله تقریباً از(۴)تا(۴، ۵) ملیارد سال پیش یعنی قبل ازتشکیل اتموسفیر(Atmosphere)، خاصتاًهایدروسفیر(Hydrosphere) زمین آغازگردیده است.(۹: ۲۸۵ـ۲۸۹).

درقلمرودانش زمین شناسی، برای آگاهی ازگذشت زمان وتعیین سن نسبی ومطلق، دو روش کاری وجوددارد:یکی سن نسبی که ازراه مقایسۀ پدیده های زمین شناسی به دست آمده،تقدم و یاتأخیریک یاچندین حادثه رانسبت به یک دیگرنشان داده،ودیگری سن مطلق است که زمان وقوع یک حادثه راطور مستقل به دست میدهد. گرچه دادن تعریف برای زمان درزمین شناسی کارآسان نیست ولی میتوان آنراچنین تعریف کرد:زمان عبارت است ازکمیت مداوم(مدتی، دوره یی ومرحله یی) که ضمن آن تغییرات ورویدادهادر مسیرغیرقابل برگشت به وقوع میرسد ،بنابرتعریف فوق آنچه که مارااز گذشت زمان آگاه میسازدتغییر وتحول است.(۵:۲۰۷).

سن نسبی

مقصد ازسن نسبی درزمین شناسی آن است تا مشخص شود که ازدو واحدزمین شناسی موجود،کدام آن قدیمی ترازدیگراست. (۱: ۱۷). به عبارت دیگر مرام ازسن نسبی یک پدیدۀ زمین شناسی عبارت است ازقدامت آن پدیده نسبت به پدیده یاپدیده های دیگر که قبل یابعد ازآن واقع شده است، بنابرآن سن نسبی آن مقدار زمانی را که بر یک پدیدۀ زمین

شناسی سپری شده بیان نکرده بلکه فقط میگوید که حادثه قبل ویابعدازحادثهٔ دیگری رخ داده است، بدین ترتیب اگر وقایع زمین شناسی، طبق تاریخ وقوع آنها ردیف شوند ،یک مقیاس نسبی راتشکیل داده که به ساده گی فقط(قبل و یابعد)بودن وقوع آنهارانشان خواهد داد. (۵: ۲۰۷).

زمـان نسبی زمین شنـاسی کـه براساس وضیعت نسبـی سنگ های رسوبی تعیین شده است.به خاطر باید داشت کـه هر لایه یی از سنگ هـای رسوبـی،بیانگر مقدارمعیین از زمـان است. بنأ اگر سنگ های رسوبی مختلف رابرحسب زمان تشکیل آن مرتب کنیم، در واقعیت واحدهای زمان رامرتب کرده ایم(۶: ۲۲۳).

روش هایی که درتعیین سن نسبی پدیده ها به کاررفته، هنوز هم طورگسترده مورداستفاده قرار داشته، حتی که روش های تعیین سن مطلق نیزجای آنرا نگرفته بلکه تکمیل کنندهٔ آن محسوب میگردد. روی این اصل آگاهی از سن نسبی وچگونگی تعیین سن رویدادها به کمک این روش ها ضروری به نظرمیرسد. تعیین سن نسبی روی اصل های زیر استواراست.(۵: ۲۰۸).

اصل انطباق طبقات رسوبی

موادرسوبی درحوضه های رسوباتی به صورت افقی ته نشین می شوند ، به طورکلی میتوان گفت که لایهٔ زیرین نسبت به لایهٔ بالایی قدیم تر ،لایهٔ بالایی نسبت به لایهٔ پایانی جوانتر و طبقهٔ مابینی نسبت به لایهٔ پایانی جوان ولی نسبت به لایهٔ بالایی قدیم تر خواهد بود ، و آنهم درصورتیکه صورت طبقاتی این لایه ها مختل نشده باشد. درمطالعهٔ اصل افقی بودن طبقات رسوبی سن نسبی سنگ ها وطبقات مختلف راباتوجه به معیارهای زیر میتوان تعیین کرد(۱: ۱۸):

معمولاً طبقات رسوبی لایه لایه بوده، به طورکلی می توان گفت که طبقهٔ زیرین نسبت به طبقهٔ بالایی قدیم تر است؛ ولی باید توجه داشت که این امر همیشه صادق نیست، مثلاً امکان دارد که لایه ها در اثر حرکات تکتونیکی (Tectonic Movement) نسبت به حالت اولی خود کاملاً بی جا یا واژگون شده باشند ،در چنین موارد باید که سطح فوقانی وتحتانی لایه ها طور واضح مشخص شوند(۹: ۲۱۹، ۲۲۰).

اصل فوسیل شناسی

جانداران،اعم ازنباتات (Flora)و حیوانات(Fauna) که از حالت ساده به یک حالت تکامل یافته تر در آمده اند(۵: ۲۰۹)، اگربقایای این جانداران که درطبیعت گسترش زیاد دارند درطبقات رسوبی یافت شوند ، ازمطالعهٔ آنها میتوان در تعیین سن نسبی استفاده کرد ، زیرا فوسیل ها کاملاً شناسایی و سن آنها تعیین گردیده است(۱: ۱۸).

حیوانات و نباتاتی که در هر دوره یی از زمین شناسی وجود داشته اند ، شناسایی و شرایط رشد و نموی آنها ، وسیلهٔ خوبی برای تعیین حدود آب وخشکه و وقوع رویدادهای زمین شناسی محسوب می شوند ،هرگاه بقایای حیوانات ونباتات هر عهد را که به نام فوسیل(Fossil) یاد گردیده به دست آوریم تعیین سن نسبی طبقات دارندهٔ چنین بقایا آسان میشود(۴: ۳۳)؛ اگر در طبقات رسوبی تغییر وضعی (نشست یا بی جایی) به وجود نیامده باشد به احتمال قوی سن توده های آتشفشانی(Volcanic Rocks) بیش از طبقات رسوبی خواهد بود(۵: ۲۱۰).

طبقات رسوبی که تحت تاثیر حوادث زمین شناسی، تغییرات زیادی رامتحمل شده اند ، این تغییرات عبارتند از: چین خورده گی(Folding)، پیش روی و پس روی ابحارودرزها (Joints) که می توانند درتعیین سن نسبی سازگار واقع شوند.

واضح است که حرکات وحوادث تکتونیکی درطول تاریخ زمین شناسی درتمام نقاط این کره همزمان ویکسان عمل نکرده، پس ساختمان هایی که در اثر این حرکات به وجود آمده اند نیز یکسان وهمگون نمی باشند ؛ زیراحرکات که زایی(Oroganic Movements) از یک سوسبب چین خورده گی(Folding) وشکست(Faults) در قشر زمین گردیده، ازسوی دیگر تعادل کتله های بزرگ زمین را برهم زده تغییرات قابل ملاحظه یی درآن به بارآورده است. بنأ لایه های چین خورده وگسل شده نسبت به سایرطبقات جوانتراند. موادلاوایی، که طبقات رسوبی راقطع کرده، دردرزها وخالیگاه های قشرزمین جا می گیرند نسبت به سایر طبقات جوانتراند(۱: ۱۹).

سنگ ها ولایه هایی که توسط درزها ازهم قطع شده اندنسبت به درزهاقدیمی تراند(۵: ۲۱).اگر پارچه های یک سنگ در درون سنگ دیگر یافت شود ، سنگ دربر گیرندۀ قطعات، نسبت به اصل قطعات جوانتر خواهد بود. همچنان میتوان به کمک بعضی ازمشخصات دیگر طبقات، مثلاً مشخصۀ فزیکی،کیمیاوی ویا هم مشخصۀ سنگ شناسی طبقات مختلف را باهم ارتباط داده،از آن سن نسبی طبقه را به دست آورد(۹: ۲۲۰).

سن مطلق

ما موجودات زمین، از دو واحد اساسی زمان استفاده میکنیم:

۱ـروز یا به عبارت دیگر مدتی که لازم است تا زمین گردشی رادر اطراف محورش تکمیل کند.

۲ـ سال یامدتی که برای کامل شدن یک گردش زمین به دورافتاب لازم است؛ ولی مشکل اصلی در زمین شناسی این است که تعیین شود از زمان های بسیار دور که اصلاً هیچ کس برای ثبت این واحدهای زمان وجود نداشت، تا اکنون چند واحدی از این واحدها سپری شده که با ارزش ترین رهنما برای ما در این رابطه تجزیۀ عناصر رادیواکتیف است(۲: ۲۲۸).

روش تعیین سن نسبی برای طبقات مختلف، با وجود اهمیت زیادی که دارد متأسفانه نمیتواند که نیاز زمین شناسان رابرآورده سازد. همچنان نمیتوان گفت که از آغاز خلقت وپیدایش زمین بدینسو ،چه مدت میگذرد. بنأزمین شناسان در پی آن بوده اند ، تاراه ها وشیوه هایی راجستجو و دریابند که بتوانند سن مطلق زمین وپدیده های آنرا به دستآورند(۱: ۲۰).

سن مطلق هرپدیدۀ زمین شناسی عبارت است از: قدامت آن پدیده، نسبت به زمان حاضر که همیشه با ذکر عدد مشخص شده، به هزارها ،میلیون ها وملیاردها سال افاده میشود ، مثلاً وقتی میگوییم که حرکات که زایی لارامید (Laramide Orogenic Movement)(۷۰) میلیون سال پیش از امروز به وقوع پیوسته، درحقیقت سن مطلق این پدیده رابیان داشته ایم. درتعیین نمودن سن مطلق نیز از روش های مختلف استفاده به عمل می آید ،به طورعموم این روش ها از طرف علمای زمین شناسی به دو دسته یعنی روش رادیواکتیویتی وغیر رادیواکتیویتی تقسیم شده است(۵: ۲۱۴).تعیین سن مطلق زمین براساس سن یکی از واحدهای آن محاسبه میگردد.واحدهایی که به منظور تعیین سن مطلق در زمین شناسی به کارگرفته شده عبارتنداز(۹: ۲۲۰).

روش کالوین

لاردکالوین(Lord Kelvin) درسال۱۸۲۴م با استفاده از فرضیه یی که زمین درابتدای خلقت خودمذابه بوده وبعداً سرد شده، توانست که زمان لازم پروسۀ سردشدن کرۀ زمین و رسیدن به درجۀ حرارت فعلی آنرا محاسبه کند. براساس برآورد های (Kelvin) قشر زمین (Lithosphere) طی ۲۰تا۲۵میلیون سال سردومنجمدشده است.

روش جولی

روش جوهن جولی (Johnjoly) جهت تعیین سن زمین براساس محاسبۀ مقدار نمک آب ابحار استوار بوده است. (Joly) دانشمندایرلندی درسال ۱۸۹۹م سه فرضیۀ زیر را درمورد تاریخچۀ نمک آب ابحار ارایه کرد:

۱ـابحار در ابتدأ فاقد نمک بوده اند.

۲ـمنشأ نمک آب ابحار، سنگ های خشکی اند که توسط آب دریاها ، به ابحارانتقال گردیده اند.

۳ـسرعت افزایش نمک آب ابحار، درطول تاریخ زمین شناسی مانند سرعت امروزی بوده است.

بااستفاده از این فرضیه ها (Joly) سن ابحار را از (۹۰تا۱۰۰) میلیون سال پیش محاسبه کرد. اماخود (Joly)نیز به غیر دقیق بودن این روش معترف بود. بعدها ثابت شدکه آب ابحار از ابتدأ نیز دارای یک مقدارنمک بوده وهمچنان سرعت ورود نمک به ابحار، درطول تاریخ زمین ثابت نبوده است(۵: ۲۱۴ ، ۲۱۵).

روش کاربن ۱۴

کاربن ۱۴در اثر عمل رادیواکتیف سایکل خاص راپیموده که آغاز و انجام آن مدت زیادی را دربر میگیرد ، خصوصاً عمر سنگ های عضوی را توسط آن تعیین مینمایند. روش کاربن ۱۴که به اصطلاح Carbon Datingنیز یاد میگردد عمر سنگ ها را الی (۵۷۰۰) سال تثبیت کرده میتواند. این طریقه که باراول توسط پروفیسورویلاردلیبی(Willard.F. Libby) درپوهنتون شیکاگوی امریکا به کاربرده شده، زمان ودورۀ تجزیۀ آن قرار زیر صورت میگیرد:

نیوترون(Neutron) که آنرا اشعۀ خارجی(Cosmic Rays) نیزگویند، درخارج فضای اتموسفیر هستۀ نایتروجن رابمبارد کرده، یک پروتون نایتروجن از بین رفته عنصر باقی مانده قرار فرمول ذیل به کاربن(۱۴) تغییر شکل میکند:

$$+ {}^{1}_{0}n \rightarrow {}^{14}_{6}C + {}^{1}_{1}H\ {}^{14}_{7}N$$

کاربن(۱۴)دراتموسفیر زمین با اکسیجن تعامل نموده، سبب به میان آمدن گازکاربن دای اکساید(Co2) شده که از طریق تنفس از اتموسفیر داخل اجسام حیه میگردد. تجارب نشان داده که مقدار این گاز در تمام اجسام حیه به صورت مساوی بوده، بعد از مرگ حیوان و نبات به تدریج کمیت آن در وجود آنها کم شده وبه مرور زمان قرار فرمول ذیل به نایتروجن تبدیل میگردد:

$${}^{14}_{6}C \rightarrow {}^{0}_{-1}e + {}^{14}_{7}N$$

این سایکل حدود(۵۷۰۰) سال را دربر میگیرد ، تاکاربن کاملاًبه نایتروجن مبدل گردد(۴: ۳۵ ، ۳۶).

روش رادیواکتیف

سنگ های موجودۀ زمین، ماجراهای ادوار پیشین تاریخ زمین رابازگوکرده و کلید گشایش رمز تاریخ زمین است. مواد تشکیل دهندۀ زمین تقریباً(۴۸٪)اکسیجن، (۲۸٪)سلیسم، (۸٪)المونیم، (۵٪)آهن، مقدار کمی مگنیزم(Mg)، کلسیم(Ca) وپوتاشیم(K)است. علاوه برعناصر فوق در ترکیب موجودۀ این سنگ ها یک مقدار مواد رادیواکتیف (Radioactive) چون یورانیوم(U)،رادیوم(R)،توریوم(Th)،پوتاشیم(K) وکاربن (C) نیز موجود میباشد(۸: ۱۱۸).

بعضی ازمواد معدنی موجود در ترکیب زمین دارای خاصیت رادیواکتیویتی بوده، که از خود اشعه الفا ،بیتا وگاما خارج می سازد(۹: ۲۲۱).

۱ـ ذرۀ بینا: عبارت از ذرۀ یک عنصر است که هنگام تجزیۀ مواد رادیواکتیف، ازهستۀ اتوم منتشر شده دارای یک الکترون چارج منفی و یک پروتون چارج مثبت میباشد.

۲ـ اشعۀگاما:عبارت ازشعاع های الکترومقناطیسی،حاوی انرژی قوی و طول موج کوتاه بوده که از هستۀ اتوم منتشر میگردد(۷: ۷، ۸).

۳ـ خروج ذرۀ الفا: ازیورانیوم سبب میشود که دو پروتون از تعداد پروتون ها و دو نیوترون از مقدار نیوترون های آن کاسته شود ، به این ترتیب یک اتوم توریوم(Th)به وجود آمده وپس از یک سلسله تغییرات هسته یی هیلوم (He)به سرب تبدیل میگردد ، چون سرب یک عنصر پایدار است کدام فروپاشی دیگر در آن رخ نمیدهد(۸: ۱۱۸).

تمام عناصر رادیواکتیف درهستۀ خود ، قدرت پرتوافشانی را دارا بوده، به مرور زمان وقتیکه انرژی و قدرت فعالیت آن به پایان رسد ، عنصر اولی به مادۀ دیگر تبدیل شده که به حالت اولی خود باتمام معنی اختلاف دارد(۴: ۳۴)؛ مثلاً یورانیوم (۲۳۸) پساز یک سلسله فعل وانفعالات به سرب (۲۰۶) مبدل میشود که با به دست آوردن سرعت تجزیه واندازه گیری مادۀ اولیه ومقایسۀ آن به مادۀ تبدیل شدۀ موجود در نمونه میتوان زمانی را که تجزیه از سرگذشتانده به دست آورد ، مسلۀ مهمی راکه در مورد استفاده از این روش باید در نظر داشت ثابت بودن سرعت تجزیۀ مواد رادیواکتیف در طول زمان است. تجربه هایی که در این رابطه انجام گرفته نشان میدهد که سرعت تجزیۀ یورانیم درحرارت منفی (۸۰-) تامثبت(۱۵۰۰) درجۀ سانتي گرید و نیز فشار (۲۰۰۰) اتموسفیر ثابت میماند(۹: ۲۲۲).

درسال (۱۹۰۵) رادرفورد(Ruther Ford) پیشنهاد استفاده ازخاصیت عناصر رادیواکتیف را برای محاسبهٔ سن مطلق پدیده های زمین شناسی ارایه نموده، کمی بعد بولت وود(Bolt wood) با استفاده از این روش، سن رادیواکتویتی بعضی منرال ها راتاحدود (۲) ملیارد سال پیش از امروز برآورد کرد.

تمام عناصر کیمیاوی که در اثر تجزیه به عناصر دیگر مبدل میگردند رادیواکتیف خوانده میشوند. ایزوتوپ های نا پایدار به سرعت ثابت پراگنده شده، شرایط زمینی چون کمی و زیادی حرارت، فشار و دیگر پیوندهای کیمیاوی، سرعت این پراگنده گی راتغییر داده نمیتواند، به طور مثال اگر یک نمونهٔ رادیواکتیف در ابتدأ شامل (۱۲)میلیون اتوم یورانیوم باشد درپایان نیمهٔ اول عمر(۸) میلیون اتوم آن باقی خواهد ماند، به دنبال آن چرخهٔ دوم با (۸) میلیون اتوم ما درشروع و نیم آن درخلال نیمهٔ عمر دیگر ازدست رفته فقط(۴) میلیون اتوم به جامیماند که به همین ترتیب پراگنده گی عناصر رادیواکتیف ادامه پیدا خواهد کرد. درپایان نیمهٔ عمر اول مقدار اتوم های عنصر نوزاد (۸) میلیون و در پایان نیمهٔ عمر دوم(۱۲) میلیون خواهد بود(۵: ۲۱۶، ۲۱۷).

برای به دست آوردن زمان دقیق سن مطلق با استفاده از روش رادیواکتیف باید به نکات زیر توجه داشت:

۱ـ نیمهٔ عمر یا آن زمانی که نصف اتوم های عناصر رادیواکتیف به عنصر ثابت وپایدار تبدیل میگردد، باید مشخص وشناخته شود.

۲ـ مقدار اولیه و مقدار حاصل شدهٔ ماده مورد نظر اندازه گیری، محل، موقعیت و وضع زمین شناسی محل ,نمونه برداری باید رو شن و دقیق باشد.

۳ـ عناصر پایدارکه درخاتمهٔ تجزیه به دست آمده اند، باید در اثر تجزیهٔ مواد رادیواکتیف به دست آمده باشند، منشأومبدأ دیگری نداشته باشند.

۴ـ هیچ یک از اجزأ که درضمن تجزیه به دست آمده، نباید که ازمحل تجزیه خارج شده باشند.

۵ـ باید توجه داشت که نمونهٔ مورد نظر دیگرگون نشده باشد و آزمایشاتی که بالای آن انجام میشود نیز به دقت تمام صورت گیرد(۱: ۲۲).

بدین ترتیب اگر طول نیمهٔ عمر یک ایزوتوپ خاص معلوم باشد، و نسبت بین عنصر مادر و عنصر نوزاد تعیین شده بتواند، میتوان زمان لازم را که بالای آن سپری شده محاسبه کرد. ایزوتوپ های عناصر رادیواکتیف که معمولاً برای تعیین سن در زمین شناسی به کار میروند در جدول زیر مشاهده میگردند (۵: ۲۱۷، ۲۱۸).جدول(۱):جدول زیر نیم عمر برخی از عناصر رادیواکتیف رانشان میدهد(۵: ۲۱۸).

عناصر رادیواکتیف	عناصر نوزاد پایدار	نیمه عمر
یورانیوم۲۳۸	سرب ۲۰۶	۴،۵ملیارد سال
یورانیوم۲۳۵	سرب۲۰۷	۷۱۳ملیارد سال
توریوم۲۳۲	سرب۲۰۸	۱،۴ملیارد سال
روبیدیم۸۷	استرانتیوم ۸۷	۴،۷ملیارد سال
پوتاشیم۴۰	ارگون ۴۰	۱،۳ملیارد سال
کاربن۱۴	نایتروجن	۵۷۰۰ سال

ازسال (۱۹۳۰)به این طرف با استفاده از تجزیهٔ طبیعی مواد رادیواکتیف که به نام تعیین زمان به طریق رادیومتری (Radometric Dating) نیز مسمی است(۲: ۴۵۹)، ساعت بسیار دقیقی برای اندازه گیری زمان در زمین شناسی ساخته شده که روز تاروز بر دقت آن اضافه تر میگردد(۱: ۲۱).برای تعیین نمودن سن زمین وپدیده های آن از عوامل و امکانات دیگر نیز قرار زیر استفاده میگردد:

گرده های نباتی هر دورهٔ زمین شناسی، در اثر جریان آب، باد ویخچال از یکجا به جای دیگر انتقال شده، در بین طبقات رسوبی جابه جا و مدفون میگردند. اگر نمونهٔ اینگونه لایه های رسوبی را از جهیل ها ویا ابحار گرفته و در بین مواد تیزابی

بیاندازیم نباتاتی که درمقابل تعاملات کیمیاوی مقاومت دارند به تحلیل نرفته باقی میمانند ، بعد علمای نبات شناسیآن را برحسب جنسیت به فامیل های مختلف دسته بندی کرده، دورهٔ زمین شناسی هر یک از آنها را تعیین مینمایند(۴: ۳۷).
طبق نظریات موجود چون تشکیل زمین وسایر سیارات نظام شمسی همزمان بوده که باتعیین سن واقعی سنگ های آسمانی میتوان سن مطلق زمین را نیز به دست آورد. حد اکثر سن برای سنگ های آسمانی که تابه حال به دست آمده ۴،۶ ملیارد سال بوده، نمونه یی که ازسنگ های مهتاب گرفته شده نیز درتعیین نمودن سن زمین موثر بوده است، به اساس تجزیهٔ این نمونه ها عددی مثل عدد فوق برای سن زمین نیز به دست آمده است(۹: ۲۲۴).

نتیجه:

انسان از بدو خلقت و پیدایش خویش، درفکر آن بوده تا در مورد محیط چهار طرف خود معلومات به دست آورد ، بنا بر همین حس کنجکاوی بشر است که معلومات وی پیرامون محیط اطرافش روز به روز افزون گردیده و تا اندازهٔ زیادی بالای مشکلاتی که از این ناحیه دامنگیر وی بوده فایق آمده است. از جملهٔ همین مشکلات یکی هم داشتن معلومات در بارهٔ تاریخ خلقت کرهٔ زمین است که نه تنها دور از انظار ما بلکه ملیارد ها سال پیش از خلقت انسان پروسهٔ تشکیل آن به سر رسیده است.
انسان به خاطر به دست آوردن چنین معلومات از تاریخ خلقت خود الی امروز همواره از شیوه ها و امکانات مختلف که در اختیار داشته کار گرفته است. تا بالاخره قادر شده که در نتیجهٔ تجزیهٔ طبیعی مواد رادیواکتیف و تبدیل شدن آن به عناصر پایدار دیگر، این مشکل را حل و در مورد سن زمین معلومات قناعت بخش به دست آورده و برای دیگران ارایه کند ، از همین جا است که ما امروز میگوییم، کرهٔ زمین حدود۴،۵ ملیارد سال پیش خلق وتا اکنون به موجودیت خود ادامه داده است.

منابع

۱ـ خزاعی، اسماعیل.(۱۳۷۸).زمین شناسی عمومی ومهندسی، تهران:نشرفرنازتهران.
۲ـ روفی، فضل مولا.(۱۳۶۰). جیولوجی عمومی، جلددوم، کابل:انتشارات پوهنتون کابل.
۳ـ سلاوین و.ا.(۱۹۸۴). جیولوجی عمومی بااساسات جیولوجی افغانستان، ترجمه نجیب الله (صفدری)، مسکو:نشرات میرمسکو.
۴ـ عارض، غلام جیلانی.(۱۳۴۳). جغرافیای فزیکی بخش دوم، کابل:انتشارات پوهنتون کابل.
۵ـ علایی طالقانی، محمود.(۱۳۸۷). مبانی زمین شناسی، تهران:نشر قومس تهران.
۶ـ لیت وهمکاران.(۱۳۸۲). زمین شناسی فزیکی، شیراز:انتشارات دانشگاه تهران.
۷ـ متواضع، غلام حضرت.(۱۳۷۷). محیط زیست در افغانستان، کابل:انتشارات انجمن اسلامی انجینران ومهندسان افغانستان.
۸ـ محمدیاسین.(۱۳۹۲). استرانومی، کابل:انتشارات وزارت تحصلات عالی.
۹ـ مدنی، حسن شفیقی، سیروس.(۱۳۹۰) زمین شناسی عمومی، تهران:انتشارات پلی تکنیک تهران.
۱۰ـ یحیی، هارون.(۱۳۹۲).دقران علمی اعجاز، ژباړن محمد حسین میاخېل، کابل:مستقبل خپرندویه ټولنه.

پوهـــــــنوال جـــــــــان محـــــمد (پيغـــام)
ښـــــــوونې او روزنـــــــې پـــــــوهنځی
تـــــــــــــاريخ څـــــــــــــانګه
تقـريظ ورکـوونکی: پوهنـوال مسـتعلي (نيـازی)
د ښـــــوونې او روزنـــــې پـــــوهنځي اســـــتاد

د نوميالي مؤرخ قاضي منهاج سراج جوزجاني علمي او فرهنګي هڅې

لنډيز:

قاضي منهاج سراج جوزجاني د سراج الدين زوی و، چې د غور په مرکز فيروزکوه کې په(۵۸۹ هـ) کال زيږيدلی، په نوموړي ولايت کې يې خپلې زده کړې بشپړې کړي او د(۲۲)کالنۍ په عمر د حکومت د لوړ رتبه افسرانو له خوا په دنده وګمارل شو، د چنګيز د يرغل پرمهال د سيستان پرلور وخوځيده، تر څو د چنګيز د يرغلونو څخه خپل ځان وژغوري.

همدارنګه د خوارزم شاهانو د يرغل پرمهال له سيستان څخه بېرته د غور پر لور راوخوځيد، چې له دې ځای څخه يې د ګومل له لارې خپل ځان د سند ايالت ته ورسوه او هلته يې د ناصرالدين قباچه له خوا تود هرکلی وشو او د فيروزي د مدرسې د مسوليت پرته يې د علاوالدين د پوځ د قاضي په توګه وټاکه.

کله چې شمس الدين التمش د سند ايالت ونيوه، نوموړی يې د خپل ځان سره ډهلي ته بوت او د ګواليار د ايالت د قاضي په توګه يې وټاکه، چې په وروستي مهال د ټول هند د قاضي القضات په توګه وټاکل شو.

قاضي منهاج سراج جوزجاني د دولتي دندې پرته د طبقات ناصري په نوم يو تاريخي کتاب هم تاليف کړی او د شعرونو يو ټولګه يې د(ناصريه) په نوم وليکله. دا سترعالم او مذهبي پوه په هندکې دژوند پر وروستي مهال مړشوی او په ډهلي کې خاورو ته سپارل شوی دی.

موخه:

ددې علمي تاريخي مقالې د ليکلو څخه مې هدف د قاضي منهاج سراج جوزجاني د ژوند د بېلابېلو پړاونو په اړه څرګندونې او د هغه د علمي او فرهنګي هڅو په اړه د معلوماتو راټولول او همدا نوي تاريخي معلومات مې د تاريخ د مينه والو د لوست لپاره چمتو کړل، ترڅو د قاضي منهاج سراج په اړه بشپړ معلومات تر لاسه کړي.

د همدې علمي تاريخي ليکنې څخه مې دويم هدف دا دی، چې په راتلونکي کې خپل علمي او اکاډميکې چارې په ښه توګه پرمخ بوځم، ترڅو په راتلونکې کې د ليکلو له لارې خپلو هيوادوالو ته د ښه خدمت مصدر وګرځم.

سريزه:

قاضي منهاج سراج جوزجاني د غوري واکمنۍ علمي او فرهنګي شخصيت د غورد هغه مهال په مرکز (فيروز کوه) کې په(۵۸۹ هـ يا- ۱۱۹۳م)کال زيږيدلی او تر (۲۲)کلنۍ پورې يې خپلې زده کړې په فيروزکوه کې بشپړې کړې او وروسته د غوري واکمنانو له خوا د غور د حکومت د پياوړتيا لپاره په مختلفو سيمو او ايالتوکې په دندو ګمارل شوی. نوموړي علمي او فرهنګي شخصيت د چنګيز د پوځي يرغل پرمهال په ډېره ميړانه د(تولک) په سيمه کې وسله واله مبارزه پيل کړه. مګرکله چې و پوهيده، چې د غور د سلطنتي پوځي ځواک روحيه او مورال کمزوری شوی نوځکه د (تولک) د سيمې پرېښودو ته اړشوی.

قاضي منهاج سراج د خوارزم شاهانو د واکمنۍ پرخلاف هم په ډېره مېړانه جنګيدلی، مګر د هغه پوځي ځواک د بري په لړکې د افغانستان پرېښودو ته اړشو او د هند پر لور وخوځيد، کله چې د ملتان سيمې ته ورسيده، د ناصرالدين قباچه له خوا يې تود هرکلی و شو او د فيروزي مدرسې د مسؤل په توګه يې په دنده وګماره. چې په سند او ملتان کې د ناصرالدين قباچه د واکمنۍ له زوال وروسته د شمس الدين التمش په حکم هند ته وليږل شو او د ګواليار د ايالت د خطيب او قاضي په توګه وټاکل شو.

قاضي منهاج سراج جوزجاني په هندکې د افغاني واکمنۍ پرمهال په صداقت د افغاني واکمنۍ د پرمختګ لپاره مټې راونغاړلې، چې د هند افغاني واکمني د نوموړي سترعالم او علمي شخصيت په هڅو د پرمختګ لوړو پوړيو ته و رسيده.

د مولانا سراج الدين جوزجاني پېژندنه

مولانا سراج الدين جوزجاني د خپل وخت نوميالی او د غوري واکمنۍ علمي او فرهنګي شخصيت ګڼل شوی و، د نوموړي پلار (ملاعبدالخالق جوزجاني) د غزنويانو د واکمنۍ پرمهال د جوزجان څخه غزني ته تللی و، چې هلته يې د غزنوي واکمن سلطان ابراهيم غزنوي د لور سره واده وکړ، نوموړي واکمن څلويښت (۴۰) لونې درلودې، چې ټولې لورګانې يې ساداتو او مذهبي علماء کرامو ته په نکاح ورکړې وې، سلطان له همدې پېغلو لورګانو څخه يوه عبدالخاق جوزجاني ته هم په نکاح ورکړه او نوموړی مذهبي سترعالم له جوزجان څخه غزني ته له همدې پېغلې نجلۍ سره د واده په نيت په غزني کې دايمي استوګنه غوره کړه. مولانا سراج الدين جوزجاني د خپلې ځانګړې پوهې او استعداد له امله د غزنوي واکمنۍ په دربارکې د باوري علمي او فرهنګي اشخاصو له ډلې څخه وګڼل شو او د همدې نيټې د اجتماعي پېښې وروسته يې د غزنوي واکمنۍ له دربار سره ټينګې اړيکې درلودې، چې په پای کې په غزني کې مړاو د طاهريانو د کلې په هديره کې خاورو ته و سپارل شو (۸ :۸۱).

د غزنوي واکمنۍ مقتدر واکمن (سلطان ابراهيم غزنوي) د واکمنۍ دوره د (۴۵۱هـ) يا (۱۰۵۹م) کال څخه تر (۴۹۲هـ) يا (۱۱۰۴م) کال سره سمون خوري، پوره (۴۰) کاله يې غزنوي سلطنت اداره کاوه او د شمالي هند پوري سيموکې يې د واکمنۍ جنډه (ببرغ) رپيده. کله چې غزنوي واکمني د سلطان علاوالدين جهانسوز له خوا د زوال سره مخامخ او ړنګه شوه. د مولانا سراج الدين د کورنۍ غړيو د غوري سلطنتي واکمنۍ سره اړيکې ټينګې کړې، چې د همدې هڅو له امله د غوري واکمنۍ د حکومت د لوړپوړيو غړيو له خوا د همدې کورنۍ د هريوه غړي درناوی کېده، ځکه چې دوی د غوري سلطنت د پياوړتيا په اړه د ګټورو مشورو پرته يې د هغو علمي او فرهنګي هڅو ته په درنه سترګه کتل او تل يې د هغو د هڅو او خدمتونو ستاينه کوله (۵: ۲۳۰)

کله چې د سلطان شهاب الدين غوري په مشرۍ د غوري واکمنۍ د پوځي ځواک د يرغل په لړکې په (۵۸۲ هـ) يا (۱۱۸۶م) کال کې د لاهور ښار ونيول شو او غزنوي وروستنی واکمن (خسروملک) يې له دندې څخه ګوښه کړاو د هغه پرځای يې (علي کرماخ) ته د ملتان د ايالت د مسؤليت برسيره د لاهور د ښارادارې دنده هم وسپارله، په همدې مهال يې مولانا سراج الدين جوزجاني په لاهورکې د پوځ د قاضي په توګه و ټاکه. (۳: ۳۸۰)

د همدې دندې د پيل پرمهال د مولانا سراج الدين جوزجاني د کورنۍ سامان الات د دولس اوښانو پواسطه د غور څخه د لاهور ايالت ته و ليږدول شول او په بري سره يې په لاهور کې خپله قضايي دنده پيل کړه (۲:۱۷۸).

له همدې دندې له سرته رسولو وروسته مولانا سراج الدين جوزجاني بېرته غور ته ولاړ او هلته يې استوګنه غوره کړه، مګر د باميان او تخارستان د سيمه ييز حکمران (بهأ والدين سام) له خوا مولانا سراج الدين جوزجاني ته د هغه د پوهې او استعداد له امله د غوري واکمنۍ له دربار څخه په پټه د غور څخه د باميان ولايت ته د تګ بلنه ورکړل شوه او د باميان او تخارستان د ټولو ديني او مذهبي چارو او مدرسو د مسؤل په توګه يې وټاکه (۳: ۳۸۰-۳۸۱).

مولانا سراج الدين جوزجاني د باميان او تخارستان د سيمه ييز حکومت د ديني او مذهبي چارو د مسؤليت برسيره د همدې ايالت د قضايي چارو د مسؤل په توګه هم وټاکل شو، چې په (۵۹۲ هـ يا ۱۱۹۵م) کال د سلطان غياث الدين غوري په حکم له باميان څخه د غور ايالت ته وغوښتل شو او ديو هيئت په ملاتړ د بغداد پرخلافت پرلور په سياسي دنده وګمارل

شو، ترڅو هلته د عباسي خليفه نا صرالدين معتصم باالله د دربارله غړيوسره د سياسي ستونزو د حل لپاره د ګټورو پريکړو څخه وروسته بېرته د غور مرکز (فيروزکوه) ته راستون شو، مګر دويم ځل د سلطان په حکم د عباسي خلافت مرکز (بغداد) ته د سياسي خبرولپاره و ليږل شو، مګر د بغداد پرلورد تګ پرمهال د (مکران) په سيمه کې د مخالفينو د غلچکي بريد په لړکې و وژل شو (۵: ۲۳۵ـ۲۳۴).

قاضي منهاج سراج جوزجاني او دهغه دندې

د افغانستان نوميالی مؤرخ او د مذهبي او عصري علومو د پرمختګ لاروی (ابوعمر) قاضي منهاج سراج جوزجاني په (۵۸۹) هـ يا (۱۱۹۳) م کال د غور په مرکز (فيروزکوه) کې زيږيدلی و. د نوموړي افغاني مؤرخ پلار (سراج الدين اغجو ته الزمان) د غوري واکمنۍ په پلازمېنه (فيروزکوه) او د باميان د سيمه ييزحکومت په دربارکې د ځانګړي شهرت له مخې نيک نوم او مقام درلود. د تاريخي پېښولومړنی کتاب د قاضي منهاج سراج جوزجاني په قلم ليکل شوی او همدا تاريخي ليکنه يې په هند کې د افغان واکمن (ناصرالدين محمود) په نوم د (طبقات ناصری) په نوم ياده کړېده. (۱: ۸۳)

کله چې قاضي سراج الدين جوزجاني د بغداد د خلافت پر لورد رسمي او دوستانه سفر پر مهال د غلچکي بريد په لړکې د (مکران) په سيمه کې و وژل شو، په همدې مهال قاضي منهاج سراج جوزجاني دري (۳) کلن ماشوم و او د غوري واکمنۍ په دربار کې يې ژوند کاوه، چې د غوريانود دربار په علمي اوفرهنګي چاپيريال کې د هغه مهال د پوهانو له خوا د روزنې لاندې و نيول شو اوخپلې علمي او فرهنګي زده کړې يې د غوري سلطنت په مرکز (فيروزکوه) کې د نوميالیو پوهانو څخه په بري سره ته ورسولې.

داچې قاضي منهاج سراج جوزجاني په شاهي حرم کې زيږيدلی و، تر درې کلنۍ پورې په فيروزکوه کې د (ملکه ماه) ترڅارنې لاندې و، چې په همدې مهال يې مورنۍ مينې ته نه دی اړ کړې، د ځوانۍ ترمهال يې په شاهي حرم کې خپلې زده کړې کولې او مور يې د سلطان غياث الدين غوري د خور د زده کړو، د علمي او فرهنګي چاپيريال ملګرې وه، چې په کوچنيوالي کې په فيروزکوه کې اوسيده او د همدې ملکې په حجره کې روزل شوی و. (۵: ۲۴۳).

سلطان شهاب الدين غوري ځامن نه درلودل، نو ځکه يې غلامان د افسرۍ لوړومنصبونو ته و رسيدل، چې همدې افسرانو ته يې د زامنو په سترګه کتل او تل يې د خپل حکومت او دربار ټول مسؤلين اوافسران د لوړو منصبونو پرلورهڅول، د همدې واکمن د هڅو له امله دوو تنو مؤرخينو اوليکوالو د محمدعوفي په نوم د تذکرة اللباب الالباب اوقاضي منهاج سراج د (طبقات ناصري) په تاريخي کتاب او د (ناصريه) په نوم شعري ټولګه ليکلې ده. (۴: ۱۳۶)

قاضي منهاج سراج جوزجاني تر(اوه کلنۍ) پورې کلام الله مجيد حفظ کړ. د پاتې نورو زده کړو د بشپړولولپاره امام علي غزنوي ته وليږل شو او د (۶۰۷هـ) يا (۱۲۲۸ م) کال پورې يې په (فيرزکوه) کې په علمي او فرهنګي چاپيريال کې خپلې زده کړې بشپړې کړې او د همدې نيټې وروسته د مؤلف د ژوند نوی پړاو پيل کېږي، ځکه چې خپل تحصيلات پای ته رسوي او د غور د سلطنت مرکز (فيروزکوه) څخه بل ايالت ته په حکومتي دنده ګمارل کېږي. (۷: ۶۴۹)

قاضي منهاج سراج جوزجاني په (۶۱۸هـ- ۱۲۲۱ م) کال چې همدا مهال (۲۹) کلن ځوان و، د غورد ختيځ ګاونډي ايالت (ګرزيوان او تمران) د سيمو پرلور وخوځيد او هلته يې د ناصرالدين ابوبکرد زوی (ملک سيف الدين) له خوا تود هرکلی و شو اوهلته يې د استوګنې لپاره ټول شرايط ورته برابرکړل، د څلور مياشتو استوګنې وروسته په (۶۱۸ هـ) يا (۱۲۲۱م) کال بېرته د غور پلازمينې (فيروزکوه) ته ستون شو، د څومياشتو استوګنې وروسته په ګرندیتوب د (تولک) پرلور وخوځيد. (۵: ۲۲۴)

د ځينوتاريخي ليکنوله مخې قاضي منهاج سراج جوزجاني تر (۲۲) کلنې (۶۱۱هـ) يا- (۱۲۱۴م) کال پورې د غوري واکمنۍ په مرکز (فيروزکوه) کې استوګنه کوله، کله چې يې په (فيروزکوه) کې خپلې زده کړې پای ته و رسولې، نوځکه د غوري واکمنۍ په امر د فيروزکوه څخه لرې پرتو سيمو کې په سرکاري دنده وګمارل شو. (۲: ۵۲۰- ۵۱۹)

په همدې کال کې يې هلته د دندې پرمهال په (تولک) کې د خپلوانو له ډلې څخه د يوې پېغلې نجلۍ سره په داسې حال کې د واده مراسم سر ته ورسول، چې د چنګيز پوځي ځواکونو پرخراسان منظم يرغل پيل کړی و او د (۶۱۸ـ۶۲۰هـ) يا (۱۲۲۱ ـ ۱۲۲۳م) کال پورې د (تولک) په پوځي چوڼۍ کې د چنګيز د يرغلګر پوځ پر خلاف په ډېره ميړانه وجنګيده (۳: ۳۷۹) او

د نوموړي پوځ د هر يو پوځي ګواښ پرخلاف يې خپله سينه د سپرغوندې د مقابلې لپاره نيولې وه او د غوري واکمنۍ د پلازمينې پرلورې يې د پرمختګ اجازه نه ورکوله، په همدې مهال يې د(تولک) په سيمه کې د خپل ژوند راتلونکې تګلاره و ټاکله او د خپل ادبي او فرهنګي ډګر پرلور يې خپله راتلونکې تګلاره د پر مختګ پر لور وهڅوله او د خوږو اشعارو په ويلو سره يې د شعراو ادب د مينه والو ادبي تنده ماتوله. (۵:۲۲۴)

په (۶۲۳ل)کال قاضي منهاج سراج جوزجاني د عثمان مرغني د زوی (ملک رکن الدين محمد) دربار ته ولاړ او هلته يې په (۶۲۴ل)کال کې غوڅه پريکړه وکړه، چې کومې لرې پرتې سيمې ته ولاړ شي، ترڅو د يوې خوا د چنګيز د يرغلګر پوځ له ګواښ څخه وژغورل شي اوله بلې خوا خپلو علمي او فرهنګي هڅوته په سوله ييز چاپيريال کې ادامه ورکړي، نوځکه د خپلې غوڅې پريکړې له مخې د هند پرلور وخوځيد. (۳: ۳۷۹)

قاضي منهاج سراج خپل لومړنی ماموريت په (۶۱۳ هـ – ۱۲۱۶م) کال د سيستان په ايالت کې د (۲۴) کلنۍ په عمر پيل کړاو په همدې مهال يې د سيستان او قهستان سيمو ته پرله پسې رسمي سفرونه وکړل، ځکه چې هلته د سلطنت له خوا په حکومتي دنده ګمارل شوی و. (۵:۲۴۵)

په (۶۱۲هـ- ۱۲۱۶م) کال کې قاضي منهاج سراج د غوري سلطنت له مرکز(فيروز کوه) څخه سجستان ته ولاړاو بياله هغه سيمې څخه د (زرنج) پرلوروخوځيده ، چې هلته يې د سيستان او نيمروز د سيمه ييزو واکمنانو له خوا يې تود هرکلی وشو ، ځکه همدا سيمه ييز واکمنان هم د غوري سلطنت د چارواکو له خوا په دنده ګمارل شوي و. (۳: ۳۷۸)

کله چې قاضي منهاج سراج جوزجاني په (۱۲۱۶م)کال په رسمي دنده وګمارل شو ، په ډېره بېړه دفيروزکوه څخه د بست په نيت وخوځيد ، ترڅوله هغه ځايه د سيستان ايالت ته خپل ځان ورسوي. داهغه مهال و ، چې د سيستان ايالت پخواني اداري مسؤل (ملک تاج الدين حرب) درې کاله پخوا مړشوی و او د هغه زوی ملک يمين الدين (بهرام شاه) د سيستان اداري او نظامي چارې په خپل لاس کې نيولې وې، قاضي منهاج سراج جوزجاني د همدې دندې پرمهال د سيستان په جنوب کې خپلو څېړنواو مشاهدو څخه په خپلوليکنوکې يادونه کړېده او د همدې دولتي دندې پرمهال يې د امام رشيد الدين (عبدالمجيد) سره د سيستان په ايالت کې وکتل او د هغه سترمذهبي پوه څخه يې ځينې علمي او مذهبي روايت او حقايق راواخيستل او په خپل تاريخ (طبقات ناصري) کې يې خوندي وساتل، د همدې دندې پرمهال د قاضي منهاج سراج جوزجاني د سياسي او فرهنګي خوځښت د پرمختګ دوره پيل کېږي. (۵:۲۴۴)

په همدې مهال ملک يمين الدين (بهرام شاه حرب) يو اځنيی شخص و ، چې د غوري واکمنۍ د ړنګيدو وروسته يې د غوري واکمنۍ په نوم خطبه لوستله، نوموړی علم پالونکی، زړوراو با تدبيره واکمن و ، قاضي منهاج سراج جوزجاني سيستان ته ور غلی و او د همدې سيمه ييز واکمن سره يې (۷) مياشتې استوګنه کوله، چې بالاخره ملک يمين الدين (بهرام شاه حرب) په (۱۲۱۲م) کال د جمعې لمانځه ته د تګ پرمهال په بازارکې دمخالفينو له خوا و وژل شو.(۳: ۳۵۸)

قاضي منهاج سراج د خپل عصر تجربه کار شخصيت او د مذهبي او قضايي چارو ځانګړی متخصص ګڼل شوي و او هم د غوري سلطنتي واکمنۍ او د هغه ايالتي مسؤلينو د مزاج سره يې بشپړ بلديت درلوده، کله چې د چنګيز پوځ د غوري سلطنت ځينې حکومتي چوڼۍ د پوځي ګواښ لاندې ونيولې، قاضي منهاج سراج په همدې مهال د (فيروزکوه) د سلطنت له خوا د خراسان د ايالت د قضايي چارو د مسؤل په توګه و ټاکل شو او نوموړي په ډېره ميړانه د هغه ايالت د قضايي دندې پرته د چنګيز د پوځي يرغل د مخنيوي له پاره خپلې هڅې ګړندۍ کړې، مګرد چنګيزد يرغلګرځواک د منظمو يرغلونو له امله د افغانستان ګڼ شمېرسيمو ته د اقتصادي زيان پرته بشري او ځاني درنده مرګ ژوبله اوښتې وه، د همدې خونړې جګړې پرمهال قاضي منهاج سراج جوزجاني اته (۸) مياشتې په ډېره ميړانه د چنګيزد پوځ پرخلاف وجنګيده. (۵ :۲۴۷)

قاضي منهاج سراج د نوموړي ايالت څخه د ملک تاج الدين حسين خرپوست په حکم د(قاين کلا ، سرتخت، جوانشيراوکرمان سيمې يو له بلې پسې له نږدې وليدلې او د هغه پوځي چوڼۍ مسؤلينو ته يې د لازمو سپارښتنو وروسته د قهستان د ايالتي مسؤل (شهاب المنصور ابوالفتح) مرکز ته ولاړ، نوموړي همداکاري سفرپه (۶۲۱هـ) يا(۱۲۲۴م) کال پيل کړی و او په (۶۲۲هـ)يا (۱۲۲۵م)کال د غورد(خيسار) پوځي چوڼۍ ته ولاړ او هلته يې د ملک رکن الدين محمد عثمان مرغيني سره وکتل. (۷: ۶۵۰)

د همدې سيمه ييزو حکمران په حکم د ريم ځل د قهستان د ايالتي د مسؤل (ملاحده) د حکومت د سمبالښت په دنده وګمارشو او د هغه دندې د بشپړولو وروسته د (فراه او داور) د سيمو د ليدلو وروسته د سيستان، کرم، طبس او مومن اباد سيمې يې يوله بلې پسې له نږدې وليدلې او د نيمګړتياو په اړه يې سيمه ييزو مسؤلينو ته لازمې سپارښتنې وکړې. د همدې کاري سفر پرمهال يې د هرې سيمې د تاريخي او جغرافيې مسأيلو په اړه معلومات راټول کړل، چې همدا معلومات يې د (طبقات ناصري) د کتاب په شپاړسم څپرکي کې په بشپړه توګه ليکلي دي او قاضي منهاج سراج د همدې سفر پرمهال (۴۳) ورځې د سيمه ييز حکومت د مسؤل له خوا زندان ته ليږل شوی و، چې د زندان څخه د خوشي کېدو سره سم يې د هند پرلور د مهاجرت په اړه د تګ غوڅه پريکړه وکړه، لکه څنګه چې مخکې اشاره شوې، قاضي منهاج سراج جوزجاني خپل لمړنی ماموريت د سيستان په ايالت کې په (۶۱۳ هـ يا ۱۲۱۶م) کال د خپل عمر په (۲۴) کلنې پيل کړی و، چې د همدې نيټې وروسته او (۷) کاله د قهستان او سيستان په ايالتي حکومتونو کې په پرله پسې دندو وګمارل شوی و. (۵: ۲۴۵)

قاضي منهاج سراج جوزجاني د خراسان د پوځي چوڼۍ څخه خپل ځان غزني ته و رسوه او په (۶۲۴هـ) يا (۱۲۲۶م) کال د ګومل او سند د وادي له لارې يې د هند پرلورد تګ اراده وکړه او د سند څخه د هند پرلور وخوځيده. په (۶۲۳هـ) يا (۱۲۲۵م) کال د سند د ايالت حکمران ناصرالدين قباچه د (ملک خان خلج) پرخلاف منظم پوځ چمتو کړ او د هغه سيمه ييز حکومت يې له پوځي ګواښ لاندې ونيوه. (۳: ۳۷۸ ـ ۳۷۷)

کله چې قاضي منهاج سراج جوزجاني په (۶۲۴ هـ) يا (۱۲۲۶ م) کال د (اوچه) پوځي چوڼۍ ته و رسيد، همدامهال د سلطان شمس الدين التمش او ناصر الدين (قباچه) ترمنځ خونړې جګړه روانه وه، کله چې قاضي منهاج سراج د ناصر الدين (قباچه) سره وکتل، سمدستي يې د فيرزوی مدرسې د اداري او تدريسي مسؤليت پرته د خپل زوی علاوالدين (بهرام شاه) د پوځ د قاضي په توګه و ټاکه. (۷: ۲۵۰)

په (۶۲۵هـ) يا (۱۲۲۷م) کال د سند او ملتان د ايالت مسؤل ناصرالدين (قباچه) ماتې وخوړه او د هغه د واکمنۍ سيمې شمس الدين التمش په خپل لاس کې ونيولې، قاضي منهاج سراج جوزجاني يې د (اوچه) د فتحې وروسته د سلطان شمس الدين التمش دربار ته وليږل شو او (۱۵) ورځې وروسته د سلطان شمس الدين التمش لښکرګاه ته ورسيده، په هغه لښکر کوټ کې يې د نوموړي واکمن سره وکتل.

کله چې په (۶۲۵ هـ)ـ۱۲۲۷م) کال شمس الدين التمش ډهلي ته ورسيد او هلته يې د خپل پوځي بري په ويار غونډه را وبلله، په همدې غونډه کې د بغداد د سياسي استازي ته هم د ګډون بلنه ورکړشوې وه، قاضي منهاج سراج جوزجاني تر (۶۲۹هـ) يا (۱۲۳۱م) کال پورې په ډهلي کې اوسيده، د همدې کال د روژې په مياشت کې يې په کالپور (ګواليار) کې د شمس الدين التمش سره وکتل. (۵: ۲۴۹ـ ۲۴۸)

په (۲۹ / صفري / ۶۳۰هـ) يا (۱۲۳۲م کال د کالپور (ګواليار) پوځي چوڼۍ د ډهلي د پوځ له خوا ونيول شوه، د سلطان شمس الدين التمش په حکم د هغه ايالت د قضا او امامت له دندې پرته د سلطان په حکم د ټول هند د قضايي او شرعي چارو د مسؤل په توګه و ټاکل شو او همدې دندې ته يې شپږ (۶) کاله ادامه ورکړه. (۷: ۲۵۰)

په (۶۳۰هـ يا ۱۲۳۲) د مغلو د قوم ځينې استازي د سلطان شمس الدين التمش دربار ته ورغلي وو او د سلطان په حکم همدا د مغل قوم استازي د کالپور (ګواليار) پوځي چوڼۍ ته وليږل شوو، ترڅو د قاضي منهاج سراج جوزجاني څخه د اسلام د مقدس دين اصول او مقررات په بشپړ توګه زده کړي او د سلطان په حکم يې د ګواليار په جامع جومات کې د مغلي قوم استازو ته د مذهبي او اسلامي اصولو د تدريس د پروسې پرمختګ ته ادامه ورکوله.

قاضي منهاج سراج د سلطان راضيه د واکمنۍ پرمهال د ګواليار د ايالت څخه ډهلي ته را و غوښتل شو او د ګواليار د ايالت د قضايي دندې پرته يې د (ناصريه) مدرسې د مسؤل په توګه د ځانګړې سلطنتي حکم له مخې و ټاکل شو، مګر د سلطان علاوالدين د واکمنۍ پرمهال (۶۳۷هـ) يا (۱۲۳۹م) کال د (ناصريه) مدرسې د تدريسي مسؤليت پرته، کله چې سلطان علاولدين ته د دولت خاني په مانۍ کې د ډهلي د سلطنت واک سپارل کېده، په همدې غونډه کې قاضي منهاج سراج جوزجاني هم ګډون درلود. (۸: ۸۴)

د سلطان معزالدين (بهرام شاه) د واکمنۍ پرمهال (۶۳۹هـ) يا (۱۲۴۱م) کال مغلي پوځ پرلاهور يرغل وکړ او سلطان د ډهلي په سپينه مانۍ کې په ډېرګړندۍتوب د دربارغونډه راوبلله. په همدې مهال قاضي منهاج سراج جوزجاني خطبه ولوستله، د همدې درباري غونډې په لړکې ټولو حاضرينو د سلطان سره بيعت وکړاود همدې غونډې پرمهال د سلطان معز الدين (بهرام شاه) په حکم قاضي منهاج سراج د ټول هند د قاضي القضات په توګه وټاکل شو.(۵: ۲۵۱)

په (۶۳۹هـ) يا (۱۲۴۱م) کال د سلطان معز الدين (بهرام شاه) د واکمنۍ پرخلاف د ډهلي د سلطنت مامورينو او د دربار غړيو پاڅون وکړ، د همدې پاڅون پرمهال قاضي منهاج سراج د دواړو خوا ترمنځ منځګړيتوب کاوه، چې د همدې پاڅون په لړکې د خواجه مذهب الدين په مشرۍ (۳۰۰) تنو پاڅون کوونکو لومړی د قاضي منهاج سراج سامانونه لوټ کړل او هڅه يې کوله، چې نوموړی هم و وژني، مګر نوموړی د پاڅون کوونکو له ګواښ څخه روغ رمټ وژغول شو.(۳: ۳۸۰)

همدې پاڅون کوونکو څو ورځې وروسته د ډهلي سلطنتي ودانۍ ونيوله، سلطان معز الدين بهرام شاه يې وواژه او د ډهلي د سلطنت اداره يې سلطان علاوالدين (مسعود) ته وسپارله، چې همدې واکمن د خپلې واکمنۍ د پيل په (۱۲) شپاړه سمه ورځ عمادالدين شنقور د هند د قاضي القضات په توګه وټاکه.

په (۶۴۰هـ) يا (۱۲۴۲م) کال قاضي منهاج سراج د ډهلي څخه د بدايون د ايالت پرلورو خوځيد او د تاج الدين قتلق حکمرانۍ ته يې خپل ځان و رسوه، له هغه ايالت څخه په ډېر ګړندۍتوب د (اودهـ) دايالت پرلور وخوځيد، کله چې قاضي منهاج سراج د (اودهـ) ايالت ته و رسيد، د ملک قمرالدين (قيروان) له خوا يې تود هرکلی وشو.

په همدې مهال د لکهنوتي د ايالت مسؤل (طغاي خان) د (غزالدين طغرل) د پوځ پر ملاتړ د (اودهـ) ايالت ته راغلی و او قاضي منهاج سراج د (اودهـ) ايالت کې د هغوی سره ملګری شو، د هغه د پوځي ټولګي سره په داسې حال کې د لکهنوتي پرلور وخوځيد، چې د خپلې کورنۍ ټول غړي يې د (اودهـ) په ايالت کې پرېښودل، ترڅو د کوم اعتمادي شخص پواسطه يې د لکهنوتي ايالت ته ور وليږي.

قاضي منهاج سراج په لکهنوتي کې د دوه کلنې استوګنې پرمهال د بيهار ايالت مسؤل صمام الدين له خوا تر (۶۴۲هـ) يا (۱۲۴۴م) کال پورې د نوموړي ايالت د قضايي چارو د مسؤل په توګه ټاکلی و او په (۱۲۴۵م) کال قاضي منهاج جوزجاني د (طغای خان) سره د (جاجنګر) د سيمې پر لور وخوځيد.

په (۶۴۷هـ-۱۲۴۸م) کال قاضي منهاج سراج ته د خپلې خور څخه، چې همدا مهال په غور ايالت کې اوسيدله يوليک و رسيده او نوموړې د همدې ليک په ځواب کې يو (آس)، (۳۰۰۰) چېټله روپۍ، (۴۰) غلامان، (۱۰۰) خرواره غله او نور سوغاتونه چمتو کړل او (الغ خان) ته يې وسپارل، ترڅو د نوموړي خور ته همدا سوغاتونه په غور کې و سپاري.(۵: ۲۵۴-۲۵۵)

په (۶۴۴هـ-۱۲۴۵م) کال قاضي منهاج سراج د پنجاب په جلندر ښار کې د سلطان ناصرالدين محمود د پاملرنې وړ وګرځيد او د طبقات ناصري د تاريخ د ليکلو لپاره يې وهڅوه، چې همدا تاريخ يې د ناصر الدين محمود په نوم وليکه، قاضي منهاج د (۱۲۵۰-۱۲۵۲م) کال پوري په دولتي دنده بوخت و او په (۱۲۵۳م) کال د سلطان ناصرالدين له خوا د صدر جهاني په افتخاري لقب و ويارل شو، کله چې په (۱۲۵۴م) کال د هند قاضي القضات مړ شو، نوځکه د سلطان په حکم د دريم ځل لپاره قاضي منهاج سراج د هند د قاضي القضات په توګه و ټاکل شو.(۷: ۲۵۰)

کله چې د (۱۲۵۲م) کال د سلطان ناصر الدين محمود د ملتان او (اوچه) د ايالت پر لور د پوځي سفر پرېکړه وکړه، د همدې سفر پرمهال يې قاضي منهاج سراج ته د هند د سلطنت ټوله اداره و سپارله او د سلطان د حرکت پرمهال د (کېتهل) د سيمې پورې د قاضي منهاج سراج له خوا بدرګه شو، چې د هغه سيمې څخه ډهلي ته د بېرته راتګ پرمهال د سلطان له خوا يو آس د سوغات په توګه ورکړشو او د (۱۲۵۳م) کال پورې يې د ټول هند د قاضي القضات په توګه دولتي دنده اجرا کوله، مګر په (۱۲۵۳م) کال د سلطان په حکم عماوالدين زنجاني د هند د قاضي القضات په توګه و ټاکل شو.(۵: ۲۵۷)

قاضي منهاج سراج د طبقات ناصري کتاب په (۲۲) څپرکو کې ليکلی دی، چې نوموړي څپرکې عبارت دي له (د انسان اوجهان پيدايښت، ساساني واکمني، د اسلام تاريخ، د افغانستان واکمنان (طاهريان، صفاريان، غزنويان، غوريان او

په هند کې د افغاني واکمنانو په باره کې ليکلی دي. همدا تاريخ يې د سلطان ناصر الدين محمود د نوم په تړاو د(طبقات ناصري) په نوم ياد کړی دی. (۵۲۱:۲)

قاضي منهاج سراج جوزجاني د همدې تاريخ ليکل په (۱۲۴۵م) کال پيل کړاو په (۲۲) څپرکو کې يې په داسې حال کې ترتيب کړ، چې څوڅپرکي يې عمومي تاريخ ته ځانګړي کړل، مګرد غزنويانو، غوريانو او د مغلي پوځ ديرغلونو په اړه يې ګټورې ليکنې کړې، طبقاتي ناصري لومړی ځل په کلکته کې د بنګال د(اسيايي شاهي انجمن) له خوا چاپ او خپور شو او د مستر راورټي له خوا همدا کتاب په انګليسي ژبه له ژباړنې وروسته چاپ شو، د طبقات ناصري تاريخي کتاب د ليکلو چارې په (۱۲۴۵م-۶۴۴هـ) کال د قاضي منهاج سراج له خوا پيل شوې او په (۶۵۸- ۱۲۵۹م) کال يې همدا تاريخ بشپړ او د تاريخ د مينه والو د لوست لپاره يې چمتو کړی و. (۱۷۹:۲)

قاضي منهاج سراج جوزجاني د (۱۲۵۹م) کال د طبقات ناصري تاريخي کتاب له بشپړولو وروسته بله کومه ليکنه د مؤرخينو لاس ته نه ده ورغلې، مګر د همدې کتاب د بشپړولو پورې د قاضي منهاج سراج جوزجاني ژوند يقني دی.

قاضي منهاج سراج جوزجاني د عصري او ديني علومو له زده کړو پرته د عربي او دري ژبو په نظم او نثر کې هم لوی لاس درلود او په دواړو ژبو يې د نثر او نظم خوندورې ليکنې کولې او د شعر او اداب د مينه والو لپاره يې خواږه شعرونه او نثرونه چمتو کول، نوموړي مؤرخ د طبقات ناصري د تاريخي کتاب پرته يو بل کتاب په نظم د (ناصريه نامه) په نوم ليکلی دی.

پايله:

قاضي منهاج سراج جوزجاني د افغانستان نوميالی مؤرخ دی، چې ټول حقايق او د سترګو ليدلي حال يې د خپل تحليل او څېړنې له مخې د لوستونکو د مطالعې لپاره چمتو کړي، نوموړي مؤرخ د خپلو فرهنګي هڅو په لړ کې په کوچنيوالي کې خپلې زده کړې پيل او د زده کړو له بشپړولو وروسته يې د هيواد او خلکو د خدمت لپاره ملا وتړله.

قاضي منهاج سراج جوزجاني د ماموريت پرمهال د غوري سلطنتي واکمنانو د خدمت لپاره په صداقت هڅې پيل کړې، مګرکله چې يې په افغانستان کې پرخپل ځان د فرهنګي هڅو ساحه تنګه وليدله، نوځکه يې د هند پرلور مهاجرت ته خپل چمتوالی څرګند کړ او په هند کې يې هم خپلو فرهنګي هڅو ته ادامه ورکوله، په هغه هيواد کې يې هم د افغاني واکمنۍ د پياوړتيا له پاره هڅې کولې او په هند کې يې د افغاني سلطنت د پرمختګ فرهنګي هڅو ته په ډېره چټکۍ ادامه ورکوله، چې د هغه عصراو مهال د نړۍ سترو واکمنانو د هند د سلطنت پرمختګ او د خلکو سوکالي ته ګوته په غاښ نيولې وه.

اخځليکونه:

۱ـ انتونوو.(۱۳۹۱ ل). هند در قرون وسطي. (ژباړه ميرحسين شاه)، موسسه انشارات خاور.
۲ـ ارشاد، اورنګ زيب. (۱۳۸۴ل)، افغانستان پيژندنه. پيښور دانش خپرندويه ټولنه.
۳ـ پژواک، عتيق الله. (۱۳۸۸ل)، غوريان (ژباړه د اورنګ زيب ارشاد). پيښوردانش خپرندويه ټولنه.
۴ـ غبار، ميرغلام محمد. (۱۳۸ل)، افغانستان در مسير تاريخ. کابل دولتي مطبعه.
۵ـ منهاج، سراج. (۱۳۸۹ل). طبقات ناصري. تصحيح (عبدالحی حبيبي). تهران ديبا مطبعه.
۶ـ نعيمي، علي احمد. (۱۳۸۴ل)، از اداره مغل تا دوره تيموريان، رشيديه کتابخانه.
۷ـ هندوشاه، محمد قاسم. (۱۳۸۸ل)، فرشته، تهران. انجمن اثار مفاخر فرهنګي.
۸ـ هاشمي، غلام محی الدين. (۱۳۸۶ل)، د افغانستان مهين خپرندويه ټولنه، پيښورناصر باغ.

پوهنـــــدوی ســـــيد اجان عتيـــــق عبـــــدياني
کرنـــــې پـــــوهنځی -هـــــارتيکلچر څانګـــــه
تقريظ ور کوونکی: پوهندوی محمد اسماعيل سعادت

په ختيځو ولايتونو کې د مېوو د زړو باغونو د نوي کولو او ځوانولو د اړتياوو د لارو چارو څېړنه

لنډيز:

د افغانستان ختيځ ولايتونه د مختلفو او په ځانګړې توګه د استوايي سيمو د ميوو د روزنې له پاره غوره آب او هوا لري. زيتون او ستروس يې مهمې ميوې دي، پخوا ددې ميوو باغونه په دولتي فارمونو او د بزګرو په ځمکو کې تاسيس شوي ؤ، چې ورايټي يې اوس مهال زړې دي او هم د سيمې په طبيعي ځنګلونو کې د زيتون، مرخنيو او املوکو وحشي ونې موجودې دي چې د پيوند له لارې په اهلي ورايټيو بدليدلی شي، د سيمې د اوبو د ويالو، لښتيو، لارو غاړو پر سر او په د ناستې په دېرو او هجرو کې د خسکو توتانو او انځرو ونې ولاړې دي چې په بيدانه او اصلاح شوو ورايټيو او د دولتي او غيردولتي موسسو له لورې بزګرو ته ناکاره جوړشوي باغونه هم د سرڅانګو د پيوند له لارې په غوره ورايټيو بدليدلی شي، غټې، زړې او د غيرمطلوب ورايټيو ونې ددې پرځای چې له منځه يوړل شي د سرڅانګو د پيوند له لارې اصلاح کيدلی شي او پدې برخه کې د پيوند مختلفې طريقې لکه زخه پيوند (T زخه ، افغان نيچه پيوند...) او ښاخ پيوند(آسکنه ، ژب، څنک ، پوستکی پيوند...) په کارو ړل کيږي، همدا رنګه زاړه او د غير منظم چوکاټ لرونکې ونې د ژورې ښاخبرۍ له کبله ځوانې او اصلاح کيدلی شي. چې دغه کار د ولايتي بيارغونې ټيم (PRT) د ښوپايلو په لرلو سره د زيتونو په باغونوکې ترسره شو ، د زيتونو په برخه کې د زړو ورايټيو پر ځای د ننګرهارکانال (NVDA) له خوا د ايټاليا د هيواد څخه د زيتونو نوې راوړل شوې ورايټۍ او هم د ستروس، جاپاني املوکو ، انځر او داسې نورو ميوو نوې ورايټۍ د ختيځ زون د ښوالۍ د پرمختيايي پروژې(PHDP)او د نيالګيو د روزونکو د ټولنو د غړو د مورنيو ونو د باغونو څخه ترلاسه کيدلی شي، پدې برخه کې د ځانګړو ساده وسايلو او موادو څخه د ګټې اخيستنې تر څنګ بايد د کرنيز ترويج مامورينو او ښوالو ته ښوونيز پروګرامونه جوړ تر څو د عامه پوهاوي له لارې د سيمې ميوې غوره او د توليداتو د زياتوالي له لارې د ښوالو د عايد کچه لوړه او اقتصادي پياوړتيا رامنځ ته شي. پدې برخه کې ترسره شوې څېړنه راښيي چې ښوال د سرڅانګو د پيوند سره بلدتيا لري او ددې پيوند ترسره کول دومره سخت کارنه بريښي او د ترسره کولو له پاره يې مناسب فرصتونه وجود لري.

سريزه:

تازه او وچې ميوې د افغانستان د صادراتي اقلامو شمېرۍ تشکيلوي. په هيواد کې د مېوو د صنعت د ودې او پرمختيا لپاره ډېر فرصتونه موجود دي. د هېواد ختيځ ولايتونه د ځانګړو شرايطو په لرلو سره په دې برخه کې خپله ونډه لرلی شي، ځکه دغه سيمه د يو شمېر مديتراني او نيمه استوايي سيمو د ميوو (ستروس، زيتون، لوکاټ، سره جاپاني املوک---) او د ژمي لږې سړې هوا ته اړکلک زړې او منه ايزو ميوو د روزنې لپاره غوره بلل کيږي.

د ننګرهار ولايت په دولتي ځمکو کې زيتون او د بزګرو په ځمکو باندې ستروس کرل شوي وه، چې باغونه يې د مېوو په توليد پيل کړې وه، خو له بده مرغه د جنګ جګړو له کبله تالا ترغه شول، په دې ډله کې يواځې د زيتونو ونې په ۲۳۰۰ هکتاره دولتي ځمکو باندې موجودې دي، د ستروسو دولتي باغونه له منځه لاړل، يواځې د بزګرو په ځمکو کې کرل شوي د تروشو نارنجو ونې پاتې شوې چې اوس مهال زړې دي.

د زيتونو باغونه ۵۰----۴۰ کاله د مخه جوړ شوي دي، د هغه وخت د زيتون ورايټۍ لکه همدي، ګمليک، چيمليک، الويک، اذربايجاني د تيلو او اچارو د توليد په مقصد کرل شوي وه، اوس دغه ورايټۍ زړې شوې دي او د نويو معرفي شوو ورايټيو سره چې په نورو هېوادونو کې کرل کيږي، له هره پلوه سيالي نه شي کولای نو لازمه برينبي چې زړې ورايټۍ په نويو ورايټيو بدلې او تعويض شي. همدارنګه د ننګرهارولايت د طبيعي ځنګلونو په ټيټو کمربندونو کې د وحشي زيتونو(*Olea cuspidata*) ونې وجود لري، چې کيدلای شي د سرځانګو يا برخود پيوند له لارې په اهلي زيتونو(*Olea europea*) بدلې شي.

ددې ترڅنګ د سيمې د اوبو د ويالو ، کانالونو، لښتيو، لارو، ديرواو هجرو کې د توتانواو انځرو خسکې ونې ولاړې دي چې دوی هم د سرځانګو د پيوند(Top working) له لارې په بې دانه او غوره ورايټيو بدليدلی شي. په دې وروستيو کې يو شمير باغونه د غيردولتي موسسو له خواجوړشوي دي. چې د ګل اوميوه نيوني ستونزې لري او کيدلای شي ددې پرځای چې له منځه يوړل شي پر غوره ورايټيو د سرځانګو د پيوند له لارې بدلې شي. د ګڼ شمير بزګرو له خوا د تروونارنجو باغونه جوړ شوي چې البته د دې باغونو د توليداتو په پايله کې د بازار ستونزې رامنځته شي، نو د تروو نارنجانونيالګي او ونې د دې پرځای چې له بيخ نه وويستل شي هغه د پيوند له لارې په مالټو، ليموګانو، سنترو، او چکوترو بدليدلی شي.

ددې ترڅنګ کيدلای شي ځينې زړې ونې د ژورې ښاخبرۍ او سرکې کولو له لارې بيرته ځوانې او د ښه حاصل د ورکړې وړتيا غوره کړي، د ننګرهار کانال په فارمونو کې د زيتونو باغونو د اوسنيو ونو ښه بدرنګه او غيرحاصل خيزه شوي هغه بايد ژوره ښاخبري او سرکې شي تر څو مناسبه ښه او د ښه حاصل وړتيا تر لاسه کړي. په تيرو کلنو کې د ننګرهار کانال سره په همغږۍ کې د ولايتي بيارغونې ټيم(PRT) لخوا د زيتونو د باغونو ژوره ښاخبري ترسره شوه چې ښې پايلې يې درلودلې. په دې ليکنه کې ټينګار شوی دی چې نامنلې ورايټۍ د سر ځانګو د پيوند له لارې په منلو ورايټيو بدليدلی شي، او زړې او بې شکله ونې د ښاخبرۍ او سرکې کولو له لارې اصلاح او ځوانې شي.

سپارښتنه کيږي چې د نامنلو ورايټيو ونې د لمنځه وړلو پرځای د سرځانګو پيوند له لارې په منلو ورايټيو بدلې شي، او زړې ونې دې له منځه وړلو پرځای ژوره ښاخبري او يا سرکې شي تر څو ځوانې شي. په دې توګه د وخت، کارګر، پيسو او نورو سرچينو سپما به و شي، ددغه موضوع په هکله ښوال او بزګران تجربې لري ځکه هغوی د توتانواو انځرو غټې ونې پيوندوي، او د توتانو ،انځرو، ولو، سنځلواو نورې ونې او بوټي د سرکپولو له لارې ځوانوي.

د سخت زړومېوو (زردالو، شفتالو، الو، ګيلاس او الوچه) د ونو د سرځانګو پيوند (Top working) او سرکپول ستونزمن دي ځکه دغه ونې د ژورو ټپونو په پايله کې کڼې يا صمغ ترشح کوي چې د ټپ د ښه رغېدنې مخنيوی کوي، خو په منه ايزو مېوو کې دا ستونزې کمې او يا نه ليدل کيږي.

موخې:

ددې مضمون د نشر له لارې به د کرنې د ترويج مامورين، محصلين او ښوال د باغونو د نوي کولو او ځوانولو په هکله لازمه پوهه او مهارت ترلاسه او د سرچينو په سپما سره په هېواد کې د ښوالۍ صنعت پراختيا ومومي.

مواد او کړنلاره:

ددې موضوع په هکله د معلوماتو د ټولولو له پاره د ترسره شويو څېړنو، اړونده ليکنو، برينبنايي خپرو شويو ليکنو ته د کتنې تر څنګ د ننګرهار کانال، د ختيځ زون د ښوالۍ د پراختيايي مرکز(PHDP) د کارکوونکو، د نيالګيو روزونکواو ښوالو سره مرکې شوې دي.

په ختيځو ولايتونو کې د زړو باغونو د نوي کولو او د ځوانولو اړتيا

د لاندېنيو موخو ترلاسه کولواو د ستونزو د حل لپاره د باغونو د نوي کولو او ځوانولو اړتيا برينبي.

۱–د ننګرهار دکانال داوسنيو زيتونو ورايټۍ زړې دي چې د غوښتنې وړ توليد نه شي لرلې، اړتيا برينبي چې موجوده ونې په نوو ورايټيو د پيوند له لارې تعويض او بدلې شي.

۲–د ختيځو ولايتونو د طبيعي ځنګلونو د ټيټو برخو ونې د زيتونو وحشي ونې تشکيلوي او کيدلای شي د پيوند له لارې په غورو، توليدي او په اهلي ورايټيو بدلې شي او دا به د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا سبب شي.

۳–د توتانو، انځرو او بيرې خسکي ونې د پيوند له لارې په بې دانه او غورو ورايټيو بدليدلی شي.

۴–هغه رسيدلي باغونه چې د ګل نيونې او مېوه نيونې ستونزې لري د غوره ورايټيو د پيوند له لارې د ښه توليد وړتيا حاصلوي.

۵–د کورونو، هجرو او دناستو ديروکې د خسکي توتانو ونې چې ميوې يې چاپيريالي ستونزې جوړوي د پيوند له لارې په شنډو توتانو بدليدلی شي.

۶–زړې او بد شکله ونې د ښاخبرۍ او سرکپولو د لارې ځوانېدلی شي.

(۱)تصوير: ژوره ښاخبرۍ او د پيوند له پاره اماده کول

د باغونود نوې کولو او ځوانولو عمليې

د باغونود نوي کولو او ځوانولو له پاره بايد لاندې عمليې ترسره شي.

۱–د بدلېدونکي ونې/بوټي انتخاب:

زړې، زيانمنې، لږحاصل ورکوونکې او د ټيټ کيفيت لرونکې ونې/بوټي د پيوند د مقصد لپاره انتخابيږي.

۲–د پيوندي ځانګو او زخو د اخيستنې له پاره دونو انتخاب:

د لوړ او غوره حاصل لرونکو، د ناروغيو او آفتونو څخه پاک او د پېژندل شويو او غوره ورايټيو لرونکې ونې او يا بوټو څخه د پيوند له پاره پيوند ځانګې او يا زخې اخيستل کيږي.

۳–د بدليدونکې ونې سرکپول يا ژوره ښاخبري:

د نوو ورايټيود زړو ورايټيو د بدلولو له پاره نيله بوټي (پرکوم چې پيوند صورت نيسي) سرکپ او يا ژوره ښاخبري په کې صورت نيسي هغه نيالګي چې مېوه نيونې ته نه وي رسيدلي د ځمکې د سطحې څخه ۴-۵ فوټه لوړ غوځيږي او بيا سمدستي او يا وروسته پيوند په کې صورت نيسي. د بلې خوا د زړو ونو ښاخونه او ځانګې په هغه ځايونو کې چې د ۶-۹ انچه پېړوالی ولري د اصلي ساقې څخه د ۳۰----۲۰ سانتي متر په اوږوالي سره قطع کيږي، او بيا په همدې قطع شوو ساقو او يا پر دوی باندې پر نوو شنو شو تاندو ځانګو باندې پيوند صورت نيسي. هر کله دا غوره ښکاري چې پر اصلي ساقې ۳يا ۴ځانګې پرېښودل شي او پر هغو پيوند صورت ونيسي خو د لمر په وسيله د سوځيدنې د مخنيوي لپاره پراصلي ساقې څو ځانګې پرېښودل کيږي تر څو پر ساقې سيوری وکړي او د پيوند د اصلي ځانګې د شنه کيدو او غټيدو وروسته پرې کيږي.(8,6,1)

د پيوند له پاره غوڅه شوې سطحه بايد ډېره هواره او ښويه وي او هر کله هم ددې موخې له پاره تيز، پاک او تعقيم شوي سامان آلات استعمال شي، د پيوند د سامان آلاتو د تعقيمولو له پاره ميتايل الکول، فورمالين، پوتاشيم پرمنګنيت، ډيټول محلول او يا ګرمې او به استعماليږي.

۴–د پيوند طريقې:

د زړو ورايټيو د نوي کولو له پاره د پيوند مختلفې طريقې په کار وړل کيږي چې د پيوند دا ټولې طريقې د Topworking په نامه يادېږي، د زخې پيوند طريقې لپاره تر ټولو غوره طريقه د T او پنک (افغان نيچه) او د ښاخ پيوند د ژب، اسکنه، څنګ، پوستکي او د طوقې پيوند طريقې غوره ګڼل کيږي. د مېوو د هرې نوعې له پاره د پيوند ځانګړې طريقې لکه د ستروسو له پاره پوست ښاخ پيوند، زيتونو له پاره ژب، اسکنه او انار چنګ، د توتانو او انځرو له پاره T زخه او افغان نيچه

پیوند(Afghan Ring Budding) د منو او ناکو له پاره د ژب او اسکنه د امو له پاره د څنګ ښاخ پیوند طریقې په کار وړل کیږي. هیله ده د پیوند د طریقو په انتخاب او ترسره کولو کې د بنوالۍ د چارود پوه سره مشوره وشي.(7,5,4,3,2)

۵–د پیوند څانګې او زخې انتخاب او تېارول:

د څنګ، ژب، اسکنه پیوند له پاره باید د پیوند څانګه د روان کال او یا هم د تیرکال د ودې څخه چې اوږدوالی یې **۲۰-۱۵** سانتي متره او د زخې پیوند له پاره د روان او یا هم د تیرکال د ودې څخه څانګه انتخاب او د نوموړو څانګو څخه پاڼې باید لرې خو د پاڼو ډنډرکې د ۱ - **۱.۵** سانتي متره په اوږدوالي سره پرېښودل شي. پیوند زخې او څانګې تر پیوند کولو په لمدو ټوکرو کې تاو، په سوړ او سیوري ځای کې وساتل شي د پیوند له پاره څانګې د تصدیق شوو مورنیو ونو(Certified Mother trees) څخه واخیستل شي.(1)

۲–د پیوند کولو وختونه:

معمولا په پاڼریزو میووکی ښاخ پیوند لکه ژب، اسکنه د استراحت په وخت(دلوه – حوت) او په ساړو سیموکې د حوت - حمل په میاشتوکې صورت نیسي خو زخه پیوند په تل شنومېوو(ستروس او زیتونو) کې د حوت او هم د جوزا، اسد او سنبلې میاشتوکې ترسره کیږي، زخه پیوند معمولا په پسرلي، جوزا او د سنبلې په میاشتوکې کله چې نبات فعال وي اجرا کیږي، زخه پیوند هغه وخت ښه پیوستون مومي کله چې د تودوخې درجه د **۹۰–۱۰۰** فارنهایت وی.

د ښاخ پیوند په صورت کی د پیوند له پاره ټوله غوڅه ساحه یا ټپ د پیوند د موم پوسیله چې د **۳** برخې ریزین(Resine)، **۲** برخې د شاتوموم(Bee wax) او **۱** برخه د ناریالو او یا پنبه دانې تیل د جوشولو څخه ترلاسه کیږي. په ګرم او تود حالت کې چې سوځوونکی نه ویو پوښل شي، د زخه پیوند په صورت کې د زخېد نوکې څخه پرته نورې برخې په پلاستیکو، رابړېتارو او دکرباس ټوکرد ریتارو په وسیله چې د پارافین او ریزین په ګډ محلول کې چې د **۳:۱** نسبت لرونکی وی لړل او پری پوښل کیږي.(6)

۷–د پیوند له پاره د نیله بوټی او پیوند اماده کول:

د پیوند اخیستنې له پاره باید بوټي په وتره حالت کې وي، **۱۵–۲۰** ورځې د مخه نایتروجني سره ورته ورکړل شي، نیله بوټي هم باید د پیوند په وخت کې وتره او د پیوند بوټي په شان دې ته هم د اړتیا په بنسټ نایتروجني سره ورکړل شي.

۸–د پیوند شوو ونو پالنه او ساتنه:

الف: پلاستیک، ربړي ریتارې چې پر پیوند شوو برخو تړل شوې وي د پیوند لګېدنې څخه وروسته غوڅې شي، ځکه د ودې د زیاتیدنې په صورت کې پر تنو حلقه جوړوي او د حلقې د ساحې څخه ساقه ماتیږي.

ب: د پیوند لګیدنې څخه وروسته د پیوند برخې څخه لاندې اضافي څانګې او یا د پیوند د پیوستون برخې څخه پورته د پیوند څانګې څخه پرته نورې برخې غوڅې تر څو د پیوند شوې څانګې او زخې له پاره د ښې ودې شرایط برابرشي.



(۲)تصویر:د سکنه پیوند طریقه

ج: د پیوند د موښل شوي موم د رژیدنې او غیر فعال کیدلو په پایله کې پر ښاخونو د ټپونو له لارې د ناروغۍ عاملین حمله کوي چې د تنې د خوسا کېدو سبب کیږي نو کولای شو چې د سمنتو او شګو پلستر چې نسبت یی **۳:۱** ویپرې وموښل شي او یا هم پرې د بوردو ملهم(Bordeuo paste) چې نسبت یې **۳:۲:۱** کاپر اوکسي کلورایډ، چونه او پارافین دي، وموښل شي.

د: پرنیله بوټي نوي شنه شوې څانګې، پیوند زخې او

پيوند څانګې د ناروغيو او حشراتو ترحملې لاندې راځي چې په دې هکله لازم تدابير ونيول شي.
ه: کيدلی شي د لمر سوځونې، يخ وهنې او د حشراتو او ناروغيو د مخنيوي له پاره د پيوند شوو ونو تنې د چونې په محلول باندې سپينې شي او ددې مقصد له پاره بايد يو کيلوګرام چونه، 100 ګرامه کاپر اوکسي کلورايد، 250 ګرامه خواړو مالګه، 50 ګرامه ملتاين پودر، 20 ګرامه هنګ (اينجه) په 5 ليتره اوبو کې ګډ اود ونو تنې پرې سپينې شي.
و: د پيوند شوو ونو په منظم ډول اوبخور، او ورته د سرو ورکول په نظر کې ونيول شي.
ن: د ونې له پاره بايد منظم اوغوره چوکاټ جوړ او اضافي څانګې ورڅخه لرې شي.

۹- دونوځوانول: د ونو د ځوانولو په عمليه کې د ورايټيو د بدلولو موضوع په نظر کې نه نيول کيږي يوا ځې زړې ونې سرکپ او يا هم ژوره ښاخبري په کې صورت نيسي او بيا له کبله يې ۴-۳ څانګې د ونې چوکات جوړونې له پاره پر مناسبو برخو د نورو فرعي څانګو او مېوو د توليد له پاره پرېښودل کيږي.
د ننګرهار کانال په اړونده فارمونوکې د زيتونو ونې د ځمکې د سطحې څخه ۴-۶ فوټو په لوړوالي قطع شوي او که په دغه ارتفاع کې کومې فرعي يوکلنې، دوه کلنې اويا څوکلنې څانګې پر اصلي ساقې که پرېښودل شي غوره پايلې لري. همدارنګه د توتانو او انځرو د زړو ونو پر تنو د راوتلو څانګو په برخه کې، فرعي ساقې د ۴۰-۳۰ سانتي مترو په اوږدوالي قطع کيږي چې پرې نوې څانګې د راتلونکې ودې او چوکاټ جوړونې له پاره شنې شي.
د يادونې وړ بلل کيږي چې د سرکپولو او ژوره ښاخبري په وړاندې کلک زړې مېوې لکه زردالو، الوچه، الوبالو، شفتالو او ګيلاس ونې ښه عکس العمل نه ښيي ځکه د ژورو ټپونو له درکه ورڅخه کنډ (صمغ/ژاولې) بهيږي چې په پايله کې نبات مري او يا هم ډېر کمزوری شي. د سرکپولو او ژورې ښاخبرۍ ښه وخت د دلوې او حوت مياشتې او په يخو سيموکې يوه مياشت د مخه د فعاليدلو او وينبېدو څخه صورت نيسي چې ټپونه يې د سمنټو په پلستر آخيږ او يا هم د بوردو په ملهم مښل کيږي.

پايله:

تراوسه په ختيځو ولايتونو کې د زړو او په حاصل راغلو باغونو تعويض په نوو او غوره ورايټيو رواج نه لري يوا ځې خسکي توتان او انځر د پيوند له لارې په نوو او غوره ورايټيو بدليږي. د توتانو او انځرو د ونو سرکپول د بزګرانو په وسيله هم صورت نيسي. دغه چارې په عنعنوي ډول ترسره کيږي چې پايلې دومره د قناعت وړنه دي. د ننګرهار په کانال کې د زيتونو په ونو کې ژوره ښاخبري او حتی د ونو سرکپول صورت نيولی چې پايلې يې ښې وې، په سيمه کې ډېر زاړه او د ناخوښه ورايټيو باغونه وجود لري چې نوي کولو ته يې اړتيا برېښي او کيدلی شي په ډېرې اسانۍ سره هغه په غوره او نوو ورايټيو بدل او حتی ځوانې شي او دا عمل د زخه او ښاخ پيوند د طريقو له لارې عملي کيدای شي چې له کبله يې رسيدلي باغونه پرته له دې چې له منځه لاړې شي هغه د وخت او نورو سرچينو په سپما سره نوي او ځوانيدلی شي او د پرېګړ شوو لرګيو په قيمت سره تر بيا ميوه نيونې روزل کيدلی شي هيله ده ددې مضمون په نشر سره او د ښوالو د عامه پوهاوي له لارې دا پروسه ګړندۍ او ګټوره شي. نوې او غوره تکثيري نباتي مواد د ننګرهار کانال او په ختيځ زون کې د ښوالۍ د پرمختيا پروژې له لورې ترلاسه کيدلی شي، ځکه د ننګرهار کانال له خوا د ايټاليا د هيواد څخه د زيتونو نوې ورايټۍ راوړل شوي او د ښوالۍ د پرمختيا پروژې له لورې د ستروسو، جاپاني املوکو، انځرو او نورو ميوو د ډولونو او ورايټيو کليکسونونه (Collection blocks) او د ختيځ زون د نيالګيو د روزونکو د ټولنې غړو ته د مورنيو ونو باغونه (Mother trees nurseries) جوړ شوي چې په اړونده چارو کې ورڅخه ګټه اخيستل کيدای شي.

مناقشه:

هرکله هم د ميوو د زړو باغونو نوې کول او ځوانول يوه ګټوره عمليه ده، ځکه ناخوښي او غيرحاصلخيزه باغونه د خوښۍ وړ او حاصل يې له هره پلوه غوره ګرځي دا کار د سرچينو د ضايع کېدو پرته د سرڅانګو د پيوند له لارې صورت نيسي او د

پیوند د چارو سره زمونږ بنوال اشنایي لري، هغه ترسره کولای شي، د باغونو د نوي کولو او ځوانولو له لارې د مېوو صنعت پراختیا مومي او له کبله یې د مېوو له پاره د کورنۍ اړتیا د پوره کیدو ترڅنګ د صادراتو کچه لوړیږي په پایله کې کورنۍ، سیمه ایز او ملي اقتصاد پیاوړی کیږي.

References:

1. Chattopadhyay ,T.K,(2012). A text Book on Pomology Vol 1: Fundamentals. Publ. Kalyani. New Delhi. India.pp.71-78
2. Das, J.S.(2010).Fruit Growing. Publ. Kalyani. New Delhi. India. P.171
3. George Acquaah.(2009).Horticulture Principles and practices 4th edi. PHI Learning Private Limited .New Delhi. India.pp.325-326
4. Kumar,N. (2012).Introduction to Horticulture .Publ .Oxford &IBH.New Delhi.India.168-171
5. Mahmood ,N.Malik.(2005).Horticulture .Publ. National Book Foundation. Islamabad. Pakistan.
6. Sharma, R.R.(2014). Propagation of Horticultural crops: Principles & Practices 2nd edi. Publ. Kalyani. New Delhi. India.PP.199-201
7. Singh,Amar. (2000) Fruit physiology and production. . Publ. Kalyani. New Delhi. India.pp.139-144
8. Singh,Jitendra. (2012).Basic Horticulture. Publ. Kalyani. New Delhi. India.P.106

پوهنـــدوی محـــب الـــرحمن جنتـــي
ســـــــاينس پـــوهنـــــــځی
رياضـــــــي - فـــــــزيک څانګـــــه
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی حميدالله يار
د ســـــاينس پـــــوهنځي اســـــتاد

د هيلبرت په فضاء کې ځينې هندسي مسايلو ته کتنه

لنډيز:

د هيلبرت په فضاء کې ځينې هندسي مسايلو ته کتنې تر سرليک لاندې علمي څېړنيزه مقاله کې لومړی د اقليدوس او هيلبرت فضاءپيژندل شوې او بيا کوم مسايل چې د اقليدوس په فضاء کې وجود لري دهغې له جملې څخه د نورم اکسيومونه ،دمتوازي الاضلاع خاصيت ، دتقارب موضوع ، د وکتورونو تر منځ زاويه ، د وکتورونو دعموديت شرط او دفيثاغورث قضيې عمومي بڼه تر څېړنې لاندې نيول شوي دي. دغه څېړنيزه علمي مقاله په عنوان ،لنډيز، سريزه ،دڅېړنې موخې ، مواد او کړنلاره ،دڅېړنې پايله او اخځليکونو باندې پای ته رسيدلې ده.

سريزه:

دانالیز رياضي اساسي مفاهيم د اتلسمې پيړۍ په پای او نولسمې پيړۍ په شروع کې تر مطالعې لاندې ونيول شو او داهغه وخت و، چې انالیز رياضي ابتدايي شکل درلود. په 1888 م. کال کې دخطي فضاء مفهوم دپيانو(G.Peano) له خوا دلومړي ځل لپاره وپيژندل شو.تردې وروسته درياضي پوهانو هريو په خپله برخه کې مختلفې فضاءګانې تر مطالعې لاندې ونيولې او درياضياتو مختلف مفاهيم يې په نوموړو فضاء ګانو کې ترتحقيق لاندې نيولي دي. د هيلبرت فضاء دپيژندلو لپاره مختلفې مرحلې د رياضي د پوهانو لخوا وړاندې شوې په پای کې په 1906 م کال کې هيلبرت (D.Hilbert)وکړای شو چې نوموړې فضاء د خاصو مفاهيمو په تر سره کولو داهميت وړ وګرځوي.تر دې وروسته درياضي پوهانو له خوا د هيلبرت په فضاء کې اساسي مفاهيمو ته انکشاف ورکړل شو ، لوستونکي کولای شي د نظر وړ مطالب په ذکر شوو ماخذونو کې وګوري.[8]

موخې:

ددې علمي څېړنې اساسي هدف دادی چې د رياضي مينه وال په خاص ډول د رياضي محصلين داقليدوس په فضاء کې دهندسي مسايلو دمطالعه کولو تر څنګ دهيلبرت فضاء وپيژني او هم پدې وپوهيږي چې ځينې هندسي مسائل دمفاهيمو په نظر کې نيولو سره په دواړه فضاء ګانو کې ترمطالعې لاندې نيول کېږي.

مواد او کړنلاره :

ددې علمي څېړنيزې مقالې په ليکلو کې لومړی دڅېړنې يوه طرحه جوړه شوې او بيا دهغې طرحې په رڼا کې دمعتبرو ماخذونو او انترنټ څخه په ګټه اخيستنه پر څېړنه بحث شوی دی. څېړنه کتابتوني بڼه لري او په ليکنه کې دهغو منابعو څخه ګټه اخيستل شوې چې په نړيوالو معيارونو برابر دي.

ضروري مطالب:

۱. د اقليدوس فضاء: هغه خطي حقيقي فضاء ته ويل کېږي چې په هغې کې سکالري ضرب تعريف شوي وي. $\mathbb{R}_n$ د اقليدوس(Euclid) يوه حقيقي فضا ده چې دعناصرو ترمنځ يې سکالري ضرب په لاندې ډول تعريف شوي.[6] , [4]

$$x = (a_1, a_2, \ldots, a_n) \quad , \quad y = (b_1, b_2, \ldots, b_n)$$

$$(x,y) = a_1b_1 + a_2b_2 + \cdots + a_nb_n \ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

(1) رابطه د x او y وکتورونو سکالري ضرب په نوم يادېږي او د (x,y) په شکل ښودل کېږي. سکالري ضرب د لاندې خواصو لرونکي دي.

1. $(\lambda_1x_1 + \lambda_2x_2, y) = \lambda_1(x_1, y) + \lambda_2(x_2, y)$ (خطي خاصيت نظر لومړي ارگومنت ته)
2. $(x, \mu_1y_1 + \mu_2y_2) = \mu_1(x, y_1) + \mu_2(x, y_2)$ (خطي خاصيت نظر دويم ارگومنت ته)
3. $(x, y) = (y, x)$ (تبديلي خاصيت)
4. $(x, x) > 0 \quad , \quad x \neq 0 \quad , \quad (x, x) = 0$ که او يوازې که $x = 0$ وي.

۲. خطي نورمي فضاء: که $x \in R$ وي نو لاندې افادې ته د x مودول يا نورم ويل کېږي او هغه دارنگه ليکل کېږي.

$$|x| = \sqrt{(x, x)} = \sqrt{a^2_1 + a^2_2 + \cdots + a^2_n} \ldots\ldots\ldots\ldots (2)$$

پدې ځاي کې

$$x = (a_1, a_2, \ldots, a_n)$$

دي.

د R حقيقي خطي فضاء د خطي نورمي حقيقي فضاء په نوم يادېږي، که چېرې هر $x \in R$ ؛ $|x|$ حقيقي عدد سره مطابقت وکړي. کله کله د $\|x\|$ او $\||x|\|$ سمبولونو پواسطه هم ښودل کېږي. د $|x|$ عدد ته د x وکتور نورم ويل کېږي او د لاندې خواصو لرونکي دي.

$$1)\ |x| > 0 \quad , \quad x \neq 0 \quad , \quad |0| = 0$$
$$2)\ \forall_{x \in R}, \forall_{\alpha \in R}\ |\alpha x| = |\alpha|\,|x| \ldots\ldots\ldots\ldots (3)$$
$$3)\ \forall_{x,y \in R}\ |x + y| \leq |x| + |y| \quad \text{(مثلثي خاصيت)}$$

که x او y د R اختياري عناصر وي نو لرو:

$$|(x, y)| \leq |x|\,|y| \ldots\ldots\ldots\ldots (4)$$

پورته غيرې مساوات د کوشي – بونيا کوفسکې غيرې مساوات په نوم يادېږي.[3] ,[7]

که $R^s(a,b)$ د حقيقي متمادي توابعو فضاء وي نو د عناصرو ترمنځ سکالري ضرب لاندې شکل لري.

$$\big(x(t), y(t)\big) = \int_a^b x(t)y(t)dt \ldots\ldots\ldots\ldots (5)$$

د (5) رابطې او د انتيگرال د خواصو له مخې کولاي شو د خطي نورمي حقيقي فضاء ټول خواص ثابت کړو.

که $x_1, x_2, \ldots, x_n, \ldots$ متقاربه ترادف وي نو محدود دي يعنې

$$|x_n| < M \ldots\ldots\ldots\ldots (6)$$

که $R^s(M)$ د ټولو متمادي توابعو فضاء وي نو محدود دي يعنې

$$\forall_{f(x) \in R^s(M)} \quad |f(x)| < M \ldots\ldots\ldots\ldots (7)$$

الجبرا: د K پر ساحه د u خطي فضاء ته الجبرا ويل کېږي که چېرې د هر $x, y \in u$ لپاره د ضرب عمليه چې د xy يا x, y پواسطه ښودل کېږي، د لاندې خواصو لرونکې وي. د هر $x, y, z \in u$ او هر $\alpha \in k$ لپاره

$$i)\ \alpha(x, y) = (\alpha x)y = x(\alpha y)$$
$$ii)\ (xy)z = x(yz)$$
$$iii)\ (x + y)z = xz + yz$$
$$iv)\ x(y + z) = xy + xz$$

د (i) او (ii) رابطو ته تبادلوي خاصيت او د (iii) او (iv) خاصيتونو ته توزيعي خاصيت ويل کېږي.

په عمومي ډول ضربي خاصيت ممکن تبادلوي نه وي يعنې د

$$xy = yx \ldots\ldots\ldots\ldots (8)$$

رابطه ممکن صدق ونه کړي. که چېرې (8) رابطه صدق وکړي نو ويل کېږي چې u د تبادلوي خاصيت لرونکې الجبرا ده.

په همدې ترتيب که $e \in u$ داسې موجود وي چې د هر $x \in u$ لپاره لاندې رابطه صدق وکړي:

$$ex = xe = x \ldots\ldots\ldots\ldots (9)$$

e ته د عینیت عنصر ویل کېږي. د y عنصر ته د x معکوس عنصر ویل کېږي که چېرې لاندې رابطه صدق وکړي.

$$xy = yx = e$$

که P د ټولو پولینومونو مجموعه وي.

$$p(\lambda) = \sum_{k=0}^{n} a_k \lambda^k = a_0 + a_1\lambda + \cdots + a_n\lambda^n \quad \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (10)$$

$$a_i \in k$$

نو د معمولي جمعي او ضرب عملیو لاندې یو تبادلوي الجبرا ده چې د عینیت عنصر لرونکې ده.[8]

د هیلبرت فضاء: د H خطي حقیقي فضاء ته د هیلبرت فضاء ویل کېږي که چېرې د هر $x, y, z \in H$ لپاره (x, y) د یو حقیقي عدد سره مطابقت وکړي او د لاندې خواصو لرونکي وي.

$$1)\ (x,x) > 0 \quad , \quad x \neq 0 \quad , \quad (0,0) = 0$$

$$2)\ (y,x) = (x,y)$$

$$3)\ (\alpha x, y) = \alpha (x,y) \quad , \quad \alpha \in \mathbb{R}$$

$$4)\ (x+y, z) = (x,y) + (y,z)$$

د پورته اکسیومونو په مرسته او هم د ریاضي د استقرا طریقې له مخې کولای شو ثابت کړو: [5] , [2]

$$\left(\sum_{j=1}^{m} \alpha_i x_j \ , \ \sum_{k}^{n} \beta_k \ y_k\right) = \sum_{j=1}^{m} \sum_{k=1}^{n} \alpha_i \beta_k (x_j, y_k) \ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (11)$$

د هیلبرت په فضاء کې ځینې هندسي مسایلو ته کتنه

A) د هیلبرت فضاء د اکسیومونو څخه مونږ کولای شو د کوشي – بونیاکوفسکي غیر مساوات پلاس راوړو. که چېرې x او y د H اختیاري عناصر وي نو

$$|(x,y)| \leq +\sqrt{(x,y)(y,y)} \ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (12)$$

د H په هیلبرت فضاء کې نورم په لاندې ډول تعریف کېږي.

$$\|x\| = +\sqrt{(x,y)} \ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (13)$$

د (7) اکسیوم په نورمي فضاء کې په اسانۍ سره ثابتیږي. د (7) اکسیوم د (9) او د (6) اکسیوم د (8) اکسیومونو څخه لاسته راځي. د (8) مثلثي اکسیوم په نظر کې نیسو. نوموړي اکسیوم د فضاء د مثلثي اکسیوم څخه لاسته راځي. همدارنګه د (11) رابطې په مرسته ، (4) رابطه لاسته راځي.

پدې ډول ټول هغه مفاهیم او خواص چې د نورم موجودیت پورې تړلي دي، په هیلبرت فضاء کې موجود او صدق کوي. لدې ځایه ویل کېږي چې د هیلبرت فضاء د نورمي فضاء یو خاص حالت دي چې نورم په هیلبرت فضاء کې کروي خواص صدق کوي. یو له دغه خاصیتونو څخه دارنګه په نظر کې نیسو:

لیما د متوازي الاضلاع په برخه کې: د H هیلبرت فضاء د x او y هر دوه اختیاري وکتورونو لپاره لاندې رابطه صدق کوي.

$$\|x+y\|^2 + \|x-y\|^2 = 2\|x\|^2 + 2\|y\|^2 \ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (14)$$

(د قطرونو د مربعاتو حاصل جمع د هغې د اضلاعو د مربعاتو حاصل جمع له دوچنده سره مساوي دي)

ثبوت: په ساده فرض کولو لاسته راځي:

$$\|x+y\|^2 + \|x-y\|^2 = (x+y, x+y) + (x-y, x-y) = 2(x,x) + 2(y,y) = 2\|x\|^2 + 2\|y\|^2$$

مسئله طرح کوو: په R_n کې د $\{\|x\| = 1\}$ کره کوم شکل غوره کوي، کله چې د $\|x\|$ نورم د (x,y) سکالري حاصل ضرب څخه د $\|x\| = \sqrt{(x,y)}$ فورمول پواسطه تعریف شوي وي .

پدې حالت کې لاس ته راوړو:

$$(x,x) = \left(\sum_j \xi_j e_j \ , \ \sum_k \xi_k e_k\right)$$

$$= \sum_j \sum_k \xi_j \ \xi_k \ (e_j, e_k) = 1$$

پدې ډول د $\|x\| = 1$ کره يوه دوهمه درجه مرکزي سطح ده. څرنګه چې نوموړې کره محدوده ده نو دغه سطح الپسوئد ده.

B) فرضوو چې د H په هيلبرت فضاء کې د $x_n \to x$ او $y_n \to y$ متقارب ترادفونه ورکړل شوي وي نو

$$(x_n\ ,\ y_n) \to (x, y)$$

دي.

دا يو حقيقت دي مونږ لرو:

$$(x, y) - (x_n\ ,\ y_n) = (x, y - y_n) + (x - x_n, y_n)$$

د (11) غير مساوات له مخې لرو.

$$|(x, y) - (x_n\ ,\ y_n)| \le \|x\|\ \|y - y_n\| + \|x - x_n\|\ \|y_n\|$$

پدې ځاي کې ښې خوا د $n \to \infty$ لپاره صفر خوا ته تقرب کوي دا ځکه چې $\|y - y_n\| \to 0$ ، $\|x - x_n\| \to 0$ او هم د y_n متقارب ترادف محدود دي (6).

C) د هيلبرت په فضاء کې يوازې د وکتورونو طول (نورم) پيدا کولاي شو بلکه کولاي شو د هغوی ترمنځ زاويه محاسبه کړو. د x او y دوه غير صفري وکتورونو ترمنځ زاويه د لاندې رابطې پواسطه تعريف کېږي.

$$\cos(x, y) = \frac{(x, y)}{\|x\|\ \|y\|}$$

د (11) رابطه د مطلوب زاويې موجوديت راښيي. کوم چې د 0 او π ترمنځ واقع ده.

D) د H هيلبرت فضاء کې د x او y وکتورونه يو پر بل عمود ويل کېږي کله چې $(x, y) = 0$ وي. د $x \neq 0$ او $y \neq 0$ لپاره ذکر شوي تعريف دا معني ورکوي چې د x او y ترمنځ زاويه $\frac{\pi}{2}$ ده. د صفر وکتور پر هر وکتور عمود دي.

د $\mathbb{R}_n$ اقليدوسي فضاء کې د سکالري ضرب نظر کې نيولو سره (5) د $x = (\xi_1\ , \dots, \xi_n)$ او $y = (\eta_1, \dots, \eta_n)$ وکتورونو د عموديت شرط لاندې شکل لري:

$$\sum_{k=1}^{n} \xi_k \eta_k = 0$$

د توابعو فضاء $R^2(a, b)$ کې د (5) سکالري ضرب په نظر کې نيولو سره د $x = x(t)$ او $y = y(t)$ وکتورونو لپاره د عموديت شرط لاندې شکل لري:

$$\int_a^b f(t)\, y(t)\, dt = 0$$

E) که چېرې د x وکتور د $y_1, \dots, y_n$ پر وکتورونو باندې عمود وي، نوموړي وکتور د ذکر شوي وکتور په هر اختياري خطي ترتيب $\alpha_1 y_1 + \dots + \alpha_n y_n$ باندې عمود دي. حقيقتاً

$$(x\ ,\ \alpha_1 y_1 + \dots + \alpha_n y_n) = \alpha_1 (x_1 y_1) + \dots + \alpha_n (x\ , y_n) = 0$$

لدې ځايه دانتيجه تر لاسه کېږي د ټولو هغو وکتورنو مجموعه کوم چې د x (او يا د يو مشخص مجموعې په هر اختياري وکتور $x \in H$) پر وکتور عمود وي نو د H يو فرعي فضاء ده.

د فيثاغورث قضيه او د هغې عموميت: فرضوو چې د x او y وکتورونه عمود دي د ابتدايي هندسې سره کاملاً په مشابه ډول د $x + y$ وکتور ته د هغه قايم الزاويه مثلث وتر ويل کېږي کوم چې د نوموړي وکتورونو پواسطه جوړيږي.

$x + y$ په سکالري شکل په خپلو کې سره ضربوو د x او y د قايم والي په نظر کې نيولو سره پلاس راوړو.

$$\|x + y\|^2 = (x + y\ , x + y\ ) = (x, y) + 2(x, y) + (y, y) = \|x\|^2 + \|y\|^2$$

مونږ د هيلبرت په عمومي فضاء کې د فيثاغورث قضيه ثبوت کړه. د وتر مربع د دوه نورو ضلعو د مربعاتو د مجموعې سره مساوي ده. په اسانۍ سره لومړۍ قضيه کولاي شو د معين شمير جمعي عناصرو لپاره انکشاف ورکړو يعنې:

$$\|y\|^2 = (x_1 + x_2, \dots, x_k, x_1 + x_2, \dots, x_k)$$
$$= \|x_1\|^2 + \dots + \|x_k\|^2$$

کله چې $y = x_1 + x_2 + \dots + x_k$ وي او هم $x_1, x_2, \dots, x_n$ سره عمود دي.

پايله:

دهيلبرت فضاء د خطي نورمي فضا يو خاص حالت دي چې د سکالري ضرب دخواصو په نظر کې نيولو سره لرو:

۱ – دمتوازي الاضلاع خاصيت چې په اقليدوس فضاء کې وجود لري، د هيلبرت په فضاء کې هم موجود دي.

۲ - د هيلبرت په فضاء کې د اقليدوس فضاء په شان د د تقارب موضوع صحت لري.

۳ - د هيلبرت په فضاء نه يوازې د وکتورونو طول پيدا کولاي شو ، دوکتورونو تر منځ زاويه هم محاسبه کېږي.

۴ - د هيلبرت په فضاء د عموديت شرط هم صدق کوي.

۵ - د هيلبرت په فضاء کې د فيثاغورث قضيه صدق کوي او هغې ته کولاي شو عمومي بڼه ورکړو.

وړانديزونه:

د يادولو وړ ده چې هرې فضاء د تعريف شوي نورم په نظر کې نيولو سره دخاصو خواصو لرونکې دي ،نوددې لپاره چې هندسي مسايل د هيلبرت په فضاء کې تر مطالعې لاندې ونيول شي بايد د هيلبرت فضاء پورې مربوطه د سکالري حاصل ضرب ټول شرطونه صدق وکړي.

Refreance:

1)Ганенкова .Е.Г , К .Ф. Амозова.(2013). функциональный анализ.ПетрГУ.сс(10-15).

2) Кадец.В.М(2006). Курс функционального анализа.Харьков.сс(357-361).

3) Канторович .Л .В ,Г .П .Акилов . (1984) функциональный анализ , Москва.сс(119-134).

4) Колмогоров. А.Н ,С.В.Фомин(1976).Лементы теории функций и функционального анализа . Москва сс(143-148)

5) Константинов Р.В (2009) .Лекции по функциональному анализу.МФТИ.сс(108-111).

6) Smith .S.P .(1995).Linear algebra.math308.University of Washington.pp(56-60).

7) Стёпин .А .М .(2004) . Курс Лекции по функциональному анализу. Москва.сс(22-24).

8) Шилов .Г .Е (1970) . Математический анализ. Москва. Сс(28-30)исс(159-161).

پوهنـــــــدوی بشـــــــارت الله شـــــــينواری
حقـــــوق او سياســـــي علومـــــو پـــــوهنځی
عامـــــــــــــه حقوقو ديپارتمنـــــــــــــت
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی عبدالنصيرحميدي
د حقوقو او سـيا سـی علومـو پـوهنځي اسـتاد

د بين المللي حقوقو له نظره د تروريزم او مشروع دفاع څېړنه

لنډيز:

يو له هغو روشونو څخه چې امکان لري د تروريزم سره دمبارزې په اړه ترې دولتونه استفاده وکړي يو هم دزور او قوې څخه کاراخستل دي. دتروريستي حملو په زياتېدو سره هغه دولتونه چې د تروريزم قرباني دي، د تروريزم سره د مقابلې په وړاندې حملې يو ضروري امر ګڼي. د دولتي تروريزم په وړاندې دمبارزې په اړه دولتونه دتروريزم څخه د حمايت په اړه د هرقسم هڅو څخه دهېواد په دننه او بهرکې دريغ نه کوي. په دې مورد کې هغه دولتونه چې دتروريزم څخه حمايت کوي، او غېر قانوني فعاليتونه ترسره کوي، د بين المللي اصولو له مخې د خپلو اعمالو څخه مسؤل ګڼل کېږي، چې په دې اړه بين المللي اجماع هم وجود لري. که چېرې بين المللي ټولنه دتروريزم په مقابله کې د دولتونود حمايت څخه برخورداره نه وي، نو متضرردولتونه د خپل امنيت، هېوادوالو او د منافعو څخه د دفاع په خاطر ناچاره دي چې لازم اقدامات ترسره کړي. سوال واقع کېږي چې آيا د تروريزم په وړاندې د زور څخه کار اخيستل په حقوقي لحاظ او د بين المللي حقوقو په لحاظ توجيه کېدای شي؟

په اوسني عصرکې بين المللي اسناد، بالخصوص د ملل متحد منشور، ددولتونو څخه غواړي تر څو خپل اختلافات په مسالمت آميزه توګه حل او فصل کړي او د هر هغه اقدام څخه چې د قوې او زور د استعمال متضمن وي، خود داري وکړي. په همدې اساس د ملل متحد د منشور ۵۱ ماده، دقوې څخه د نه استفادې د اصل يوا ځينی استثناء شمېرل کېږي. د ملل متحد منشور يو لړ مقررات لري چې د هغې پربنسټ، د قوې استعمال کېدای شي چې د مشروع د فاع او د مسلحانه حملو په جواب کې ترسره شي. کله چې تروريستي اعمال په مستمر، منظم او سازماني ډول ديو دولت دحمايې او هدايت په اساس صورت نيسي، نو متضرر دولتونه کولای شي چې پر وړاندې يې همدا قسم اقدامات ترسره کړي. په دې ډول وضعيت کې د زور او قوې څخه ګټه پورته کول کېدای شي چې د مشروع دفاع ترعنوان لاندې او د ملل متحد د منشور د ۵۱ مادې له مخې توجيه شي. بنأ په هغه صورت کې چې تروريستي فعاليتونه په داسې شکل سره وي چې مسلحانه حمله وشمېرل شي، نو هغه دولت چې د حملې لاندې قرار نيولی دی کولی شي چې د ضرورت له مخې د حملې او دفاع په منځ کې د تناسب پر بنسټ نوموړو حملو ته جواب ورکړي.

سريزه

تروريزم او د هغې په وړاندې د قوې استعمال په اکثرو مواردو کې صورت نيولی دی. په مجموع کې د يو هېواد د قلمرو په داخل کې د قوې څخه ګټه پورته کول، پرته له نادرو حالاتو څخه ممنوع ګرځول شوې. خو سوال واقع کېږي چې آيا د تروريستانو په وړاندې د قوې څخه استفاده کول د بين المللي حقوقو له لحاظه جواز لري؟ او که چېرې دا ډول وي، نو نوموړی عمل د کومو شرايطو لاندې ترسره کېدای شي؟

د ملل متحد د منشور پر اساس يوه استثناء چې دولتونه همېشه د هغې څخه استفاده کوي، هغه د مسلحانه حملې او يا د قوې د استعمال په وړاندې د خپل ځان څخه د مشروع دفاع له حق څخه په استناد چې د خاصو شرايطو لاندې ترې استفاده کېداى شي، ترسره شي. د مشروع دفاع له حق څخه ډېرځله دولتونو ګټه اخيستې ده مثلاً د هغې له جملې څخه د سپټمبر يولسمه، ۲۰۰۱ کال په نيويارک کې د دوو تجارتي برجونو سره د هوايي جهازونو تصادم ددې سبب شو چې متحده ايالات د مشروع دفاع له حق څخه په افغانستان او د القاعده په مراکزو باندې حملې ترسره کړي. دا او دېته ورته اقداماتو مشروعيت به د ملل متحد د منشور، بين المللي حقوقو، او عرفي قواعدو په رڼا کې وڅېړل شي.

موخې:

کله چې د تروريزم او د هغې پر وړاندې د مختلفو روشونو څخه د استفادې خبرې کوو، نو د حل له لارو څخه يو هم د هغې پر وړاندې د نظامي جنګي وسايلو څخه استفاده کول په ذهن کې خطورکوي. په زياترو مواردو کې دولتونو د تروريستانو او د هغوى د ځالو دلمنځه وړلو، او په راتلونکي کې د تروريستي اعمالو د مخنيوي په خاطر د قوې څخه استفاده کړې ده. د قوې استعمال چې د يو دولت د ملي حاکميت پر وړاندې د مسلحو قواو د استعمال متضمن دى، پرته د نادرو مواردو څخه ممنوع اعلان شوى دى. ددې مقالې اصلي موخه داده چې د قوې استعمال او مشروع دفاع په کومو حالاتو او مواردو کې د بين المللي اصولو له مخې جواز لري.

د تروريزم پر وړاندې د زور څخه ګټه اخيستل او د دولتونو له خوا د هغې حمايت د ډېرو هڅو او کوششونو سره سره، د ايدولوژيکي او سياسي دلايلو له پلوه تر اوسه پورې نړيواله ټولنه په دې نه ده توانېدلې چې تروريزم ته يو جامع او قانع کوونکى تعريف پيدا کړي، تر اوسه پورې نوموړې موضوع د يو مشکل په ډول پاتې شوې او د تروريزم سره د مبارزې په مورد کې خنډونه ايجادوي. محققين او حقوق پوهان په هڅه او تلاش کې دى چې د تروريزم لپاره يو جامع او دقيق تعريف وکړي، ولې دا حالت ددې سبب شوى چې د تروريزم لپاره متعدد تعريفونه رامنځته شي.[7] ددې تعريفونو له جملې څخه کولاى شو يو تعريف ته اشاره وکړو چې د هغې پر اساس)) تروريزم عبارت دى له هغه خشونت آميزه اعمالو څخه چې د فرد يا يوې ډلې له خوا په دې انګيزه چې وېره، ترهګري او وحشت د دولتونو، غېرنظاميانو، د يو هېواد د اتباعو او اموالو په وړاندې رامنځته کړي او د داسې اعمالو د ارتکاب څخه يې نهايي هدف سياسي مقاصدو ته لاسرسي وي، صورت ونيسي.))[7]

تروريزم په مختلفو اشکالو رامنځته کېږي د مثال په ډول، برمته کول، بمباردمان کول، او يا هم د يو دولت د سمندري او هوانوردي امنيت پر ضد اقدامات ترسره کول. تروريزم کولاى شو په شخصي او دولتي دوو برخو باندې هم ووېشو، چې شخصي تروريزم ددې څخه عبارت دي چې د انفرادي افرادو او يا هم د سازمان يافته ډلو له خوا د ترور او وحشت په هدف د خاصو طبقو په منځ کې، په يو سياسي رژيم کې، او يا د يو خاص دولت په حريم او قلمرو باندې د حملې په صورت کې رامنځته شي. له بل طرفه دولتي تروريزم د هغه چا له خوا ترسره کېږي چې په قدرت کې وي او د خلکو په منځ کې وحشت رامنځته کوي ترڅو د اړوند او برسر اقتدار رژيم څخه پيروي وکړي. د تروريزم يوه بله نوعه چې هغه هم د دولتي تروريزم يوه نوعه حسابېږي، هغه تروريزم دى چې د هغوى ظالمانه او وحشت ناکه اعمال د نورو دولتونو له خوا حمايه کېږي.[8] په دې نوعه تروريزم کې دولت د نورو تروريستي ډلو څخه حمايت په دې خاطر ترسره کوي تر څو د خپل هېواد سياسي منافع تأمين کړي، او د نورو ډلو څخه حمايت او پلوي د هغه دولت د بهرني سياست يوه برخه تشکيلوي. په داسې شرايطو کې دولت د تسهيلاتو، مالي مرستو، دنظامي اډو د جوړولو په موخه د هېواد قلمرو د اړوند دولت په اختيار کې ورکول، د اطلاعاتي او فني مرستو برابرول، پناه ورکول او نور هرقسم تسهيلات برابرولو په ذريعه خپل رول او نقش د تروريزم څخه د حمايت په غرض په ښه ډول ترسره کوي.[9] په دې حالت کې دولت ددې نوعه ترروريزم څخه د حمايت په منظور په خپل قلمرو

[6] Laqueur, W; Reflections on Terrorism; Foreign Affairs, 86-88 (1986)
[7] Silets, II. L; "Something Special in the Air and on the Ground: The Political for unlimited Liability of International Air Carriers for Terrorist Attacks under the Warsaw Conventions and Its Revisions", Journal of Air Law and Commerce, No 53. , 256 (1987)
[8] Galor, N; International Cooperation to Suppress Terrorism; Croohelrn, 1(1986)
[9] Shestack, J, J; "Private and State Terrorism – Some Preliminary Observations", Rutgers Law Journal, Vol. 13, pinpoint, 640 (1982)

کې هر نوعه اقدامات ترسره کوي. دا اقدامات په مختلفو اشکالو ظاهريږي چې د مستقيم اقدام څخه نيولي تر د تروريستو افرادو حضور په قلمرو کې، شامل دي. په دې رساله کې د تروريزم دغه نوعه د څېړنې لاندې نيول شوې ده.

په اوسني وخت کې هغه تروريزم چې د نورو دولتونو له خوا يې حمايت کېږي، کولای شو چې د نړۍ په ځينو ځايونو کې مشاهده کړو. خو ددې په وړاندې دا يو ضروري امر ګڼل کېږي چې نړيواله ټولنه د تروريزم څخه د حامي دولتونو په وړاندې جدي برخورد ترسره شي. د مثال په ډول دا قسم دولتونه د نړيوالو نورمونونو له مخې مجازات کړل شي لکه د اقتصادي بنديزونو لګول، او د هغوی د رفتار د تغيير په منظور داسې تدابير ونيول شي تر څو نوموړي دولتونه ددې قسم اقداماتو څخه لاس واخلي. په دې مورد کې به د تروريزم د حامي دولتونو فعاليتونه غېر قانوني شمېرل کېږي او دا دولتونه په بين المللي سطحه د خپلو اعمالو مسؤل وګڼل شي[10]. په همدې اساس د ملل متحد سازمان په متعددو مواردو کې د تروريستي ډلو سره مرسته او سازماندهي او په کارونو کې ورسره ګډون کول د ملل متحد د منشور خلاف عمل ګڼلی دی. د ۱۹۶۵ کال د هېوادونو د استقلاليت او حاکميت څخه حمايت او د هغوی په داخلي امورو کې د نه مداخلې اعلاميه[11] په نورو دولتونو باندې حاکمو رژيمونو ته اجازه نه ورکوي چې هر نوعه تروريستي او مسلحانه فعاليتونه په هغه هېواد کې په لاره واچوي چې د خشونت سره يوځای وي. په همدې ډول د (۱۹۷۰) کال د بين المللي حقوقو د اصولو اعلاميه د دولتونو تر منځ د دوستانه اړيکو او همکارۍ په اړه اعلاميه، دولتونه په دې مکلف کوي چې د بل هېواد په داخلي خصومتونو کې مرسته او يا هم تروريستي فعاليتونو ته سازمان ورکول، تحريکول، ګډون کول، مساعدت او مرسته کولو څخه بايد ډډه وشي.[12] د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ واقعې څخه وروسته چې په هغې کې غېر نظامي اهداف د حملاتو لاندې قرار ونيول او زيات تعداد غېر نظامي افراد له منځه ولاړل، زيات مالي خسارات يې رامنځته کړل، د ملل متحد د امنيت شورا په خپل لومړني عکس العمل کې د ۱۳۶۸ قطعنامې په ترڅ کې چې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر په ۱۲ تاريخ صادره شوه، چې تروريستي اعمال يې د بين المللي امنيت او سولې پر وړاندې معرفي او دا يې خپل مسؤليت وګڼله چې د هرقسم تروريزم سره مبارزه يو ضروري امر ګڼل کېږي.

سوابق ښيي چې دولتونه د تروريزم سره په مبارزه کې اختلاف لري؛ مثلاً بعضې دولتونه داسې توجيه کوي چې د خپل هېواد د منافعو او د وګړو د امنيت د ساتنې په منظور بايد په بهر او دننه کې جګړه وشي چې نوموړي عمل ته د مشروع دفاع نوم ورکوي. همدا علت دی چې تروريزم د بين المللي ټولنې لپاره يو جدي ګواښ ګڼل کېږي. که چېرې نړيواله ټولنه د دولتي تروريزم سره په مبارزه کې پاتې راشي، نو متضرر دولتونه به د تروريزم څخه د نجات په غرض او د خپلو اتباعو د حفاظت او ملي امنيت د منافعو د ساتنې لپاره به جدي اقدامات کوي چې پرته د مقابلې څخه به بله چاره ونه لري. په واقعيت کې د بين المللي نظام ضعف او ددې توان نه درلودل چې د تروريزم سره مقابله وکړي، دولتونه دې ته مجبوروي چې په يو اړخيزه توګه يو لړ اقدامات ترسره کړي او نوموړي اقدامات امکان لري چې په بعضو مواردو کې د بين المللي حقوقو سره مطابقت هم ونه لري[13]. په داسې حالاتو کې بايد دې سوال ته ځواب ورکړل شي چې آيا د تروريستي حملاتو په وړاندې د زور او قوې څخه استفاده کول د بين المللي حقوقو له مخې توجيه کېدای شي که نه؟ په دې برخه کې به دې موضوع ته توجه وشي چې دولتونه ترکومه حده او دکومو شرايطو لاندې کولای شي چې د بين المللي حقوقو له مخې د تروريزم څخه د حامي دولتونو پر وړاندې د زوراو قوې څخه ګټه پورته کړي، اويا هم هغه دولتونه چې نه شي کولای او يا هم نه غواړي چې د بين المللي تروريزم څخه مخنيوی وشي او يا هم دا قسم اعمال سرکوبه کړي، په زور سره په نوموړې جګړه کې ښکيل شي؟ ددې سوال په ځواب کې چې آيا دولتونه په زورسره دنوموړې جګړې سره يوځای شي، د توسل موضوع او په هغې کې استثنأت به په لاندې ډول د څېړنې لاندې ونيسو:

[10] McCredie, J. A, "The April 14, 1986 Bombing of Libya: Act of Self-Defense or Reprisal?," Case Western Reserve Journal of International Law, Vol. 19, pinpoint, 219 (1987)
[11] Id
[12] Id
[13] Daudet, Y; "International Action Against State Terrorism", in Higgins and Flory (eds.), Terrorism and International Law, London: Routledge, 202 (1997)

لومړی- په بين المللي حقوقو کې د زور څخه د ګټې اخيستنې د منعې اصل:

د کلاسيک بين المللي حقوقو له نظره د دولتونو له خوا د زور او قوې څخه ګټه پورته کول ممنوع نه وو ګرځول شوي. په شلمه پېړۍ کې د زور څخه د استفاده کولو قواعدو په تدريج سره پراختيا وموندە، چې نوموړی تحول ددې سبب شو چې د يو دولت په مورد کې (جنګ ته د يو دولت مجبورول او د زورڅخه استفاده کول) خاص محدوديتونه د جامعه ملل په ميثاق کې (چې په ۲۸ اپريل ۱۹۱۹ کال رامنځته شوی و) وضع کړل شول، همدارنګه نوموړي محدوديتونه د جنګ د منعې ترمعاهدې پورې ((د بريان پيمان ـ کلوګ ۲۷ اګست ۱۹۲۸ کال) ادامه پيدا کړه [14]. په همدې ترتيب، د ملل متحد منشور نه يواځې دا چې تجاوز کارانه جنګ، بلکې هر نوع تهديد يا د زور څخه ګټه پورته کول يې منع وګرځول. له دې تاريخ څخه د تهديد څخه د خود داری اصل يا د زور څخه استفاده د تاييد وړ وګرځيدل. همدارنګه نور بين المللي اسناد، مثلاً د ۱۹۷۰ کال اعلاميه چې د دوستانه اړيکو د اصولو په اړوند، د ۱۹۷۴ کال د تجاوز د تعريف قطعنامه[15] ((هماغه ص))، د ۱۹۷۵ کال د هلسينګي نهايي سند [16]، او د زوراو قوې څخه د استفادې د ممنوعيت اصل، رشد او تکامل وکړ.

د بين المللي منازعاتو حل په مسالمت آميزه توګه د بين المللي حقوقي نظام يو مهم اصل ګڼل کېږي چې د ملل متحد د منشور په (۳) ۲ او ۳۳ موادو ذکر شوي دي. د ملل متحد منشور غړي دولتونه په دې مکلف کوي چې خپل اختلافات په مسالمت آميزه توګه حل او فصل کړي. د (۳) ۲ مادې پر اساس: ((ټول غړي هېوادونه بين المللي اختلافات په مسالمت آميزه ټوګه او ياهم په داسې توګه حل کوي چې بين المللي امنيت او سوله د خطرسره مواجه نه شي)). ددې منشور ۳۳ ماده له دولتونو څخه غواړي چې په خپلو منځو کې اختلافات چې امکان لري د هغوی ادامه بين المللي سوله او امنيت له خطرسره مواجه کوي، بايد د مسالمت آميزه لارو څخه نوموړي اختلافات حل کړي. د منشور دا برخه د زور او قوې څخه د استفادې په اړوند محدوديت ايجادوي. ددې مادې هدف د بين المللي امنيت او سولې تحفظ او د جنګ څخه د يو سياسي وسيلې په توګه د استفادې څخه مخنيوی کول دي. (۴) ۲ ماده صراحت لري چې ((ټول غړي په بين المللي روابطو کې په زور تهديدول او د هغې څخه د يو هېواد د سياسي استقلال او ارضي تماميت پر وړاندی استفاده کول، چې د ملل متحد د سازمان له اصولو او اهدافو سره په مغايرت کې دی، مخنيوي وشي)). [17]

بين المللي اسناد د مثال په ډول د ۱۹۷۰ کال اعلاميه د دوستانه اړيکو د اصولو په اړوند د دولتونو څخه غواړي، تر څو خپل اختلافات په مسالمت آميزه طريقې سره حل او فصل کړي. په همدی اساس نوموړي اعلاميه د دولتونو څخه غواړي، هر قسم اقدام چې د زورسره پيوسته وي بايد خود داري وشي. په نيکاراګوا کې د نظامي او شبه نظامي فعاليتونو د قضيې په اړه چې د نوموړي هېواد په وړاندې ترسره شوي، د نړيوالې بين المللي محکمې ديوان رأيه داده چې په نيکاراګوا کې د متحده ايالاتو فعاليتونه د مداخلې په عنوان، غېرقانوني ذکرشوي دي. [18] د نوموړي ديوان په رأيه کې راغلي دي چې متحده ايالات مخالفو ډلو ته د مالي منابعو او تسهيلاتو، د هغوی څخه په نظامي او شبه نظامي فعاليتونو کې حمايت، د هغوی تشويقول ترسره کړي دي، چې ددې قسم فعاليتونو تر سره کول د نړيوالو تعاملي حقوقو پر اساس چې هغه د نورو دولتونو په امورو کې د عدم مداخلې اصل دی، د متحده ايالاتو د دولت نقض په خپلو تعهداتو کې په صراحت سره ښيي.

دويم- د زورڅخه د استفادې د ممنوعيت په اصل کې د مشروع دفاع استثناء

د ملل متحد د منشور (۴) ۲ ماده د زور څخه د استفادې په اړوند بيانوي چې نوموړی عمل په بين المللي اړيکو کې ممنوع دی او د ملل متحد د نورو موادو په نظر کې نيولو سره، لکه د منشور لومړی ماده اړونده موضوع تفسير کړي، او بيانوي چې په لومړی ماده کې داسې صراحت وجود لري چې د ملل متحد د سازمان لومړنی هدف د بين المللي سولې او امنيت ټينګښت دی. ددې مادې څخه کولای شو داسې نتيجه ترلاسه کړو؛ سره له دې چې د زور څخه استفاده کول په بين المللي اړيکو او روابطو کې ممنوع ګرځول شوې، مګر په بعضې مواردو کې د زوراو قوې څخه ګټه پورته کول امکان لري

[14] Id
[15] Id
[16] International Legal Materials; Vol. 14, 1292 (1975)
[17] Case Concerning Military and Paramilitary Activities in and against Nicaragua (Nicaragua v. U.S) International Court of Justice Reports, 70 (1986)
[18] Id

چې مجاز وګڼل شي. با وجود ددې چې د منشور ځينې مواد لکه (۲)۳ او ۳۳ مادې د ټولو دولتونو څخه غواړي چې د اختلافاتو د مسالمت آميزه حل لپاره بايد هڅه وشي، او ددې موادو څخه هيڅ يو د مشروع دفاع د حق په اړه کومه صدمه نه واردوي کوم چې په ۵۱ ماده کې ذکر راغلی دی. د منشور ۵۱ ماده د زورڅخه د استفادې د ممنوعيت د اصل لپاره يوه استثناء ګڼل شوې ده. نوموړې ماده مقرروي چې ددې منشور هيڅ حکم به د انفرادي يا اجتماعي خپلواکۍ د ساتلو اصلي حق متأثره نه کړي، کوم وخت چې د ملګرو ملتونو پرکوم غړي باندې مسلحانه تيری وشي، تر هغې پورې چې د امنيت شورا د بين المللي امنيت د ساتنې په موخه ضروري اقدامات کوي، د خپلواکۍ د ساتلو د حق په اساس کوم عمليات چې د ملګرو ملتونو غړی وکړي نو ژر تر ژره به د هغوی اطلاع د امنيت شورا ته ورکوي. دغه عمليات به د امنيت شورا پر هغه واک او مسؤليت باندې چې تر دې منشور لاندې ورکړل شوی دی او د هغه اساس د بين المللي امنيت د ساتلو په نسبت هر وخت په هر ډول مناسبو اقداماتو چې لاس پوری کوي، په هيڅ ډول سره اغېزه ونه کړي.[19]

بعضې ليکونکي کاږي چې د منشور د اووم فصل پر بنسټ د امنيت د شورا او د سازمانونو له خوا ترسره شوي اقدامات يا د منطقوي مؤسساتو له خوا تر سره شوي اقدامات د ۵۳ مادې پر اساس او د امنيت د شورا په اجازه د مشروع دفاع ترڅنګ، يو مجاز عمل ګڼي.[20] د منشور ۵۳ ماده داسې صراحت لري چې د امنيت شورا د لزوم ديد پرمهال کولای شي منطقوي مؤسسې يا ټولنې د اجراييوي يا نظآرتي اقداماتو لپاره وکاروي په داسې حال کې چې د منطقوي سازمانونو له خوا هيڅ نوع اجراييوي اقدامات د امنيت د شورا له اجازې پرته نه شي ترسره کېدای. په سنتي ډول مشروع دفاع د زورڅخه د استفادې لپاره د يو توجيه په ډول د توجه وړ ګرځېدلی دی. د خپل ځان څخه د دفاع حق معمولاً د يو هېواد د ذاتي حاکميت د خصوصياتو په حېثيت په نړۍ کې مطرح شوی دی[21] چې په دې اړه هالنډي عالم هوګو ګروسوس په اوولسمه پېړۍ کې د خپل ځان څخه دفاع د طبعي حق څخه ګڼله. هغه په دې مورد کې وايي چې: ((مشروع دفاع چې طبيعت هر ژوندي موجود ته ورکړې، منشاء او ريښه يې هماغه د خپل ځان څخه دفاع ده)).[22] همدارنګه يو بل عالم چې باول نوميږي وايي چې: ((د مشروع دفاع حق د جبران ناپذيرو ضررونو پر وړاندې د حفاظت په غرض يو ضروري حق شمېرل شوی او په هغه شرايطو کې ترې استفاده کېږي چې د خپلو حقوقو د ساتنې لپاره نورې لارې چارې وجود ونه لري. دا يو غېر قابل اجتناب امر دی ترڅو د مشروع دفاع په وسيله د خپل ځان څخه حفاظت وکړي)).[23]

د مشروع دفاع حق د سنتي عادلانه جنګ د اصل سره پيل شوی دی او د تجاوز پر وړاندې د زور څخه استفاده کول د نظم د اعادې لپاره يوه توجيه بلل شوې.[24] د ملل متحد منشور مقرروي چې د زورڅخه استفاده کول يواځې په هغو مواردو کې جواز لري چې د مسلحانه تجاوز او د خپل ځان څخه د دفاع په منظور ترې ګټه پورته شي. د زور څخه استفاده کول په هغه وخت کې عادلانه ده چې د بين المللي پېژندل شويو معيارونو سره مطابقت ولري، چې دا موضوع په (۲)۴ او ۵۱ موادو کې ذکرشوې ده. د عادلانه جنګ تګلاره په هغه صورت کې چې غېر قانوني تجاوز وجود ولري د توجه وړ ګرځېدلی ده او د مشروع دفاع حق په محدودو مواردو کې مجاز شمېرل شوی دی. د منشور په مقرراتو کې د زورڅخه د استفادې په ارتباط واضحه لارښوونه نه ده کړې، چې دغه ابهام ددې موجب شوی ترڅو دوه متضاد فکري مکتبونه د مشروع دفاع د حق په ساحه کې رامنځته کړي. دا نظر چې منشور يواځې محدو دی مشروع دفاع ته اجازه ورکوي، دزياتو محققينو د حمايت وړګرځيدلی دی او د ملل متحد د امنيت شورا هم نوموړی نظر تاييد کړی دی.[25] دلومړی مادې مضيق تفسير مقرروي چې پرته د مسلحانه حملې په مقابل کې، دزور او قوت څخه هرنوع استفاده کول د مشروع دفاع د حق په لاره کې غېرقانوني امر ګڼل کېږي.[26] براون لي عقيده لري چې د منشور د مقراتو څخه مضيق تفسير د زور او قوت څخه د استفادې کولو په

[19] Brownline, l; International Law and the Use of Force; Oxford: Clarendon Press, 265 (1963)
[20] Nanda, V.P; "The United States Armed Intervention in Grenada: Impeat on World Order", California Western International Law Journal, Vol. 14, 14 (1984)
[21] Paasche, F. W; "The Use of Force in Combating Terrorism", Columbia Journal of Transnational Law, Vol. 25, pinpoint 388 (1987)
[22] Bowett, D. W; Self-Defence in International Law; Manchester University Press, 18 (1958)
[23] Id at 11.
[24] Id at 185.
[25] Levenfeld, B., "Israel's Counter-Fedayeen Tactics in Lebanon: Self-Defence and Reprisals under Modern International Law", Columbia Journal of Transnational Law, Vol. 21, pinpoint 15 (1982)
[26] Brownline, l; International Law and the Use of Force; Oxford: Clarendon Press, 432 (1963)

مورد کې موجه بريښي.[27] قاضي ناجندراسينگ د بين المللي محکمې د ديوان پخواني رئيس او (مک ويني) وايي چې مشروع دفاع حق يواځې په هغه وخت کې متعاقباً مجاز ګڼل کېږي چې حملې صورت نيولی وي[28] چې په دې ترتيب قبلي دفاع مجاز نه ګڼي.

د نيکاراګوا په قضيه کې د بين المللي محکمې ديوان د امريکا دا ادعا چې نظامي او شبه نظامي فعاليتونه په نيکاراګوا باندې د فردي او دسته جمعي دفاع طبعي حق په لاره کې صورت نيولي، قبوله نه کړه. اړوند ديوان دخپل ځان څخه ددفاع حق يواځې د مسلحانه حملې پر وړاندې چې نوموړې حمله د دفاع څخه مخکې صورت نېولې وه، مجاز وګڼله.[29] اړوند ديوان د زورڅخه داستفادې د شديدوراشکالو چې د مسلحانه حملې په معنی سره دی او د منشور په **۵۱** ماده کې درج دی، او د زورڅخه د عدم استفادې اصل نقض چې د مسلحانه حملاتو د اقداماتو په مقابل کې نسبتاً د کم شدت څخه برخورداره وي، په تفکيک قايل شوی.

ددیوان له نظره بعضې وقايع او مرزي تهاجمات، مسلحانه حملې نه تشکيلوي.[30] ديوان تاکيد وکړ چې: په داسې حال کې چې په عمومي ډول د مسلحانه حملو پر وړاندې، دخپل ځان څخه د دفاع حق وجود لري. ولې د هغو حملو په مقابل کې چې دکم شدت څخه برخورداره وي، د متقابلو اقداماتو په لړۍ کې په عمومي ډول د زورڅخه استفاده کول، وجود نه لري.[31] بناً پردې، دمشروع دفاع څخه وسيع تفسيراو د هغې څخه اړوند توجيهات چې د بعضو ليکونکو له خوا د زور څخه داستفادې په مورد کې مطرح شوي دي او د دولتونو په عمومي رويه کې وجود لري، ددیوان له خوا رد شوي دي.

د مضيق تفسير د طرفدارانو په مقابل کې، يو تعداد اشخاص قرار لري چې د **۵۱** مادې څخه له وسيع تفسير څخه استفاده کوي. دغه فکري مکتب بيانوي چې د مشروع دفاع حق چې اصلاً د طبعي حقوقو له جملې څخه شمېرل کېږي، پرته له کوم تغيير څخه د ملل متحد په منشورکې ذکرشوی.[32] برايرلي عقيده لري چې **۵۱** ماده چې د مشروع دفاع په هکله بيان لري د مشروع دفاع په اړوند کوم محدوديت نه واردوي.[33] کلسن وايي چې د منشور **۵۱** ماده دخپل ځان څخه د مشروع دفاع حق د طبيعي حقوقو په عنوان په رسميت پيژني. نوموړی اضافه کوي چې که چېرې يو شخص دطبعي حقوقو دکتورين قبول کړي، نو د منشور **۵۱** ماده ترډېره بريده مشکلات ايجادوي.[34] باوت عقيده لري چې د ملل متحد منشور د مشروع دفاع د حق په اړوند دبين المللي حقوقو له حېثه يو لړ محدوديتونه ايجادوي، په داسې حال کې چې بين المللي حقوق دمشروع دفاع حق د مسلحانه حملې په صورت کې نه محدودوي.[35] د مشروع دفاع حق د وسيع تفسير پر بنسټ، د حملې څخه مخکې دفاع ته هم جوازورکوي.[36]

په هرحال موجوده رويه ښيي چې **۵۱** ماده په داسې ډول تفسير شوې چې ترډېره حده د منشورله متن او روح سره فاصله لري. ددې وضعيت علت د بين المللي حقوقو داجرائيوي سيستم عدم فعاليت دی چې په داسې شرايطو کې د زور څخه استفاده کول د ملل متحد له منشورڅخه مغايرتلقي کېږي. د **۵۱** مادې څخه وسيع تفسيراو د مسلحانه حملې مندرج عبارت، د بين المللي حقوقو څخه مغاير دنظامي اقداماتوزمينه برابروي او دا په داسې حال کې ده چې د **۵۱** مادې ذکرشوي مقررات د منشور د (۴)۲ مادې لپاره استثناء شمېرل کېږي او ديوې کلي قاعدې په حېث دا لازمي ده چې د نوموړې مادې استثنأت د هغې د اصل په نظر کې نيولو سره بايد مضيق تفسيرترسره شي.[37]

---

[27] Brownlie, I,; "The Use of Force in Self-Defence", British Yearbook of International Law, Vol. 37, pinpoint 183 (1961)
[28] Merazek, J.; "Prohibition of the Use and Threat of Force: Self- Defence and Self-Help in International Law", Canadian Yearbook of International Law, Vol. 27, pinpoint 94 (1989)
[29] Case Concerning Military and Paramilitary Activities in and against Nicaragua (Nicaragua v. U.S) International Court of Justice Reports, pinpoint 87 (1986)
[30] Id at 93.
[31] Id at 103.
[32] Bowett, D. W; Self-Defence in International Law; Manchester University Press, pinpoint 186 (1958)
[33] Brierly, J. L; The Law of Nations, 6th ed, London: Oxford University Press, pinpoint 421 (1963)
[34] Lesen; The Law of the United Nations; London; page, 762 (1951)
[35] Bowett, D. W; Self-Defence in International Law; Manchester University Press, page 187 (1958)
[36] Mallison, W. T,; "Limited Naval Blockade or Quarantine-International and Collective Defence Claims Valid under International Law" George Washington Law Review, Vol 31, page, 362 (1962)
[37] Akehurst, M; Amodern Introduction to International Law; London: Unwon Hyman, page, 262 (1987)

د سنتي او عرفي اصولو له مخې د مشروع دفاع په اړوند بايد يو عرفي فورمول چې د دانيل وبستر د متحده ايالاتو مؤقت خارجه وزيرله خوا، بريتانيايي لرد اشبرتون د کارولين کشتۍ په سر د اختلافاتو په جريان کې پيشنهاد شو، په نظرکې ونيول شي.[38] په ۱۸۳۷ کال کې اړونده شورش د کاناډا په سيمه کې چې د امريکايي داوطلبود استعمارلاندې وه، دنوموړو قواوله خوا حمايت ترسره شو. کارولين د بخارکشتۍ وه چې کاناډايي شورشيانوته يې مهمات او اسلحه ور رسوله. په بريتانيايي کشتۍ باندې د شورشيانو حمله، او بالمقابل دکارولين په کشتۍ باندې د بريتانيا د نظامي حملې په نتيجه کې دوه تنه ووژل شول. بريتانيا خپل دغه عمل د مشروع دفاع په نوم توجيه کړ. د ۱۸۴۲ کال په ديپلوماتيکو يادداشتونوکې چې د متحده ايالاتو له خوا بريتانيا ته په کې اشاره شوې، وبسترد ضرورت وړ دکتورينوته اشاره کړي او د بريتانيا ادعا يې په دې بناء چې په ۱۸۳۷ کال کې د کارولين په کشتۍ حمله په امريکايي ساحه کې د نيا ګارا په رودخانه کې د شورشيانو څخه د حمايت په منظور د حقوقي پلوه د توجيه وړده، رد کړه. وبسترد مشروع دفاع ضرورت يې په داسې مواردوکې مردود وګاڼه او په دې اړوند يې اظهارات درلودل چې بريتانيا بايد ثابته کړي چې د خپل ځان څخه د دفاع ضرورت فوري او غېر قابل اجتناب پذير و او هيڅ بلې لارې وجود نه درلوده، اويا هم دنورو لارو د بررسۍ لپاره کافي وخت وجود نه درلوده. وبسترګوت نيوکه وکړه چې هغه عمل بايد د ضرورت له مخې توجيه شي چې د حقوقو د نقض په مقابل کې صورت نيولی وي.[39] د ضرورت د اصل ترڅنګ د حملې او دفاع ترمنځ ((تناسب)) د مشروع دفاع د اساسي عناصرو څخه شمېرل کېږي. بنا پردې د زور او قوې څخه استفاده کول په مشروع دفاع کې د حملې سره متناسبه وي.[40] په دې ترتيب، د کارولين قضيه په مشروع دفاع کې د زورڅخه د استفادې حق د قواعدو په تحول او توسيعه کې مهم رول لوبولی دی.[41]

پايله:

په اوسني عصر کې تروريزم د يو دمهمو مشکلاتو څخه حسابېږي. مختلف تروريستي اعمال چې د ډلو ترمنځ د رعب او وحشت په رامنځته کېدو کې او يا هم د يو معين دولت د منافعو پر ضد ترسره کېږي، د بين المللي امنيت او سولې پر وړاندې يو مهم تهديد شمېرل کېږي. د تروريزم له انواعو څخه چې د دولتي تروريزم په عنوان پېژندل شوی دی، دولتونه د تسهيلاتو په برابرولو، مالي امکاناتو، اطلاعاتو، فني مرستواو هرنوعه سهولتونه تروريستي ډلوته په برابرولو سره د تروريزم په شکل او ترسيم کې مهم نقش لوبوي او هڅه کوي چې نوموړي دولتونه له دې طريقه خپلې سياسي منافع تأمين کړي. د يو مؤثر بين المللي ميکانيزم عدم موجوديت تر څو د تروريزم د لمنځه وړلو سبب شي ددې موجب شوی او قرباني دولتونه په دې لټه کې دي ترڅو د داسې حملاتو پر وړاندې جواب ووايي. دتروريزم پر وړاندې د زور څخه استفاده کول يو له متداولو روشونو څخه حسابېږي چې د تروريستي حملاتو په جواب کې ترې استفاده کېږي. چې د دا ډول اقداماتو ترسره کول د بين المللي حقوقو او مقرره شرايطو له اصولو پرته د زورڅخه د استفادې په مورد کې صورت نيسي. اګر که د زور څخه استفاده کول د منشور د (۴)۲ مادې له مخې د نظامي مسايلو په حل لاره کې استفاده کول ممنوع ګرځول شوي دي او د غړو هېوادونو څخه غوښتل شوي تر څو بين المللي اختلافات د مسالمت آميزه لارو حل شي، مګر ۵۱ مادې ته په توجه سره، د مشروع دفاع حق د هر دولت يو ذاتي او طبعي حق ګڼل کېږي چې کولای شي د مسلحانه حملو پر وړاندې په فردي يا جمعي ډول استفاده وشي. د بين المللي تروريزم په جواب کې د زور څخه استفاده کول هغه وخت کېدای شي د مشروع دفاع په قالب کې ترسره شي چې تروريستي اقدامات د مسلحانه حملې په شکل د ۵۱ مادې پربنسټ اجرأ شي. پرته له شکه چې هرنوع تروريستي حملې نه شي کېدای چې د ۵۱ مادې په چوکاټ کې تعريف کړل شي او د مشروع دفاع حق په مقابل کې استناد کړل شي. د ۵۱ مادې د مضيق تفسير څخه معلوميږي چې تروريستي حملې په مستمر، سازماني، او منظم ډول د قرباني دولت د ارضي تماميت او ملي حاکميت پر وړاندې صورت ونيسي چې دا قسم حملې به د ۵۱ مادې په مصداق

[38] For details see Jennings, R.Y.; "The Caroline and MacLeod Cases" American Journal of International Law, Vol. 32, page, 821 (938)
[39] Kelsen, H.; "Collective of the United Nations", American Journal of International Law, Vol. 42, page 784 (1948)

[40] Robberts, G. B., "Self – Help in Combating State – Sponsored Terrorism: Self-Defense and Peacetime Reprisals", Case Western Reserve Journal of International La, Vol. 19, page 268 (1987)
[41] Bowett, D. W; Self-Defence in International Law; Manchester University Press, page, 192 (1958)

د مسلحانه حملاتو په وړاندې توجيه کړل شي. بنأ پردې هغه دولت چې د تروريستي ډلوله خوا د تهاجم لاندې واقع کېږي د ۵۱ مادې څخه په استفادې ددې نوع حملو په مقابل کې د خپل ځان څخه دفاع وکړي. ددې حق څخه ګټه پورته کول تعاملي اصولوته په توجه سره د دفاع ضرورت د حملې او دفاع ترمنځ بايد تناسب وجود ولري. بنأ پردې په هغه وخت کې چې تروريستي ډلې د بل هېواد له قلمرو څخه په استفادې او د نوموړي هېواد د هراړخيزه حمايتونو لاندې خپلې حملې په منظم، مستمر، او سازماني ډول د بل هېواد امنيت، د وګړوملي منافعو پر ضد ترسره کوي، نو په داسې حالاتو کې قرباني دولت کولای شي چې د مشروع دفاع حق په استناد سره د اړونده حملو پر وړاندې ددوه شرطونو په رعايت سره چې يو ضرورت او بل تناسب دی، د خپل ځان څخه دفاع وکړي.

Refrance:

1. Akehurst, M; Amodern Introduction to International Law; London: Unwon Hyman, 1987.
2. Bowett, D. W; Self-Defense in International Law; Manchester University Press, 1958.
3. Brierly, J. L; the Law of Nations, 6th ed, London: Oxford University Press, 1963.
4. Brownline, l; International Law and the Use of Force; Oxford: Clarendon Press, 1963.
5. Brownlie, I,; "The Use of Force in Self-Defense", British Yearbook of International Law, Vol. 37, 1961.
6. Case Concerning Military and Paramilitary Activities in and against Nicaragua (Nicaragua v. U.S) International Court of Justice Reports, 1986.
7. Daudet, Y; "International Action Against State Terrorism", in Higgins and Flory (eds.), Terrorism and International Law, London: Routledge, 1997.
8. Declaration of Refraining from the Threat or Use of Force in International Relations, UN. Res 42/22, Annex, 18Nov. 1987, UN. Doc. A/42/766 and Corr.l.
9. Declaration on Principles of International Law concerning Friendly Relations and Cooperation Among States, GA. Res2625, 25UN. GAOR, sup. (No.28), at 121, UN Doc. A/8028.
10. Declaration on the Inadmissibility of Intervention in the Domestic Affairs of States and the Protection of their Independence and Sovereignty GA. Res. 2131, 20 UN. GAOR, Supp (No. 14), UN. Doc. A/6014, 1965.
11. "Draft Code of Offences Against the Peace and Security of Mankind", American Journal of International Law, Vol. 45, 1951.
12. For details see Jennings, R.Y.; "The Caroline and MacLeod Cases" American Journal of International Law, Vol. 32, 1938.
13. Galor, N; International Cooperation to Suppress Terrorism; Croohelrn, 1986.
14. International Legal Materials; Vol. 14, 1975.
15. Kelsen, H.; "Collective of the United Nations", American Journal of International Law, Vol. 42, 1948.
16. Laqueur, W; Reflections on Terrorism; Foreign Affairs, 1986.
17. League of Nations, Treaty Series, Vol. XCIV.
18. Lesen; The Law of the United Nations; London; 1951.
19. Levenfeld, B., "Israel's Counter-Fedayeen Tactics in Lebanon: Self-Defense and Reprisals under Modern International Law", Columbia Journal of Transnational Law, Vol. 21, 1982.
20. Mallison, W. T,; "Limited Naval Blockade or Quarantine-International and Collective Defense Claims Valid under International Law" George Washington Law Review, Vol 31, 1962.
21. Merazek, J.; "Prohibition of the Use and Threat of Force: Self- Defense and Self-Help in International Law", Canadian Yearbook of International Law, Vol. 27, 1989.
22. McCredie, J. A, "The April 14, 1986 Bombing of Libya: Act of Self-Defense or Reprisal?," Case Western Reserve Journal of International Law, Vol. 19, 1987.
23. Nanda, V.P; "The United States Armed Intervention in Grenada: Impeat on World Order", California Western International Law Journal, Vol. 14, 1984.
24. Paasche, F. W; "The Use of Force in Combating Terrorism", Columbia Journal of Transnational Law, Vol. 25, 1987.
25. Robberts, G. B., "Self – Help in Combating State – Sponsored Terrorism: Self-Defense and Peacetime Reprisals", Case Western Reserve Journal of International La, Vol. 19, 1987.
26. Schachter, O; "The Right of States to Use Armed Force", Michigan Law Review, Vol. 72, 1985.
27. Silets, II. L; "Something Special in the Air and on the Ground: The Political for unlimited Liability of International Air Carriers for Terrorist Attacks under the Warsaw Conventions and Its Revisions", Journal of Air Law and Commerce, No 53. 1987.
28. Shestack, J, J; "Private and State Terrorism – Some Preliminary Observations", Rutgers Law Journal, Vol. 13, 1982.
29. UN. GA. Res. 3314 (XXIX), 14Dec. 1974.

پوهنـــــــدوی ســـــــيد شبراقاســـــــيدي
د ښـوونې او روزنـې پـوهنځي رياضـي څانگـه
تقـريظ ورکـوونکی: پـو هنـدوی حميـد الله يـار
د ســـــا يـــــنس پـــــو هنځـــــي اســـــتاد

د پيډل (Pedal) معادلې د انحنا وړانگه

لنډيز:

په دی علمي څېړنيزه مقاله کې د $y = f(x)$ او د $r = f(\theta)$ منحنيانو پيډل (Pedal) معادلې څېړل شوې اولاس ته راوړل شوی دي. پردې سربېره د منحني انحنا او انحنا وړانگه او هم د پيډل معادلې د انحنا وړانگې فورمول ټاکل شوی او په مثالونو کې د نمونې په ډول شرحه شوې ده.

سريزه:

موږ په ديکارتي او د قطبي وضع شويو کمياتو په سيستمونو کې د مختلفو منحنيانو لکه مستقيم خطونه، پارابولا، بيضوي، هيپربولا، پارامتريک معادلو، ناڅرگنده معادلو، اکسپونشيل (Exponential) معادلو، لوگارتمي معادلو او دداسې نورو معادلو انحنا (کړليچي) او د انحنا شعاع د ټاکلو په هکله پوره معلومات لروخو دلته په دی مقاله کې د پيډل معادلې د انحنا وړانگې په برخه کې د رياضي او فزيک د مينه والو لپاره يو څه معلومات وړاندې شوی دي.

موخې:

۱- د پيډل معادلو پېژندنه او د انحنا وړانگې ټاکل.
۲- علمي ترفيعاتو ته د لوړيدا کولو يو شرط پوره کول.

تعريف

د $y = f(x)$ منحني د $P(x_1, y_1)$ يوې نقطې ته له مبدا يا له قطب نه د p عمودي واټن او د r وکتوري شعاع تر منځ اړيکې ته د منحني پيډل معادله وايي (په پښتو کې د Pedal معنی د پښې پايډل يا د بايسيکل پايډل دی). يا په بله وينا د $y = f(x)$ منحني د p هرې نقطې ته دوکتوري شعاع (r) واټن او د قطب يا له مبدا نه پر مماس باندې د (p) عمودي واټن تر منځ اړيکه د منحني د پيډل معادلې په نوم ياد ېږي(243:8).

د منحني پيډل معادله د $p = f(r)$ په شکل يا د (p,r) په شکل ښودل کېږي(323:5).

(a): که چېرې موږ ته منحني د $y = f(x)$ معادلې پوسيله راکړشوې وي نو د پيډل معادلې د پيدا کولو لپاره د $y = f(x)$ پر منحني باندې د (x_1, y_1) يوه نقطه په پام کې نيسو.

پوهېږو چې د منحني د (x_1, y_1) په نقطه کې د مماس معادله

$$y - y_1 = m(y - y_1)$$

ده، چې $m = \frac{dy}{dx}$ د منحني د (x_1, y_1) په نقطه کې د مماس ميل ښيي.



(۱) - شکل : د موضوع په اړوند رسم شوی دی(ليکونکی).

له بل پلوه (ρ) له مبدا يا قطب نه پر همدې منحني باندې عمودي واټن دی*. نو

$$\rho = \left|\frac{y_1 - mx_1}{\sqrt{1+m^2}}\right| \quad , \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

او (r) له مبدا يا قطب نه د $P(x_1, y_1)$ تر نقطې پورې واټن دی. يعنې

$$r^2 = x^2{}_1 + y^2{}_1 \Rightarrow r = \sqrt{x^2{}_1 + y^2{}_1} \quad , \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (2)$$

څنګه چې د $P(x_1, y_1)$ نقطه د $y = f(x)$ په منحني پرته ده نو ليکو چې

$$y_1 = f(x_1) \quad , \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (3)$$

نو له (1) ، (2) او (3) معادلو نه د $(x_1$ او $y_1)$ په له منځه وړلو سره موږ د (ρ او r) تر منځ اړيکه لاس ته راوړو ، يعنې د منحني پيډل(Padel) معادله(323:5).

د موضوع د څرګندولو لپاره د بيضوي پيډل معادله لاس ته راوړو. يعنې:

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{a^2} + \frac{1}{b^2} - \frac{r^2}{a^2b^2}$$

د موخې لپاره د بيضوي کانوني معادله $\left(\frac{x^2}{a^2} + \frac{y^2}{b^2} = 1\right)$ په پام کې نيسو او فرضوو چې $P(x_1, y_1)$ د بيضوي کومه نقطه ده نو ليکلی شو چې

*: له يو خط نه د يوې نقطې د واټن ټاکلو د فورمول په بنسټ $\rho = d = \pm\frac{1}{\mu}(Ax + By + C)$

بل دا چې د (x_1, y_1) نقطې خط له مبدا نه تېرېږي معادله يې $y_1 - mx_1$ يا $y_1 - mx_1 - 0$ ده ځکه نو $\mu = \pm\frac{1}{\sqrt{A^2+B^2}} = \pm\frac{1}{\sqrt{1+m^2}}$ ، او $\rho = \left|\frac{y_1 - my}{\sqrt{1+m^2}}\right|$

$$\frac{x_1{}^2}{a^2} + \frac{y_1{}^2}{b^2} = 1, \ldots\ldots\ldots (1)$$

او د (x_1, y_1) په نقطه کې د بيضوي د مماس معادله

$$\frac{xx_1}{a^2} + \frac{yy_1}{b^2} =$$

ده. يعنې،

$$\frac{x^2}{a^2} + \frac{y^2}{b^2} = 1 \Rightarrow b^2x^2 + a^2y^2 = a^2b^2$$

د دواړو خواوو په مشتق نيولو لرو چې

$$2b^2x + 2a^2y\frac{dy}{dx} = 0$$

$$\frac{dy}{dx} = \frac{-2b^2x}{2a^2y} = -\frac{b^2}{a^2}\frac{x}{y}$$



(۲)- شکل: د موضوع په اړوند رسم شوی دی(ليکونکی).

له بل پلوه کوم خط چې له يوې نقطې لکه د (x_1, y_1) نه تېرېږي د هغه معادله

$$y - y_1 = k(x - x_1)$$

ده. نو په لاس راځي چې

$$y - y_1 = k(x - x_1) = \frac{dy}{dx}(x - x_1)$$
$$y - y_1 = \frac{-b^2x}{a^2\ y}(x - x_1)$$
$$a^2y^2 - a^2yy_1 = -b^2x^2 + b^2xx_1$$
$$b^2x^2 + a^2y^2 - a^2b^2 = b^2xx_1 + a^2yy_1$$

یا

$$\frac{x^2}{a^2} + \frac{y^2}{b^2} = \frac{xx_1}{a^2} + \frac{yy_1}{b^2} = 1$$

یا

$$\frac{xx_1}{a^2} + \frac{yy_1}{b^2} = 1$$

اوس د شکل او د بیضوي له معادلې نه لیکلی شو چې

$$r^2 = x_1{}^2 + y_1{}^2$$
$$r^2 = x_1{}^2 + \frac{b^2}{a^2}(a^2 - x_1{}^2) = \frac{a^2x_1{}^2 + a^2b^2 - b^2x_1{}^2}{a^2}$$
$$(a^2 - b^2)x_1{}^2 + a^2b^2 = a^2r^2 \Rightarrow (a^2 - b^2)x_1{}^2 = a^2r^2 - a^2b^2 = a^2(r^2 - b^2)$$
$$x_1 = \frac{a^2(r^2-b^2)}{a^2-b^2}, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (2)$$
$$y_1 = \frac{b^2}{a^2}(a^2 - x^2{}_1) = \frac{b^2}{a^2}\left(a^2 - \frac{a^2(r^2-b^2)}{a^2-b^2}\right)$$
$$y_1 = b^2 \quad b^2\frac{b^2(r^2-b^2)}{a^2-b^2} = \quad \frac{a^2b^2-b^4-b^2r^2+b^4}{a^2-b^2}$$
$$y_1 = \frac{a^2b^2-b^2r^2}{a^2-b^2} = \frac{b^2(a^2-r^2)}{a^2-b^2}, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (3)$$

همدارنګه لرو چې:

$$\rho = \left|\frac{y_1 - mx_1}{\sqrt{1+m^2}}\right| = \left|\frac{y_1 - (\frac{-b^2x_1}{a^2y_1})x_1}{\sqrt{1+(\frac{-b^2x_1}{a^2y_1})^2}}\right|$$
$$= \frac{\frac{a^4y_1{}^2+b^4x_1{}^4}{a^2y_1}}{\sqrt{1-\frac{b^4x_1{}^2}{a^4y_1{}^2}}} = \frac{\frac{a^4y_1{}^2+b^4x_1{}^4}{a^2y_1}}{\sqrt{\frac{a^4y_1{}^2+b^4x_1{}^2}{a^4y_1{}^2}}} = \frac{\frac{a^4y_1{}^2+b^4x_1{}^4}{a^2y_1}}{\frac{\sqrt{a^4y_1{}^2+b^4x_1{}^2}}{a^2y_1}} = \frac{a^2y_1{}^2+b^2x_1{}^2}{\sqrt{a^4y_1{}^2+b^4x_1{}^2}}$$

پر (a^2b^2) باندې د ښي خوا د صورت او مخرج په وېشلو لاس ته راځي چې:

$$\rho = \frac{\frac{x_1{}^2}{a^2}+\frac{y_1{}^2}{b^2}}{\sqrt{\frac{x_1{}^2}{a^4}+\frac{y_1{}^2}{b^4}}} = \frac{1}{\sqrt{\frac{x_1{}^2}{a^4}+\frac{y_1{}^2}{b^4}}}$$

د وروستۍ معادلې دواړو خواوو په مربع کولو لرو چې:

$$\rho^2 = \frac{1}{\frac{x_1{}^2}{a^4}+\frac{y_1{}^2}{b^4}}, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (4)$$

په پایله کې له (2)، (3) او (4) نه د $(x_1$ او $y_1)$ په له منځه وړلو لاس ته راځي چې

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{x_1{}^2}{a^4} + \frac{y_1{}^2}{b^4} = \frac{\frac{a^2(r^2-b^2)}{a^2-b^2}}{a^4} \frac{\frac{b^2(a^2-r^2)}{a^2-b^2}}{b^4}$$
$$= \frac{r^2-b^2}{a^2(a^2\ \ b^2)} + \frac{a^2-r^2}{b^2(a^2\ \ b^2)} = \frac{b^2(r^2-b^2)+b^2(a^2-r^2)}{a^2b^2(a^2\ \ b^2)}$$
$$= \frac{b^2r^2-b^4+a^4-a^2r^2}{a^2b^2(a^2-b^2)} = \frac{(a^4-b^4)-(a^2r^2-b^2r^2)}{a^2b^2(a^2-b^2)}$$
$$= \frac{(a^2+b^2)(a^2-b^2)-(a^2-b^2)r^2}{a^2b^2(a^2-b^2)} = \frac{(a^2-b^2)[(a^2+b^2)r^2]}{(a^2b^2)(a^2-b^2)}$$
$$= \frac{a^2+b^2-r^2}{a^2b^2} = \frac{1}{a^2} + \frac{1}{b^2} - \frac{r^2}{a^2b^2}$$

$$\Rightarrow \frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{a^2} + \frac{1}{t^2} - \frac{r^2}{a^2b^2}$$

دا د بيضوي پيډل معادله ده (218 − 217:7).

(b)− د $r = f(\theta)$ منحني پيډل معادله د

$$r = f(\theta), \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

منحني د (r,θ) د هرې نقطې مماس ته له قطب څخه د (ρ) عمودي واټن د

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{r^2} + \frac{1}{r^4} - \left(\frac{dr}{d\theta}\right)^2, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (2)$$

معادلې پوسيله لاس ته راځي.

موږ د پيډل معادلې د ټاکلو لپاره د (1) او (2) نه (θ) له منځه وړو خو ځينې وخت دا ضروري ګڼل کېږي چې د پيډل معادله د $(\theta$ او $\phi)$ د له مينځه وړلو پوسيله له

$$r = f(\theta), \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (3)$$

$$\tan\phi = \frac{r}{dr/d\theta}, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (4)$$

$$\rho = r\sin\phi, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (5)$$

دريو معادلو څخه په لاس راوړو، يعنې:

$$\rho = r\sin\phi$$

$$\rho^2 = r^2\sin^2\phi$$

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{r^2} + \frac{1}{\sin^2\phi} = \frac{1}{r^2}\mathrm{Cosec}^2\phi = \frac{1}{r^2}(1 + \mathrm{Cotg}^2\phi)$$

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{r^2}\left(1 + \frac{1}{\tan^2\phi}\right), \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (6)$$

له بل پلوه له (4) څخه لرو چې:

$$\tan\phi = \frac{r}{dr/d\theta} = r\cdot\frac{d\theta}{dr}$$

$$\tan^2\phi = r^2\left(\frac{d\theta}{dr}\right)^2, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (7)$$

اوس په (6) کې د (7) د قيمت په عوض کولو لاس ته راځي چې:

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{r^2}\left(1 + \frac{1}{r^2\left(\frac{d\theta}{dr}\right)^2}\right) = \frac{1}{r^2} + \frac{1}{r^4}\frac{1}{\left(\frac{d\theta}{dr}\right)^2}$$

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{r^2} + \frac{1}{r^4}\left(\frac{d\theta}{dr}\right)^2$$

د منحني غوښتل شوی پيډل معادله (218:7 − 243:8).

اوس د نمونې په ډول د $(r = ae^{\theta\cot g\,\alpha})$ منحني پيډل معادله لاس ته راوړو:

$$r = ae^{\theta\cot g\,\alpha} \Rightarrow r = ae^{u}$$

$$\frac{dr}{du} = ae^{u} = ae^{\theta\cot g\,\alpha}$$

$$u = \theta\cot g\,\alpha \Rightarrow \frac{du}{d\theta} = \cot g\,\alpha$$

$$\frac{dr}{d\theta} = \frac{dr}{du}\cdot\frac{du}{d\theta} = ae^{\theta\cot g\,\alpha}(\cot g\alpha)$$

$$\frac{dr}{d\theta} = r\,\mathrm{cotg}\alpha$$

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{r^2} + \frac{1}{r^4}\left(\frac{d\theta}{dr}\right)^2 = \frac{1}{r^2} + \frac{1}{r^4}[r\,\mathrm{Cotg}\alpha]^2$$

$$= \frac{1}{r^2} + \frac{1}{r^4}(r^2\,\mathrm{Cotg}^2\alpha) = \frac{1}{r^2} + \frac{1}{r^2}\mathrm{Cotg}^2\alpha$$

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{1}{r^2}(1 + \mathrm{Cotg}^2\alpha) = \frac{1}{r^2}\mathrm{Cosec}^2\alpha = \frac{1}{r^2}\frac{1}{\mathrm{Sin}^2\alpha}$$

$$\rho^2 = r^2\mathrm{Sin}^2\alpha$$

$$\rho = r\,\mathrm{Sin}\alpha$$

کومه چې د منحني د پيډل غوښتل شوی معادله ده (330:5).

(۲)- د پيډل معادلې د انحنا وړانګې د مقدار له ټاکلو نه دمخه لازم دي، چې اول د ګوږوالي يا انحنا (Curvature) او بيا د انحنا وړانګه وپېژنو.

تعريف: د منحني په کومه يوه نقطه کې د منحني کوږوالی(انحنا)اندازې يا مقدار ته انحنا وايي او د (k) پواسطه ښودل کېږي(18:4) ، يعنې دا هغه اندازه ده ،چې مماس يې د (P) په هره يوه نقطه کې بدلون کوي($k = \frac{dt}{ds}$ يا $k = \frac{d\Psi}{ds}$) . د انحنا تابع په معمول ډول د يوناني ژبې د k(kappa) توري پواسطه ښودل کېږي(2:381،382).

د موخې د پاره که چېرې په منحني باندې د P او Q دوه متحولې نقطې اود (A) يوه ثابته نقطه په پام کې ونيسو نو په دې صورت کې

$\widehat{AP} = s$

$\widehat{AQ} = s + \Delta s$

او $\widehat{PQ} = \Delta s$

همدارنګه، $\Psi + \Delta\Psi , \Psi$ هغه زاويې دي ، چې مماسونه يې د (P او Q) په نقطو کې د ox له محور مثبت لورسره جوړوي(۳- شکل وګورئ).



(۳)- شکل: د موضوع په اړوند رسم شوی دی(ليکونکی).

په شکل کې ($\Delta\Psi$) هغه زاويه ده ، چې د مماس د بدلېدو په وخت کې د منحني په امتداد د (P) له نقطې څخه د (Q) تر نقطې پورې د (Δs) په يوه واټن سره حرکت کوي.

۱- د ($\widehat{PQ}$) قوس ټوله کرليچې يا ټول کوږوالی د ($\Delta\Psi$) شتون ښيي.

۲- د ($\widehat{PQ}$) قوس د کوږوالي اوسط ($\frac{\Delta\Psi}{\Delta s}$) نسبت شته والی ښيي.

۳- د (P) په نقطه کې د منحني کوږوالی چې $\lim_{Q\to P}\frac{\Delta\Psi}{\Delta s} = \frac{d\Psi}{ds}$ سره کېږي رابښيي.

نوله دې امله د (P) په هره نقطه کې د منحني کوږوالی د $k = \frac{d\Psi}{ds}$ يا $k = \frac{\frac{d^2y}{dx^2}}{\left[1+\left(\frac{dy}{dx}\right)^2\right]^{\frac{3}{2}}}$ پوسيله ښودل کيږي(۱: ۲۳۱-۲۳۲-۲۳۳).

تعريف: د يو منحني د P په هره نقطه کې د انحنا معکوس ته چې صفر نه وي د انحنا وړانګه يا شعاع وايي: $\rho = \frac{1}{k}$

يا $\rho = \frac{1}{\frac{d\Psi}{ds}} = \frac{ds}{d\Psi}$

او په عمومي ډول د (ρ) يا (r) پواسطه ښودل کيږي،(6: 243 – 244).

اوس د پيډل معادلې د انحنا وړانګې دټاکلو د پاره

$\rho = r\sin\phi , \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$

$\Psi = \theta + \phi , \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (2)$

$\tan\phi = r\cdot\frac{d\theta}{dr} , \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (3)$

درې معادلې په پام کې نيسو نو لاس ته راځي چې

$$\tan\phi = r\cdot\frac{d\theta}{dr}$$
$$= r\cdot\frac{d\theta}{dr}\cdot\frac{ds}{ds}$$
$$= r\cdot\frac{d\theta}{ds}\cdot\frac{ds}{dr}$$



(۴)- شکل: د موضوع په اړوند رسم شوی دی(ليکونکی).

$$= \frac{r\frac{d\theta}{ds}}{\frac{dr}{ds}} = \frac{\sin\phi}{\cos\phi}$$

يعنې، $\sin\phi = r\cdot\frac{d\theta}{ds}$ او $\cos\phi = \frac{dr}{ds}$.

اوس r ته د (1) په مشتق نيولو لاس ته راځي چې

$$\rho = r\sin\phi$$

$$\frac{d\rho}{dr} = r\cos\phi\frac{d\phi}{dr} + \sin\phi = r\cdot\frac{dr}{ds}\cdot\frac{d\phi}{dr} + r\cdot\frac{d\theta}{ds}$$

$$= r\cdot\frac{d\phi}{dr} + r\frac{d\theta}{ds} = r\left(\frac{d\phi}{ds} + \frac{d\theta}{ds}\right), \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (4)$$

او د(2) د مشتق نيولو نه په لاس راځي چې:

$$\frac{d\Psi}{ds} = \frac{d\theta}{ds} + \frac{d\phi}{ds}, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (5)$$

او (4) او (5) له پرتله کولو نه ليکلی شو چې:

$$\frac{d\rho}{dr} = r\frac{d\Psi}{ds} = \frac{r}{\rho}$$

$\frac{d\Psi}{ds} = \frac{1}{\rho}$ په پام کې نيول شوی دی. په پايله کې

$$\rho\cdot\frac{d\rho}{dr} = r$$

$$\rho = \frac{r}{\frac{d\rho}{dr}} = r\cdot\frac{dr}{d\rho}$$

$$\rho = r\cdot\frac{dr}{d\rho}, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (A)$$

دا د پيډل معادلې د انحنا وړانګې مقدار دی(270 − 269:7).

مثال: د $\frac{1}{\rho^2} = \frac{A}{r^2} + B$ پيډل منحني د انحنا وړانګه د (ρ, r) په نقطه کې په لاس راوړو

حل: (ρ) ته د $\frac{1}{\rho^2} = \frac{A}{r^2} + B$ معادلې مشتق نيسو، يعنې:

$$\frac{1}{\rho^2} = \frac{A}{r^2} + B \Rightarrow \rho^{-2} = Ar^{-2} + B$$

$$-2\rho^{-3} = -2Ar^{-3}\frac{dr}{d\rho}$$

$$-\frac{2}{\rho^3} = \frac{-2A}{r^3}\frac{dr}{d\rho}$$

$$\frac{dr}{d\rho} = \frac{-\frac{2}{\rho^3}}{\frac{-2A}{r^3}} = \frac{r^3}{A\rho^3}, \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

اوس په (A) کې د (1) د قيمت په عوض کولو په لاس راځي چې:

$$\rho = r\cdot\frac{dr}{d\rho} = r\cdot\frac{r^3}{A\rho^3} = \frac{r^4}{A\rho^3}$$

$$\rho = \frac{r}{\sqrt[4]{A}}$$

پورته د منحني د وړانګې معادله ده(272:7).

پايله:

ددې حقايقو او ژوري هر اړخيزې څېړنې په پای کې دې پايلې ته رسيږو چې پيډل معادله په ديکارتي او قطبي سيستمونو کې د معادلو يوه بله بېلګه ده. نو لدې امله مونږ کولی شو چې د $f(x, y) = 0$ او $f(\theta, r) = 0$ معادلو د هر ډول معادلې پيډل معادله، د پيډل معادلې د منحني انحنا او د انحنا وړانګه لاس ته راوړو.

وړانديز:

د پېډل معادلو، د پېډل معادلو د منحني ګانو انحنا او د انحنا وړانګې په برخه کې زياتو معلوماتو لپاره مينه وال کولی شي چې د رياضياتو د مختلفو کتابونو او هم د اړونده اخځليکونو نه ګټه واخلي.

ماخذونه

۱. تاليف (ان پيسکانف)، ترجمه (پارياب، خليل). (۱۳۸۲ل). حساب ديفرينشيل و انتيګرال (جلد اول)، تهران: انتشارات فني حسينيان.

2. George B. Thamas, RossL.Finey, MauriceD. Weir Calculus and Analytic Geometry, 9th Edation.

3. D.Somasunsaram,Defferntial Geometry a First Course.

4. Umarzai- Prof Usman Ali Edition November 2010 Universty Publishers Peshawer Pakistan.

5. Dr.N. Piskunove Differntiol and Integral Calculas Vol.I,Mir Publishers Mosscow 1981.

6. Dr.S.M yusaf, T.I. and Prof Muhammad Amin Publishers 1980.

7. Prof. Zia-ul-Haq Calculas and Analytic Geometry publishers by Ch. Ahmad Najib Lahore Pakistan 2006.

8. Dr.N.Zaidi,prof Shahid Hussain Zaidi, Dr,Mumtazul-Iman, DR.S.M.Kerawala, Dr.M. Afzal kazi, Dr.M.N.Talpur Calculas and Analytic Geometry, Publishers by Abdul Salam.

پوهنـــــدوی محمـــــد عمـــــر عابـــــد
ښـــــوونې او روزنـــــې پـــــوهنځی
بيولـــــوژي څـــــانګـــــه
تقريظ ورکوونکی: پوهاند دوکتور خليل احمد بهسودوال
د طـــــب پـــــوهنځـــــي اســـــتاد

د وينې د پلازما ترکيب او دندې

لنډيز:

پلازما د وينې د ژونکو ترمنځ اوبلنه ماده ده. د ژونکو توکي په پلازما کې په آزاد ډول ګرځي پلازما له دوو برخو څخه جوړه شوې ده يوه برخه يې اوبه چې د پلازما(۹۰-۹۲) سلنه جوړوي، دويمه برخه يې کلک مواد دي چې (۸-۹) سلنه برخه جوړوي چې دا جامد مواد په دوو برخو وېشل کېږي لومړی برخه يې عضوي مواد يعنې پروتينونه لکه (البومين،ګلوبولين، فيبرينوجين او پروتامين) او دويمه برخه يې غيرعضوي مواد دي (ايونونه) لکه (Na, Ca, K, Mg). د پلازما پروتينونه له غذايي پروتينونوڅخه جوړېږي، د پلازما پروتينونه دځيګر د حجرو پواسطه جوړښت مومي، د وينې پلازما ځينې دندې ترسره کوي.

سريزه:

وينه يوځانګړې ارتباطي نسج (Connective tissues) دی چې په رګونو کې د Rhythmic (موزون، هم اهنګ) تقلصاتو پواسطه جريان کوي او په عمده ډول له دوو برخو څخه جوړه شوې ده، (۱) د وينې مايع برخه چې د پلازما په نوم هم يادېږي، (۲) د وينې جامد اجسام چې د وينې د حجرو Erythrocytes، Leukocytes او Platelets څخه عبارت دي. د وينې مايع برخه هم په دوه ډوله ده (۱) سيرم Serum (۲) پلازما Plasma.

د وينې پلازما د وينې مايع برخه ده چې د بدن د وزن (۵) سلنه تشکيلوي، اندازه يې په نارمل شخص کې چې (۷۰) کيلوګرامه وزن ولري (۳۵۰۰) سي سي ده، پلازمايوه متجانسه او نسبتاً قلوي مايع ده چې په هغې کې ګازات، امينواسيدونه، شحمونه، پروتينونه، ګلوکوز، مالګه، منرالي ايونونه، هورمونونه، ويټامينونه د ميتابوليزم په کړنلاره کې پيدا شوی CO_2، اکسيجن او نور مواد شتون لري.

د پلازما پروتينونه ځينې دندې لکه: د وينې علقه کېدل، ازموتيک فشار تنظيم، سروحجرو د رسوب په تامين، د کاربن ډای اکسايد انتقال، د وينې لزوجيت Viscosity او نور لري.

موخې:

۱- د وينې د يوې برخې يعنې پلازما د رول په ډاګه کول.
۲- د وينې د پلازما ترکيبي مواد او دهغوی دندې پېژندل.
۳- د Serum او plasma يو له بل څخه د توپير له مخې پېژندل.
۴- د پلازما د کموالي له امله د وينې د نه جوړيدو ناوړه اغيزې پېژندل.
۵- د هغو غذايي توکو پېژندل چې پروتينونه ولري او د وينې د پلازما د جوړښت سبب شي.

پلازما Plasma

پلازما هغه مايع ده چې د غذايي موادو د لېږد سبب ګرځي په پلازما کې له هضمي جهاز څخه جذب شوي مواد، د انساجو اضافي مواد او هورمونونه وجود لري. د وينې (۵۵) سلنه پلازما او (۴۵) سلنه حجرات دي، پلازما يوه متجانسه او نسبتاً قلوي مايع ده چې په هغې کې ګازات، معدني مواد، پروتينونه، شحمونه او Chylomicrons ليدل کېږي. (Chylomicrons د غوړو موادو يو شمېرکوچني کروي شکله جوړښتونه دي چې په پلازما کې وجود لري د غوړو موادو تر خوړلو وروسته

زياتېږي) کله چې پلازما له هوا سره په تماس کې راشي Fibrinogen د Fibrin د شبکې په جوړولو سره د وينې علقه جوړوي. (۵: ۱۰۷)

پلازما د وينې مايع برخه ده چې د بدن د وزن (۵) سلنه تشکيلوي، په عمومي ډول اندازه يې په نارمل شخص کې چې (۷۰) کيلوګرامه وزن ولري (۳۵۰۰) سي سي ده، که چېرې په يو تيوب کې واچول شي او د پرنډ کيدو ضد مواد Anti coagulation پکې وانه چول شي وينه پرنډ کېږي، که علقه ورڅخه ليرې کړل شي باقي برخې ته سيرم وايې يعنې د پلازمايوه برخه د علقه کيدو فکتورونه دي چې ليرې شي سيرم ورڅخه لاسته راځي. (۲: ۱۱)

۱- سيرم Serum: کله چې له يو انسان څخه وينه واخيستل شي بيا په يو تيوب کې واچول شي د کوټې د تودوخې په درجه کې کيښودل شي (۲۴) ساعته وروسته د تيوب په برنۍ برخه کې يوه زيړرنګه مايع تشکيلېږي چې سيروم ورته وايي.

۲- پلازما Plasma: کله چې په وينه کې Anti Coagulant (د علقه کيدو ضد ماده) واچول شي او بيا سنترفيوج شي هغه زيړ رنګه مايع برخه چې د وينې په برنۍ برخه کې تشکيلېږي پلازما نومېږي. (۱: ۸)

د وينې په پلازماکې امينواسيدونه، شحمونه، پروتينونه، ګلوکوز، مالګه، منرالي ايونونه، هورمونونه، ويټامينونه د ميتابوليزم په کړنلاره کې پيداشوی CO_2، اکسيجن او نور مواد شتون لري وينه د يادو موادو دلېږد دنده هم سرته رسوي په پلازما کې د اکسيجن د لېږد ظرفيت د سروکروياتو د هيموګلوبين د کيفي جوړښت او لوړ فشار سره تړاو لري.(۲: ۵)

د بشپړې وينې پرځای د وينې د پلازما کارول د Gordon.R Word له خوا د (۱۹۱۸ز) کال د مارچ په مياشت کې دبرتانيې په طبي ژورنال کې وړانديز وشو، د وچې شوې پلازما کارول د پوډرو په شکل په دويمه نړيواله جګړه کې ترسره شو، دا د Charles Drew د مرستې د سترې پروژې نوم و په (۱۹۴۰ز) کال د اګست په مياشت کې پيل شوې وه چې د نيويارک په روغتونوکې به يې وينه راټولوله او برتانيا ته به يې ليږله د وچې شوې پلازما دوه فلزي قطعې چې هرې يوې يې (۴۰۰) سي سي ظرفيت درلود په يوه کې مقطرې اوبه وې دبلې قطعې په وچه شوې پلازما کې به يې حلولې تقريباً په دريو دقيقو کې به پلازما د استعمال لپاره اماده کيدله چې د څلور ساعتونو لپاره به تازه پاتې کېدله(www.wikipedia encyclopedia.com)

پلازما له اوبو څخه جوړه شوې ده چې کلوييد او کرستلوييد مواد پکې منحل دي، کلوييدونه له پروتينونو څخه چې Prothrombin (د وينې لخته کيدو پروتين) Immunoglobulin په معافيتي ميکانيزم کې رول لري، په کرستالوييد موادو کې سوديم، پوتاشيم، مګنيزيم ايونونه، کلورايدونه، فاسفيت، بای کاربونيت او داسې نور مواد شتون لري، د وينې (۵۵) سلنه پلازما تشکيلوي.(۱: ۱۰۸)

د پلازما جامد مواد په دوو برخو وېشل شوي دي.

الف: د پلازما غير عضوي مواد

Na^{+} = 135-146 mmol/Lit
Ca^{++} = 8,5-10,5 mmol/Lit
K^{+} = 3,5-5,0 mmol/Lit
Mg^{++} = 0,7-1,1 mmol/Lit

ب: عضوي مواد

۱- د پلازما پروتينونه Albumin 4,5 mg%، Globulin 2,5 mg%، Fibrinogen 100-200 mg%، Prothrombin 10-20 mg%.

(2) Non protein nitrogenous (NPN) 28,40 mg% example Urea, Uric acid, Creatin, Creatinin, Xanthinin, Hypoxanthin, Ammonia, Aminoacid.

۳- شحمونه Fats: عبارت دي له: Phospholipid، Neuturalfats، Cholesterol څخه.

۴- کاربوهايدريتونه لکه: ګلوکوز او نور.

۵- رنګ ورکوونکې مواد Coloring matter: د پلازما زيړ رنګ د Bilirubin او Carotenes له کبله دي. (۹: ۲۲۲)

د پلازما پروتينونه

د پلازما پروتينونو نارمل مقدار د (۵، ۶-۷) ګرامه په سل سي سي کې دی.

۱- Albomin: د البومين مقدار (%4,5-7mg) او ماليکولي وزن يې (۲۹۰۰۰) دی د تودوخې پواسطه علقه کېږي، په اوبو کې منحل دی البومين د ځيګر د Hepatocytes (د ځيګريو ډول حجرې دي چې د البومين پروتين د همدغو حجرو) پواسطه جوړېږي.

۲- Globulin: د ګلوبولين مقدار (%1,5-2,5mg) او ماليکولي وزن يې (۲۰۰۰۰) پورې دی په اوبو او اوبلنه مالګه کې منحل دی، البومين په وينه کې مختلف مواد لکه شحمونه، ستروئيدونه، ګلايکوپروتين، مس، اوسپنه لېږدوي. (۴: ۱۲۳)

۳- Fibrinogen: دا يو Soluble Glycoprotein دی ټينګوالی (غلظت) يې (%0,2-04mg) او ماليکولي وزن يې (۴۰۰۰۰۰) دی دا پروتين په اوبو او د مالګې په رقيق محلول کې منحل دی د ځيګر پواسطه جوړېږي او د وينې په علقه کيدو کې رول لري ځکه چې د Clotting factor لري.

۴- Prothrombin: ټينګوالی (غلظت) يې (%10-20mg) او ماليکولي وزن يې (۲۸۷۰۰) دی د وينې د علقې په پروسه کې مرسته کوي، د ځيګر پواسطه جوړېږي ځيګر د ياد پروتين د جوړولو لپاره د K ويتامين ته اړتيا لري د ځيګرپه ناروغيو کې د دغه پروتين ټينګوالی کمېږي ځکه چې د ځيګر حجرې تخريب کېږي.

د ځيګر پواسطه د پلازما پروتينونو جوړېدل

کله چې يو سړي ته يوه زهري ماده چې د ځيګر Kupffers حجرې تخريبوي زرق شي نو په دغه وخت کې د پلازما پروتين غلظت ښکته کيږي د (۲-۳) ورځو په موده کې بيرته نورمال حالت ته رسېږي نو له دې څخه معلومېږي چې د پلازما پروتينونه د ځيګر حجراتو پواسطه جوړېږي.(۸: ۲۸۸)

د پلازما د پروتينونو سرچينه

د پرفيوژن تجربو ښودلي ده چې ځيګر د پلازما د پروتينونو د سنتېز مسول غړی دی، په استثنا د Anti hemophilic globulin او Immunoglobulin چې د رتيکولراندوتيليل سيستم مخصوصاً په لمفاوي عقداتوکې، په لمفايدنسج طحال (توری) او د هډوکو مغز او Plasma cell کې جوړېږي، هغه حجرې چې انتي باډي جوړوي د Immunocyte په نوم يادېږي، د Immunoglobulin سنتېز په ورځ کې د (۲-۵) ګرام ته رسېږي، د پلازما پروتينونه له غذايي پروتينونو څخه مشتق کېږي بايد ټول هغه ضروري امينواسيدونه چې په خوړو کې دي لکه (Leucine,Methionine, Histidin, Arginine) د دې ضروري امينواسيدونو په نشتوالي کې د پروتينونو په سنتېز منفي تاثيراچوي يعنې پروتين نه جوړېږي. (۳: ۲۳)

د پلازما د پروتينونو دندې

د پلازما پروتينونه ځينې دندې ترسره کوي چې مهمې يې په لاندې ډول دي.

۱- د وينې علقه کېدل Blood clotting: د پلازما پروتينونه د وينې د علقې لپاره ضروري ګڼل کېږي ځکه چې د Fibrinogen او Prothrombin څخه پرته د وينې علقه منځته نه راځي. (۸: ۲۸۹)

ميکانيزم يې د Howell د تيوری په اساس د Fibrinogen تبديل په Fibrin باندې د Thrombine پواسطه صورت نيسي چې ترومبين پخپله په مايع وينه کې د پروترومبين په بڼه شتون لري، د پروترومبين بدليدنه پر ترومبين باندې د Thromboplastine او Ca^{++} تراغېزې لاندې ترسره کېږي، دا پړاونه په لاندې دياګرام کې ښودل کېږي.



۲- د ازموتيک فشار تنظيم: له هغه فشار څخه عبارت دی چې وينه د رګونو په داخل کې ساتي، د پلازما ټول پروتينونه د ازموتيک فشار په توليد کې برخه اخلي، ازموتيک فشار (280mmHg) دی چې د پلازما پروتينونو د (%7,5mg) پواسطه منځته راځي، نوموړي فشار (%80) د البومين پواسطه تشکيل شوی دی.

۳- د ESR (Erythrocytes sedimentation rate) په تامین کې: ESR (د سروحجرو د رسوب اندازې ته وایې) د پلازما پروتینونه یعنې Fibrinogen د ESR په تامین کې رول لري، که نوموړي پروتینونه زیات شي ESR زیاتېږي او که کم شي ESR کمېږي.

د ESR د معلومولو لپاره به له ناروغ څخه درې سي سي وینه واخلي او Anti coagulant یعنې Tri Sodium Citrate 3.8 به پکښې واچوئ ښه به یې حل کړئ بیابه د ESR په پیپیت کې وینه د صفر تر نښې پورې کش کړئ او د ESR په دستګا کې به یې نیغ ودروئ سټاپ واچ به ورته چالان کړی یو ساعت وروسته به یې وګورئ بیابه یې دوه ساعته وروسته بیا وګورئ نتیجه به یې ولیکئ نتیجه به دهغې ځای یاد دانښت کړئ کوم ځای چې وینه او پلازما سره جلا شوي وي.

۴- Act as a buffer: د پلازما پروتینونه د بفر سیستم په څېر عمل کوي د اسید او قلوي په برابر ساتلو کې ونډه اخلي ځکه چې په دوی کې امینو اسیدونه موجود دي چې آزاد اسیدي او قلوي راډیکلونه لري.

۵- Act as a protein reserve: د پلازما پروتینونه په عضلاتو کې زېرمه کېږي چې دلوږې په وخت کې نوموړي پروتینونه په کار وړل کېږي.

۶- د کاربن ډای اکساید انتقال: د CO_2 ډیره کمه فیصدي د پلازما پروتینونو یعنې ګلوبولین پواسطه د سږو له لورې انتقالیږي ځکه ګلوبولین د هیموګلوبین په ترکیب کې رول لري.

۷- د موادو انتقال: د پلازما پروتینونه په ځانګړي ډول ګلوبولین مختلف مواد لکه بیلوروبین، هورمونونه، اوسپنه، مس، آزاد Hb، سترویېدونه او نور انتقالوي.

۸- Form trephones: د وینې سپین کرویات د پلازما له پروتینونو څخه نور مواد جوړوي چې د trephones په نوم یاد ېږي دغه مواد د نسجونو د ودې لپاره ضروري ګڼل کېږي.

۹- Act as antibody: د پلازما پروتینونه (په ځانګړي ډول ګاما ګلوبولین) د انتي باډي په څېر عمل کوي بدن د مختلفو میکروبونو په مقابل کې محافظه کوي. (۹: ۲۲۷)

۱۰- لزوجیت Viscosity: د پلازما پروتینونه (البومین، ګلوبولین، فیبرینوجین او پروتامین) د پلازما د لزوجیت سبب ګرځي. (۳: ۲۴)

د پلازما د پروتینونو حالت

A: که چیرې د پلازما پروتینونه لوړ شي د Hyper prteinemia په نوم یاد ېږي. د پلازما د پروتینونو نارمل اندازه (5,5-8mg/dl) پورې ده.

۱. که د کوم شخص له بدن څخه مایعات ضایع شي په وینه کې اوسپنه زیاتېږي نو البومین او ګلوبولین په وینه کې لوړېږي.

۲. هغه ناروغي چې دهغې له کبله د پلازما د ګلوبولین په ځانګړي ډول د Gamma globulin سویه په وینه کې لوړه شي د Hyper gamma globulinemia په نوم یاد ېږي.

B: که د پلازما د پروتینونو کچه له نارمل حالت څخه ټیټه شي د Hypo proteinemia په نوم یاد ېږي چې په لاندې حالتونو کې منځته راځي.

۱. د Hem dilution په حالت کې البومین او ګلوبولین دواړه پروتینونه کمېږي.

۲. کله چې د البومین سویه ښکته شي د ګلوبولین سویه هم ښکته کېږي. (۷: ۱۳۱)

پایله:

پلازما د وینې د جوړېدو مهمه مایع برخه ده، بې د پلازما له موجودیته د وینې تشکیل امکان نه لري، پلازما له دوو برخو څخه جوړه شوې ده یوه برخه یې اوبه دي د (۹۰-۹۲) سلنه کېږي بله برخه یې جامد مواد دي د (۸-۹) سلنه جوړوي، په دې جامده برخه کې عضوي مواد لکه شحمونه، پروتینونه، کاربوهایدریتونه، ویټامینونه او غیرعضوي مواد لکه د سودیم، کلسیم او مګنیزیم ایونونه شامل دي. پلازما د بدن د وزن (۵) سلنه تشکیلوي یو شخص چې (۷۰) کیلو ګرامه وزن ولري

نارمل اندازه يې (۳۵۰۰) سي سي ته رسېږي. پلازما ځينې پروتينونه هم لري چې په بدن کې مهمې دندې ترسره کوي. د پلازما پروتينونه د غذايي موادو له پروتينونو څخه ترکيبېږي، د پلازما پروتينونه د ځيګر د حجرو پواسطه جوړېږي.

وړانديزونه:

۱- د پلازما پروتينونه له غذايي پروتينونو څخه جوړېږي دا ضروري امينو اسيدونه بايد د خوړو له لارې واخيستل شي.
۲- د زهري موادو د خوړلو څخه ډډه وشي ځکه په دې سره د ځيګر حجرې تخريبېږي د پلازما پروتينونو مقدار کمېږي.
۳- د وينې د کمښت په صورت کې بايد وينه واخيستل شي چې بدن ته د غذايي موادو رسولو کې ځنډ رامنځته نه شي.

اخځليکونه:

۱- بهسودوال، خليل احمد .(۱۳۸۹). طبي هستولوژي. ننګرهار: ننګرهارپوهنتون. طب پوهنځی. م م. ۸، ۱۰۸.
۲- ځدران، نظرمحمدسلطانزی. صالح محمد سلطانزی .(۱۳۸۹). د وينې سرطان پيژندنه، درملنه او مخنيوی. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون. طب پوهنځی. م. ۵.
۳- سيفي، قمرالدين.(۱۳۹۰). حياتي کيميا د وينې بيوشيمي. ننګرهار: عنايت خپرندويه ټولنه. م م. ۲۳، ۲۴.
۴- شيرزی، ايمل .(۱۳۹۱). هيماتولوژي، ايمنولوژي او د ويټامينونو د کموالي ناروغی. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون. طب پوهنځی. م. ۱۲۳.
۵- صديقي، بری.(۱۳۹۰). هستولوژي. طب پوهنځي اول او دويم ټولکيولپاره. ميهن خپرندويه ټولنه. م. ۱۰۷.
۲- ظفرزی، محمد ظاهر .(۱۳۸۹). د وينې ناروغی. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون. طب پوهنځی. م. ۱۱.
۷- عظيمي، محمد عظيم.(۱۳۹۲). طبي بيوشيمي اساسات. جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه. م. ۱۳۱.
8. Rod R. Seeley. PhD. (2004). Essentials of Anatomy and Physiology. Second edition. Idaho State University. p. 288
9. John W. Hole Jr. (2004). Human Anatomy and Physiology. Third edition. Rio Hando University. pp. 626, 627.

پوهـــــندوی محمـــــد ایمـــل حقمـــــــل
حـقـــــوقو او سیاســـي علومـــو پـــوهنځی
عـــــامـــــه حـقـوقـــــو څانـــــګه
تقـریظ ورکـوونکی: پوهانـد دوکتـور دل آقـا وقـار
شـــــــرعیاتو پـــــــوهنځي اســـــــتاد

په نړیوالو حقوقو کې د تجاوز د مفهوم څېړنه

لنډیز:

دغه لیکنه د نړیوالې ټولنې له خوا د تجاوز د تعریف د کوښښونو او هلوځلو د تاریخي پس منظر بررسۍ او د تجاوز د حقوقي مفهوم څېړنه ده او ددې بررسۍ څخه هدف د تجاوز د مفهوم، متجاوز د پېژندنې لپاره د بین المللي حقوقو د معیارونو پېژندل او د تجاوز د احراز په هکله د ملګرو ملتونو امنیت شورای د دندو پېژندنه او د تجاوز سره ځینو نورو حقوقي مفاهیمو پرتله ده، چې د دې لیکنې لوستل به د حقوقو د علم مینه والو او عامو لوستونکو لپاره، په زړه پورې وي.

سریزه:

کلمات او ترمینولوژۍ په ډېرو علومو کې، که هغه انساني او یا طبیعي علوم دي او یا حتی ریاضي ده، د هغه دروازو په شان دی چې د علومو پر مخ خلاصېږي، کلمات اکثراً د علومو په سرحد کې قرار لري او دا کلمات روښانه ستوري دي چې د علومو په تاریکیو کې په ابهاماتو باندې رڼا اچوي او هغه بیانوي.

ترمینولوژي په مختلفو علومو کې توپېر لري، په طبیعي علومو کې د یو لغت او یا کلمې تعریف څخه هدف د هغه د ماهیت ښودل دي، یعنې په طبیعي علومو کې د دې هدف لپاره یوه کلمه تعریفوو چې هغه وپېژنو او د هغه جزیاتو ته لاس رسی پیدا کړو. په داسې حال کې چې په انساني (ټولنیزو) علومو او په خاص ډول د حقوقو په علم کې د یو کلمې، اصطلاح او یا لغت د تعریف څخه هدف یوا ځې د هغه کلمې پېژندل نه دي، بلکې له هغه څخه هدف د دې کلمې یا اصطلاح وسعت او د هغه د دایرې د حدودو ټاکل دي. شاید د قتل په معنی ټول پوه شي، چې د انسان وژنه ده د بل انسان په واسطه، ولې د یو حقوقپوه لپاره هره وژنه له بلې وژنې سره توپېر لري، یو حقوقپوه ته د انسان د ژوند ختمول یو ساده وژنه نه ده، له همدې امله لازمه ده چې د قتل کلمه تعریف شي، نه یوا ځې د دې هدف لپاره چې قتل وپېژنو، بلکې د دې لپاره چې د هغه اعمالو ترمنځ چې د انسان د ژوند سلبېدو لامل کېږي په توپېر قایل شو او نهایتاً د هر حالت لپاره ځانګړی حکم بیان کړو. په واقیعت کې د حقوقو په علم کې د یو لغت او یا کلمې تعریف څخه هدف د هغه پېژندل نه دي، بلکې د هغه د حکم د تعین لپاره د شمول د دایرې پېژندل دي.

د تجاوز جرم په تاریخ کې په بین المللي سطحه یو له مشکل څخه ډک جرم په حیث پاتې شوی دی چې په دې اړه زیات اقدامات شوي، ولې د تجاوز جرم ته داسې یو جامع او کامل تعریف چې ټولو ته د منلو وړ وي، نه دی پیدا شوی. په دې لنډه لیکنه کې غواړو روښانه کړو چې، د تجاوز (Aggression) په شان کلمه یا لغت په کومه اندازه په بین المللي حقوقو کې تعریف ته ضرورت لري او ترکومه اندازه په طول د تاریخ کې په دې اړه هڅه او کوښښ شوی او هېوادونو په څه ډول د نوموړې کلمې د مفهوم په اړه عمل کړی.

موخې:

نوموړې مقاله د لاندې موخو لپاره لیکل شوې ده.

۱- د حقوقو د مسلک مینوالو او نورو علاقمندانو ته د تجاوز د بین المللي جرم پېژندنه.

۲- د دې خبرې مشخص کول چې آیا د تجاوز د بین المللي جرم لپاره په نړیواله سطحه تر اوسه کوم تعریف وجود لري او که څنګه.
۳- د تجاوز د مفهوم پرتله له نور مشابه حقوقي مفاهیمو سره.
۴- د خپلې علمي رتبې د اخیستنې د یو شرط (مقاله لیکنې) پوره کول.

مواد او کړنلاره:

په دې علمي مقاله کې د څېړنې له ګڼو میتودونو او تګلارو څخه د کتابتوني څېړنې طریقه غوره شوې او هڅه شوې چې له باوري او اعتبار لرونکو اخذ لیکونو او منابعو څخه استفاده وشي.

لومړی: د تجاوز د تعریف په اړوند د نړۍ د هېوادونو د کوښښونو لنډ تاریخي پس منظر

په منځنیو پیړیو کې د مسیحیت د اثر له امله په کلیسایي حقوقو کې مشروع یا عادلانه جنګ نظریه مطرح شوه چې د هغې پر اساس یوازې هغه جنګ مشروع ګڼل کېده، چې د کلیسا د فرمان په اساس شروع کېده. له همغه لومړنیو وختو څخه د تجاوز مفهوم د جنګ له وقوع څخه پرته د تصور وړ نه وه، په اوسني وخت کې هم کله چې د تجاوز خبره منځته راځي د هغه سره یوځای د جنګ، لښکر کشۍ او د بل هېواد په خاوره باندې د تجاوز موضوع مطرح کېږي. نړیواله ټولنه د تجاوز مفهوم د پېژندنې او د هغه حدودو تعین لپاره د یو خارجي واقعیت وجود ته، د دولت په نوم ضرورت لري. له همدې امله د یو دولت متشکله عناصر چې عبارت دي له قلمرو، نفوس، حکومت او عالي قدرت څخه، باید وجود ولري ترڅو و کولای شو د تجاوز بحث مطرح کړو.

تر 1919 میلادي کاله پورې د تجاوز مفهوم په حقوقي شکل نه و مطرح شوی او په همدې کال کې و، چې د تجاوز اصطلاح په موضوعه بین المللي حقوقو کې داخل شوه او هغه د جامعه ملل د سازمان د میثاق 10 مه ماده وه، چې د هغه له مخې د جامعه ملل د سازمان غړي متعهد شول، ترڅو د جامعه ملل د سازمان د غړو هېوادونو ارضي تمامیت او سیاسي استقلال محترم وشمېري او هغه د هر ډول خارجي تجاوز څخه محفوظ او مصؤن کړي.(۲: ۸۱)

د 1939 سپتمبر په لومړۍ نېټه د المان تجاوز په لهستان (اتریش) باندې چې د دویم نړیوال جنګ د شروع ورځ ګڼل کېږي د جامعه ملل د سازمان د سکوت سره مخ شوه، ولې په همغه کال فنلاند د شوروي اتحاد د تجاوز لاندې قرار ونیوه او د جامعه ملل د سازمان شورای (عمومي اسمبله) د لومړي ځل لپاره له خپل اختیاراتو څخه، چې د جامعه ملل د سازمان د میثاق 16 مه ماده کې راغلي دي، استفاده وکړه، شوروي یې د جامعه ملل د سازمان د عضویت څخه محروم کړ.

په 1943 م کال کې دویم نړیوال جنګ کې د درېیو فاتحو هېوادونو (امریکا، انګلستان او شوروي) له خوا د مسکو په کنفرانس کې نازي المان متجاوز اعلان شو او د نازي حزب اعضأ او افسران د جنګ د جنایاتو، ډله یزو قتلونو او ورانیو مسؤل اعلان شول او څرګنده یې کړه، چې د جنګ جنایتکاران د محاکمې او مجازاتو لپاره د جرم د ارتکاب محل هېوادونو ته باید وغوښتل شي.

د 1945 م کال د یالتا په کنفرانس هم درېیو لویو قدرتونو نظر چې د مسکو په کنفرانس کې وړاندې شوی و، د تائید وړ وګرځېد او د سانفرانسیسکو د 1945 م کال په کنفرانس کې هم تائید او دوباره توصیه (غوښتنه) وشوه، چې د هغه جنګي جنایتکارانو د محاکمې لپاره چې د کوم خاص محل پورې اړه نه لري بین المللي نظامي محکمه تشکیل شي.(۲: ۱۹۰)

فاتحو دولتونو په ټولو دغه مراحلو کې او له هغه وروسته، د دې په خاطر چې د تجاوز لپاره یو مشخص تعریف ارائیه کړي، کوښښ کاوه چې د نازیانو اعمال د بین المللي قراردادونو او بین المللي حقوقو د نقض تر عنوان لاندې راولي او هغوی محکوم کړي. حقوقي مشکل کار نور هم پیچیده کړ، ځکه د تجاوز څخه د یو مشخص تعریف په لاس کې نه لرل او د هغه د مجازاتو ممانعت له امله، دوی نه شو کولی تجاوزکارانه (یرغلیز) جنګ د جنایت په حیث وګڼي.

په 1945 کال کې په لندن کې د دویم نړیوال جنګ د فاتحو لویو څلورو دولتونو امریکا، شوروي، بریتانیا او فرانسې له خوا د نورمبرګ د بین المللي محکمې اساسنامې په (7) فصلونو او (30) مادو کې د تصویب باوجود، د تجاوز لپاره هېڅ ډول تعریف ونه کړل شو او بالاخره د نورمبرګ محکمه تجاوز ته د کوم تعریف د ورکولو پرته خپل کار ته خاتمه ورکړه او د

جاپان د دويم نړيوال جنگ د مجرمينو لپاره د توکيو د محکمې منشور هم چې د متحدينو لرې ختيځ د قواوو د قومندان (ميک ارتر) له خوا په تصويب رسېدلی و، د تجاوز تعريف په هکله هېڅ ډول قدم پورته نه کړ.(۳:۴۳)

د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور د تدوين په وخت کې ډېرو دولتونو دا نظر درلوده، چې منشور بايد تجاوز او متجاوز په هکله د يو مشخص تعريف لرونکی وي. ولې د تجاوز د تعريف مخالفو دولتونو استدلال کاوه، چې هېڅ داسې تجاوزکارنه اقدام نه شو موندلی چې د ځان د دفاع په مواردو کې مشروعيت پيدا نه کړي. حتی مسلحانه تهاجم او تجاوز هم ممکنه ده د هغه تحرکاتو له امله وي، چې د هغې په نتيجه کې ونه شي کېدای نوموړی تجاوز خود په خوده تجاوز وګڼل شي، لکه څرنګه چې المان دويم نړيوال جنگ د مشروع دفاع په نوم شروع کړ او بې طرفه هېوادونو باندې حمله يې، د جنگ د ضرورت ترعنوان لاندې مؤجه ښکاره کړ.

د دويم نړيوال جنگ په دوران کې لومړی مهم اقدام چې صورت ونيوه، هغه د 1941 کال د امريکا او بريتانيا له خوا انتلانتيک د منشور صدور و، چې د هغه په ترڅ کې نوموړو دوه هېوادونو خپل نظر په دې توګه ښکاره کړ چې، د نړۍ هېوادونه بايد د زور له استعمال څخه لاس واخلي، ځکه چې که د سلاح څخه کار اخستل د هېوادونو له خوا ادامه پيدا کړي، د نورو دولتونو سرحدات د تجاوز لاندې قرار نيسي او په دې توګه د صلحې ساتنه به په راتلونکي کې امکان پذير نه وي.

بل اقدام په 1942 ميلادي کال کې په واشنګټن کې د ملګرو ملتونو د اعلاميې صدور و (د امريکا، بريتانيا، چين او شوروی) په شمول 26 دولتونو له خوا چې په هغه کې د اتلانتيک منشور د تائيد لاندې قرار ونيوه. د 1943 کال د مسکو کنفرانس هم د نړيوال صلحې او امنيت او هم د نړۍ هېوادونو د يووالي لپاره د يو نړيوال سازمان ايجاد ضروري وګڼلو. د 1944 کال د مبارتن اکس په کنفرانس کې د يو نړيوال سازمان ايجاد پيشنهاد شو او د يالتا په کنفرانس کې 1945 کال کې موافقه وشوه چې د دې سازمان د منشور د تدوين لپاره په سانفرانسيسکو کې يو کنفرانس منعقد شي(۹: ۱۲۳).

دا کنفرانس چې اپريل له 25 مې څخه د جون د مياشتې تر 26 مې نېټې پورې د 50 هېوادونو په شرکت دايرشو، اصلي هدف يې دا و چې، د نړيوالې صلحې او امنيت د ساتنې لپاره داسې فوځ رامنځته کړل شي، چې د تجاوز د رامنځته کېدلو په صورت کې په سرعت سره د هغه مخنيوی وکړي او يا سرکوب يې کړي. د امنيت شورای ته هم پراخه اختيارات ورکړل شو او د دې شورا دايمي اعضأ د ويټو د حق څخه برخمن شول. د امبارتن اکس د پشنهاداتو پراساس د صلحې په خلاف هرډول د تهديد يا تجاوزکارانه اقدام احراز(تصديق يا تثبيت)او د صلحې او امنيت د ساتلو لپاره د وسايلو تعين د امنيت د شورای په غاړه واچول شول(۷: ۲۰۷-۱۸۹).

د ملګرو ملتونو د سازمان د امنيت د شورای او د جامعه ملل د سازمان د شورای د اختياراتو ترمنځ د الزام اوره او حتی جمعي مجازاتو د تطبيق په هکله د اختياراتو توپير له امله و چې، د صلحې په وړاندې تهديد، د صلحې نقض او تجاوز کارنه اقداماتو د بررسۍ په وخت کې ډېر ژر د تجاوز د تعريف دموضوع مشکل ښکاره شو.

مبارتن اکس په کنفرانس کې د شوروي اتحاد په اصرار په تجاوز باندې د اقدام (Act of aggression) عبارت د ملګرو ملتونو د سازمان په منشور کې شامل کېدو په وخت کې د تجاوز د تعريف په هکله چې کوم بحثونه سرته ورسېدل، په دې کې دوه عمده نظرونو موجود وو:

له يو طرف نه شوروي او ځينې نور دولتونو اصرار درلود، چې تجاوز بايد د جنايت په توګه وپېژندل شي او له بلې خوا غربي دولتونو د هغې د جملې څخه بريتانيا د جنايت په حيث د تجاوز د پېژندلو سره شديداً مخالف و، ځکه نه يې غوښتل چې د فردي جزايي مسؤليت موضوع رامنځته شي. د دې دوه نظرونو په مقابل کې درېيم نظر را ښکاره شو، د درېيم نظر خاوندان معتقد و چې عمومي مجمع بايد خصوصي کميټې يوا ځې د تجاوز تعريف لپاره تعين کړي، نه د تجاوز کارانه اقداماتو د حقوقي اثارو تعين لپاره، ځکه د تجاوز د حقوقي اثارو تعين د بين المللي حقوق جزا په قلمرو کې قرار لري. اما غالب تمايل د او چې، په هر صورت د تجاوز د تعريف په قطعنامه کې د تجاوزکارانه اقداماتو د حقوقي اثارو په مورد کې مقررات بايد موجود وي.

په امبارتن کې د امريکا دولت متعقد و چې، د صلحې د نقض په مفهوم کې هم تجاوز وجود لري او د تجاوز مفهوم په بر کې نيسي، ولې څرنګه چې د شوروي دولت د دې عبارت ځای په ځای کولو باندې اصرار درلود، نو له همدې امله د امريکا او انګلستان دولتونه بالاخره په قطعنامه کې د هغه په ځای کولو باندې موافقه وکړه، ولې د انګلستان دولت په دې شرط موافقه وکړه، چې د عبارت د تعريف څخه دې خوداری وشي؟

د امريکا دولت معتقد و، چې د دې حقيقت په نظر کې نيولو سره چې، د تجاوز تعريف به يو جامع او مانع تعريف نه وي او په دې لاره کې کوښښ يې بې ګټې ګڼلو او پردې متعقد و، چې ممکن ده، دا د متجاوزو دولتونو لپاره يو سند وګرځي.

د سانفرانسيسکو په کنفرانس کې د ډېر دولتونو نماينده ګانو پشنهاد وکړ، چې په منشور کې بايد د تجاوز لپاره يو جامع تعريف وشي. اما هغه دولتونه چې مخالف و، داسې نظر ورکړ لکه څرنګه چې د تجاوز پېژندل د امنيت شورای په غاړه اچول شوي دي، له همدې امله د امنيت شورای به نظر اوضاع، احوال او ضرورت ته نوموړی مطلب روښانه کوي، پرته له دې به د تجاوز هرډول تعريف، د مسلحو قواوو څخه په کار اخيستلو کې د امنيت د شورای د عمل ازادي او د هغه بندويزونو تطبيق ته چې، په منشور کې پيش بيني شوي دي، صدمه ورسوي.

دويم: د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي اسمبله او تجاوز د تعريف قطعنامه

کله چې په 1945م کال کې د ملګرو ملتونو سازمان رامنځته شو، د هيلو تبديلۍ په واقيعتونو باندې پيل شوه. په همدې کال د شوروي اتحاد له خوا د برلين محاصره او په 1950 کال کې د کوريا د جنګ شروع کېدل د تجاوز تعريف او متجاوز د تعين ضرورت ته شدت ورکړ او د ملګرو ملتونو د سازمان په عمومي اسمبله کې د تجاوز د تعريف لپاره پشنهاونه وشول، ولې د تعريف مخالفينو د تجاوز لپاره د يو جامع او مانع تعريف پيدا کول ممکن نه ګڼلو او په دې عقيده و، چې عمومي اسمبله بايد د تجاوز په تعريف اقدام ونه کړي او د متجاوز تعين بايد کاملاً د امنيت د شورای په غاړه وي.

البته د تجاوز د تعريف طرفدارانو ترمنځ هم خصوصاً د تعريف د نوعې په هکله اختلافات موجود و، ترڅو عمومي اسمبلې د ملګروملتونو د سازمان سرمنشي څخه وغوښتل چې د تجاوز د تعريف په هکله ګذارش د عمومي اسمبلۍ اوم اجلاس تسليم کړي او د عمومي اسمبلۍ د غړو څخه هم وغوښتل شول، چې خپل نظريات په ليکلي ډول تهيه او وړاندې کړي. کله چې عمومي اسمبلې په 1952 خپل اومه غونډه دايره کړه، د تجاوز د تعريف په هکله پيچيدګي او د غړو هېوادونو د نظر اختلافاتو، عمومي اسمبله مجبوره کړه چې د موضوع د بررسۍ لپاره د (15) غړو څخه يو ځانګړی کميسيون جوړ کړي. دا د تجاوز د تعريف له څلورو کمېټو څخه لومړنۍ کمېټه وه، چې فعاليت يې د سوړ جنګ د تاثير لاندې راغی او پرته له کومې کاميابۍ يې خپل ځای يوې بلې کميټې ته چې (19) غړي درلودل پرېښود. دويمه خصوصي کميټې هم د سوړ جنګ له تاثيراتو څخه په امان کې پاتې نه شوه. درېيمه کمېټه چې (21) غړي يې درلوده، په 1957 کې تشکيل کړل شوه او خپل کار يې په 1959 کال کې شروع کړ، د تجاوز تعريف دا ځل هم د کميټې د غړو د اختلاف له امله کوم نتيجې ته ونه رسيده. له همدې امله شوروي اتحاد په 1967 کال د عمومي اسمبلې د 22 مې غونډې څخه غوښتنه وکړه، چې نوموړې موضوع ((د تجاوز د تعريف د تنظيم کې د سرعت اړتيا)) تر عنوان لاندې نظر د عربو او اسرائيل د جنګ بين المللي اوسنې وضعې ته، د خپل کار په اجندا کې ونيسي. بالاخره د عمومي اسمبلې 1967 کال د دسامبر په 18 خپل (2330) قطعنامه تصويب کړه او په هغه کې تصميم ونيول شو. چې يوه بله خصوصي کمېټه چې د (35) دولتونو څخه به مرکبه وي، د تجاوز د تعريف د موضوع لپاره جوړه شي. په دې کمېټه کې د غړو هېوادونو د تعداد زياتوالی، د ملګرو ملتونو په سازمان کې د نوو استقلال موندونکو دولتونو داخلېدو له امله و (۱۰: ۱۸۷-۱۲۵).

په 1969 کال درې طرحې د کميټې د کار په اجنډا کې ځای پرځای شوې، يو طرحه د شوروي له طرفه وه.

(13) دولتونو (کلمبيا، قبرس، اکوادور، ګانا، ګويان، هائيتی، ايران، يوګندا، هسپانيا، ماداغاسکار، يوراګويا او يوګوسلاويا) په مشترک ډول يوبله طرحه وړاندې کړه. درېيمه طرحه هم د 6 دولتونو (استراليا، کانادا، ايتاليا، جاپان، امريکا او انګلستان) له خوا وړاندې شوه.

په 1970 کال کې د نوموړو طرحو د بررسۍ په جريان کې، د مختلفو هېوادونو نظريات د تجاوز د مختلفو ډولونو په هکله د بررسۍ لاندې ونيول شول او له دې څخه پرته کمېټې د تحقيق ګروپ (Worrying Groups) چې، خپله دوی انتخاب کړی و، ګذارش هم ترلاسه کړ، چې د وخت د کمبودۍ له امله د هغه په هکله بحث (1971) کال ته پرېښودل شو. د نوموړي ګذارش په اساس د هغه اقداماتو په هکله چې د مستقيم تجاوز جنبه درلوده ((لکه تهاجم، بمبار، د مسلحو قواو، کښتيو او هوايي قواو حمله)) سره د موافقت ترڅنګ د نظر اظهارهم شوی و. همدارنګه د تحقيق د ګروپ غړو اعلان کړی و، چې حاضر دي چې د ((وړاندې والي)) اصل په تعريف کې داخل کړي. له دې څخه پرته د نوموړي ګروپ غړو موافقه وکړه چې، د تجاوزکارانه اعمالو مشخص کول بايد د دې مقدمې لرونکې وي چې ((نوموړې موضوع هغه صلاحيت ته چې د ملګروملتونو د سازمان منشور د امنيت شورای ته ورکړی، په خاص ډول هغه صلاحيت چې ټول تجاوزکارانه اقدمات احراز (تصديق او تثبيت) کړي، هېڅ ډول صدمه نه رسوي)) (۲: ۴۲۳- ۵۰۹).

په ځانګړې کمېټه کې هم د تجاوز مختلف اړخونه، د هغې جملې څخه مستقيم او غير مستقيم او د ((وړاندې والي)) اصل او همدارنګه قصد د دولتونو د نماينده ګانو له خوا د بحث لاندې ونيول شو او په 1971 کال کې د تحقيق ګروپ د تجاوز د تعريف په هکله خپل ګذارش نوموړې کمېټې ته وسپاره او د تجاوز تعريف يې اعلان کړ.

بالاخره د تعريف په برخه کې د سهولت او اسانتيا د راوستلو لپاره يو جامع متن جوړ شو، چې د ذکرو شوو درېيو طرحو ټول موافق او مخالف نظرونه او نور نظريات سره د ټولو جزياتو په کې شامل وو.

په دې کې مشخص شوي وو، چې د يارلسو دولتونو طرحه د شوروي د طرحې سره د ډېرو مشترکو نقاطو لرونکې ده او په مقابل کې د شپږو دولتونو د طرحې ځينې نوي او ځانګړي مسايل درلودل، نوموړی متن د 1970 کال څخه د خصوصي کمېټې د کار بنياد تشکيل کړ، د تجاوز د تعريف په هکله د مختلفو نظرياتو د نږدې کولو څخه وروسته، تجاوز د تعريف قطعنامه تياره او د ملګرو ملتونو د سازمان د عمومي اسمبلۍ له خوا د 1974 کال د دسمبر 14 نېټه د (3314) قطعنامې په شکل تصويب شوه.

ولې دلته بايد يادونه وکړو، چې له پورتني جريان څخه پرته کله چې د جنايي بين المللي محکمې اساسنامه په 1998م کال کې امضاء او 2002 کال د جولای په لومړۍ نېټه نافذ شوه، نو دا څلور نوعه جرايم (د بشريت په ضد جرم، جنګي جرم، قتل عام، د تجاوز جرم) په اساسنامه کې داخل شول، دا درې نوعه يې تعريف شوي وو، ولې د تجاوز جرم تعريف شوی نه و، د روم په کنفرانس کې هم د دغه جرم لپاره کوم تعريف ونه شو، نږدې و، چې د روم په کنفرانس ټولې هلې ځلې د ناکامۍ سره مخامخ شي او د اساسنامې څخه صرف نظر وشي، ځکه د اکثرو هېوادونو نماينده ګانو دا نه منله چې يو جرم دې په اساسنامه کې داخل وي او هغه دې تعريف شوی نه وي او هغه ته جنايي بين المللي محکمه رسيد ګي ونه شي کولی، بالاخره د اساسنامې په (123) ماده کې يوه د حل لاره پيشنهاد شوه او د اسې فيصله وشوه چې د اساسنامې د انفاذ نه وروسته تر (7) کلونو پورې محکمه نشې کولی چې د تجاوز جرم ته رسيده ګي وکړي، ولې وروسته له (7) کلونو څخه به د محکمې عمومي مجمع دايرېږي او د اساسنامې په احکامو باندې به غور او بحث کوي د تجاوز د جرم لپاره به يو تعريف پيدا کوي، که د تجاوز د جرم لپاره تعريف پيدا او تائيد شو او په اساسنامه کې تعديل راوستل شو، نو وروسته به محکمه د تجاوز جرم ته رسيده ګي کوي، بناً جنايي بين المللي محکمې اساسنامه د 2002 کال د جولای د مياشت په لومړۍ نېټه نافذ شوی ده، د دغې نېټې څخه اوه کاله پس 2009 کال وه، په همدغه 2009 کال کې محکمې عمومي مجمع دايره شوه؛ مګر د تجاوز د جرم تعريف اماده نه وه او په دې توګه يو کال وروسته په تاخير واچول شو او د 2010 کال په غونډه کې عمومي مجمع د تجاوز د جرم په اړه غور وکړ، خو متاسفانه دغه غونډه هم کومې نتيجې ته ونه رسېدله او بالاخره فيصله وشوه چې تجاوز تعريف دی 7 کاله نور هم په تاخير واچول شي، يعنې تر 2017 کال پورې چې هلته به د تجاوز د جرم د تعريف په اړه بحث وشي او تجاوز د جرم لپاره د تعريف پيدا کولو هڅه وشي، چې اوس چې 2015 کال دی، نو دغه نېټه تراوسه نه ده رسېدلې او دا هم معلومه نه ده چې د 2017م کال د د جنايي بين المللي محکمې په عمومي مجمع کې هېوادونه د د تجاوز د جرم تعريف په هکله کومې مثبتې نتيجې ته رسېږي او يا څنګه؟ (۳: ۵۲).

دريم: د تجاوز مفهوم

د تجاوز مفهوم ډېر پخوانيو زمانو څخه په سياسي علوموکې وجود درلود او له دې څخه وړاندې چې د هغه حقوقي حدود تعين شي، له مختلفو سياسي نقطه نظرياتو څخه هغه ته کتنه او توجه شوې ولې دلته د يادونې وړده چې د جامعه ملل د سازمان د تشکيل څخه وروسته په بين المللي حقوقو کې د تجاوز د تعريف لپاره کوښښونه شروع شول، ولې حقيقت دا دی چې تراوسه د تجاوز د معنی پرسر داسې توافق نه دی حاصل شوی چې ټولو ته د منلو وړ وي. په 1935 کې د ايټاليې حمله په حبشه، په 1939 کال کې د المان حمله په لهستان (اتريش)، په 1940 کې د المان حمله په هالينډ، ډنمارک او ناروې او په 1941 کال کې د جاپان حمله په امريکا، د تجاوز ښکاره نمونې دي. د تجاوز په ميثاق کې چې په 1933 کې چې د افغانستان، استونيا، ايران، ترکيه، رومانيا، شوروي، لتونيا او لهستان ترمنځ امضاء شوه، لاندې موارد د تجاوز وشمېرل شول.

۱- د بل دولت په مقابل کې د جنګ اعلان.

۲- د جنګ د اعلان څخه پرته، د بل دولت پر قلمرو باندې مسلحانه تجاوز.

۳- د اعلان څخه پرته د بل دولت په قلمرو، بحري او هوايي وسايلو مسلحانه حمله.

۴- د هغه مسلحو ډلو سره کومک چې د بل دولت په قلمرو کې تشکيل شوی وي او په يو دولت حمله وکړي او يا د نوموړي دولت له خوا د دې ډلو سره د ملاتړ نه د ځان ساتلو د غوښتنې باوجود، د داسې ډلو څخه ملاتړ ته دوام ورکول.

اوس د تجاوز د تعريف لپاره د بين المللي کوښښونو تاريخچې ته په توجه، چې بالاخره د ملګرو ملتونو د سازمان د عمومي اسمبلۍ د 1974 کال (3314) نمبر د قطعنامې سبب وګرځېد. د نوموړې قطعنامې اته ګونې مادې کټ مټ رانقلوو.

لومړی ماده:

تجاوز عبارت دی: د مسلحو قواوو څخه په کار اخيستنه د يو هېواد له خوا د بل هېواد پرحاکميت، د خاورې پر تماميت يا سياسي استقلال يا پر هرې بلې لارې چې د ملل متحد د سازمان د منشور سره، په هغه ډول چې په دې تعريف کې راغلي، مخالف وي. تجاوز ګڼل کېږي.

په دې تعريف کې د تجاوز کلمه:

الف- هغه مسايلو ته له توجه پرته چې نوموړی هېواد په رسميت پېژندل شوی او يا نه، د ملګرو ملتونو د سازمان عضويت لري او يا نه په کار وړل شوی.

ب- د ضرورت پر مهال د يو ګروپ دولتونو په مفهوم کې هم شامل ګڼل کېږي. يعنې د دې تعريف په اساس که پورته اعمال د يو ډله يا ګروپ دولتونو له خوا هم صورت ونيسي، تجاوز ګڼل کېږي.

دويمه ماده:

هر کله چې يو هېواد د منشور په خلاف د مسلحو قواوو څخه په استفاده کولو کې پيش قدمه شي، دا عمل په خپله د تجاوز شاهد شمېرل کېږي، په دې حالت کې د امنيت شورا کولای شي، داسې نتيجه واخلي چې، د تجاوز د عمل ارتکاب، نظر مربوطه اوضاع او احوال ته، د هغې له جملې څخه، د اعمالو شدت او يا د هغه څخه لاسته راغلو نتايجو د نه کافي والې له امله، د توجيه وړ نه دی.

درېيمه ماده:

هر يو د لاندينيو اعمالو څخه، د جنګ اعلان ته د توجه پرته او يا د دويمې مادې د مقرراتو مطابق او يا د هغه د په نظر کې نيولو پرته، تجاوزکارنه اقدام شمېرل کېږي.

الف- د يو هېواد له خوا د بل هېواد پر خاوره باندې د مسلحو قواوو په واسطه تهاجم يا حمله يا د نوموړي تهاجم يا حملې په نتيجه کې هر ډول نظامي اشغال، د دې باوجود چې مؤقتي وي او يا له قوې څخه په کار اخيستلو د بل هېواد خاوره او يا يوه برخه د خاورې الحاق.

ب- د يو هېواد د مسلحو قواوو په واسطه د بل هېواد د خاورې بمباري يا د يو هېواد له خوا د بل هېواد د خاورې په مقابل کې د هر ډول سلاح څخه استفاده کول.

ج- د يو هېواد د مسلحو قواوو له خوا د بل هېواد په ځمکني، بحري، هوايي او يا دريايي کشتيو او طيارو باندې حمله.

د- يو هېواد د بندرونو او سواحلو محاصره د بل هېواد د مسلحو قواوو په واسطه.
هـ- د هغه هېواد د مسلحو قواوو څخه، چې د موافقتنامې له مخې د بل هېواد په خاوره کې مستقر شوی، په موافقتنامې کې مندرجو شرايطو په خلاف استفاده يا د دې قواوو موجوديت د هغه وخت د پوره کېدو، باوجود چې په موافقتنامه کې پيشبيني شوی دی.
و- د هغه دولت عمل، چې خپله ځمکه يې د بل هېواد په اختيار کې ورکړی، په دې توګه چې دې هېواد ته اجازه ورکړي، چې د هغه له ځمکې څخه په ثالث هېواد باندې د تجاوز د عمل د ارتکاب لپاره استفاده وکړي.
ز- د مسلحو يا غيري منظمو ډلو، ګروپونو او يا اجيرو عسکرونو لېږل، د يو هېواد په واسطه او ياد هغه هېواد له خوا، په دې منظور چې د بل هېواد په خلاف په هغه شدت په نظامي علمياتو لاس پورې کړی، چې د هغه اقداماتو په برخه کې راشي، چې پورته ذکر شول او يا د هغوی اخته کېدل په ښکاره ډول په دې اعمالو کې.
څلورمه ماده: پورته ذکر شوي اقدامات د تجاوز ټول ډولونه په بر کې نه نيسي او د امنيت شورا کولی شي د منشور د موادو پر بنسټ نور اعمال هم تجاوز وشمېري او په ګوته يې کړي.
پېنځمه ماده:
هر ډول ملاحظه د هغې له کيفيت په پام کې نيولو پرته يعنې که هغه سياسي، اقتصادي، نظامي او يا بله کومه يوه وي، نه شي کولی، چې تجاوز ډوله (تجاوز کارانه) عمل توجيه کړي، تجازو اميزه جنګ د نړيوالې سولې په وړاندې ستر جنايت دی او تجاوز نړيوال مسؤليت منځته راوړي د ځمکې تسخير او يا بل هر ډول امتياز چې د تجاوز اميزه عمل په پايله کې لاس ته راشي قانوني نه دی او قانوني به ونه شمېرل شي.
شپږمه ماده:
په دغه تعريف کې بايد هېڅ ټکی داسې تفسير او تعبير نه شي، چې په منشور کې د مندرج حد، لکه د هغې له جملې څخه هغه مواد چې (امنيت شورای له خوا) له زور څخه ګټه اخيستنه قانوني بولي د کمښت او زيادښت سبب شي.
اوومه ماده:
په دغه تعريف کې هېڅ ټکی او په ځانګړې توګه د هغې درېيمه ماده بايد د خودمختارۍ حق، ازادۍ او د خلکو خپلواکي چې په زوره له هغې نه محروم شوي دي او يا د نړيوالو حقوقو د اصولو په اعلاميه کې د ملګرو ملتونو د اصولو له مخې د دولتونو ترمنځ همکارۍ او دولتي اړيکو باندې ناظر حق او په ځانګړې توګه د خلکو هغه حق ته چې د استعمار او يا نژاد پاله رژيمونو د سلطې لاندې ژوند کوي، صدمه ونه رسوي، په همدې توګه پورته تعريف بايد د ذکر شوو ملتونو اهدافو ته د رسېدلو د مبارزې حق او يا د دې اعلامیې او د ملګرو ملتونو د اصولو پر بنسټ د ملاتړ غوښتنې حق ته هم صدمه ونه رسوي.
اتمه ماده:
د پورته ذکر شوو موادو د مقرارتو اجرا او تفسير له يو بل سره اړيکه او پيوند لري او هر ه ماده بايد د نورو موادو په چوکاټ او محدوده کې تفسير شي.(۱: ۳۷۱)
د تجاوز حقوقي اثار د تجاوز د تعريف پريکړه ليک په دوو مقولو کې راغلي دي
۱) د دولتونو او افرادو د مسؤليت په اړه
۲) د ارضي تصرفاتو د ناقانوني والي په هکله
د دولتونو او افرادو مسؤليت کولی شو د تجاوز د تعريف پرېکړه ليک د (5) مې مادې له دويم بند څخه استنباط کړو دا بند زياتوي (تجاوز کارانه جنګ د نړيوالې سولې پر وړاندې جنايت دی او تجاوز د نړيوال مسؤليت لامل ګرځي).
هغه مهم ټکي چې بايد ترې يادونه وشي د دولت له لورې د تجاوز د ارتکاب په خاطر نه شليدونکي فردي بين المللي اړيکه ده، د نړيوالو حقوقو يوه قاعده چې تجاوز يې منع کړی د يوه دولت پر وړاندې د بل دولت پر رفتار باندې ناظر او څارونکې ده، په همدې اساس يوازې دولت دی چې د نړيوالو حقوقو په نقضولو سره د تجاوز مرتکب کېږي له بله پلوه دولت يو مجرد هويت دی چې ذاتاً نه شي کولی د تجاوز مرتکب شي او د افرادو په فعاله برخه اخيستنه چې د نقشو او پلانونو د جوړولو او د

تجاوز د مرتکب کېدلو د پیل یا پای ته رسېدو ابتکار په لاس کې لرې کولی شي د تجاوز د جنایت مرتکب شي، د متجاوز هېواد مسؤلیت غیري جزایي یا غیري کیفري ماهیت لري؛ خو د لومړۍ ځل لپاره د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامې د تجاوز عمل نړیوال جنایت وباله او د تجاوز کوونکو لپاره یې جزایي مسؤلیت په رسمیت وپېژنده د تجاوز لاندې راغلی هېواد حق لري د تجازو سره د مقابلې لپاره مشروع دفاع او یا له ځانه دفاع وکړي.

څلورم: د تجاوز د تعریف پرېکړه لیک ته یوه لنډه کتنه

د تجاوز د تعریف په پرېکړه لیک که یو نظر واچول شي نو له لاندې ټکو سره به مخ شو.

۱) د تجاوز د تعریف په اوو بندونو کې په دریېمه ماده کې پینځه بندونه د مستقیم تجاوز یو د معاونت او بل هم د غیرمستقیم تجاوز پورې تړاو لري، غیر مستقیم تجاوز هغه تجاوز ته ویل کېږي، چې په هغې کې تېری کوونکي په ځای د دې چې خپله په کې نیغ په نیغه برخه واخلي:

- د نامنظمو فوځونو یا غیرمسلحو ډلو په جوړولو لکه یو شمېر مزدوران د یوه هېواد پر قلمرو باندې د یرغل لپاره منظم کوي او هڅوي یې.
- د یو هېواد د رژیم نسکورولو لپاره وسله وال یا تروریستي فعالیتونه سازماندهي کوي او یا هم له هغې سره مرسته کوي، هغه هڅوي، امکانات ورته برابروي او یا هم هغه زغمي او تحمل کوي یې او یا هم د یو هېواد په کورنیو شخړو کې لاسوهنه کوي پیاوړې دوکتورین او د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې له مخې لومړی ډول فعالیتونه غیرقانوني او مسلحانه دي او تجاوز شمېرل کېږي.

او ښکاره خبره ده چې غیرمستقیم تجاوز د ۱۹۷۴ م کال د تجاوز د تعریف د مصوبې له مخې تېری ډوله کړنې دي، دویم ډول فعالیتونه په حقیقت کې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې د نه مداخلې د اصل تابع دی خو دلته غیرمستقیم تجاوز هم شمېرل شوي دي.

۲) تجاوز د وسله وال ځواک له استعمال پرته امکان نه لري په همدې اساس د وسله وال ځواک استعمال د تجاوز لومړنی او اصلي شرط ګڼل کېږي.

۳) تجاوز او له وسله وال ځواک څخه ګټه اخیستنه به د یو هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا، ملي حاکمیت او سیاسي استقلال پر وړاندې وي، یوازې د وسله وال ځواک کارونه لکه د حکومت ضد ډلو تعقیبول چې په ناچارې سره د بل هېواد حریم ته ور دننه شي تجاوز نه ګڼل کېږي دا ځکه چې د بل هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا، ملي حاکمیت او سیاسي استقلال پر ضد نه ده.

۴) د تجاوز د تعریف قرارداد د لومړۍ مادې په توضیح کې راغلي دي، چې د یو هېواد رسمیت پېژندلو موضوع او یا په ملګرو ملتونو کې د هغې غړیتوب د تجاوز پر تعریف کومه اغېزه نه لري، په دې معنی چې که یو هېواد بل هېواد په رسمیت ونه پېژني او یا دا چې ووایي هغه د ملګرو ملتونو غړی نه دی، په دې استدلال او یا د دې دلیل له مخې نه شي کولی او حق نه لري چې پر هغې تجاوز او تېری وکړي یا په بله ژبه داسې استدلال چې یو هېواد که بل هېواد په رسمیت ونه پېژني نو هغه هېواد به ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي استقلال نه لري او د تجاوز د تعریف په چوکاټ کې دا هم راځي.

۵) د پرېکړه لیک په دویمه ماده کې یوازې په داسې کړنو شروع کول او یا مخکې والی چې له وسله وال ځواک څخه د ګټې اخیستنې سره یو ځای وي او د ملګرو ملتونو منشور سره په ټکر کې پر تجاوز یو ښکاره دلیل دی او بل دلیل په کې نه ځائېږي.

۶) یوازې هغه کړنې چې د دریېمې مادې په اوه ګوونو بندونو کې ذکر شوي د څلورمې مادې په صراحت سره ټولې تجاوزکارانه کړنې په ځان کې نه رانغاړي او په همدې سبب کېدای شي د ملګرو ملتونو امنیت شورا نورې کړنې هم چې د دریېمې مادې له موادو څخه بېرون وي تجاوز کارانه وبولي.

۷) د پرېکړه لیک تر ټولو مهمه او د پام وړ ماده پینځمه ماده ده چې تجازو ډوله کړنو ته یې د قانوني رنګ او مشروعیت ورکولو لار یې بنده کړې ده دا ځکه چې د تجازو کارانه کړنو لپاره یې هېڅ ډول سیاسي او اقتصادي توجیه قبوله کړې نه ده.

۸) تجاوز او تجاوز ډوله کړنې د نړيوالې سولې پر وړاندې جنايت ګڼل شوي دا په دې مانا چې د نړيوالې جنايي محکمې د اساسنامه د(15) مې مادې لومړي بند له مخې تجاوز ته رسيدګي د دغه ديوان له واک څخه ګڼل شوي دي، په ټوله کې دغه جرم ته د د رسيدګۍ واک تر هغې پورې چې د تجاوز جرم په يو بل کنفرانس کې تعريف نه شي د ديوان له واکونو څخه دی، لنډه دا چې د ۲۰ دولتونو له تصويب وروسته په اتوماتيک ډول دغه جرم ته رسيدګي د ديوان په واکونو کې ده خو هغې ته د رسيدګۍ فعلي والی به د تجاوز جرم د تعريف پورې تړلی وي، په همدې اساس په اوسنيو وختونو او حتی د ديوان د اساسنامې د اجراء له وخته را په دې خوا نه شي کولی چې د تجاوز جرم په هکله خپل صلاحيت تطبيق کړي.

۹) د پرېکړه ليک ټول مواد يو ګڼلي واحد جوړوي او دا مفهوم د پرېکړه ليک په اتمه ماده کې روښانه شوی دی او هر کله چې د پريکړه ليک يوه ماده تفسيرېږي؛ نو حتمي ده چې د پريکړه ليک د ګڼلي والي په سبب دا کار په ټولو موادو کې ترسره شي(۸: ۴۷۷).

پنځم: له نورو حقوقي مفاهيمو سره د تجاوز پرتله

دا چې د تجاوز تعريف راته تر يوه بريده مشخص شو، نو اوس په نړيوالو حقوقو کې له نورو مفاهيمو سره د دې تجاوز مفهوم په پرتله لاس پورې کوو، چې ددې کار لپاره لومړی اړينه ده چې د تجاوز هغه تعريف ته چې پرېکړه ليک کړی دی وفاداره و اوسو او هغه ومنو.

الف: تصرف او تجاوز

له تصرف څخه موخه د بې څښتنه ځمکې تصرف کول دي او په همدې اساس بايد چې د سوله ييزه جنګي يا نظامي اشغال سره مخلوط نه شي ځکه چې په وروستي مورد کې د واکمنۍ لېږد صورت نه نيسي د يادولو وړ ده چې يوازې هېوادونه کولی شي بې څښتنه ځمکې په خپل تصرف کې راوړي، د کشفونکي هېواد له لوري ترک شوې ځمکې د تصرف وړ دي لکه څرنګه چې د هند، انګلستان او المان هېوادونو په ترتيب سره د پالما، فالکانه او کارولين جزيرې د کشفونکي(اسپانيا) له پرېښودولو وروسته په خپل تصرف کې راوستې.

ب: نيونه يا استيلا

د جګړې له پای ته رسېدو وروسته د فاتح هېواد له لوري د خپلې خاورې سره د مل کولو په شکل تحقق پيدا کوي، په داسې توګه چې يو هېواد په جګړه کې د نظامي عملياتو په ترڅ کې خپل سيال په بشپړه توګه له پښو غورځوي، په دې ډول چې نور په ټوله ځمکه کې کوم سياسي سازمان او بنسټ شتون نه لري نو ځکه ګټونکی هېواد د تسخير له لارې دغه ځمکه په لاس راوړي.

په همدې اساس، ددې لپاره چې اکتساب تحقق ومومي نو اړينه ده چې مغلوبه هېواد له منځه تللی وي، په همدې دليل په تسخير او استيلا کې له جګړې دمخه د ځمکې مل کول باطل دي او کوم حقوقي اثر نه لري له دې حقيقت څخه بايد سترګې پټې نه کړو چې نيونه او استيلا کوم چې له نظامي عملياتو سره يو ځای صورت نيسي امکان لري چې د يو تجاوز کارانه جنګ په پايله کې وي، همدا سبب دی چې نيونه او استيلا د تجاوز پای ګڼل کېږي دا په داسې حال کې ده چې په تجاوز کې الزاماً تسخير صورت نه وي نيولی.

ج: اشغال

اشغال هم يو مفهوم دی چې ځينې وخت د تجاوز په ځای کارول کېږي، هيره دې نه وي چې دا مفهوم او اصطلاح په حقوقي ادبياتو کې يو ځانګړی ځای لري چې د جنګ پر مهال امکان لري اشغال لاندې حقوقي پايلې ولري.

۱) د جنګ پر مهال اشغال د واکمنۍ د لېږد باعث نه ګرځي.

۲)د جنګ پر مهال اشغال د اشغالوونکي او اشغال شوي هېواد ترمنځ په اړيکو کې د ځينو صلاحيتونو د ځای ناستې کېدو سبب ګرځي يعنې اشغالوونکی هېواد د لنډمهاله او محدوده صلاحيت لرونکی ګرځي، لنډه دا چې د بالفعل وضعې له منځته راتګ سره سره او په ځانګړې توګه د قانوني واکمن د اشغال په اثر يعنې د اشغال شوي هېواد چارواکي د خپلو قانوني، اداري او قضايي صلاحيتونو د کارولو حق وساتي د ملي ځمکې بالفعله اشغال د اشغال شوي هېواد د قوانينو د

پلي کېدو مانع په ځانګړې توګه په جزايي برخه کې نه ګرځي دويم دا چې د عمومي سازمانونو د کړنو او تشکيلاتو پورې اړوند واکونه د اشغال په سبب په موقتي او محدوده توګه د يو د بل ځای ناستي ګرځي ددې کار سبب هم هغه اړتيا ده، چې اشغالوونکی هېواد د خپل امنيت ساتلو لپاره احساسوي يعنې د واکونو وېش د قانوني واکمن د واکونو له تمديدولو او په مقابله توګه د اشغالګر د اختياراتو د قدرت له پراخوالي څخه عبارت دی.

د: عادلانه جنګ

د عادلانه جنګ تيوري مسحيت ته د روم امپراتورۍ د رپوټ په پايله کې او ورپسې د مسحيانو له لورې د سولې غوښتنې د روحيې له منځه تلو سره مطرح شوه، کولی شو له زور څخه ګټه پورته کړو په دې شرط چې پر الهي اراده ولاړه وي، د عادلانه جنګ مفهوم د يونان او روم ځينې عناصر په بر کې نيول، سنت اګوستين (۳۵۴-۴۳۰) عادلانه جنګ د هغه صدماتو په توګه چې يو شخص ته اوښتي دی او مقصر لوری د هغې له جبران څخه ډډه وکړي، تعريف کړی دی، نو د ظالم د مجازات کولو او د موجود سوله ييزه وضيعت د اعادې کولو لپاره بايد چې جنګ ته اقدام وشي خو له دغه حد څخه بايد پورته ولاړ نه شو، تجاوز ناعادلانه دی او لازمه ده چې تاوتريخوالي ته لاس اچول د شديد ځار لاندې ونيول شي د عادلانه جنګ تيوري د مسحيت د قدرت په زياتېدو سره منځته راغله او د مسيحيانو ترمنځ د مذهبي جنګونو په پيل کېدو سره ورکه شوه.

د عادلانه جنګ ليدلوري ته په پام سره کېدای شي په ځينو شرايطو کې تجاوز عادلانه او موجه مفهوم پيدا کړي او په هغې د عادلانه جنګ نوم کېښول شي دا په داسې حال کې ده چې د تجاوز د تعريف په پريکړه ليک کې منل شوې نه ده، نو نه شو کولی چې پر بل هېواد تجاوز وکړو او هغې ته عادلانه ووايو، د عادلانه جنګ له تعبير څخه دا نسبت د بېليدو وړ نه دی دا ځکه چې د هغه هېواد لپاره چې د تجاوز لاندې راغلی جنګ هېڅ عادلانه نه ښکاري او ظلم يې بولي.

هـ: يرغل او اشغال

تر هر څه وړاندې خو دا دوه مفاهيم له يو بل سره د زمانې له پلوه توپير لري، يرغل د حريف په خاوره کې د دښمن سخته حمله ده چې د اشغال لپاره لاره پرانېزي او اشغال هماغه د دښمن د نظام اقتدار او استقرار دی چې په لږ يا زيات طولاني وخت کې صورت نيسي، مګر د اساس له پلوه موقتي بڼه لري اشغال په ذهن کې يو ځانګړی حقوقي وضيعت مطرح کوي په داسې حال کې چې يرغل يا هجوم يو نظامي پديده ده چې د عادي جنګي مسايلو پورې تړاو لري په ۱۹۴۸م کال د فبروري د مياشتې په ۱۹ د نورمبرګ جزايي محکمې هم د List په رايه او نورو کې د اشغال او يرغل ترمنځ دا تفکيک منلی دی او دا يې په ډاګه کړې ده چې يرغل نظامي عمليات په ځان کې رانغاړي په داسې حال کې چې اشغال د دښمن په وسيله د حريف په خاوره کې د يو اغېزمن ځواک د څرګندولو مستلزم دی چې دا اغېزمن اقتدار واکمن حکومت هم له منځه وړي.

داسې ښکاري چې دا دوه هم لکه څرنګه چې د تجاوز د تعريف په پريکړه ليک کې راغلي دي، تجاوزکارانه اقدام ګڼل کېږي، ځکه چې د بل په هېواد باندې يرغل د زور او وسله وال ځواک نه په ګټه اخيستنه امکان لري خو دا چې اشغال له يرغل وروسته صورت نيسي او پايله يې د اشغال شوي حکومت له پښو غورځول دي نو ځکه دا کار د ماهيت له پلوه تجاوز بلل کېږي، په همدې اساس يرغل د تجاوز يو بڼه ده.

و: بشر دوستانه مداخله (Humanitarian Intervention)

دا هغې مداخلې ته ويل کېږي چې له بشري حقونو څخه د ملاتړ په لاره کې صورت نيسي، په دې برخه کې کلي توافق له هغه ځايه راپيدا کېږي، چې بشردوستانه مداخله هغه مداخلې ته ويل کېږي، چې د بشر له بنسټيزو حقونو څخه د ملاتړ په موخه ترسره کېږي، دا حقونه نن ورځ د هغه چارو په توګه په رسميت پېژندل شوي چې د بل هېڅ دولت په داخلي واکونو کې نشته، د بشردوستانه مداخلې په برخه کې څو ټکي ډېر مهم دي.

۱) د بشر دوستانه مداخلې سنتي مفهوم په ټوله کې د يو يا څو دولتونو په يو اړخيزه مداخله تاکيد کړی دی.

۲) په لومړيو کې بشر دوستانه مداخله له لږکيو او په ځانګړې توګه له مذهبي لږکيو څخه ترسره کېده او اروپايي دولتونو په وار وار له مسيحيانو څخه د ملاتړ لپاره په دې مداخله لاس پورې کړی دی.

۳) له بشر دوستانه مداخلې څخه اصلي موخه د بشر د حقونو د نقض مخنيوی او انساني حقوقو او ازاديو ته پراختيا ورکول دي.

۴) بشردوستانه مداخله ملاتړيز ماهيت لري او د زور او تهديد کارول د هغې له اساسي لومړيتوبونو څخه دي.

پورته مسايلو ته په پام سره د امنيت شورا بايد د بشردوستانه مداخلې په برخه کې لاندې شرايط په نظر کې ونيسي.

۱) د بشري حقوقو د نقض موضوع بايد په داسې بڼه وي، چې بشري وجدان ولړزوي لکه نسل وژنه او نژادي تبعيض.

۲) د مداخلې موخه بايد بشردوستانه وي، په دې مانا چې انسانانو ته بايد د ځانګړو شرايطو لاندې د اړتيا وړ کالي او خدمات برابر شي او تضميني ملاتړ بايد وړاندې شي.

۳) د مداخلې او بشري حقونو د نقض ترمنځ تناسب بايد په پام کې ونيول شي.

۴) دمداخلې وړ دولت خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتيا بايد وساتل شي.

۵) د امکان تر بريده د کوربه دولت رضايت بايد تر لاسه شي.

۶) نظامي مداخله به وروستۍ چاره او حل لاره وي.

۷) بشردوستانه مداخله د دولتونو له حاکميت او خپلواکۍ سره کوم ټکر نه لري، که څه هم د نړيوالو حقوقو په تاريخ کې د مداخلې د ډولونو زيات موارد منع شوي دي، د بېلګې په توګه د ۱۹۲۵م کال د دولتونو په داخلي چارو کې د نه مداخلې اعلاميه ټينګار کوي، چې هېڅ هېواد نه شي کولی په مستقيمه او غيرمستقيمه توګه او يا په بل هر دليل چې وي د بل دولت په کورنيو او بهرنيو چارو کې لاسوهنه وکړي (۱۱: ۱۵۲).

په پايله کې بايد ووايو چې وسله واله مداخله او يا د مداخلې نور ډولونه يا د دولت د شخصيت تهديدولو لپاره هڅه يا سياسي، اقتصادي او فرهنګي لاملونه ټول منع او محکوم دي، دا مسئله د ۱۹۷۰م کال د نړيوالو حقوقو د اصولو په اعلاميه کې د دې مطلب په ذکر سره چې نه يوازې دغه موارد محکوم دي؛ بلکې د بشري حقوقو ناقص هم ګڼل کېږي، ورباندې پوره ټينګار شوی دی. د دولتونو ترمنځ د دوستانه همکاريو او اړيکو د ۱۹۷۰م کال د نړيوالو حقوقو اعلاميه زياتوي چې د دولتونو حقوقي برابري دا ايجابوي چې هر هغه مداخله چې د بل دولت په کورنيو چارو کې صورت ونيسي او د هغه دولت خپلواکۍ او واکمنۍ د سلب باعث ګرځي بايد ترسره نه شي، پر واکمنۍ ولاړه برابري له لاندې لاملونو څخه را جوړه ده.

- دولتونو له حقوقي پلوه سره برابر دي.
- ټول دولتونه د واکمنۍ له ذاتي حقوقو څخه برخمن دي.
- د دولت سياسي استقلال او ځمکنۍ بشپړتيا له تېري څخه خوندي ده.
- هر دولت حق لري چې ځانته سياسي، ټولنيز ، فرهنګي او اقتصادي نظامونه وټاکي او پراختيا ورته ورکړي.
- هر دولت دنده لري چې په بشپړه توګه او پوره ايمانداری سره خپلې نړيوالې ژمنې رعايت کړي او يو ځل بيا په سوله کې شپې سبا کړي.

شپږم: دملګرو ملتونو د منشور څو ټکي

د ملګرو ملتونو په منشور کې هم تجاوز ته اشاره شوې ده او په دې برخه کې يې يو لړ مکلفيتونه دولتونو ته راجع کړي دي، د ملګرو ملتونو منشو ر لومړۍ مادې لومړی بند د هر ډول تجاوزکارانه کړنې د رول او يا نور هغه کارونه چې سولې ته ترې ګواښ متوجې وي خپل هدف ګرځولی.

له دې نه معلومېږي چې ملګري ملتونه له تجاوز سره مخالف او هغه د سولې نقض کوونکي بولي، په همدې ډول د دغه منشور په دريېمه ماده کې راغلي چې ټول غړي دولتونه به خپل اختلافات په سوله ييزه توګه او په داسې بڼه حل کوي چې نړيوالې سولې او عدالت ته په کې صدمه ونه رسېږي، په دې بند کې ټولو غړو ته اشاره شوې ده او په همدې اساس د ملګرو ملتونو ټول غړي موافق دي چې په زور لاس پورې کول د تجاوز بنسټيزه شرط دی او ځانونه به ترې ساتي په دې بند کې له تجاوز څخه امتناع په ضمني ډول منل شوې ده.

د لومړۍ مادې په څلورم بند کې دا هم راغلي دي چې ټول دولتونه به د زور او تهديد او يا د بل هر دولت سياسي استقلال او ځمکنۍ بشپړتيا پر وړاندې د هغې له استعمال څخه او يا بلې هغې لارې څخه چې د ملګروملتونو له موادو سره په ټکر کې وي خوداري کوي، له هغه څه چې په دې بند کې يادونه شوې په حقيقت کې د تجاوز د تعريف پريکړه ليک د لومړۍ مادې يو برخه جوړوي دا ځکه چې د زور له لارې د يو هېواد ځمکنۍ بشپړتيا او سياسي استقلال په خطر کې اچول د تجاوز له شرايطو او مصاديقو څخه دي.

په ۳۹ مه ماده کې د امنيت شورا بايد د سولې پر وړاندې هر ډول تهديد، د سولې نقض او تجاوزکارانه عمل په ګوته، توصيې بايد ورته وکړي او يا بايد تصميم ونيسي چې د منشور ۴۱ او ۴۲ موادو ته پام سره د نړيوالې سولې او امنيت د اعادې لپاره کوم ډول اقدامات تر سره کړي (۱:۸۸).

دلته ليدل کېږي چې په دې ماده کې د تجاوز احراز د امنيت شورا دنده ګڼل شوې ده نه د هغې تشخيص، په همدې اساس دا امکان هم شته چې شورا يې تجازو تشخيص کړي؛ خو هغه احراز نه کړي په دې ځای کې اړينه ده چې د تجاوز د تعريف پريکړه ليک له څلورمې مادې څخه يادونه وکړو دا ماده وايي (ذکر شوي اقدامات ټول تجاوز کارانه اعمال په ځان کې نه رانغاړي او په همدې اساس امکان لري د امنيت شورا د ملګرو ملتونو منشور ته په پام سره نور اعمال هم چې تجاوز کارانه دي تجاوز وشميري) پس همدې دوو مادو ته پام سره د امنيت شورا د تجاوز د تشخيص او احراز لپاره کوم محدوديت نه لري او کولی شي چې د خپلې خوښې معيارونو په اساس يو عمل تجاوز وګڼي او هغه احراز هم کړي د ملګرو ملتونو منشور ۵۱ مه ماده پر مشروع دفاع څارنه کوي او ناظره ده.

(۵۱مه) ماده زياتوي (کوم وخت چې د ملګرو ملتونو پر کوم غړي باندې وسله وال تېری وشي ترڅو چې د امنيت شورا د نړيوالې سولې ساتنې په غرض ضروري اجرات نه وي کړي، ددې اعلاميې هېڅ حکم به د انفرادي يا ټولنيزې خپلواکۍ ساتلو اصلي حق اغېزمن نه کړي، په دې ماده کې هم هېوادونه په مقابل دا واک لري چې تر څو د امنيت شورا خپل اقدامات ترسره کوي، دوی د تجاوز د دفعې لپاره اقدام وکړي که څه هم په دې ماده کې په صراحت سره له تجاوز نه يادونه نه ده شوې.

او د وسله والې حملې په رامنځته کېدو باندې بسنه شوې خو د هغه تعريف له مخې چې د تجاوز د تعريف پرېکړه ليک کړی دی وسله واله حمله په هر نيت او منظور چې وي د تجاوز په معنی ده.

پس په همدې اساس بې له دې نه چې وسله واله حمله تجاوز دی او که نه، د مشروع دفاع حق د منشور ۵۱ مې مادې له مخې په رسميت پېژندل شوی دی.

د منشور ۹۹ يمه ماده دې ټکي ته اشاره کوي چې سرمنشي کولی شي چې يوې داسې موضوع ته د امنيت شورا پام راواړوي کوم چې، د هغو په نظر نړيوالې سولې او ثبات ته ترې ګواښ متوجې وي، يو له دغو مواردو څخه چې امکان لري سر منشي يې تشخيص کړي همدا تجاوز دی چې، په دې صورت کې سرمنشي کولی شي لومړی د امنيت شورا نظر خپل کړي.

ظاهراً خو داسې معلومېږي چې امکان لري د منشور ۳۹ مې مادې احکامو ته په پام سره د امنيت شورا د سرمنشي نظر ونه مني او له هغې نه کوم بل تعبير ولري.

وړانديزونه:

په نننی عصر او په ځانګړې توګه له دويمې نړيوالې جګړې وروسته په فني، علمي او صنعتي ډګرکې شوي پرمختګونه په تدريج سره د نړيوالې ټولنې او انسانانو د ارزښتونو او اميدونو د بدلون سبب شوي، د ټولنيزو رسنيو غړيزه او انځوريزه پراختيا او د راکړې ورکړې چټک پرمختګ د هېوادونو او ولسونو ترمنځ اړيکې اسانې کړي او زيات پرمختګ يې کړی دی. همدا لامل دی چې نن دا خبره کېږي چې نړۍ د يو کوچني کلي بڼه اختيارکړې ده همدارنګه د بشريت ثابت ارزښتونه له يوې خوا او د پرمختګ په برکت د نړيوالو ګډو ارزښتونو راڅرګندېدل له بلې خوا ددې لامل شوي چې د ټولو هېوادونو او بشري ټولنې د برخليک او سرنوشت سره يو غوټه کړي.

بې له شکه د سولې د ګډو ارزښتونو څخه يو هم په نړيواله ټولنه کې امن، کراري او امنيت دی. د نړۍ د ټولو اوسېدونکو لپاره که هغه له هر توکم او ملت څخه وي، سوله ييز ګډ ژوند، چې د انسانانو د پايښت علمي او صنعتي پرمختګونو د تحقق

لپاره لومړی شرط دی حياتي او بنسټيز اهميت لري؛ خو تاريخي ترخو تجربو لکه د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې نړيوالو وسله والو شخړو او په ځانګړې توګه په وروستيو څولسيزو کې محلي او سميه ييزو وسله والو نښتو چې لمن يې ننني عصرته هم را اوږده شوې ده، سوله په يو ارمان او د بشرپه يوه نه لاسته راتلونکي هدف تبديله کړې ده، تر هر څه د مخه د مشترکو بشري ارزښتونو ساتنه د نړيوالو لازم الاجراء قواعدو وضع کولو او ورپسې د ملتونو او دولتونو په وسيله د هغې د رعايت زمينه برابرولو غوښتنه کوي.

په دا ډول نړيوالو شرايطو کې د ملګرو ملتونو سازمان غړو هېوادونو ته په کار دی چې د جزايي ماهوي قواعدو د تدوين (نړيوال جزايي حقوقو) او يا د جزايي شکلي حقوقو د تنظيم (نړيواله جزايي محکمې او پر هغې واکمن جزايي قانون) د تدوين برخه کې له متانت او پوهې څخه کار واخلي او په ځانګړې توګه د دوه قطبي نظام له ټوټه کېدو وروسته (نړيوالې جزايي قانون جوړونې) پروسه د سياسي کولو له امر څخه پرهيز او ډډه وکړي او د نړيوالو حقوقو د کميسيون په داخل او هم د نړيوالې جنايي محکمې په عمومي مجمع او د ملګرو ملتونو د سازمان په عمومي اسمبله او د امنيت په شورا کې د فني او حقوقي تمايلاتو ودې او پرمختګ ته اجازه ورکړي.

لکه څرنګه چې د حقوقو او قانون پرښنټ يو دولت يا حکومت د داخلي عمومي افکارو له نظره د زيات مشروعيت څخه برخمن وي، په همدې ډول په يو قانونمنده نړيواله ټولنه به په نړيوالو افکارو کې له بشپړ حقوقي مشروعيت څخه برخمنه وي او د بشري ارمانونو رشد او پرمختګ ته به زمينه برابره کړي، د نړيوالو حقوقو کميسيون بايد د خپلو غړو له تخصص او تجربې نه پرته د حقوقپوهانو له سياسي تجزبې او حقوقي پوهې، علمي ټولنو، دولتي چارواکو او ديپلوماتانو څخه د خپلو کارونو د لا غني کولو، د قانون ليکنې د پروسې په چټکتيا او د جزايي قوانينو په تدوين کې ګټه واخلي او په دې ډول دې د وخت په وخت (تازه وينه) په خپل شريانونو ته پيچکاري کړي.

لکه څرنګه چې ومولېدل چې له ابتدا څخه د تجاوز موضوع طرحه د جامعه ملل، ملګرو ملتونو سازمان او نور بنسټونو له هڅو سره سره چې د تجاوز د تعريف لپاره يې په ګڼو کنفرانسونو کې کړي دي.

خو له بده مرغه د څو وړانديزونو څخه پرته چې نړيوال ډګر کې د سياسي ډوله ډلپالنو په برخه کې ورسره مخ يو. داسې څه چې زړه يې وغواړي او په ښه نظرورته وګورو په نظرنه راځي، د تجاوز د جرم لپاره کوم جامع او کامل او اتفاقي تعريف وجود نه لري.

نو په همدې اساس دا له امکان نه ډېره لرې ده چې د تجاوز جرم تعريف دې په نړيوالې جنايي محکمې د عمومي مجمع په راتلونکي کنفرانس کې په تصويب ورسېږي او يادې د محکمې واک او د امنيت شرايطو د نقش په برخه کې اجماع او اتفاق حاصل شي، چې ستر لامل يې، چې په اصل کې د تجاوز د جرم تعريف په هکله ستر خنډ بلل کېدای شي، هغه د نړۍ لوی قدرتونه دي، ځينې هېوادونو لپاره يو عمل تجاوز ده، د ځينې نورو هېوادونو لپاره بيا هغه عمل د ازادي لپاره يو قهرمانانه مبارزه ده، همدارنګه ځينې دولتونه چې په ځينو هېوادونو کې مداخله کوي او هغه يو بشردوستانه مرستې ګڼي، په داسې حال چې د هغه مخالف هېوادونه بيا دا عمل تجاوز ګڼي، لکه په اوس وخت کې د اوکراين او سوري موضوع، دا چې د تجاوز د جرم لپاره تعريف نه پيدا کېږي اساسي علت هم دا ده، په دې توګه ترڅو په نړۍ کې د سترو قدرتونه دا رقابتونه، کش مکشونه وجود ولري، په راتلونکي وخت کې هم د تجاوز د جرم د تعريف په هکله اتفاق مشکل برينبي.

د نړيوالې جنايي محکمې او د امنيت شورا په اړه هم د څو ټکو يادونه اړينه ده.

۱: د نړيوالې جنايي محکمه د نړيوالې سولې استحکام، د اعادې او ساتنې لپاره يوه وسيله ده او د امنيت شورای هم د منشور د ۲۴ مې مادې د حکامو ته په پام سره د نړيوالې سولې ساتنې مسؤوليت په غاړه لري په همدې اساس له يو بل سره د دواړو له مرستې او همکارۍ څخه انکار نه شي کېدای.

۲:- امنيت شورای کولی شي چې يوې قضيې ته رسيده ګي په تعليق کې واچوي؛ خو دا تعليق د عدم مسؤوليت په معنی نه دی؛ ځکه چې د نړيوالې سولې د ساتنې مسؤوليت د شورا کار دی او له بله پلوه د نړيوالو ذهننونو او فشارونو توجه مسؤليت هم لري.

۳:- دا تعليق به د اوږدې مودې لپاره نه وي او له دې څخه دا په لاس راځي چې د دغه دواړو اړيکه به د حقوقي بنسټونو خپلواکۍ ته صدمه نه رسوي.

ولې د پورته ذکر شوو تشويشونو باوجود، که څه هم د امنيت شورا دايمي غړو او نورو هېوادونو ليدلوری، د دا ډول بحث وړو موضوعاتو په هکله په نړيواله کچه د دوی دګټو ټکر ته په پام سره بدبينانه ليدلوری دی؛ خو ټولو اړخونو ته په پام سره هيله مند يو چې د نړيوالو حقوقو د تدريجي پراختيا د پروسې سوړ نسيم به د 2017م کال د نړيوالې جنايي محکمې د عمومي مجمع د کنفرانس د پرانېستل کېدو په ورځ راوالوزي او په نه باورونکی ډول به نوموړی موضوعات د پلاوو او استازو د قبول وړ وګرځي او د تصويب پروسه او پړاو به هم طی کړي ترڅو هغه جنايتونو او ظلمونو ته چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې رامنځته کېږي او تجاوز د تعريف د نه موجوديت له امله د جنايي بين المللي محکمې د مجازاتو څخه پاتې کېږي، بې ځوابه پاتې نه شي او ددې ځناور ډوله جناياتو مرتکبين د خپلو اعمالو په سزا ورسېږي او له بله پلوه به د هغه چا لپاره د پند او عبرت سبب هم شي چې د بشريت پر وړاندې د تجاوز خيالات له ځانه سره لري.

ماخذونه:

۱. بيګدلی، محمدرضا.(۱۳۸۲هـ ش)حقوق بين الملل عمومی. تهران: کتبخانه ګنج دانش.

۲. حسينی نژاد، حسينقلی.(.۱۳۸۳هـ ش)حـــقـــوق کيفری بين المللي. تـــهـــران: نـــشرميزان.

۳. حفيظ الله، دانش،(۱۳۹۳هـ ش) د بين المللي جزايي محاکماتو اصول ننګرهار پوهنتون ،د حـــقـــوق او سياسي علومو پوهنځی، دماستری لومړی دوره.

۴.خسروی، علی اکبر.(۱۳۸۹هـ ش) حـــقـــوق بين المللي دفاع مشروع. تهران: نشر بشارت.

۵. صادقی، حسين مير محمد. (۱۳۹۲هـ ش)حـــقـــوق جزايي بين المللي. تهران: نشرميزان.

6- Kai Ambos, the Crime of Aggression after Kampala, German Yearbook of International Law 53 (2010), 2011.

7- Mary Ellen O'Connell & Mirakmal 7-Niyazmatov, What Is Aggression? Comparing the Jus Ad Bellum and the ICC Statute, Journal of International Criminal Justice, Vol. 10 (2012).

8- Kevin Jon Heller, Retreat from Nuremberg: The Leadership Requirement in the Crime of Aggression, European Journal of International Law, Vol. 18.

9- Kevin Jon Heller, the Sadly Neutered Crime of Aggression, Opinion Juris Blog, 13 June 2010.

10- Marco Milanovic, Aggression and Legality: Custom in Kampala, Journal of International Criminal Justice, Vol. 10 (2012).

11- Johan van der Vyver, Prosecuting the Crime of Aggression in the International Criminal Court, University of Miami National Security & Armed Conflict Law Review, Vol. 1. (2010-2011).

پوهنـــدوی محمـــد اســـماعيل(ســـعادت)
کرنـــې پـــوهنځی -هـــارتيکلچر څانګـــه
تقريظ ورکوونکی: پوهاند محمد اصف باوري
دکرنـــــــــی پـــــــــوهنځی اســـــــــتاد

د سبو په وده او حاصل باندې د تودوخې اغېزې

لنډيز:

زمونږ ګران هيواد افغانستان د مختلفو اقليمونو په لرلو سره د بېلو - بېلو ميوو او سبو د روزلو د پاره کرنيز اقليمي شرايط لري. د سبو وده، انکشاف او حاصل د يو لړ محيطي او اقليمي فکتورونو په وسيله اغېزمن کيږي چې دا فکتورونه د تودوخې، اوبو، رڼا، خاورې، باران او رطوبت څخه عبارت دي. د سبو د روزلو د پاره داسې ساحې بايد انتخاب شي کوم چې د هغوی د بريالي کښت او روزنې له پاره مناسب او په زړه پورې اقليمي شرايط ولري، چې په دا ډول شرايطو کې سابه کولی شي چې د خپل ژوند دوران په عادي ډول سرته ورسوي، برخلاف که چيرې نوموړو فکتورونو ته دقيقه پاملرنه ونه شي د سبو د ښې ودې او حاصل هيله بې ګټې ګڼل کيږي او کوم حاصلات چې تر لاسه کيږي کيفيت به يې ټيټ وي. د بېلګې په توګه سبو ته بايد د ودې په مختلفو مرحلو کې (د تيغوهلو، بدني ودې، ميوه نيوني، تخم توليد) کې اړينه تودوخه ورسيږي، همدارنګه سبو ته د ټول وده ايز فصل په اوږدو کې په پوره اندازه د لمر وړانګې ورسيږي. تر څو چې د ضيايي تر کيب له لارې کافي غذايي مواد تر لاسه کړي.

او به هم د نبات په بدن کې مختلفې حياتي دندې سرته رسوي، چې په دې اساس د وده ايز فصل په اوږدو کې د اوبو د کمښت سره مخامخ نه شي چې په پايله کې د حاصلا تو د کموالي سبب ګرځي. په خپل وار سره خاوره هم د نبات له پاره د کور حيثيت لري او د ودې له پاره ضروري بلل کيږي. د سبو له پاره خاوره بايد په کافي اندازه حاصلخيزه وي تر څو د نبات (سبو) د ودې له پاره مناسبه اندازه ضروري عناصر تهيه کړي. د همدې اصل په نظر کې نيولو سره د سبو روزونکی بايد د سبو د محيطي فکتورونو په هکله پوره معلومات ولري چې د همدې لارې وکولی شي چې د سبو د ودې د پاره اړين شرايط انتخاب او برابر کړي.

سريزه:

سابه د انساني تغذيې تر ټولو مهمه او ډېره بډايه سرچينه ده. د انسانانو روغتيا د متوازنو خوړو په خوړلو پورې اړه لري. د انسان بدن د عادي پروسو د سرته رسولو له پاره د غذايي موادو پنځه ګروپونو ته اړتيا لري، چې دغه پنځه ګروپونه د کاربوهايدريت، پروتين، ويټامين، منرالونو او شحم څخه عبارت دي. يوه متوازنه غذا بايد دغه ټول مواد په مناسبه اندازه ولري تر څو د هغو په خوړلو سره يې د انسان بدن خپل فيزيالوژيکي فعاليتونه په نورمال ډول سرته ورسوي. د همدې اصل په اساس د WHO له خوا د يو انسان د پاره د ورځې ۳۰۰ ګرامو سبو د خوړلو سپارښتنه شوې ده. ددې ترڅنګه سابه د عايد د لاسته راوړلو يوه ښه منبع ده. په يوه واحده ټوټه ځمکه کې سابه د غلو دانو په پرتله زيات حاصل ورکوي. د سبو توليد زياتو کارګرانو ته اړتيا لري چې ددې له لارې څخه زياتو خلکو ته د کار کولو زمينه برابريږي.

محيطي اغيزې د سبو په وده، انکشاف او حاصل باندې اساسي رول لري چې په مراعت کولو سره يې د سبو په وده او حاصل کې زياتوالی منځته راځي. هر نبات د محيط ځانګړې اړتياوې لري. د لوړو حاصلاتو د لاسته راوړلو د پاره بايد په داسې محيط کې وروزل شي کوم چې د نوموړي نبات اړتياو ته په بريالي توب سره ځواب وويلی شي. څرنګه چې د سبو روزل ګڼ شمېر اقتصادي او اجتماعي ځانګړنې لري نو د محيطي فکتورونو د ډلې څخه د سبو په وده او حاصل باندې د نورو ټولو فکتورونو په پرتله تودوخه زياتې اغېزې لري.(۲ مخ۱ ، ۷مخ۳).

موخې:

دا موضوع ددې له پاره وټاکل شوه چې مينه وال او د مسلک خاوندان دا پوهه تر لاسه کړي چې د سبو وده، انکشاف او حاصل باندې د تودوخې ارزښت وپيژني. ددې ارزښت په پيژندلو سره کيدلی شي چې د يوې خوا څخه د سبو د لوړ کيفيته محصولاتو د توليد کچه لوړه کړل شي او د بلې خوا څخه دکروندگر د ښه عايد څخه برخمن شي، همدارنگه دليکوال دپاره ديوه فرعي اثر په توگه ورڅخه گټه پورته شي.

تودوخه (Temperature)

تودوخه د نبات په وده او انکشاف اغېزه کوي، چې د Vant Hoff د قانون له مخې د تودوخې د هرو لسو درجو په زياتولو سره د کيمياوي تعاملاتو سرعت دوه چنده کيږي (تر يو خاصه حده پورې). دواړه محيطي او د خاورې تودوخه د سبو د حاصلاتو په هر اړخيزه وده او انکشاف باندې اغيزې کوي، چې ددې اغيزو غوره نمونې د تخم تيغوهنه، د سبو بقا او وده، د اقتصادي برخو انکشاف، گل کونه، تخم توليد، گرده اچونه، د ميوې تشکيل، د محصول کيفيت، د تخم زېرمه کول او د ناروغيو او آفاتو منځته راتللو څخه عبارت دي. د خاورې تودوخه په عمده ډول د تخم په تيغوهنه او د نبات په واسطه د اوبو په جذب اغيزې کوي. نباتات په چټکۍ سره د سړو خاورو په نسبت د گرمو خاورو څخه په اسانۍ سره اوبه اخلي. د بل لورې اتموسفيري تودوخه د نباتاتو د ودې او انکشاف نور ډېر اړخونه تر اغېزې لاندې راولي. د خاورې په واسطه د نباتاتو د ريښو په مرسته د اوبو او غذايي موادو جذب او په پاڼو کې د فوتوسنتيسز په مرسته د غذايي موادو په جوړولو او زېرمه کولو کې د تودوخې درجه د کتنې وړ اغېزې لري.

همدارنگه تودوخه د نباتاتو په وده باندې د هڅونې لکه Vernilization او ددې تر څنگ د نبات کيفيت او انکشاف کنترولوي. تودوخه اقليمي زونونه تعينوي او د نباتاتو انتشار، د ودې دوران، د ودې اندازه او حاصل کنترولوي. د نباتاتو حياتي فعاليتونه د اوبو د انجماد په ښکتنۍ درجه (د تودوخې په صفر درجه) او د پورتنۍ درجه (د تودوخې په ۵۰ درجو) کې د پروتينو په تخريب باندې محدوديږي. نباتات يوازې د تودوخې د همدې پولو ترمنځ وده او پرمختگ کولي شي. نباتات د ځپل فيزيالوجيکي او مارفولوجيکي مشترکو اغيزو له امله زياته تودوخه زغملی شي. په لوړه تودوخه کې کوچنۍ پاڼې، د ريښو ژور سيستم، د لږو اوبو د ضايع کيدلو ميخانيکيت او نور د تودوخې څخه د ځان ساتلو له پاره د نباتاتو ځيني توافقات دي. بل لورې ته د ډېرې ټيټې تودوخې څخه عموما د استراحت د لارې لکه په دوه کلنو سبو کې (گازرې، مولۍ، پياز، کرم، چغندر او نور) په وسيله مخنيوی کيدلی شي. نو له همدې امله دا به مشکله وي چې د خاصو فکتورونو د اغېزو له امله چې په هغې کې توافق، انکشافي مرحله، د يخنۍ د شدت مرحله، نباتاتو پاينښت او بقا له پاره تودوخه مشخصه شي. د سبو په ودې او حاصل باندې د تودوخې اغېزې په لاندې ډول دي (۷مخ ۳۸)(۸ مخ ۲۰).

الف: د سبو د تخم په تيغوهنه باندې د تودوخې اغېزې

د زياترو سبو د تخمونو د تيغ وهلو له پاره د خاورې د تودوخې ټيټه اندازه د سانتي گراد د ۱۰-۲تودوخې ترمنځ ده. د ساړه موسم ځيني سابه لکه پياز، گازرې، پالک، چغندر، کرم، گلپي، مټر، مولۍ، شلغم او نور د سانتي گراد په ټيټې تودوخې (۴،۴-۱،۷) کې تيغ وهلی شي. بل لورې ته د گرم موسم سابه لکه د کدو د کورنۍ سابه، لوبيا، مرچ او نور تخمونه د تيغ وهلو له پاره د خاورې د تودوخې اصغري اندازه د سانتي گراد ۱۵ درجو تودوخې ته اړتيا لري. ځيني سابه لکه رومي بانجان او مارچوبې تخمونه د تيغ وهلو له پاره د سانتي گراد اصغري تودوخه ۱۰ ښودل شوې ده. د زياتره سبو د تخمونو د تيغوهنې له پاره مطلوبه اندازه سانتي گراد د ۳۰-۲۰ درجې تودوخه سپارښت شوې ده. د گرمو سبو د تخمونو د تيغوهلو دپاره سانتي گراد اعظمي تودوخه د ۴۰-۳۵ درجې اټکل شوې ده، که څه هم د ساړه موسم د ځينو سبو تخمونه د تودوخې اعظمي اندازه د سانتي گراد ۳۵-۳۲ درجې تودوخه ده، خو بيا هم ددې سبو تخمونه په خاوره کې د سانتي گراد ۳۰ درجو څخه لوړه تودوخه کې په خراب او کمزوري ډول تيغ وهنه تر سره کوي .(۷ مخ ۴۱) (۸ مخ ۲۱) (۹مخ ۵۳)

جدول ۱: د مختلفو سبو د تخمونو د تيغوهلو دپاره د خاورې د تودوخې اړتياوې.

سابه	د سانتي ګراد په حساب د خاورې د تودوخې درجه		
	اصغري تودوخه	مساعده تودوخه	اعظمي تودوخه
رومي بانجان	۱۰،۰	۲۵	۳۰
توربانجان	۱۵،۵	۲۸	۳۵
مرچ	۱۵،۵	۲۹	۳۵
کچالو	۱۰	۲۵	۳۰
کرم	۴،۴	۲۰	۳۷
ګلپي	۴،۴	۲۰	۳۷
مولۍ	۴،۴	۲۸	۳۵
ګازرې	۴،۴	۲۴	۳۵
شلغم	۴،۴	۲۹	۴۰
بادرنګ	۱۵،۵	۳۰	۴۰
هندوانه	۱۵،۵	۳۰	۴۰
کدو	۱۵،۵	۳۰	۳۷
کريله	۱۵،۵	۳۲	۳۷
بامیه	۱۷	۲۹	۴۰
متر	۴،۴	۲۲	۲۹
پالک	۱۰	۳۲	۳۵
کاهو	۱،۲	۲۳	۲۹
پیاز	۱،۲	۲۳	۳۵

Source: Maynard,Donald N. and George J. Hochmuth(1980).knotts Handbook for vegetable Grower , John Wiley and Sons, Inc., New York , Vegetable Crops.

ب: د سبو په ګل کولو د تودوخې اغېزې

تودوخه د محيطي فکتورونو د ډلې څخه يو مهم فکتور دی چې په ګل کولو باندې اغېزې لري. زياتره سابه د ټيټې تودوخې په اساس ګل کولو ته هڅيږي چې په ځانګړې توګه له دوه کلنو او څو کلنو نباتاتو څخه يادونه کيږي چې د بېلګې په توګه پالک د لوړې تودوخې په اساس ګل کول هڅوي. که د رومي بانجانو بوټي ته د ورځې له خوا د سانتي ګراد د ۲۲ درجې تودوخه او د شپې له خوا د سانتي ګراد د ۱۸ درجې تودوخې سره مخامخ شي د شپې د لوړې او ټيټې تودوخې په نسبت زيات ګلان کوي. د ټيټې تودوخې په واسطه د ګلانو هڅول د Vernilization په نوم يادېږي. دوه کلن نباتات معمولا په يوه کال کې کرل کيږي چې د ژمي په موسم کې ګل کولو ته هڅيږي او په راتلونکي کال کې ګل کوي. ګلپي او براکولي د Vernilization کم وخت ته اړتيا لري. د ګازرو ورايټې د Vernilization له مخې تفاوت لري. د ګازرو غټې ريښې په اسانۍ سره د سانتي ګراد په ۱۵ درجې تودوخه کې ګل کولو ته هڅيږي. پياز د سانتي ګراد د ۸-۴ درجې تودوخه کې تر Vernilization لاندې راځي. د چغندرو، کرمو او سيلري Vernilization د ټيټې تودوخې په اساس سرته رسيږي. (۸مخ۲۳-) (۷ مخ ۴۸) (۱ مخ ۸۷).

ج: د سبو په القاح او ميوه نيولو باندې د تودوخې اغېزې

د تودوخې د لوړې او ټيټې درجې له امله د ګردې د ژوند پايښت، تيغ وهنه او ستګما ته يې انتقال کميږي. د ګلانو رژيدل (سقط) او د نارسيدلو ميوو رژيدل معمولا د ضعيفې القاح له امله منځته راځي. په عمومي توګه د رومي بانجانو د ميوې نيولو له پاره د مياشتې منځنۍ وسطي تودوخه د سانتي ګراد ۲۳-۲۱ تودوخه ښودل شوې ده. د رومي بانجانو د ميوې نيولو له پاره بحراني فکتور د شپې تودوخې څخه عبارت ده چې د مناسبې تودوخې اندازه يې د سانتي ګراد ۲۰-۱۵ درجې ده. که چيرې د رومي بانجانو په کرونده کې د ورځې له خوا د سانتي ګراد د ۲۱ درجو څخه تودوخه لوړه شي د رومي بانجانو ميوه نيونه کمزورې کيږي. د لوړې تودوخې په اساس د رومي بانجانو د ګردې د کمزورې تيغ وهنې او د ګردې تيوب د کمزورې ودې له امله ګلان رژيږي. د تودوخې د اغېزو له مخې په ځينو سبو کې ورايټې سره تفاوت لري. د تورو بانجانو ګردې ورايټې د اوږدو ورايټيو په پرتله په ټيټه تودوخه کې ښه ميوه نيسي. همدارنګه د مرچکو د ډلې څخه خواږه مرچ د ترخو مرچو په پرتله يخې تودوخې ته اړتيا لري په داسې حال کې چې د کدو د کورنۍ سابه په لوړه تودوخه کې ميوه نيسي. کدوان د يخې تودوخې له مخې ښه ميوه نيونه تر سره کوي.(۸مخ ۲۴).(۲مخ۵۴)

د: د سبو په کيفيت باندې د تودوخې اغېزې

تودوخه نه يواځې د تنفس د لارې د سبو په کيفيت باندې اغېزې لري، بلکه همدارنګه د سبو انساج زيانمنوي يا يې مارفولوژې د لوړې يا ټيټې تودوخې له امله تغيير کوي او د خوړل کيدونکي محصول په کاربوهايدريت او نشايسته کې بدلون راولي. د تود موسمه سبو د ډلې څخه رومي بانجانو، مرچ او کدو په عادي ډول د سانتي ګراد د ۱۰-۷ تودوخې څخه ښکته تودوخې سره ځانګړې حساسيت لري. ددې يخنۍ په پايله کې د محصول په بهرنۍ برخه باندې کندې او د کمزورې رنګ پرمختګ رامنځته کيږي. په ياد شويو يا نورو سبو باندې د لوړې تودوخې له امله فزيکي زيانونه (لمر سوځونه) يا ممکن پګمنتونو جوړيدل تر اغېزې لاندې راشي. د نمونې په توګه، کله چې د رومي بانجانو ميوه د لمر په مستقيم تماس کې راشي د ميوې په سطحه باندې د هوا د عادي تودوخې په نسبت د تودوخې درجه د سانتي ګراد ۱۰ درجې څخه لوړيږي. که چيرې د ميوې په سطحه باندې د تودوخې درجه د اوږد وخت له پاره د سانتي ګراد د ۳۰ درجو څخه لوړه شي، اخته شوې برخه ژړېږنه ګرځي. کله چې د ميوې په مخ باندې د سانتي ګراد د ۴۰ درجو څخه تودوخه لوړه شي، ميوه يې سپينه اوننوتلې برخې (لمر سوځونه) څرګندوي، همدارنګه د پيازو تريخوالی د لوړې تودوخې له امله پيښيږي. په ګازرو، چغندرو او دارنګه نور ګڼ شمېر سابه په ساړه ساتنځای کې (د سانتي ګراد په صفر تودوخه) کې د پاملرنې وړ د قندونو اندازه لوړيږي. همدارنګه کچالو په سوړ بخن ساتنځای کې چې د تودوخې درجه يې د سانتي ګراد په حساب د ۱۰ درجو څخه ټيټه شي خوږوالی پيدا کوي.(۸مخ۲۴) (۲مخ ۵۳)

هـ: د سبو په خوړونکې برخې باندې تودوخې اغېزې

په اکثره نباتاتو کې د خوړل کيدونکې برخې انکشاف د تودوخې په درجې پورې اړه لري. د کچالو له پاره د سانتي ګراد د ۲۴-۲۰ درجې تودوخه د لومړنۍ ودې او تيغوهنې له پاره مناسبه ده. د راتلونکې ودې او ټيوبرونو د جوړيدو له پاره د سانتي ګراد د ۲۰-۱۸ درجې تودوخه مناسبه ګڼل کيږي. د سانتي ګراد د ۳۰ درجو څخه لوړه تودوخه کې ټيوبرونه نه شي جوړيدلی، په داسې حال کې چې په هوږه کې د غټو پليو د جوړښت له پاره ټيټه تودوخه مرسته کولی شي. ګازرې د سانتي ګراد په ۲۱-۱۵ درجې تودوخه کې ښې ريښې توليد وي. همدارنګه د ګلپيو د کارد د تشکيل د پاره د سانتي ګراد ۱۷ درجې تودوخه مناسبه ښودل شوې ده.(۸مخ۲۵) (۷مخ۵۰).

و: د سبو په ضيايي ترکيب او تنفس باندې د تودوخې اغېزې

د ورځې د روښنايي په اوږدو کې د ضيايي ترکيب فعاليت په عادي ډول زياتيږي چې په پايله يې کې کاربوهايدريت زېرمه کيږي. د روښنايي په نه موجوديت کې تنفس دا زېرمه شوی کاربوهايدريت مصرفوي. د شپې له خوا لوړه تودوخه د زېرمې مواد ضايع کوي. د شپې لوړه تودوخه د نيله لرونکو سبو او کچالو په حاصل او د هغه په کيفيت باندې بدې اغېزې لري. همدارنګه تنفس د ميوې په پخيدنې او د سبو د محصول د ټولولو څخه وروسته موده کې ستري اغېزې لري. په ټيټه تودوخه کې د حجراتو وېش او وده ورو وي. په ټيټه تودوخه کې شکري زېرمه کولو ته ميلان لري او نبات په کمه اندازه فايبر توليدوي او ښه خوند لري، د مثال په توګه، د پيازو تريخوالی زياتيږي. ټيټه تودوخه په ځينې نباتاتو کې بدني وده په

توليدي مرحلې باندې بدلوي لکه کرم، سيلري، چغندر او داسې نور. د اکثرو سبو د تخمونو تيغوهنه د ټيټې تودوخې له امله تر اغېزې لاندې راځي. دخاورې ټيټه تودوخه د اوبو جذب او د غذايي موادو اخيستل ورو کوي. د کچالو کيفيت د ټيټې تودوخې له امله خرابيږي او ټيوبرونه يې خواړه ګرځي چې په پايله کې نشايسته په شکره بدليږي. (۸مخ ۲۲). (۴مخ۵۹).

د ټيټې تودوخې دزيان څخه د سبو ساتنه

۱: د ټيټې تودوخې په وړاندې مقاومې ورايټې دې وکرل شي.

۲: د ژمي په اوږدو کې دې باد ماتونکي ونې د پټيو يا کروندې په اطراف کې وکرل شي.

۳: د ژمي په اوږدو کې دې د خاورې رطوبت د کمې او پرلپسې آبياري په صورت کې وساتل شي. مرطوبې خاورې د وچو خاورو په پرتله تودوخه په چټکي سره نه بايلي ، همدارنګه دا امکان شته چې د تودوخې درجه ۲-۱سانتي ګراد تودوخې ته لوړه شي.

۴: د سبو د روزنځای بسترونه دې د ټيټې تودوخې د مخنيوي له پاره په نباتي پاټې شونو سره وپوښل شي.

۵: د تودوخې ددرجې زياتوالی د تودوونکو او بخار ورکوونکو وسايلو په اساس تر سره کيږي لکن دا ډېره قيمته تماميږي او په هيواد کې غېر اقتصادي ګڼل کيږي.

د تودوخې د درجې په زياتوالي سره د نباتاتو وده زياتيږي، شکرې په تنفس او ودې کې په مصرف رسيږي. د پيازو د پخيدنې په وخت کې وچه ګرمه هوا ګټوره بريښي. د ګازرو په کرونده کې د خاورې د لوړې تودوخې په اساس ريښې چاوديږي او ګلان توليدوي. د لوړې تودوخې سره يوځای بادونه د نباتاتو له پاره زيانمن تماميږي. په داسې حالاتو کې د تنفس کچه لوړيږي او پاڼې او څانګې وچيږي. (۸مخ ۲۷).(۳مخ۸۱).

د لوړې تودوخې د زيان څخه د سبو ساتنه

۱: سيوري جوړول (Shading): نباتات د سيوري په جوړولو سره د لوړې تودوخې څخه ساتل کيږي.

۲: ګڼه کرنه(Raising crops with density) : هغه نباتات چې په ګڼه توګه کرل شوي وي کولی شي چې دخپل ګڼوالي له مخې يو پربل سيوري وکړي. په ځانګړې توګه په هغه ميوو باندې چې د لمر سره په مستقيم تماس کې وي. هغه رومي بانجان چې ګڼ کرل شوي وي او د معينې ودې لرونکي وي د هغو رومي بانجانو په پرتله چې وده يې غير معينه وي د لمر سوځونې څخه لږ زيان ويني.

۳: کرنيزي عمليې (Agricultural operations) دا باوري خبر ده چې د نباتاتو کرنه بايد په داسې وخت کې تر سره شي چې لږ يا هيڅ د لمر سوځونې ستونزې موجودې نه وي دا کار هغه وخت ښه ترسره کيږي چې د نباتاتو کرنه ښه تنظيم شوې وي. د ځينو سبو وده او پرمختګ په ټيټه تودوخه(د سانتي ګراد د ۵-۰) درجو کې په مناسب ډول تر سره کيږي. چې دا سابه د سوړ موسمه سبو په نوم يادېږي، په داسې حال کې چې ځينې نور سابه په خوښې سره په تود موسم(د سانتي ګراد د ۳۰-۱۵ تودوخه) کې کرل کيږي چې دا سابه د تود موسمه سبو په نوم يادېږي.

د سوړ موسمه نباتاتو ځانګړنې:

۱: تخمونه د خاورې په ټيټه تودوخه کې تيغوهنه کوي.

۲: بوټې پرلپسې آبياري ته اړتيا لري.

۳: د ريښو سيستم يې سطحي دي.

۴:په عمومي توګه د بوټې اندازه کوچنۍ وي.

۵: توليد شوي محصولات کيدلی شي چې په سړه تودوخه (د سانتي ګراد په ۵۰- تودوخه) کې زېرمه شي.(۸ مخ ۲۸-۲۷).

جدول۲: د تودوخې د مناسبې درجې له مخې د سبو طبقه بندي

سوړ موسمه سابه		تود موسمه سابه	
سخت سابه	نيمه سخت سابه	نازک سابه	ډېر نازک سابه
مارچوبه	چينايي کرم	سايبين	کدو
براکولي	چولايي	خواړه جوار	نرۍ غاړې کدو

غوزه يې کرم	بادیان	رومي بانجان	خواره کچالو
هوره	چغندر	بادرنگ	هندوانه
پیاز	گازرې	توربانجان	توربانجان
متر	گلپي	خربوزه	لیما لوبیا
مولۍ	کاهو	بامیه	خربوزه
شلغم	کچالو	مرچ	مرچ
کرم	سیلري	نیوزیلندی پالک	بامیه
پیاز	گلوبي ارتیچوک	-----	بادرنگ

سرچینه: Nonnecke,1989

پایله:

د تودوخې درجه د نباتاتو په فزیالوژیکي فعالیتونو کې ځانگړې ارزښت لري. د تودوخې درجه د لمریزې انرژي په مرسته د سبو د ودې په مختلفو پړاونو کې د تخم د تیغوهنې څخه پیل د محصولاتو تر ټولولو پورې او حتی د محصول د ټولولو څخه وروسته گڼې اغېزې لري. د خاورې په واسطه د نباتاتو د ریښو په مرسته د اوبو او غذايي موادو جذب او په پاڼو کې د فوتوسنتیسز په مرسته د غذايي موادو په جوړولو او زېرمه کولو کې د تودوخې درجه د کتنې وړ اغېزې لري. سابه د تودوخې د اړتیا له مخې سره توپیر لري ځینې سابه لکه بادرنگ، رومي بانجان، کدو، خربوزه، توربانجان او نور نسبتا د لوړې تودوخې په اساس ښې پایلې ورکوي چې معمولا د سانتي گراد د ۱۵-۱۰ درجې تودوخه څخه پورته تیغوهنه کوي. ددې برعکس ځینې سابه لکه کاهو، کرم، گلپي سیلري، متر او نور نسبتا په ټیټه تودوخه کې ښه حاصل ورکوي. د ټیټې تودوخې په واسطه د حجراتو د وېش فعالیت کمیږي. همدارنگه ځینې سابه د ټیټې تودوخې له امله د بدنې ودې تر څنگ تولیدي پروسه پیل کوي. چې معمولا دا ډول پروسه په دوه کلنو او درې کلنو سبو کې لیدل کیږي. د لوړې تودوخې په صورت کې د نباتاتو وده چټکیږي او شکرې د زېرمه کولو په ځای په تنفس او وده کې په مصرف رسیږي. په پایله کې سپارښتنه کیږي چې د سبو د ښې ودې، انکشاف او حاصل د تر لاسه کولو له پاره د تخم د کرلو څخه پیل تر وروستۍ مرحلې پورې د تودوخې درجې اغېزو ته پوره پاملرنه وشي، تر څو چې دیوې خوا څخه د حاصلاتو د تولید کچه لوړه شي او له بلې خوا څخه کروندگر ښه عاید تر لاسه کړي.

ماخذونه (Reference)

۱. پیوست، غلام علي.(۱۳۸۴)، سبزي کاري. انتشارات دانش پزیر، ایران

۲. دانشور، محمد حسن (۱۳۸۴)، پرورش سبزي.انتشارات دانشگاه شهید چمران، ایران

۳.عمري، محمد گلاب (۱۳۹۰)، د سرو د ضرر څخه د نباتاتو د ژغورنې لارې چارې، منصف حلیمي مطبعه، جلال اباد

۴.مبلي، مصطفی (۱۳۷۷) تولید سبزي، مرکز نشر دانشگاه صنعتي اصفهان، ایران

5. Dhalival.M.S (2012), Handbook of vegetable crops, Kalyani publisher, India.

6. Fagerai.M.S, Choudhary.B.R, and Dhaka.R.S.(2006)، Vegetable crops production Technology ,Kalyani ,publisher,indai.

7. Hazra.P, and Som.M.G (2006)، Vegetable science, kalyani publishers, New Delhi.

8. Singh.S.P (1997), Principles of vegetables production, Agrotech publication, India.

9. Sharma .R.R (2002), Propagation of horticulture crops, Kalyani publishers, India.

پوهنـــــــــــدوی عبـــــــــادالرحمن مومنـــــــــــد
انجنيـــــــــــــــري پـــــــــــــــوهنځی
ســـــــــــيول انجنيـــــــــــــري څانګـــــــــــه
تقريظ ورکوونکی: پوهاند محمد اجمل حبيب صافی
د انجنيـــــــــــري پـــــــــــوهنځي اســـــــــتاد

دا مقاله د انجنيري مناسبوالي دويم نړيوال کنفرانس کې چې په (2010) زيږديزکال د سپټمبر مياشتې د شپږمې نېټې څخه تر نهمې نېټې پورې د پرتګال هېواد د ليزبون په ښار کې جوړ شوی و، د الجزاير د ايکول ملي پوليتخنيک د استادانو د بواليم توليينو(Boualem Tliouine1) او د فرحت فيدګوچ(Ferhat Fedghouche) له خوا ورکړل شوه، ژباړل شوې ده. د نوموړو د ايميل ادرسونه tiliouine_b@yahoo.fr, ferfed2002@yahoo.fr دي.

د نهايي بارونو لاندې د T- ډوله اوسپنيزکانکرېټي ګاډرونو مناسبه محاسبه او ډيزاين

لنډيز :
په دې مقاله کې د نهايي بارونو لاندې T- ډوله اوسپنيزکانکرېټي ګاډرونو مناسبې محاسبې بحث تر مطالعې لاندې نيول شوی دی. د مسئلو تحليلي کړنلاره د محاسبې د اصغري قيمت د معيار او د يو لړ کم شويو محاسبې بدلونونو پر بنسټ سرته رسيدلې ده. له دې څخه څرګنديږي، چې د نورو شيانو تر څنګ، د مسئلو فورمول بندي کېدای شي د غير خطي رياضيکي پروګرام د شکل يوه برخه وي.
تيپيک مثالونه او بېلګې، د موجوده فرانسوي محاسبوي کود (BAEL-99) سره سم د فورمول جوړونې د اجرا وړتيا ښيي. د T- ډوله اوسپنيز کانکرېټي ګاډر ونو محاسبوي حل، چې دموجوده محاسبوي کړنې څخه ريښه اخلي، پايلې يې يو له بل سره پرتله کېږي. مناسبه او وړ حل لارې په څرګنده توګه ښيي، چې کولی شي د کارېدونکو ساختماني موادو په مطلقه قيمتونو اولګښتونوکې د پام وړ مقدار د سپما لامل شي.
بنسټيزې کليمې: غيرخطي مناسبوالی، اوسپنيزکانکرېټ، T- ګاډرونه، مناسبه محاسبه او نهايي بارونه.

1- پېژندنه (Introduction)

T- ډوله اوسپنيز کانکرېټي ګاډرونه په صنعتي او توليدي ساختمانونو، په ځانګړې توګه د ودانيو په فرشونو، استنادي ديوالونو، د پلونو په پوښښونو او په ټوله کې په ټولو اوسپنيزکانکرېټي ساختمانونو پروژوکې چېرته چې د اتکايي ګاډر مقاومه مقطع د پوښښ تختې سر نښتي وي، ډېر کارېږي. د دارنګه T- ډوله ګاډرونو په ډېره پيمانه کارېدنه ممکن د مخکې جوړېدونکو اوسپنيزکانکرېټو توليدي اجزاو لپاره د قالب په څېر، د غيري - خطي پروګرام په تخنيکونو کې د کارېدنې له امله کېدای شی چې د محاسبوي لاسته راوړنې اغېزمن قيمت او لګښت ته بدلون ور کړي. د ګاډرونو مناسبه او وړ محاسبه کېدای شي چې د ساختماني توليدي فابريکو د مناسب او وړ توليد او ځانګړو موخو لپاره وکارېږي. د دې له امله ممکن د ساختمان په دواړو پاسني جوړښت (Superstructure) او لاندينی جوړښت يا تهداب په عناصرو کې د ساختماني موادو په قيمت او لګښت کې د پام وړ سپما لامل شي.
ټول لږ بدونکی قيمت يانې لګښت په بنسټيزه توګه د کانکرېټو د ساختماني موادو، فولادي سيخانو او قالبونو د قيمتونو او لګښتونو تر منځ وېشل کېږي. د اقتصادي وړاندوينې له مخې، اړينه ده چې دبحراني مقطعې د مناسبې او وړ محاسبې

او ډيزاين د سرته رسولو پر مهال، د موجوده او نويو محاسبوي کودونو سره سم د کانکرېټو او فولادي سيخانو د غير خطي نهايي خواصو ته پاملرنه وشي [1].

په دې چوکاټ کې دا مطالعه دنهايي بارونو لاندې داوسپنيز کانکرېټي T- ډوله ګاډرونو د اغېزمن محاسبوي قيمت څخه بحث کوي. د عاملو بارونو لاندې د ګټې اخيستنې شرايطو ته پاملرنه به په کانکرېټو او فولادي سيخانو د درز کېدنې شرايطو د اړيکو په توګه د کوږوالي مومنټ په ظرفيت، د تشنجاتو په محدوديت او همدا راز په کړوپېدنې (deflection) کې محدوديت، د محدوديتونو په شرايطوکې د لا ډېرې اړينې پاملرنې په توګه په پام کې نيول کېږي. دارنګه محدوديتونه به د مناسب کېدونکي مسئلې د محاسبې په موده او د ممکنه محاسبوي حل مستقيمه اغېزه وکړي.

د لګښت اغېزمنه محاسبې تدبير لومړی د ساختماني مناسبېدونکې موډل فورمول بندۍ او بيا د هغې د حل لپاره د مناسبې رياضيکي پروګرام د الګوريتم له کړنلارې څخه ترکيب مومي [2]. د ساختماني مناسبېدونکې موډل فورمول بندي د يولړ تابعو(اړيکو) او محدويتونو د شرايطو څخه ترکيب مومي، چې په لاندې ډول دي:

i) د بدليدونکو پريکړو لپاره د محدوديتونو پلټنه ، ii) په ساختماني خواصو کې محدوديتونه او iii) د بېلابېلو تشنجاتو او نسبتي اوږدېدنې شرايط او د هغې محدوديتونه. د هيلې سره سم نهايي محاسبه بايد د T- ډولې مناسبې عرضاني مقطعې د هندسي ابعادو او د T- ګاډر د خپل وزن په ګډون د نهايي بارېدنې د شرايطو ترمنځ د انډولتيا په ګډون تضمين کړي. د ځينو مخکنيو څېړنو په واسطه دې څرګندونو ته يو څه پاملرنه کول. د مناسبې محاسبې په اړه نورې اړونده څرګندونې د ټاکل شويو وړ او مناسبو ځانګړو کړنلارو کارېدنه ده، چې د ساختماني محاسبې د ښه والي او مناسبوالي لپاره بېلا بېلې د رياضيکي پروګرام الګوريتم يا ټاکل شوی وړ او مناسبې کړنلارې کارېږي [3] . دا مطالعه دمناسبورياضيکي پروګرامونو د تخنيک په واسطه د نهايي بارونو لاندې د T- ډوله اوسپنيزکانکرېټي ګاډرونو د مسئلو دغېر خطي اصغري محاسبوي حل او فورمول بندۍ څرګندونه کوي.

2- د مسئلو فورمولبندي او جوړونه (Problem formulation)

په (1- شکل) کې دښودل شوی T- ډوله ګاډر د عرضاني مقطعې په پام کې نيولو او د کارېدونکواوسپنيز کانکرېټو او فولادي سيخانو د قيمت او لګښت ښودونکي (C_o) د لاندېنۍ افادې په واسطه تعريفيږي:

$$C_o = L\,[C_c\,\{b_o\,.\,d + (b - b_o)\,h_o\} + C_s\,A_s]$$

دلته:

b- د ګاډر د عرضاني مقطعې د فشاري طاقچې اغېزمن يا فعال عرض دی .

b_o- د ګاډر د عرضاني مقطعې د تنې يا وتلې برخې عرض دی.

h- د ګاډر د عرضاني مقطعې بشپړه ارتفاع ده.

d- د ګاډر د عرضاني مقطعې فعاله ارتفاع ده.

h_o- د ګاډر د عرضاني مقطعې د طاقچې ارتفاع ده.

L- د ګاډر اوږدوالی دی. A_s- د فولادي سيخانو مساحت دی.

C_o- مطلقه قيمت يا لګښت دی.

C_s- د فولادي سيخانو واحدي قيمت يا لګښت دی.

C_c- د کانکرېټو واحدي قيمت يا لګښت دی.



1- شکل: د نهايي محاسبوي بارونو لاندې د T- ډوله ګاډر، نسبتي اوږدېدنې، تشنجاتو او داخلي قوو د وېشنې ټيپيکه عرضاني مقطع.

د قيمتونواو ارزښتونو په ترکيب کې د کانکرېټو قالب او سيخانو ته شکل ورکول يا سيخبندي کول په ضمني توګه ګډون لري ، چې په ترتيب سره د کانکرېټو او فولادي سيخانو په واحدي قيمتونو يا ارزښتونو کې د مناسبو او وړ سلنو يا فيصديو له مخې په پام کې نيول کېږي. دا بايد په برابره او مساويانه توګه سره اغېزمن او مهمه وي، چې دمسئلو د ښه والي او مناسبوالي په قيمتونو او ارزښتونو کې، د محاسبوي مناسب قيمت بدلېدنه د مطلقه قيمت په واسطه نه اغېزمنه کېږي، بلکې يوازې د واقعي کارېدنې داړونده قيمت داندازې په واسطه اغېزمنه کېږي. بله داچې د مطلقه قيمت اندازې د واقعي کارېدنې نهايي قيمت اغېزمنه کوي، خو د محاسبوي مناسب قيمت بدلېدنه نه اغېزمنه کوي. په پايله کې د محاسبوي مناسب قيمت اصغري کېدنه کولی شو چې د لاندېنۍ افادې په شکل وليکو:

$$C = b_o \,.\, d + (b - b_o)\, h_o + (C_s/\, C_c)A_s \ldots \Rightarrow Min$$

دمطلقه قيمت (C_o) له مخې کولی شو چې اړونده مناسب قيمت (C) د لاندېنۍ رابطې په کارېدنې سره پيدا کړو:

$$C_o = C\ L\ C_c$$

د (C_s/C_c) نسبت قيمت د يو هېواد د بل هېواد په پرتله توپير کوي او يا هم د يو لړ هېوادونو لپاره د سيمې په کچه سره توپير لري.

په ټوله کې، د بېلابېلو محاسبوي کودونو د محدوديتونو د خواصو له مخې ، د موخې د لاسته راوړنې لپاره د(BAEL-99) فرانسوي محاسبوي کود د مشخصاتو او ځانګړتياوو سره د پرتلنې له مخې تعرفيږي [4].

په پاېله کې د نهايي بارونو لاندې د اوسپنيز کانکرېټي T- ډوله ګاډرونو محاسبوي اصغري قيمت رياضيکي افاده په لاندې ډول ليکل کېږي:

$$C = b_o \,.\, d + (b - b_o)\, h_o + (C_s/\, C_c)A_s \ldots \Rightarrow Min \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

پورتنۍ افاده د لاندېنيو شرايطو په پاملرنې سره په پام کې نيول کېږي:

(a) د محدوديتونو خاصيتونو په پام کې نيولو سره:

$$M_u \le f_{bc}\,(b - b_o)\, h_o(d - 0.5h_o) + f_{bc}\, bd^2\, \omega(1 - 0.5\omega) \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (2)$$

$$\omega = (f_s/f_{bc})(A_s/b_o d) - (b - b_o)\, h_o / b_o d \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (3)$$

$$\rho_{min} \le A_s/[b_o h + (b - b_o)\, h_o] \le \rho_{max} \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (4)$$

په فولادي سيخانو او کانکرېټو کې د نسبتي اوږدېدنې د اندول د شرايطو له مخې:

$$f_e/\ \gamma_s\, E_s \le 0.0035(0.8\text{-}\omega) \le (1 - 0.5\omega)/\omega \le 10/1000 \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (5)$$

$$0.259 \le \omega/0.8 \le 0.668 \text{ (Steel class HA FeE400 فولادي سيخانو کلاس)} \ldots\ldots (6)$$

$$0.186 \le \omega(1 - 0.5\omega) \le 0.392 \text{ (Steel class HA FeE400 فولادي سيخانو کلاس)} \ldots (7)$$

(b) د عرضاني تشنجاتو محدوديت:

$(V_u/\tau_u) \leq b_o d$ .....(8)

(c) د موجوده کړنلارې د قواعدو په ګډون د محاسبوي محدوديتونو بدلونونه:

$h \geq L/16$ .....(9)
$d/h = 0.90$ .....(10)
$0.20 \leq b_o/d \leq 0.40$ ..... (11)
$(b - bo)/2 \leq L/10$ ..... (12)
$(b/h_o) \leq 8$ ..... (13)
$h_o \geq h_{min}$ ..... (14)

دلته:

C- اړونده قيمت او لګښت دی.
M_u- د نهايي کږېدنې مومنټ ظرفيت دی.
V_u- د نهايي عرضاني قوي ظرفيت دی.
ω - د کانکرېټو د فشاري ساحې اړونده ارتفاع ده.
ρ - د فولادي سيخانو فيصدي ده.
f_{bc} - د کانکرېټو مجازي فشاري تشنجات دي.
f_s - د فولادي سيخانو مجازي فشاري تشنجات دي.
τ_u - عرضاني مجازي تشنجات دي.
ρ_{min}- د فولادي سيخانو اصغري فيصدي ده.
ρ_{max}- د فولادي سيخانو اعظمي فيصدي ده.
γ_s- د فولادي سيخانو قسمي ډاډمنتيا ضريب دی.
E_s- د فولادي سيخانو د ارتجاعيت مودول دی.

له موخې پورې تړلې (1) معادله او له (2- معادلې) څخه تر (14- معادلې) پورې د واقعي کارېدنې معادلې، ټولې د مناسبې او وړ مسئلې غېر خطي شکل ښودونکي دي. د دې غير خطي مناسبې مسئلې لپاره دليلونه په بنسټيزه توګه د ګاډر لپاره د عرضاني مقطعې د مساحت، د کږېدنې يا انحنايي مومنټ د ظرفيت او د نورو محدوديتونو معادلو او همدارنګه په تکراري ډول د عنصر د خپل وزن بشپړېدنې ته اړتيا په دواړو د محدوديتونو کارېدنې او د واقعي کارېدنې د څرګندېدنو لاملونه دي. دواړه د واقعي کارېدنې او د محدوديتونو کارېدنې د پرېکړو د بدلونو په موده کې غېرخطي په پام کې نيول کېږي.

د T- ډوله عرضاني مقطعې د هندسي ابعادو او اندازو، د فولادي سيخانو د مساحت (A_s) او د کانکرېټو د ساحې د اړونده ارتفاع (ω) نسبت (د فولادي سيخانو د دننني محوري قوي او د کانکرېټو د دننني فشاري قوي سره مساوي کېږي) د موډل په اړه پرېکړې يو شانته نه وي. نو دمسئلو د غېر خطي مناسبوالي د حل د تنظيم لپاره د لاندېنيو دليلونو له مخې دګراډينت د عمومي کمېدنې (Generalized Reduced Gradient) يا (GRG) طريقه کارېږي:

1. د دګراډينت د عمومي کمېدنې (GRG) طريقه دمسئلو د غېرخطي مناسبوالي لپاره په پراخه کچه د مسئلو د غېرخطي مناسب حل له پار د اغېزمنې طريقې او کړنلارې لپاره منل شوېده.
2. دا پروګرام کولی شي چې تر (200) محدوديتونه پورې د لاس لاندې ونيسي، هغه چې د T- ډوله اوسپنيز کانکرېټي ګاډر د محاسبې د مناسبې مسئلو لپاره وړ او مناسب وي.
3. که چېرې اړينه وي، نو دا پروګرام په خپله کولی شي چې فشاري قوي مبداء او ماټريکس د يو لړ بېلابېلو تخنيکونو په کارولو سره اټکل کړي.
4. دګراډينت د عمومي کمېدنې (Generalized Reduced Gradient) يا (GRG) طريقه د هغه پروګرام په واسطه کارېږي، چې د (Quasi – Newton) کواسی - نيوټن او د جوړه يي ګراډينټ (Conjugate Gradient) يا (CG) طريقو تر منځ د ټاکنې سيستم لپاره منل شوي پروګرام کې کارېږي، چې د کمپيوټر د سانتې د ظرفيت پورې اړه لري.

په نهايت کې دا هم بايد په ياد ولرو چې د خطرناکه درزونو د شتون په حالت کې، مناسب محدوديتونه بايد د ګټې اخستنې يا خدمتي محاسبوي بارونو په مطابق، کوم چې د کود د ټاکلي معيار او غوښتنې له مخې توصيه او تجويز شوي وي، بيا فورمولبندي شي.

3- عددي پايلې او مناقشه (Numerical Result and Discussion)

د شته فورمولبندۍ په کارېدنې سره د مناسبې محاسبوي لاسته راوړنې د اجرا کولو او پلې کولو وړتيا ولري، نو د محاسبې د کړنلارې اصغري قيمت او ارزښت همدا اوس د T- عرضاني مقطعې لرونکي اوسپنيزکانکرېټي ګاډرلپاره ، چې د (BAEL) محاسبوي کود پر بنسټ يې په تفصيل سره د محاسبوي حل په اړه په [4] ماخذ کې يادونه شوې ده.

د T- ډوله اوسپنيزکانکرېټي ګاډر چې د کرن له پاسه دوه رابطه يې اتکاء ولري، چې ډېر بحراني حالت کې د ژوندې بارېدنې لاندې اعظمي کېږدنې يا انحنا يې مومنټ ښايي، لکه په (2- شکل) کې چې ښودل شوی دی.



2- شکل: د مطالعې لاندې T- ګاډر له پاسه د کرن بحراني حالت.

لکه مخکې چې ترې يادونه وشوه ، چې محاسبوي محدوديتونه د فرانسوي محاسبوي کود (BAEL-99) يانې (Bėton Armė aux Etats Limites, version 99) د (1999) زکال د اوسپنيزکانکرېټو محاسبوي کود د محاسبوي مشخصاتو او ځانګړتياوو په مطابق تعريف شوي دي، چې د (EC 2) شرايطو سره ډېر لږ توپير ښايي.

په دې اړه د سيستم ځېنې پارامترونه غوره کېږي، چې په لاندې ډول پيدا کېږي:

د ګاډر وايه (L = 20 m) ، د ګاډر د خپل لومړني وزن په ګډون مړ بار (G = 19.5 KN/m) او مؤقت يا ژوندی بار (Q = 450 KN) په پام کې نيسو.

د ګاډر لپاره د کېږدنې يا انحنايي مومنټ او نهايي عرضاني قوي ظرفيت د ترکيبېدنې د قاعدې له مخې مساوي کېږي په:

$$M_U = 1.35\ M_G + 1.5\ M_Q$$
$$M_U = 4.991\ MNm$$
$$V_U = 1.35\ V_G + 1.5\ V_Q$$
$$V_U = 1.39\ MN$$

د کانکرېټو مشخصات او ځانګړتياوې:

- د کانکرېټو (28) ورځني فشاري مقاومت ($f_{c28} = 20$ MPa).
- د کانکرېټو لپاره قسمي ډاډمنتيا ضريب ($\gamma_s = 1.15$).
- د کانکرېټو مجازي فشاري تشنجات [$f_{bc} = (0.85\ f_{c28}) / \gamma_b = 11.3$ MPa].
- د کانکرېټو مجازي عرضاني تشنجات $\tau_u = Min\{0.20\ f_{c28})/\ \gamma_b, 5MPa\} = 2.60$ MPa].

د فولادي سيخانو مشخصات او ځانګړتياوې:

- د فولادي سيخانو د ارتجاعيت حد ($f_e = 400$ MPa).
- د فولادي سيخانو لپاره قسمي ډاډامنتيا ضريب ($\gamma_s = 1.15$).
- د فولادي سيخانو مجازي کششي تشنجات ($f_s = f_e / \gamma_s = 348$ MPa).
- د فولادي سيخانو د ارتجاعيت مودول ($E_s = 2 \times 10^5$ MPa).
- فولادي سيخانو اصغري سيخبندۍ ضريب ($\rho_{min} = 0.1\%$).
- فولادي سيخانو اعظمي سيخبندۍ ضريب ($\rho_{max} = 4\%$).

د ساختماني موادو لپاره د واحدي قيمت ځانګړتياوې

د فولادي سيخانو او کانکرېټو د يو واحد قيمت او لګښت د ساختماني موادو لپاره د يو واحد قيمت برابرو شويو کتابونو څخه يانې د [6] ، [7] او [8] ماخذونو څخه اخيستل کېږي، چې په دې مقاله کې د فولادي سيخانو او کانکرېټو د يو واحد قيمتونو نسبت لپاره ($C_s/C_c = 36$) په پام کې نيول شوی دی.

په لاندې ډول محاسبوي اصغري قيمت ليکو او د هغې له مخې د مسئلې فورمول بندي سرته رسول کېږي:

د (b, bo, h, d, ho, As) او (ω) قيمتونه په لاندې ډول پيدا کېږي:

$$C = b_o \cdot d + (b - b_o)\, h_o + (C_s/C_c)A_s \ldots \Rightarrow \text{Min} \ldots\ldots\ldots\ldots (1')$$

پورتنۍ افاده د لاندېنيو شرايطو په پاملرنې سره په پام کې نيولو کېږي:

(a) د محدوديتونو خاصيتونو په پام کې نيولو سره:

$$0.442 \le (b - b_o)\, h_o(d - 0.5h_o) + bd^2\, \omega(1 - 0.5\omega) \ldots\ldots\ldots (2')$$

$$\omega = (30.715A_s/b_o d) - (b - b_o)\, h_o / b_o d \ldots\ldots\ldots (3')$$

$$0.001 \le A_s/[b_o h + (b - b_o)\, h_o] \le 0.04 \ldots\ldots\ldots (4')$$

په فولادي سيخانو او کانکرېټو کې د نسبتي اوږدېدنې د انډول د شرايطو له مخې:

$$1.739/1000 \le 0.0035(0.8-\omega) \le (1 - 0.5\omega)/\omega \le 10/1000 \ldots\ldots\ldots (5')$$

$$0.259 \le \omega/0.8 \le 0.668 \text{ (Steel class HA FeE400 فولادي سيخانو کلاس)} \ldots\ldots\ldots (6')$$

$$0.186 \le \omega\,(1 - 0.5\omega) \le 0.392 \text{ (Steel class HA FeE400 فولادي سيخانو کلاس)} \ldots\ldots\ldots (7')$$

(b) د عرضاني تشنجاتو محدوديت:

$$0.40 \le b_o d \ldots\ldots\ldots (8')$$

(c) د موجوده کړنلارې د قواعدو په ګډون د محاسبوي محدوديتونو بدلونونه:

$$h \ge 1.25 \ldots\ldots\ldots (9')$$

$$d/h = 0.90 \ldots\ldots\ldots (10')$$

$$0.20 \le b_o/d \le 0.40 \ldots\ldots\ldots (11')$$

$$(b - bo) \le 4 \ldots\ldots\ldots (12')$$

$$(b/h_o) \le 8 \ldots\ldots\ldots (13')$$

$$h_o \ge 0.15 \ldots\ldots\ldots (14')$$

په ياد بايد ولرو چې د پورتني غير خطي رياضيکي پروګرامي مسئلې د مناسب حل کړنلاره نه شو کولی چې د محاسبوي مسئلې د اصغري قيمت د نهايي حل په توګه يې په پام کې ونيسو. دا ځکه چې په واقيعيت کې د ګاډر د خپل نوي وزن لپاره د عرضاني مقطعې د هندسي ابعادو بشپړېدنه اړينه ده او د مسئلې مناسبې پاېلې د غېرخطي پروګرام يا کړنلارې درجه بايد نوره هم لوړه شي. په نهايت کې مناسب حل په دوو مرحلو کې حاصلېږي:

لومړۍ مرحله: په لومړۍ مرحله کې د مناسب حل لپاره د لومړنۍ بارېدنې پارامترونو د کارېدنې پورې تړلې ده، چې د حل په پيل کې يې خپل لومړنی وزن په پام کې نيول کېږي.

دويمه مرحله: په دويمه مرحله کې د مناسب حل لپاره اړينه ده، چې په لومړۍ مرحله کې د مناسبې لاس ته راغلې عرضاني مقطعې د هندسي ابعادو له مخې د ګاډر خپل وزن (په دواړو محدوديتونو د کارېدنې او واقعي کارېدنې حالتونو کې) بشپړ شي. د قوو د بدلون او سمون له مخې د ګاډرخپل نوی وزن ، د ګاډر مناسب او وړ نوی هندسي ابعاد پيدا کېږي او دا

کړنلاره تر هغه پورې ادامه پيدا کوي، تر څو چې د دوی تر منځ يو شا ن والی حاصل او تر لاسه شي. په دې مثال کې د مناسب حل اندازه د پنځو دورو د تکرارېدنې څخه وروسته حاصلېږي.

د بېلابېلو کړنلارو پرېکړې د عرضاني مقطعو د هندسي ابعادو په ګډون، چې د وړانديز شوي لاس ته راوړنې د کارېدنې د لاس ته راغلي مناسب محاسبوي حل او کلاسيک محاسبوي حل په لاندېنې (1- جدول) کې ښودل شوي دي.

1- جدول: د خپل وزن د اغېزمنتيا په ګډون اخرنی او نهايي مناسب او وړ حل.

پخوانی حل		عملي مناسب حل	
b (m)	1.20	b (m)	1.20
b_o (m)	0.40	b_o (m)	0.30
h (m)	1.60	d_{opt} (m)	1.67
d (m)	1.46	h_{opt} (m)	1.50
h_o (m)	0.14	$h_{o\ opt}$ (m)	0.15
A_s (m^2)	114.61 x10 $^{-4}$	A_{sopt} (m^2)	108.21 x10 $^{-4}$
Ω	0.308	Ω	0.441
C_{class}	1.108596	C_{opt}	0.97454

د پورتنيو پايلو څخه دا په ډاګه څرګندېږي، چې اړونده فشاري ارتفاع د مناسب حل د ساحې پورې تړلې ده، چې د کلاسيک حل په واسطه د ورکړل شوي اندازې څخه (34%) سلنه ډېره ده، نو له همدې کبله د کانکرېټو لپاره د ډېرې اندازې په کارېدنې تاکيد کېږي. همدارنګه دا هم کېدل کېږي چې د(C_{class}/C_{opt})اړونده قيمتونو نسبت (C_{class} د BAEL کلاسيک محاسبوي حل طريقې په واسطه لاسته راغلی مناسب قيمت V) د (1.4) سره مساوي دی. د پام وړ قيمت کې د کلاسيک محاسبوي حل په پرتله د (14%) په اندازه سپما کېږي.

د T- عرضاني مناسبې مقطعې عملي هندسي ابعاد په (cm) سانتي متر او د سيخانو قطر په (mm) ملي متر سره په لاندېني (3- شکل) کې ښودل شوي دي.



3- شکل: د د واحدي قيمت يا لګښت د نسبت (C_s/C_c = 36) لپاره اخرني مناسب او وړ حل عرضاني مقطع.

د محدوديتونو څېړنې وښودله چې د نهايي کېږدنې يا انحنايي مومنټ ظرفيت (2') سره يوځای د محدوديتونو د خواصو لپاره د ګاډر محاسبوي محدوديتونه پرته له ټولو غېر کېږدنې څخه او د هندسي مهندسي محدوديتونه (10') ، (13') او (14'). سربېره پر دې، د يو لړ مثالونو د کارېدنې څخه په لاس راغلو پايلو وښودله چې مناسب حلونه پرته له کمې کتنې په عرضاني تشنجاتي محدوديتونو بدلېږي، کوم چې کيدی شي چې په پايله کې د مسئلو د فورمول بندۍ څخه وځي. د ضخامت ټول قيمتونه (b_o) او (h_o) په ټيټ محدود قيمتونو کې مشخصېږي. د دا رنګه د حلونو د پايلو د خواصو په اړه د سپړدنې هيڅ هڅه نه ده شوې.

د واحدي قيمتونو د نسبت (C_s/C_c) سره يو ځای د مناسب حل د بدلون د وړتيا دلا ښولو په لارښوونې سره، د بېلابېلو واحدي قيمتونو د نسبت (C_s/C_c= 20, 36, 50, 100, 150) لپاره د مناسب حل پيدا شوي دي. د لاسته راغلي مناسب محاسبوي حل اړونده قيمتونه په (2- جدول) کې ښودل شوي دي.

2- جدول: د واحدي قيمتونو او ارزښتونو د نسبت (C_s/C_c) په پرتلنې مناسب او وړ حل.

C_s/C_c		20	36	50	100	150
مناسب او وړ حل	b_{opt} (m)	1.26	1.18	1.20	1.20	1.20
	$b_{o\ opt}$ (m)	0.28	0.29	0.30	0.33	0.35
	d_{opt} (m)	1.40	1.44	1.48	1.63	1.75
	h_{opt} (m)	1.55	1.60	1.65	1.81	1.94
	$h_{o\ opt}$ (m)	0.16	0.15	0.15	0.15	0.15
	$A_{s\ opt}$ (m^2)	117.78×10^{-4}	115.69×10^{-4}	110.26×10^{-4}	97.97×10^{-4}	91.72×10^{-4}
	ω_{opt}	0.534	0.534	0.465	0.321	0.254
	C_{opt} (m^2)	0.78072	0.96703	1.12546	1.64172	2.11444
	C_{class} (m^2)	0.92522	1.10860	1.26905	1.84210	2.41515
د ګټې فيصدي (%)		19	14	13	12	14

په دې جدول کې ګټه په فيصدۍ يا سلنې تعريف کېږي په:

په فيصدۍ يا سلنې ګټه $(\%) = [(C_{class} - C_{opt})/C_{class}]\ 100\%$

د لا ښې څرګندونې لپاره، په سلنې سره د ګټې بدلون د واحدي قيمتونو د نسبت په پرتله په لاندې ګراف (4- شکل) کې ترسيمېږي.



4- شکل: د گټې د سلنې د بدلون په پرتله د واحدي قيمتونو نسبت (C_s/C_c).

د (۲- جدول) او (4- شکل) څخه څرگندېږي، چې داړونده گټې په ډېرېدنې سره د واحدي قيمتونو نسبت کمېږي تر هغه چې د واحدي قيمتونو نسبت (C_s/C_c = 36) شي، نو داسې ښکاري چې د گټې سلنه يا فيصدي ثابته کېږي او نژدې په منځني ډول د (13%) سلنې سره مساوي کېږي.

4- پايلې (Conclusions)

په دې مطالعه کې د نهايي محاسبوي بارونو لاندې T- ډوله اوسپنيزکانکرېټي گاډرونو د محاسبوي اصغري قيمت په هکله بحث تر سره شوې دی. د اصغري معياري محاسبوي قيمت او د کانکرېټو او فولادي سيخانو د غېږې خطي خواصو په گډون د محدوديتونو د کارېدنې پر بنسټ تحليلي لاسته راوړنه فورمولبندي شوې ده. د محدوديتونو کارېدنه مشتمل ده په:

1- د T- ډوله اوسپنيزکانکرېټي گاډرونو د محاسبوي مناسب قيمت د مسئلې فورمولبندي، کېدای شي د مسئلې په غېر خطي پروگرامېدنې کې وشمېرل شي. په عددي ډول حل، کوم چې په اغېزمنه توگه، چې يوازې د کانکرېټي عرضي مقطعې په ابعادو کې د څو سمونونو يا بدلونونو د ښودلو په اوږدو کې د مستقيمې پلټنې يا دگراډينت د عمومي کمېدنې (Generalized Reduced Gradient) يا (GRG) طريقې د کارېدنې په واسطه حاصلېږي.

2- دمحاسبوي ممکنه حل او د مناسب حل په اوږدو کې کېدای شي چې د اړونده محاسبوي سمونونو يا بدلونونو د شمېر په کمېدنې سره په لاس راوړل شي.

3- لاس ته راوړل شوي پايلې د يو لړ بېلابېلو مثالونو د کارېدنې څخه څرگندېږي، چې د حل مناسبې لارې، بې له کتنې د عرضي تشنجاتو په محدوديتونو بدلېږي. د عرضي تشنجاتو محدوديتونه معمولاً د T- ډوله اوسپنيزکانکرېټي گاډرونو د مناسبې محاسبې لپاره زيانمن نه دي او کېدای شي چې د مسئلو په فورمول بندۍ کې په پام کې ونه نيول شي.

4- د محاسبوي سمونونو او بدلونومناسب قيمتونه او لگښتونه يوازې د واقعي کارېدنې د اړونده قيمت او لگښت لپاره اغېزمن دي، خو د مطلقه قيمت په اندازې کومه اغېزه نه لري.

5- د مناسبو حل لارو څخه په څرګنده توګه ښکارې چې د اصغري محاسبوي قيمت او ارزښت نظريې پر بنسټ مناسبوالې ممکن د ساختماني موادو په مقدار او اندازه کې د T- ډوله اوسپنيزکانکرېټي ګاډرونو د کلاسيک محاسبوي حل په پرتله د مناسبې سپما لارښوونه کوي.

6- د واقعيت او د محدوديتونو په پام کې نيولو سره دا مقاله د طبيعي حالت ښکارندويه ده. دا ځکه چې د غېرخطي رياضيکي پروګرام کېدنې پر بنسټ دا لاس ته راوړنه، کېدای شي، چې په اسانۍ سره نورو مقطعو ته وغځول شي، کوم چې په عامه توګه د ساختماني محاسبو لپاره کارېږي. همدغه راز د ډېرې پرمختللې واقعيت او پاملرنې کولی شي، چې په اسانۍ سره د توافق کولو په واسطه د موجوده يا شته محاسبوي موډل د مناسب قيمت او لګښت لپاره وړ سمون وي.

ماخذونه:

[1] Ferreira, C.C., Barros, M.H.F.M. and Barros, A.F.M. (2003). Optimal design of reinforced concreteT-section in bending, Engineering Structures. pp 25, 951-964.

[2] Adamir, A. and Karihaloo, B. L. (1994). Minimum Cost Design of Reinforced Concrete T-Beams using DCOC. 2nd International Conference on Computational Structures Technology, B.H.V. Topping and M. Papadrakakis (Eds), Civil-Comp Press, Athens, Greece. (ISBN: 0-948749).

[3[Kirsch, U. (1993) . Fundamentals and Applications of Structural Optimization. Springer-Verlag, Heidelberg.

[4] Mougin, J.P. (2006). Béton armé BAEL91 modifié 99 et DTU associés. Eyrolles. Paris.

[5] G. Dreux. 1981. Calcul pratique du béton armé, Eyrolles. Paris.

[6] Spon's architects and builders' price book. (2001). 126th edition. Spon Press, London.

[7] Harris, E. C. (1999) . CESMM3 price database 1999/2000. London: Thomas Telford Ltd.

[8] Bordereau des prix unitaires de la construction. (2009). BPU Nord/Sud, Edition CNAT/CSC. Alger.

پوهنـــــــدوی حمـــــــد الله نظـــــــامي
اقتصـــاد پـــوهنځی - ملـــي اقتصـــاد څانګـــه
تقريظ ورکوونکی: پوهاند محمد بشير دوديال
د اقتصـــــــاد پـــــــوهنځي اســـــــتاد

په کسب او کار کې د مصارفو د کموالي اغېزې

لنډيز:

مصارف د يوې موخې د ترلاسه کولو په خاطر قرباني شوي ارزښتونه دي. د مصارفو کنترول او کمول د موخې ترلاسه کولو او ګټې زياتولو لپاره يوه ګټوره طريقه ده. دې مقاله کې لومړی د مصارفو مفهوم باندې رڼا اچول شوې ده او بيا په ترتيب سره د مصارفو دکنترول مرحلې، د مصارفو د کنترول وسايل او تخنيکونه، د مصارفو کمول، د مصارفو د کمولو مهم وسايل او تخنيکونه روښانه شويدي، تر دې وروسته د مصارفو د کمولو ساحې په نښه شويدي. په پای کې نتيجه ګيري شوي او بيا د ماخذونو لست ورکړ شوی دی.

سريزه:

هيڅ يو شی وړيا نه ترلاسه کيږي، بلکې د يو شي د لاسته راوړلو په خاطر بايد په اختيارکې موجودو شيانو څخه يو څه له لاسه ورکړو. د لاسته راغلو شيانو لپاره قرباني شوي شيان د هغې مصارف ګڼل کيږي. د ګټې د ترلاسه کولو او سيالۍ کې د برخه اخيستنې په موخه هر څوک هڅه کوي په لږ لګښت سره توکې توليد کړي تر څو وکولای شي په ټيټ قيمت يې بازار ته عرضه کړي.

په فعاليتونوکې تل لپاره کوښښ کيږي چې خپلې موخې په کم لګښت سره ترلاسه کړي. د توليد په مختلفو مرحلو کې د معيار مطابق لګښتونو باندې د باوري کيدلو په خاطر، له ټاکل شويو معيارونو څخه د لګښتونو د انحراف اندازې معلومولو ته اړتيا ده، تر څو په اړه يې لازم تدبيرونه ونيول شي. د مصارفو کنترول په همدې موخه تر سره کيږي او مهم هدف يې د غېر ضروري لګښتونو مخه نيول او په لګښتونو کې کموالی راوستل دي. د مصارفو کنترول او کمول د جلا تخنيکونو او وسايلو په مرسته صورت نيسي چې دې مقاله کې پرې شننه شوې ده.

موخې:

- د لګښتونو د کنترول او کمولو د مراحلو او ساحاتو توضيح کول.
- د مصارفو يالګښت په کمښت سره د سپما رامنځته کول.
- د مصارفو د کمولو د مهمو وسايلو او تخنيکونو ښودنه.

ميتود:

دا څېړنه د کتابتون په ميتود اتکا لري. په څېړنه کې د موضوع د روښانتيا په خاطر په ملي او بهرنيو ژبو ليکل شويو معتبرو کتابونو او اثارو څخه ګټه اخيستل شوې ده.

د مصارفو د مفهوم پيژندنه

مصارف (**Cost**) په يومحصول، مرحلې، پيښې، پروژې، جريان او يا هر بل شي باندې متحمل شويو لګښتونو مقدار څخه عبارت دي. دلته د لګښتونو مقدار د ادا شويو او عملي شويو لګښتونو د اندازې سره برابريږي.

مصارف د توليد په خاطر کارول شويو توکو او خدماتو ارزښت دی(۱: ۸)

دمثال په ډول يو زده کوونکی د يو کتاب اخيستلو لپاره ۱۰۰ افغانۍ ادا کوي. د کتاب مصارف ۱۰۰ افغانۍ کيږي. دا په کتاب باندې د عملي لګښت مقدار دی. (يو محصول)

يو څوک د خپل پيدا ښت د ورځې په مناسب د ماښام ډوډۍ لپاره ۱۰۰۰۰ افغانۍ لګوي، نو د ماښام د ډوډۍ مصارف ۱۰۰۰۰ افغانۍ کيږي چې د ماښام ډوډۍ لپاره عملي لګښت دی. (يوه واقعه)

ديو کسب او کار لپاره د پلورل شويو توکو مصارف په سوداګريزو توکو باندې شوي لګښتونه دي. د توليد مصارف د يو محصول د توليد په پروسه کې کارول شويو ټولو لاملونو باندې شوي لګښتونه دي. د توليد شويو محصولاتو په شمېر باندې د توليد د مجموعي مصارفو په وېشلو سره د محصول د يو واحد مصارف تر لاسه کيږي. دا لګښتونه کيدای شي چې ادا شوي اوسي او يا عرضه کوونکو او پور ورکونکو ته د ادا وړ اوسي.

د مصارفو کنترول

د مصارفو د سنجش په مرسته برابر شوي معلومات د يو کسب او کار د فعاليتونو په پر مخ بيولو او کاميابۍ کې د زيات ارزښت لرونکي دي. د مصارفو د سنجولو يوه عمده موخه د مصارفو کنترول کول دي. په لندن کې د مصارفو او مديريت محاسبينو د انستيتوت له خوا د مصارفو کنترول په لاندې ډول تعريف شوی دی:

cost control as the guidance and regulation by executive action of the costs of operating an under taking, particularly where such action is guided by cost accounting(7:1165).

د مصارفو په کنترول کې لومړۍ مرحله د تر لاسه کوونکې موخې ټاکل دي. د مصارفو د کنترول سيستم د موخې تر لاسه کولو لپاره سازمان ته د لارښود رول لوبوي. د دې عمل په موخه د بوديجې او معيارونو څخه کار اخيستل کيږي. د بوديجې او معيارونو د ټاکلو په صورت کې د حقيقي لګښتونو او حاصل پرتله په مختلفو مرحلو کې صورت نيولی شي او د ټاکل شوې موخې په لور د مصارفو ميلان څرګنديږي. د موخې څخه د انحراف په صورت کې د انحراف لاملونو تر روښانه کولو وروسته يې د مخنيوي لپاره ممکن تدبيرونه نيول کيږي. په دې توګه د مصارفو کنترول پروسه کې هغه کړنې او اندزه ګيرۍ شامليږي چې د فعاليتونو څخه د مصارفو د انحراف نه کولو او په يو معلومه کچه کې د مصارفو ساتلو لپاره تر سره کيږي(۴: ۳۲۴).

د مصارفو د کنترول مرحلې

د مصارفو د کنترول سيستم کې لاندې مرحلې ځای لري:

۱. د هدف ټاکل،

۲. د حقيقي يا عملي شوي حالت اندازه کول،

۳. د انحراف معلومولو په موخه د هدف او عملي شوي حالت پرتله کول،

۴. د انحراف د لاملونو معلومول،

۵. د انحراف د مخنيوي په خاطر د لازمو تدبيرونو نيول.

د مصارفو د کنترول وسايل او تخنيکونه

د مصارفو د کنترول لپاره له لاندې ذکر شويو وسايلو او تخنيکونو څخه کار اخيستل کيږي:

۱. د موادو کنترول،

۲. د کار کنترول،

۳. د عمومي مصارفو کنترول،

۴. بوديجوي کنترول،

۵. معياري مصارف،

۶. د پانګه ييزو لګښتونو کنترول.

د مصارفو کمول

څرنګه چې د اقتصاد علم د رامنځته کيدلو لامل د وسايلو کموالی دی، نو په فعاليتونو کې تل لپاره کوښښ کيږي چې خپلې موخې په کم لګښت سره تر لاسه کړي. د مصارفو کنترول په همدې موخه تر سره کيږي او مهم هدف يې د غېر ضروري

لگښتونو مخه نيول او په لگښتونو کې کموالی راوستل دي. که د مصارفو د کموالي په رامنځته کولو سره يو توکې د استعمال لپاره خپله وړتيا هم کمه کړي نو په لگښتونو کې دا ډول کموالی راوستل د منلو وړ نه دی.

لندن کې د مصارفو او مديريت محاسبينو انستيتيوت له خوا د مصارفو کمول په دې توگه تعريف شوي دي:

Cost reduction is to be understood as the achievement of real and permanent reduction in the unit costs of goods manufatured without impairing their suitability for the use intended(7:1167).

د ذکر شوي تعريف له مخې د يو واحد په مصارفو کې بايد داسې کموالی راوستل شي چې محصول د استعمال په حالت کې خپله توانايي له لاسه ورنکړي. د دې لپاره د لاندې نقطو په نظر کې نيول اړين گڼل کيږي:

الف: د دې لپاره چې په مصارفو کې رښتينی کموالی رامنځته شي او د محصول په توانايي منفي اغيزه ونه کړي مولديت ته پاملرنه کول اړين دي.

ب: په مصارفو کې کموالی راوستل بايد ثبات لرونکی اوسي. په نه تمه کيدونکي توگه د حکومت په کړنلارو کې د لنډې مودې لپاره بدلون راتگ سره په مالياتو او ټکسونو کې کموالی راتگ او دې ته ورته عملونه د مصارفو د کمولو ښه طريقه نه ده.

ج: مصارفو کې کموالی راوستل بايد د محصول په خصوصيتونو او د استعمال په توانايي کې د کموالي لامل نه شي.

د مصارفو د کمولو مفهوم په توليد، اداره، خرڅلاو او د وېش په لگښتونو کې د رښتينې سپما په معنی دی. کله چې د محصول په يو واحد باندې مصارف کموالی وکړي بې له دې چې د خرڅلاو په اندازه کې زياتوالی راشي د پلورل شويو توکو په مصارفو کې کموالي سره گټه کې زياتوالی راځي. همدارنگه د خرڅلاو اندازې ثابت پاته کيدلو په صورت کې د خرڅلاو په مصارفو کموالي رامنځته کيدلو سره بيا هم د گټې اندازه کې زياتوالی راځي(۳: ۲۵۴).

د گټې مفهوم د دوه متحولينو عوايدو او لگښتونو لرونکی دی. گټه = عوايد منفي لگښتونه

د گټې سره اړيکه لرونکو متحولينو په نظر کې نيولو سره د گټې د زياتوالي دوه لارې شته دي:

۱. په عوايدو کې زياتوالی راوستل ۲. د لگښتونو د کموالي تامينول(۵: ۱۲).

د مصارفو کنترول او د مصارفو کمول

د مصارفو کنترول او د مصارفو کمول د مديريت دوه موثرې وسيلې دي. د مصارفو کنترول او د مصارفو کمول د ځينو نقطو په نظر کې نيولو سره يو له بل څخه توپير کوي.

۱. د مصارفو کنترول cost control د موخې target په تر لاسه کولو باندې تاکيد کوي او د مصارفو کمول cost reduction د مصارفو کمولو ته لاسرسی په نظر کې نيسي.

۲. د مصارفو کنترول د ټاکل شويو معيارونو مطابق صورت نيسي او په معيارونو کې د بدلون ښودنه نه کوي، خو د مصارفو کمول په معيارونو کې د ممکنه سپما ښودنه کوي.

۳. د مصارفو کنترول د معيارونو مطابق د حاصل غوښتونکی دی، خو د مصارفو کمول د معيارونو مطابق د نتيجو غوښتنه نه لري.

۴. د مصارفو کنترول حفاظتي دنده preventive function ده چې د معيارونو په حدودو کې تر سره کيږي، خو د مصارفو کمول اصلاح کوونکې دنده corrective function ده چې په دوامداره توگه د مصارفو ارزونه کوي.

د مصارفو د کمولو وسايل او تخنيکونه

د مصارفو د کمولو مهم وسايل او تخنيکونه په لاندې ډول دي:

۱. معياري مصارف ټاکل standard costing ،

۲. بوديجوي کنترول budgetary control ،

۳. د موجودۍ کنترول inventory control ،

۴. د توليد پلانول او کنترول production planning and control ،

۵. د کيفيت احصائيوي کنترول statistical quality control ،

۶. معياري کېدل او اسانه کيدل standardisation and simplification ،

۷. عملياتي څېړنه operational research ،
۸. د ارزښت ارزونه value analysis ،
۹. اتومات کيدل automation ،
۱۰. د ډيزاين ښه والی design improvement ،
۱۱. د بازار څېړنه market research ،
۱۲. د دندې قيمت ګذاري کول او د خدماتو ګټورتيا job evaluation and merit-rating.

د مصارفو د کمولو ساحې

د مصارفو کمولو د عمل ساحه زياته پراخه ده. هر چېرته چې مصارف رامنځته کيږي هلته د مصارفو کمول په نظر کې نيول کيدلی شي. ځينې ساحې د مصارفو د کمولو لپاره د هدف په توګه کارول کيږي چې يادونه ترې کوو.

۱. د محصول ډيزاين Product Design: د مصارفو د کمولو يوه عملي ساحه د محصول ډيزاين دی. د محصول ډيزاين د توليد د پيل نقطه ده او د توليد په ټولو ساحو باندې اغيز من دی. موجود ډيزاين ته انکشاف ورکولو او د نوي ډيزاين معرفي کولو سره د مصارفو کموالی څېړل کيږي. د محصول ډيزاين کې د مصارفو کموالی په لاندې طريقو رامنځته کيږي:

الف) د موادو مصارف: په اسانه بدلون، زيات حاصل، په موجودی کې لږه پانګه اچونه، د ذخيرې د لګښتونو کموالی او نور،

ب) د کار مصارف: لوړ مولديت، د عملياتو د وخت کمول او نور،

ج، وسايل او تجهيزات: د وسايلو او تجهيزاتو په مصارفو کې کموالی،

د، معياري کول او اسانتيا را منځته کول د مولديت د زياتوالي او مصارفو د کموالي لامل ګرځي،

۲. د کارخانې سازماندهي او د توليد طريقې Factory organization and production methods: د مسوليتونو معلومول، د تفاهم رامنځته کول، د نوي تخنيک او د توليد نويو طريقو رامنځته کول د مصارفو د کمولو بله موثره لاره ده.

۳. د چارو پرمخ وړل Administration: د چارو په پرمخ بيولو کې د دفتر ښه سازماندهي کول، د موجود ستاف د موثريت ارزول، د تخنيکي او بريښنايي امکاناتو برابرول او د داخلي او بيروني اطلاعاتو او اړيکو سيستم ايجادول د مصارفو په کمولو اغېزه کوي.

۴. بازار موندنه Marketing: د بازار موندنې په ساحه کې د پلورونکو تشويقول، د اعلاناتو طريقو ته انکشاف ورکول، د وېش اقتصادي کانالونو رامنځته کول، د محصول د مصارفو کمول او د کيفيت ښه کول هغه څه دي چې د مصارفو په کمولو کې اغيزمن رول لوبوي.

۵. تمويل Finance: په کم لګښت سره د پانګې برابرول، د پانګې داسې په کار اچول چې حاصل يې زيات او خطر ورته کم اوسي او د ضايعاتو مخنيوی د تمويل ساحې پورې اړه لرونکي داسې تدبيرونه دي چې د مصارفو د کمولو سره مرسته کوي.

څرنګه چې مخکې يادونه وشوه د مصارفو کمول په هره ساحه کې د ځانګړو تدبيرونو په نتيجه کې ممکن کيږي او پراخه ساحه لري. د مقالې د حدودو په نظر کې نيولو سره مونږ دلته د مصارفو د کمولو له عمده لاملونو څخه يو لامل مولديت باندې خبرې کوو.

مولديت **Productivity**

مولديت د توليد په پروسه کې کارول شويو سرچينو د موثر استعمال شاخص دی. مولديت بايد د توليد سره يو شان فکر نه شي د دې دواړو مفهومونو ترمنځ روښانه توپير شته دی. توليد په يوه معلومه دوره کې د يو کارکوونکي يا کارخانې له خوا جوړو شويو توکو او خدماتو د شمېر، حجم او ارزښت سره اړيکه لري. توليد د توليد د مختلفو لاملونو د يو ځای کيدلو په نتيجه کې صورت نيسي. مولديت د کارول شويو سرچينو سره د توليد دحجم، شمير او ارزښت اړيکه روښانه کوي. د حاصل output او لامل input تر منځ اړيکه د اندزه کولو وړ ده. input په کسب او کار کې د توليد رامنځته کولو په موخه په کار اچول شوي سرچينې دي؛ لکه مواد، کار، پانګه، تعمير ماشين الات او نور. او output د توليد نتيجه يا نهايي محصول دی.

د سرچينو د ښه استعمال او ضايعاتو څخه مخنيوی په صورت کې د توليد په حجم کې زياتوالی راځي چې د مولديت څرګندونه کوي.

M.Banerjee د مولديت په قول the word produvtivity usually mean the ratio between the output of wealth in the form of goods and services and input of resources used up in that output(7:1172).

توليد په يوه معلومه دوره کې نوي رامنځته شوي توکي او خدمات په ګوته کوي. دلته د توليد په اندازه او ارزښت کې بدلون د توليد په مفهوم باندې کومه اغېزه نه لري. کله چې د مولديت نه خبرې کوو نو د توليد لپاره کاريدونکو سرچينو د ښه استعمال په نتيجه کې مولديت زياتيږي خو په توليد کې زياتوالی هر وخت د مولديت د زياتوالي په معنی نه دی. په نتيجه کې ويلی شو چې توليد يو ثابت او مولديت يو نسبي مفهوم بيانوي.

د مصارفو د کمولو اغېزې

د وړاندې شويو توضيحاتو په رڼا کې د مصارفو د کمولو اغېزې په لاندې توګه ذکر کوو:

۱. د مصارفو په کمولو سره ګټه کې زياتوالی راځي چې د شريکانو په ونډه کې د زياتوالي لامل ګرځي او کارکوونکو ته د بونس امکان برابروي.

۲. په ګټه کې زياتوالي رامنځته کيدلو سره مديريت د کارکوونکو لپاره د کار په امکاناتو کې ښه والی راولي او په کسب او کار کې د کارکوونکو د پاته کيدلو له اړخه ثبات رامنځته کېږي.

۳. د مصارفو کميدلو سره د ګټې د امکاناتو زياتوالی د کسب او کار د زيات شهرت لامل ګرځي.

۴. د يو واحد په مصارفو کې کموالی راتګ د مولديت او موثريت د زياتوالي امکانات برابروي.

۵. د ګټې په زياتيدلو سره د مالياتو او ټکس له درکه د حکومت عوايدو کې هم زياتوالی راځي.

۶. د مصارفو کمول د صادراتي توکو د قيمتونو د ټيټوالي او صادراتو د زياتوالي سبب ګرځي.

نتيجه ګيري:

مصارف(Cost) په يو محصول، مرحلې، پيښې، پروژې، جريان اويا هر بل شي باندې د تحميل شويو لګښتونو مقدار دی. مصارف د توليد په خاطر د کارول شويو توکو او خدماتو ارزښت دی.

د هر کسب او کار لپاره د ګټې د زياتولو يوه ډېره موثره لار په مصارفو کې د کموالي تامينول دي. د مصارفو کنترول او د مصارفو کمول د مديريت دوه موثرې وسيلې دي. د مصارفو کنترول او د مصارفو کمول د موخې په نظر کې نيولو سره يو له بل څخه توپير کوي. د مصارفو کنترول cost control د موخې target په تر لاسه کولو باندې تاکيد کوي او د مصارفو کمول cost reduction د مصارفو کمولو ته لاسرسی په نظر کې نيسي.

د مصارفو کنترول او کمولو په خاطر د جلا وسايلو او تخنيکونو څخه کار اخيستل کيږي. د مصارفو د کمولو په عمده ساحو کې د محصول ډيزاين Product Design ، د کارخانې سازماندهي او د توليد طريقې Factory organization and production methods، د چارو پرمخ وړل Administration، بازار موندنه Marketing او تمويل Finance شاملېږي.

د مصارفو کنترول او کمول په هره ساحه کې د ځانګړو تدبيرونو په نتيجه کې ممکن کيږي او پراخه ساحه لري.

وړانديزونه

۱. د مصارفو کمولو او مولديت د زياتوالي په موخه د کار لپاره مناسب محيط او شرايط برابرول،

۲. د علمي او تخنيکي پرمختګونو په رڼا کې د توليد طريقو او ډيزاين کې بدلون راوستل،

۳. د بازار موندنې سره په هم اهنګۍ کې په توليد کې زياتوالی راوستل،

۴. د تمويل لپاره په خپل وخت او ارزانه سرچينو برابرول.

ماخذونه

۱. شهيدي، نذير احمد.(۱۳۶۹). سنجش مصارف، انتشارات پوهنتون کابل

۲. هانس، ډريګل.مالي او مديريتي محاسبه، ترجمه: محمد ذبير نورمل او نعيم جان سروري.(۱۳۹۱). د ګودر خپرندويه ټولنه

3. - Adolph Matz and Milton F.Usry.(2008). cost accounting, planning and control, 7 th edition
4. Charles, T.Horngren. Cost Accounting A Managerial Emphasis , Eleventh Edition, India-Delhi
5. Mevlüt Karakya.(2014). Maliyet Muhasebesi, Gazi kitabevi. 6 Baskı
6. Nisarudin.(2008). Cost Accounting, Pakistan- Lahore
7. - T.R. Sikka.(2004). Fundamentals of cost accounting , fifth edition,
8.Zafar, Ahmad.(2001). Cost Accounting, 2ND edition, Pakistan- lahore

پوهندوی عبدالرحمن
شرعياتو پوهنځی
فقه او قانون څانګه
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال سيد احمد فاطمي
د شرعياتو پوهنځي استاد

د نکاح ديني، اجتماعي او صحي ګټې

لنډيز:

نکاح يو شرعي عمل دی، په دې شرعي عمل (نکاح) سره انسان ته دلويو ګناهونو؛ لکه: زنا او د هغې د اسبابو څخه بچ کيدل او په صحي برخه کې د مختلفو ناروغيو؛ لکه: ايډز، سرطان او قلبي ناروغۍ څخه وقايه رامنځ ته کېږي.

همدارنګه په نکاح سره اجتماعي ګټې؛ لکه: د نسب رعايت کيدل، د خپلوۍ او انساني نسل تسلسل او تداوم او په همدې توګه اقتصادي پياوړتيا رامنځ ته کيږي.

سريزه:

په دې کې شک نشته چې نکاح د انسان د ژوند د مهمو ضرورتونو څخه ګڼل کيږي ځکه په دې سره ديني او دنيوي مصالح ترل شوي، په همدې ډول په شرعي نکاح کولو کې نورې ګټې فايدې شته چې انسان بايد د هغو څخه ځان خبر او شرعي نکاح وکړي تر څو په غېرمشروع ډول د جنسي خواهشاتو پوره کولو (زنا) او د هغې څخه راپيدا کيدونکو لاعلاج ناروغيو مخنيوی وشي نو ددې لپاره چې د نکاح د فايدو څخه خلک خبر او وپوهول شي، ما لازمه وګڼله چې په نوموړې موضوع کې ليکنه وکړم.

موخې:

۱- لوستونکو ته د نکاح فايدې روښانه کول او د هغې څخه يې خبرول.
۲- د واده نه کولو زيانونو څخه لوستونکي پوهول.

د څېړنې کړنلاره:

د څېړنې کړنلاره کتابتوني ده، د قران کريم، نبوي احاديثو او فقهي معتبرو کتابونو څخه اخيستنه شوې. همدارنګه په صحي ګټو کې د انترنيت او د قرآني ايتونو په ترجمه کې د تفهيم القران د قيام الدين (کشاف) پښتو ژبې ترجمې څخه استفاده شوې.

د نکاح پيژندنه

نکاح په لغت کې جمعوالي او يو ځايوالي ته ويل کيږي او په اصطلاح کې ديو سړي او ښځې ترمنځ د هغه عقد او تړون څخه عبارت دی چې د هغې په وسيله وطی (جماع) حلاله او روا او د دواړو خواو ترمنځ د نورو حقوقو او وجيبو التزام رامنځ ته کيږي. (۷۹-۱۰باب۱۳۲
جز۱ص۱-۹ج۱۴۲ص)

د نکاح شرعي حکم

نکاح کول يو روا عمل دی چې روا والی په شرعي دلايلو سره ثابت دی؛ ځکه چې رسول الله صلی الله عليه په خپله نکاح کړې او نورو ته يې په دې عمل ترغيب ورکړی. خو د شرعي حکم په هکله جمهور علماء په دې نظر دي چې د نکاح حکم د

اشخاصو حالت پورې تړلی؛ که د انسان شهواني قوه غالبه او په حرامو کې د واقع کيدو وېره ورسره وه او مالي توان يې هم درلوده، نو نکاح کول واجب دي او که په حرامو کې د واقع کيدو وېره نه وه، بيا سنت دي او که د نکاح مادي او معنوي حقوقو پوره کولو توان ورسره نه ؤ، د ښځې حقوق يې په کامله توګه نه شوه پوره کولی نو بيا نکاح کول ورته مکروه تحريمي ده(-۱۱ ۱ج۲۹۲ص،۱-۹ج۱۴۵ص).

دنکاح کولو ګټې

په هريو الهي حکم کې حکمتونه او ګټې فايدې پرتې وي، عبث او بې فايدې نه وي ځکه چې د حکيم او خبردار ذات له طرفه وي، نو نکاح (واده) کول ډېرې زياتې ديني (شرعي)، اجتماعي او صحي ګټې لري چې په لاندې توګه ذکر کيږي:

اول: ديني (شرعي) ګټې

د ديني ګټو څخه هدف أجر او ثواب دی، چې انسان ته په دنيا او أخرت کې حاصليږي چې دا په لاندې ډول دي:

۱- د انبياؤ عليهم السلام تابعداري: نکاح د انبياؤ سنت دي؛ لکه: الله جل جلا له د سورت رعد (۳۸) آيت کې فرمايي: «وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً»

ژباړه: له تا څخه مخکې هم مونږ پيغمبران ليږلي دي او مونږ هغوی د ميرمنو او اولادونو خاوندان ګرځولي وو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم خپله او دده نه مخکې زياتو انبياؤ عليهم السلام نکاح کړي او رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه شخص چې نکاح کوي، هغه يې په خپلې طريقې برابر او هغه شخص چې پرته د عذر نه نکاح نه کوي او د نکاح کولو څخه انکار کوي، د خپلې طريقې نه بهر ګڼلی؛ لکه: څنګه چې د عايشې رضی الله عنها روايت کې راغلي: [عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي فَمَنْ لَمْ يَعْمَلْ بِسُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي](۸-۱ج۵۹۲ص)

ژباړه: د عايشې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: نکاح زما سنت دی، چا چې زما په سنتو عمل ونکړو، هغه زما د أمت نه ندی.

او دا واضحه او معلومه خبره ده چې د انبياؤ په تابعداری او د قران کريم احکامو ته په غاړه ايښودلو کې انسان ته د دنيا او اخرت سعادت ور په برخه کيږي او د قران کريم حکم ته غاړه نه ايښودلو او د انبياء عليهم السلام پيروی نه کولو په وجه به يې په دنيا کې ژوند تنګ (خفه) او په اخرت کې د سخت عذاب سره مخ شي چې د دا سې اشخاصو په هکله الله جل جلاله د قران کريم په سورت طه(۱۲۴) آيت کې دا سې فرمايلي: «وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى»

ژباړه: او هغه چا چې زما د آيتونو د حکم نه اعراض وکړو نو د هغه ژوند به په دنيا کې تنګ (خفه) او په اخرت کې به يې ړوند راپورته کړو.

همدا رنګه سفيان بن عيينه (رحمة الله عليه) وايي چې زياتې ښځې په نکاح کې لرل د دنيا سره محبت کول ندي؛ ځکه چې حضرت علي (رضي الله تعالی عنه) څلورمنکوحې ښځې درلودلي، نو نکاح يو پخوانی سنت او د انبياؤ اخلاق دي.(۲۷-۱۲ص)

۲- د زنا او د هغې د اسبابو څخه د منع کيدو ذريعه ده: انسان باندې فرض دي چې د زنا او د هغې د اسبابو (فاحش اعمالو) څخه ځان وساتي او د ساتلو ښه وسيله نکاح ده ځکه؛ په نکاح سره انسان ټول اعضاء د فاحش عمل څخه منع کيږي، چې د فاحش اعمالو څخه منع کيدل غوره عبادت دی.(۵۲-۶ص)

۳- د ايمان د حفاظت او ساتلو وسيله ده: د نکاح د شرعي فايدو څخه يوه فايده داده چې؛ د انسان ايمان ورباندې ساتل کيږي ځکه؛ په حديث کې نکاح نيمايي ايمان ګڼل شوی: [عن أنس بن مَالک قالَ قالَ رَسُول الله صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَم من تزوج فقد اسْتكْمل نصف الْإِيمَان فليتق الله فِي النّصْف الْبَاقِي](۸-۵ج۳۳۵ص)

ژباړه: د انس بن مالک رضی الله تعالی عنه نه روايت دی، دا وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: چا چې نکاح وکړه په تحقيق سره هغه خپل نيمايی ايمان کامل او وساتلو او په نورباقي نيمايي ايمان ساتلو کې د الله جل جلا له نه وويريږي (چې هغه فاسد نکړئ).

۴- نکاح عبادت او د اجر او ثواب حاصلولو ذريعه ده: لکه څنګه چې جهاد د الله جل جلا له عبادت دی، الله جل جلا له په هغې کې د خپل بنده سره د مرستې، د أجر او ثواب ورکولو وعده کوي، همدا رنګه نکاح کول هم د الله جل جلا له يو عبادت دی او په

هغې کې ورسره دمرستې او أجر وعده کوي، لکه حديث شريف کې راځي:[عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم: ثَلاَثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللَّهِ عَوْنُهُمْ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُكَاتَبُ يُرِيدُ الأَدَاءَ وَالنَّاكِحُ يُرِيدُ الْعَفَافَ](-۲ ۴ج۹۹ص)

ژباړه:دابي هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دى، دا وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: چې درې کسانو سره الله جل جلا له د کمک وعده کوي چې يود هغوى نه د الله جل جلا له په لاره کې جهاد کوونکي، دوهم هغه مکاتب غلام چې خپل مولى ته دکتابت دبدل اداءکولواراده لري اودريم هغه نکاح کوونکى دى چې په هغې سره دپاکۍ اوعفت قصد اواراده لري.

نودهمدې له أمله دحنفي فقهي علماؤپه نيز دهغه شخص لپاره چې په نکاح کې ښځې ته د مهر ورکولو توانايي نلري د بل چاڅخه قرض غوښتل روا بلکې مستحب دي.(۷۹-۱۰باب۱۳۲جز۷ص)

همدارنګه دامام احمد(رحمة الله عليه)په هکله ويل شوي،چې هغه د خپلې أم والدې د وفات په دويمه ورځ نکاح وکړه اودا يې وويل چې زه يوشپه بې واده تيرول بد اومکروه ګڼم.(۲۲-۱۲ص)

۵- دنکاح کوونکي(متأهل) عبادت غوره والى په غيرمتأهل باندې: نکاح يوداسې غوره او بهتره روا عمل دى، چې په دې عمل سره په نبوي حديثوکې دمتأهل اود غيرمتأهل عبادت ترمنځ توپير بيان شوى، چې دمتأهل عبادت دغير متأهل عبادت نه غوره دى؛ لکه: په دې حديث مباركه راغلي:[عن أنس بن مالک قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم رَكْعَتَانِ مِنَ الْمُتَأَهِّلِ خَيْرٌ مَنْ اثْنَيْنِ وَثَمانِينَ رَكْعَةً مِنَ الْعَزَبِ] (۱-۱۵ج۱۴ص)

ژباړه:انس بن مالک (رضي الله عنه)درسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي؛ چې هغه فرمايي: د نکاح لرونکي شخص دوه رکعت لمونځ د نکاح(واده) نه لرونکي شخص د دوه اتيا رکعتونو لمونځ نه بهتره دى.

۲- اولاد منځ ته راتلل اوانسانى نسل زياتيدل: د شرعي نکاح (واده) د مقاصدو څخه يو مقصد او هدف د انسان اولاد وي اود اولاد پيدا کيدو کې انسان ته لاندې فايدې حاصليږي:

الف- د اولاد په مقصدنکاح کولوسره دالله جل جلاله رضاءحاصليږي؛ځکه په دې سره دنسل بقا او دوام راځي اود رسول الله صلى الله عليه أمتي زياتيږي چې د قيامت په ورځ رسول الله صلى الله عليه دخپلوأمتيانو زيادت باندې افتخار کوي؛لکه: څنګه چې حديث پاک راځي:[عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ إِنِّي أَصَبْتُ امْرَأَةً ذَاتَ حَسَبٍ وَجَمَالٍ وَإِنَّهَا لاَ تَلِدُ أَفَأَتَزَوَّجُهَا قَالَ لاَ ،ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ فَنَهَاهُ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأُمَمَ](۱-۳ج۱۷۵صد حديثنمبر۲۰۵۰)

ژباړه:معقل بن يسارويلي؛ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوسړى راغلو او ويې ويل چې ديوې ښې کورنۍ اود ښه ښايست لرونکې ښځه مې ليدلې خود اولاد راوړلو ظرفيت په کې نه ليدل کيږي ايا داپه نکاح کړم؟رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته ځواب ورکړ؛چې نه،دغه شخص دويم ځل بيا راغلو خورسول الله صلى الله عليه وسلم هغه بيا منع کړو ،دريم ځل چې بيا راغلو بيايې ورته وويل چې محبت کوونکو اوبچې راوړونکو ښځو سره نکاح کوئ؛ځکه زه دستاسو په زياتوالي فخرکوم.

ب-اولادد موراو پلار لپاره بهترينه خزانه اوسرمايه ده،اولاد دوالدينو لپاره په ژوندانه اود مرګ نه وروسته دواړوحالاتوکې خزانه اوګټه ده؛په ژوندانه کې دمور او پلار خدمتګاراود مرګ نه وروسته ورته دعاء کوونکى دى، چې الله جل جلاله دصالح اولاد دعاءد والدينو په هکله قبلوي؛ لکه حديث پاک کې راځي:[عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلا مِنْ ثَلاَثَةٍ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ وَعِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ وَوَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ](۱۵-۲ ج۵۲۱)

ژباړه:دابي هريرة رضي الله تعالى عنه نه روايت دى؛يقيناً رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي؛ چې کله يوانسان مړ شي د هغه ټول اعمال قطع شي مګر درې اعمال ورڅخه مستثنى دي، چې ثواب يې دده د وفات نه وروسته هم ورته رسيږي، چې هغه عبارت دي له؛ جريان لرونکې صدقې، نفع لرونکې علم اوصالح اولاد څخه، چې دعا ورته کوي.

اوکه دموراو پلار په مخکې، د ماشومتوب حالت کې وفات شي نو د قيامت په ورځ به ورته شفاعت کوونکی جوړشي؛ لکه حديث پاک کې راځي: [عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَعَنْ النَّبِيِّ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَمَ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَمُوتُ بَيْنَهُمَا ثَلَاثَةُ أَوْلَادٍ لَمْ يَبْلُغُوا الحِنْثَ إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللهُ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمْ الجَنَّةَ ...](۱۳-۴ج۳۲۵ص)

ژباړه: ابوهريرة رضی الله تعالی عنه درسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت کړی؛ هغه فرمايي: داسې موراو پلار به پيدا نشي چې د هغوی په ژوندانه کې درې اولادونه بلوغ ته رسيدو نه د مخه مړه شي، مگرالله جل جلا له به يې په خپل فضل اورحمت سره جنت ته داخل کړي.

اودنکاح نه کولوسره ښځه اوسړی دواړه دپورته گټوڅخه بې برخې کيږي، يواځې دا نه چې ددې گټوڅخه بې برخې کيږي، بلکې دوی همیشه يواځې دخپلو جنسي خواهشاتو پوره کولو په خيالاتوکې ډوب او په غېر مشروع طريقې سره يې پوره کوي، چې په نتيجه کې د داسې شخص په فردي ډول د دنيوي او اخروي بدبختيو سره مخ کيږي.

دويم اجتماعي گټې:

نکاح کول يواځې دانه چې ديني گټې لري، بلکې د نکاح په کولوکې اجتماعي گټې هم شته، چې په لاندې توگه دي:

۱- نکاح کول د پيژندگلوی او ارتباط جوړيدو يوه لويه وسيله ده: په نکاح سره يوڅو کورنيو، قومونو اوقبيلو ترمنځ خپلولي اونه شليدونکې دوستي قائميږي؛ لکه ليدل کيږي چې ډېرځلي ددوو ليري کورنيواوقبيلوترمنځ تعرف اوپيژندگلوي نه وي، ولې د هغوی ترمنځ تعرف، دوستي او خپلوي په همدغه رشتې سره قائمه شي(۵۴-۲ص)

نو په همدې وجه الله جل جلا له دسخرگني ريشته دخپلو بنده گانو لپاره يولوی نعمت اويو برخه دنسب گرځولي، چې په دې هکله قرآن کريم سورت الفرقان(۵۴)آيت کې الله جل جلاله داسې فرمايلي«وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا»

ژباړه: اوهماغه ذات دی چې له اوبو نه يې يوبشرپيدا کړ، بيا يې له هغه نه د نسب او خُسرگنۍ دوه بېلا بيلې لړۍ وغځولې، ستاسې پرودگارد سترقدرت څښتن دی.

۲- نکاح دځمکې ابادۍاود ټولنې د پرمختگ بهترينه وسيله ده: په ځمکه کې انسانان اوسيږي اود ځمکې خلافت انسان ته سپارل شوی، اودغه ځمکه به انسان ابادوي خود ځمکې ښه ابادول او په هغې کې ښه خلافت هغه انساني نسل کولی شي چې هغه د شرعي نکاح له لارې منځ ته راغلی وي، ځکه هغوی د صله رحمۍ، خپلولي اويو د بل سره د همکارۍ په روحيې او فکر سره لوی شوی وي او په همدغه روحيې سره دځمکې ابادۍ اود ټولنې پرمختگ لپاره کارکوي، نو هغه ټولنه کې چې شرعي نکاح رواج اودفحشا (زنا) مخه نيول شوي وي هغه ټولنه په اخلاقي او اقتصادي لحاظ غني او پرمخ تللې وي اوکومه ټولنه کې چې شرعي نکاح رواج اوعملي نه وي، هلته زنا زياته وي چې ددې سره اخلاقي فساد او لاعلاجه ناروغۍ؛ لکه: ايډز او ديته ورته نورې ناروغۍ رامنځ ته کيږي، چې د کالفورنيا پوهنتون استاددکتور (جيس تشن) وايي چې (۲۰۰۲)ميلادي کال احصايې له مخې جنوبي افريقا کې(۲۰)فيصده خلک په ايډز ويروس د غېرمشروع جنسي اړيکو نيولو په وجه اخته شوي، نواخلاقي فساد دټولنې وروستوالي اوبربادۍ لوی لامل گرځي.(أسرار الزواج - الكحيل-www.kaheel7.com/ar/index.php2010-03-06)

۳- دبشري نسل بقا اوتداوم: د نکاح (واده) د فايدوڅخه يوه فايده دا هم ده چې د انساني نسل بقا او زيادت ورباندې راځي اوکومه ټولنه چې خپل نسل زيات او د هغې ساتنه وکړي نو دغه ټولنه کولی شي چې د خپل اسلامي شعايرو، فرهنگ او کلتورساتنه وکړي.

(www.beytoote.com/wedlock/danestani/marriage-benefit.)

۴- د اقتصاد پياوړتيا:

الف- فردي اقتصادي پياوړتيا: په نکاح سره د کورنۍ اقتصاد پياوړی کيږي، ځکه کوم مال چې د ښځې سره وي هغه د نکاح کولو نه وروسته د ځان سره د ميړه کور ته راوړي او د ميړه د مال سره يو ځای د تجارت له لارې ګټه ورڅخه لاس ته راوړل کيږي؛ لکه په دې هکله د عايشې رضی الله عنها په روايت کې داسې راغلي: [عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: تَزَوَّجُوا النِّسَاءَ فَإِنَّهُنَّ يَأْتِينَكُمْ بِالْمَالِ](۱۴- ۳ج۳۴۲ص)

ژباړه: د عايشې رضی الله عنها نه روايت دی، هغې ويلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: ښځې په نکاح کوئ، ځکه؛ هغوی تاسې ته په مال سره راتلل کوي.

امام قرطبی (رحمة الله عليه) بيا د سورت نور(۳۲) آيت «وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ» په تفسير کې د عبد الله ابن مسعود (رضی الله عنه) قول رانقل کړ، چې هغه ويلي: تاسې ثروت مندي په نکاح کولو کې ولټوئ، او د حضرت عمر (رضي الله تعالی عنه) قول يې داسې رانقل کړی: چې تعجب دی ماته د هغه شخص په هکله چې هغه ثروتمندي په نکاح کې نه لټوي.(۱۲-۷ج۲۴۱ص)

ب- اجتماعی اقتصادي پياوړتيا: د کالفورنيا پوهنتون استاد دوکتور (جيس تشن) وايي چې د امريکا متحده ايالات د دې تائيد کوي چې هر کال په دغه ايالت کې (۱۰) بيلون دالر د ايډز ناروغۍ علاج لپاره ضرورت ليدل کيږي، او د اټولو ته واضحه ده چې د دې ناروغۍ عمده لامل فحشا (زنا) ده.(أسرار الزواج الكحيل-03-2010 06www.kaheel7.com/ar/index.php).

نو که چيرې په ټولنه کې ښځه او سړی جنسي اړيکې په مشروع طريقه ترسره کړي نو د دغه هلاکوونکې ناروغۍ مخه به ونيول شي او هغه مقدار پيسې چې د دغه ناروغۍ علاج باندې مصرفيږي هغه به د ټولنې نورو ضروريا تو ته سپماشي.

دريم صحي ګټې:

اسلامي شريعت او اوسني طب تحقيق کوونکو ډاکترانو دا ثابته کړې چې د نکاح له لارې جنسي اړيکې د انسان په صحتمندۍ کې پوره أثرلري، د هغې جملې څخه:

۱- نفسي اوروحي ارام او سکون راتلل: انسان د خپل ژوند په موده کې نفسي اوروحي ارام او سکون ته ضرورت لري او دغه ارام او سکون د يو انسان په وسيله بل انسان ته بخښل کيدلی شي، چې هغه عبارت دی د زوج او زوجې څخه چې د دوی ترمنځ په ازدواج سره مينه او محبت زياتيږي او په خپل منځ کې يو بل ته ارام او سکون ډالۍ کوي، کله چې زوج دورځې د کورڅخه بهر مسؤليتونو پوره کولو کې ستړيا محسوس کړي او کور ته راشي د ښځې او اولاد په ليدلو سره هغه ټوله نفسي او روحي ستړياد منځه لاړه شي.(۸۰-۶ص۱۸-۱۲-ص)

نو نکاح کول د ارام او سکون لپاره بهترينه وسيله ده چې قرآنکريم د سورت الروم(۲۱) آيت کې د دې وضاحت داسې شوی «وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ»

ژباړه: او د هغه د نښو نښانو څخه داده چې ستاسې لپاره همدا ستاسې له جنس نه يې ميرمنې پيدا کړي ترڅو تاسې له هغو سره ارام حاصل کړئ او ستاسې (ښځې او خاوند) په منځ کې يې مينه او خواخوږي پيدا کړه. په باوري ډول په دې کې د هغو خلکو لپاره نښې نښانې دي چې غور او فکر کوي.

۲- د زړه ناروغۍ وقايه ده: اوسني طب ثابته کړې چې نکاح (واده) کول انسان د زړه ناروغۍ نه ساتي، په مشروع طريقې سره جنسي اړيکې نيول د وينې کلسترول او فشار په کنترول کې مهم رول لري، چې د وينې فشار کنترول سره زړه سالم او نورمال ساتل کيږي.

(www.beytoote.com/wedlock/.../marriage-benefits.html)

۳- د پروستات او سرطاني ناروغۍ وقايه: د مشروع جنسي اړيکې په واسطه انسان بالخصوص زوج د پروستات او سرطاني ناروغۍ څخه ساتل کيږي.

۴- د وزن کميدل: په شرعي او مناسب ډول جنسي اړيکې د ښځې او سړي د مناسب وزن سبب ګرځي او د زيات چاغوالي څخه يې ژغوري چې نامناسب چاغوالی د ناروغۍ سبب ګرځي.

(aroosi.akairan.com/marriage/.../2014/479028.html)

۵-دهډوکو او عضلاتو قویوالی: د زوجینو ترمنځ جنسي اړیکې نیولو سره هورمون تستوسترون زیاتیږي چې د هغې زیاتوالي سره د وجود عضلات او هډوکې قوی کیږي.

۶- د وجود د دردونو طبعي مقاومت زیاتیدل: همدارنګه ددې دواړو ترمنځ د جنسي اړیکو په ذریعه هورمون اکسي توسین زیات ترشح کیږي او هورمون په طبعی توګه د وجود د درد ضد واقع کیږي.

۷-په بدن کې دوینې جریان زیاتیدل: د زوجینو ترمنځ په سالمه توګه جنسي اړیکه نیول د بدن د وینې جریان زیاتوي چې په نتیجه کې د بدن ټولو برخو ته په مناسب ډول وینه تقسیمیږي چې په دې سره د بدن غړي د فلج کیدو څخه بچ کیږي.www.beytoote.com/wedlock/.../marriage-benefits.html.

۸- نکاح(واده) کول عمر زیاتوي:طبي څېړنو د اثابته کړي چې په ځوانۍ کې واده کول د اوږد عمر سبب کیږي چې په دې هکله دوکتور مصطفی السباعی دیو طبي علومو ډاکټر (فیکتوربوجومولتز) په حواله لیکلي؛ چې اولاد زیږیدنه د ښځې د ژوند په هرطرف کې مهم رول لري، د زیات اولاد لرونکو ښځو عمرونه نسبت هغه ښځو ته چې اولاد نلري او یا یې بالکل واده نه وي کړی، زیات دي.(۹۱-۶ص، ۲۹-۴ص) چې دغه څېړنه د امریکا په نارت کیرولانتا پوهنتون کې دیوې ډلې لخوا چې مشر یې د ډاکتر (ایلینا سیګلر) لخوا کیده، هم ترسره شوې، او دیاران رسنیزه شبکې لخوا د جنوري(۲۵۰/۲۰۱۳/۱۳)خپرونه کې خپره شوې، چې دا څیړونکي ډله هم لیکي؛ هغه کسان چې واده یې کړی وي عمرونه یې د هغه کسانو څخه زیات وي چې هغوي واده نه وي کړی یا یې نه کوي، دوی تر واده شوو کسانو ژر مري او د ډول ډول نارغیو په اسانه ښکار کیږي، د دوی په وینا واده نه درلودل انسان ته روانې او نورې ګڼې ستونزې پیدا کوي، چې له امله یې ډېر ژر د مرګ ښکار کیږي او همدارنګه واده شوي کسان د نا واده شویو په پرتله په خپل ورځني ژوند کې ډېر محطاط وي او د زنده ګۍ طرز او تګلاره یې منظمه وي.
(www_ *yaraan.com/?p=3232*)

نتیجه:

د پورتنې بحث څخه لاندې نتائج په لاس راځي:

۱- د شرعي نکاح په وسیله انسان دلویې ګناه نه، چې هغه زنا او د هغې اسباب دي، بچ او د الله جل جلاله رضاء لاسته راوړل کیدلی شي.

۲- په شرعي نکاح سره اجتماعي ګټې؛ لکه د نسل زیاتیدل، د نسب رعایت کیدل او د اقتصاد پیاوړتیا رامنځ ته کیدلی شي.

۳- ددې قاعدې له مخې چې د معالجې په نسبت وقایه أسانه او په معالجه باندې مقدمه ده، نو په شرعي نکاح سره د زیاتو ناروغیو وقایه کیدلی شي.

وړاندیزونه:

د شرعي نکاح د پورته ذکرشویو ګټو په نظر کې نیولو سره زه لاندې وړاندیزونه لرم:

۱-علماء باید د نکاح دیني او اجتماعي ګټې د منبر او د قلم له لارې خلکو ته بیان کړي.

۲- داچې د نورو هیوادونو د طب ډاکټرانو د نکاح (واده) صحي ګټې په نورو ژبو بیان کړي د ننګرهار ولایت طبي ډاکټران هم باید په پښتو ژبه د قلم له لارې د هیوادوالو غوږونو ته ورسوي.

۴ - داچې اوس دواده مراسمو په لګښتونو کې د خلکو ترمنځ یو ډول بې ځایه سیالي رواج ګرځیدلې، چې د همدې بې ځایه سیالیو له امله زیات ځوان نسل هلکان او پیغلې د نکاح (ازدواج) د ګټو نه محروم پاتې شوي، نو زما دا پیشنهاد دی چې خلک دې دغه بې ځایه لګښتونه راکم او غېرشرعي رقابتونه پریږدي، بلکې د شرعي ولیمې په ډول دې د نکاح مراسم ترسره کړي.

ماخذونه:

۱- القرانکریم.

۲-الترمذي،محمد بن عیسی. سنن الترمذي.بیروت ،دار إحیاء التراث العربي -تحقیق:أحمد محمد شاکر .

۳-السجستاني، سليمان بن الأشعث، سنن أبي داود. ـ بيروت، دارالكتب العربي.
۴-السباعى، مصطفى.(۱۹۸۴م)المرأة بين الفقه والقانون.بيروت، المكتبة الاسلامي.
۵- الطبراني، سليمان بن أحمد.(۱۴۱۵هـ).المعجم الأوسط. القاهرة ،دار الحرمين ،تحقيق: طارق بن عوض الله بن محمد، عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني.
۶-عتر، نورالدين(۱۴۲۴هـ۲۰۰۳م)ماذاعن المرأة، لومړۍ طبع، دمشق بيروت.الناشر اليمامه.
۷- القرطبي، أبوعبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر.(۱۳۸۴هـ - ۱۹۶۴م).
الجامع لأحكام القرآن. الطبعة: الثانية القاهرة، دار الكتب المصرية.
۸-القزويني، محمد بن يزيد.(۱۴۲۴هـ)سنن ابن ماجه. بيروت، دار الفكر،
تحقيق:محمد فؤاد عبد الباقي
۹- القونوي، قاسم بن عبد الله بن أمير علي.(۱۴۰۶هـ) أنيس الفقهاء في تعريفات الألفاظ المتداولة بين الفقهاء. الطبعة الأولى، جدة، دار الوفاء.
۱۰- الموسوعة الفقهية الكويتية ،صادر عن:وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية- الكويتالطبعة الثانية ، طبع الوزارة۱۲۳جزء۷۹باب كتاب نكاح
۱۱- مجموعة من المؤلفين.الفقه الميسر في ضوء الكتاب والسنة. الناشر:مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف.
۱۲-المصري، محمود.(۲۰۰۷م)الزواج الاسلامي. الطبعة الولى، القاهره، مكتبه الصفا.
۱۳-النسائي، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب.(۱۴۲۰هـ).سنن النسائي بشرح السيوطي وحاشية السندي.بيروت:دار المعرفة.
۱۴-النيسابوري، أبى عبد الله الحاكم.المستدرک على الصحيحين.بيروت، دارالمعرفة.
۱۵-الهيتمي، أحمد بن محمد بن علي بن حجر.(۱۴۲۴هـ)الإفصاح عن أحاديث النكاح. الطبعة: الأولى، عمان ،دار عمار- تحقيق: محمد شكورالمياديني.

پوهنـــــدوی عبيـــــد الرحمن (الکـــــوزی)
دشـــــــــرعياتو پوهنځي اســـــــــتاد
تقريظ ورکوونکی:پو هنوال سيد احمد فاطمي
دشـــــر عيـــــاتو پـــــوهنځی اســـــتاد

د انساني شيدو بانکونه او د اسلامي فقهې له نظره يې د رضاع حکم

لنډيز:

په دې بحث کې مو د شيدو بانکونو ايجاد که چېرې د انساني اړتيا له امله وي جايز، او که ضرورت ورته نه وي د نه جواز حکم، ځکه چې انساني نسل ته د رضاع د تحريم او تحليل په اړه ضرر رسوي لکه نکاح او نور مسايل، او هم مود رضاع حکم د نسب په شان تحريم راولي او د رضاع موده دوه نيم کاله د احناف او دوه کاله د شوافع او نورو علماو، او که کومه ښځه بل چا ته شيدې ورکوي بايد په دې کې احتياط وشي چې اينده کې دده د رضاع مسايل په نظر کې ونيسي او يا يې بانک څخه رانيسي نو بايد مکمل ادرس د شيدو د خاوند له ځانه سره ولري ترڅو په اينده کې ترينه د رضاع مسايل په نظر کې ونيسي.

سريزه:

د شلم قرن په اومه لسيزه کې د اروپا په متحده ايالاتو، کې يوه فکره چې هغې ته د شيدو بانکونه ويل کيږي دا وروسته له هغې جوړيږي، چې پخوا هم د غسي بانکونه موجود وو لکه: دويني بانک، دمني بانک، د اعضاو بانک، د سترګو بانک او داسې نور.

او د شيدو بانکونه د يولړ موسسا تو له خوا نه تنظيميږي، چې د انساني شيدو څخه تشکيل وي يا خپله هغه ميندې چې ماشوم يې ضايع کړې وي او يا وروسته له ولادت نه هغه مړه شوې وي او يا يې شيدې ډېرې زياتې وي نود تبرع او صدقې په ډول يې د غې ډول بانکونو ته ورکوي ترڅو هغه ماشومان چې په ستونزو کې وي يا يې ميندې مړې وي او يا يې د مورشيدي کفايت نه کوي يا بل څه مشکل او ستونزه وي او يا ځينې ښځې دا کارد پيسو او قيمت په مقابل کې کوي ترڅو يې د غه موسسات نورو ماشومانو او اطفالو ته ورکړي يا د قيمت په بدل کې او يا مفت او رايګان د يو ې خيريه موسسې په شکل ورکړي نو اوس خو دا کارشوي او کيږي، ايا شرعي اړخ چې د غه شيدې ماشوم خوري او ګيډې ته يې رسيږي نو ايا دا کار روا دي او کنه بله دا چې د غه مسئله چې د رضاع ده دا به څنګه، او په څه ډول ترسره شي حکم يې څه دي نود دې هدف لپاره چې که واقعا له ډېرو ګټو سره ځيني ستونزې هم لري نو د مې غوښتل چې په د غه موضوع کې څه وليکم او د اوسنيو پوهانو نظريات، د رضاع په مورد نصوص، او د نورو ګټورو معلوماتو سره راجمع کړم، ترڅو ورونو مسلمانانو ته د غه موضوع ښه روښانه شي چې د دې په عملي کولو کې د شريعت سره سم عمل ترسره کړي شي.

د موضوع اهميت:

که چيرې نن ورځ وکتل شي د يرې ستونزې شته دي چې خلک پرې اخته دي او هغه دا چې ځنې ميندې اولادونه لرې مګر خپله مريضي وي شيدې يې کمي وي او يا يې ميندې د مرضتيا او يا څه ترافيکي حادثاتو او يا جنګونو له امله مړې شوي وي او کوچنې ماشوم ورځني پاتې وي چې هغه به د سوء تغذيې له امله مړشي او يا به يې بدن د کوم بل حالت لکه فلج، او يا نورو سره مخامخ شي او يا که ورته نور له بازارنه وچ شيدې او يا د حيواناتو شيدې ورکوي نو په دې حالت کې حتمي ده چې يا به يې د پلار اقتصادي مشکل وي او يا به يې په وخت رسيدګي نه شي کولاي او يا نوري شيدې د انساني شيدو سره کاملا تفاوت لري او يا د يته ورته پيښې نود دې لپاره به د غه ستونزه څنګه حل وفصل شي او يا به د دې د جواز يا عدم جواز مسئله څه

ډول وي نو چون موضوع ډيره مهمه او د اهميت نه ډکه ده نو ماهم وغوښتل چې په دې باندې ليکنه وکړم او هم د اسلامي فقهي نظر او هم د علماو فتواوي په دې اړه واضح کړم او خلکو ته د دې حل وفصل په اړه معلومات وړاندې کړم.

موخې:

له دې بحث او موضوع څخه موخه داده چې:

۱. کله د ځينو مجبوريتونو په اساس چې د ځنو ميندو اولادونه د مرض او يا کومې پيښې په اساس وفات کيږي نو موريا د خپل جسمي مشکل په اساس اخته کيږي نو دا مجبوره ده چې شيدې بل کس ته ورکړي نو ايا د اکولاي شي دې بانکو نو ته شيدې ورکړي. او يا د اډول ماشوم چې موريې مړه وي نو دې مجبوردې چې دې ډول بانکو نو ته مراجعه وکړي او شيدې لاسته راوړي.

۲. يا ځنې مورګانې تبرعا او يا د اقتصادي مشکل په اساس غواړي خپلې شيدې بل چاته ورکړي که په مقابل کې يې قيمت اخلي او که نه يې اخلي نو همدې هدف لپاره چې ايا دا روادې او کنه ؟

۳. يو څوک چې نه پيسې لري او نه بل څوک داسې وي چې دې سره کومک وکړي چې خپل کور کې ووايې چې د فلانې ماشوم ته شيدې ورکړي نو دې وخت کې ضرورت دې چې په دې مسئلې غور وشي.

۴. يا داسې څوک وي چې زيات مالداروي مګر انساني شيدې ته ضرورت لري چې خپل اولاد ته يې ورکړي نو همدا سبب شو ومې غوښتل په دې موضوع ليکنه وکړم او موضوع ورونو او خويندو ته ښه روښانه کړم ترڅو د شيدې بانکو نو سره خپله رابطه وساتي او يا ترينه ځان وساتي او ديته ورته اهداف او موخې مې په نظر کې درلودې چې په دې اړه مې تصميم ونيو او موضوع مې تر بحث لاندې ونيوله ترڅو د علماو نظرونه او دلايل پرې راجمع کړم چې لوستونکې ترينه ګټه پورته کړي.

د انساني شيدې بانکونه:

يو شمير ميندې او يا ښځې د سينې شيدې چې يا يې د تبرع خيرات او صدقې له لارې او يا يې د خرڅ لپاره د خاصو لوښو او ظروفو په واسطه په بانکو نو کې ساتي په داسې حال کې چې وچې هم نشي نو لدې شيدې څخه لاندې کسان ګټه اخستلاي شي:

الف: بې مودې ماشومان (خدج): دا له هغه ماشومانو او کوچنيانو څخه عبارت دي چې مخکې له دينه چې نهه (۹) مياشتنۍ موده د مور په ګيډه (رحم) کې تيره کړي تولد شي چې دا معمولا کمزوري وي دې له دې شيدې څخه استفاده کوي او ډيره ګټه ترينه اخلي.

ب: ضعيف او کمزوري ماشومان: هغه ماشومان چې د ولادت په وخت کې کم وزنه تولد شي او بدن يې ضعيف او کمزوري وي او د مور شيدې يې د غه احتياج نشي پوره کولې ترينه استفاده کوي.

ج: هغه ماشومان چې په التهابي (پړسوب) چې تيزاو زرصورت نيسي اخته وي: او يا ځنې داسې ماشومان چې د نارو غيو په وړاندې مقاومت نه لري داسې شيدې ته ډيره اړتيا لري. (۴:۱۵).

د شيدو بانکونه: د شيدو بانکونه عبارت له هغه مؤسساتو څخه دي چې دوي د مور د شيدې د جمع کولو دندې په غاړه لري ، را ټولوي يې او ، ددې لپاره يې ساتي چې هغه ماشومان يا کوچنيان ورڅخه استفاده وکړي او ګټه واخلي چې د غذايي رژيم د کمزورتيا سره مخ دي. او غالبا په دې بانکونو کې د يوې مور شيدې د نورو لس ګونو ميندو او يا سلګونو ميندو له شيدو سره يو ځاي او ګډ وي د يوې مور شيدې هم په خپل ځاي کې نه پاتې کيږي بلکې له نورو سره ګډيږي او خپل حالت ته تغير ورکوي (۴: ۱۸).

د دې مسئلې حکم او مهم دلايل يې

معاصريا او سني علماء او پوهان په دې مسئلې کې دوه نظرونه لري:

لمړي نظر تحريم او حراموالي

ځنې علماء او پوهان وايې چې د غه ډول بانکونه جوړول بايد په اسلامي نړۍ کې منع شي ځکه له داسې شيدو څخه استفاده کول او ګټه اخيستل حرام دي.

دشيخ ابن عثيمين نه ددې ډول شيدو په اړه پوښتنه شوې وه هغه په جواب کې ويلي و: دا ډول د شيدو بانکونه ترهغې پورې چې د انسان شيدې په کې ساتل کيږي حرامې دي ، ځکه چې د دې ډول شيدود بانکونو په اساس دمينددو شيدې اوحيثيت له منځه ځي اوڅوک نه پوهيږي چې اصلي موريې څوک ده ؟اود دې فلاني مورڅوک ده (۴:۱۲).لکه چې په حديث شريف کې راغلي دي (عن علي قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم ان الله حرم من الرضاع ما حرم من النسب)(۳: ۱/۱۳۲) اسلامي شريعت کې کوم تحريم چې له نسب څخه راځي همغه ډول درضاع نه هم راځي. اوکه چيرې دا شيدې غيرانساني وي نوباک نلري چې که بانک کې جمع شي اوخلک ترينه استفاده وکړي.

دتحريم دلايل:

۱ـ ځني منفي اوسلبي، فني اوعملي شيان شته دي چې تجربوثابته کړې ده چې په دغې بانکونوکې استعماليږي اوهغې ته ښه توجه اوپاملرنه نه کيږي.

۲ـ د اسلام مبارک دين درضاع اهميت زيات ساتلي دي او دې ته ډيرارزښت ورکوي اوڅنګه چې نسب ته ښې مقام ورکړي دي نو په همدې شکل ښې د رضاع په اساس هم تحريم را منځته کړي دي يعنې څرنګه چې په نسب کې تحريم شته نو په همدې شکل په رضاع سره هم تحريم واقع کيږي چې دا د ټولو مسلمانانو په اجماع سره ثابته ده .اوله اسلامي مقاصدوڅخه دا ده چې نسب بايد خراب نه شي اوهمداسې محفوظ بايد پاتې شي اوله بله پلوه دغه ډول دشيدو بانکونه ګډوډي ، اختلاط ، شکونه اوشبهات را پيدا کوي.

۳ـ د اجتماعي ياټولنيزعلاقاتوپه نظرکې نيولوسره د اسلام مبارک دين کوم اشخاص چې هغه کمزوري ، ناقص بدن ولري ، ناقص اعضاء ولري اويا دهغه ماشوم چې بدن ښې خراب اويا دمورشيدې يې کمي اويا بلکل ونه لري نو په دې حال کې ښې ما شوم بچي ورته پوره اړتيا او ضرورت لري نوطبيعي رضاع ورته جايز شوي ده چې هغه د شيدو کوم بانک سره تړاو نه لري اوکولاي شي له هرې ښځې څخه چې وغواړي شيدې اخيستلاي شي اوخپل ژوند پرې سرته رسولي شي.

۴ـ که چيري دغه شيدې خرڅيږي نو د دې د بيع په اړه هم علماء په تحريم اوجوا زکې اختلاف لري لکه چې په حنفي فقه کې ورته جواز نه ورکوي.

(ولايبيع لبن امراة في قدح لانه جزء الادمي وهوبجميع اجزائه مكرم مصون عن الابتذال بالبيع وعند الشافعي يجوزبيعه لانه مشروب طاهر) (۳۳، ۳:۹) ژباړه: دښځې شيدې به په لوښي کې نه خرڅيږي ځکه چې دا د انسان دبدن جزيابرخه ده اودانسان دبدن ټول اجزاوغړي مکرم اوعزتمند دي چې دا به نه خرڅيږي اود امام شافعي په نظرددې بيع جايزه ده ځکه چې دا څکل کيږي اوپاک دي.

دوهم نظرد جواز:

دجوازنظرد شيخ قرضاوي دي هغه وايې چې دې ډول بانکونو کې شرعي مصلحت دي ، اوپه دې سره هغه حاجت ضرورت اوارتيا چې ماشوم ښې ورته لري استفاده کيږي (۲۲:۷).او په دې سره ماشوم دمړينې اوهلاکت نه بچ کيږي.

دجوازدلايل

ددې قايلين يعنې څوک ښې چې په جوازقايل دي هغوي وايې چې:

۱ـ په مشکوکو شيدو باندې رضاع نه ثابتيږي اونه پرې تحريم رامنځته کيږي.نوکه په هرصورت اوهرشکل وي نه پرې محرميت ثابتيږي اونه پرې عدم محرميت.چې دا قول دمعاصروعلماووا وپوهانو دي.

۲ـ او دوي په رضاع کې تعدد درضعاتوهم شرط بولي چې ماشوم به دمورپه سينه باندې خوله ږدي اوپنځه يا زيات کرتې به هغه راکش کوي او چوپوي به ښې اوشيدې به ترينه اخلي اوهغه به دستوني له لاري تيروي(۴:۱۷).

په حديث شريف کې راغلي دي (لاتحرم الرضعة اوالرضعتان اوالمصة اوالمصتان) (۸: ۱/۴۲۹) يعنې حراموالي نه راولي يوه رضعه (يو وارچوپول دتې) اويا (دوه ځلې چوپول) اويا يو وار رودل اويا دوه ځلې رودل اوځنې بيا وايې لکه احناف چې تعدد پکې شرط نه دي لږوي اوکه ډير خوچې معدې ته داخل شي تحريم را ولي دوي دليل په دې ايت کريمه نيسي ({وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ } [النساء: 23] ژباړه: اوهغه ميندې پرتاسې حرامې دي کوموچې تاسې ته شيدې درکړي اوخورلي مودي اوپه حديث شريف کې هم راغلي: (عن علي قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم ان الله حرم من الرضاع ما

حرم من النسب) ۳ : ۱/۱۳۲) يعنې له رضاع څخه هغه څه حراميږي کوم چې له نسب نه حراميږي بې له کوم تعدد اويا جدا والي نه(۲:۹/۳۳۰).

۳ـ دضرورت اواړتيا په حالت کې دغه چې ناقص اوخدج ماشوم ترينه تغذيه شي مگردا شرط دي چې ددې ورکونکي يعني د مورمعرفت بې شوي وي چې ترڅود تحريم علاقه بې ثابته وي يعنې مورېې معلومه وي هغه چاته چې ترينه استفاده کوي ياترينه گټه اخلي.

۴ـ دا دي چې ابن حزم او الليث بن سعد او يو روايت دامام احمد هم دي: چې اساس دمحرميت په رضاع کې امومیت (موروالي) دي لکه چې الله تعالي(ج) هم فرمايلي دي:

{ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ } [النساء: 23]

ژباړه: حرام کړي شوي دي پر تاسو باندي نکاح دميندوستاسو اولوڼو ستاسو اوخويندوستاسو اوترورياتوستاسو اومامي گانوستاسو اوورېږي ستاسي ، اوخورزې ستاسو ، اومينديې ستاسې هغه چې بې درکړي وي تاسوته اوخويندي ستاسو دپيو(شيدو) ورکولودوجهې نه (۵: ۳/۲۲۹).

ددي نه ثابته شوه چې دغه موروالي يواځې له شيدونه منځته نه راځي بلکې دي کې امتصاص (رودل) او التصاق (وصل کيدل) شرط دي ،ترڅو دمورعاطفه، ترحم ثابت ، اوتولد شوي ماشوم که هغه زوي وي اويا لوروي مسئله بې هم روښانه شي .درضاع په مسئله کې په شک سره رضاعت نه ثابتيږي ځکه اصل په اشياوکې اباحت دي نو دا يو مباح عمل دي نه پري رضاع ،اونه نوراحکام ترينه ثابتيږي ، ترهغې پورې چې محقق اوثابت نوراحکام نه وي راغلي ترڅو بې د اباحت څخه ونه باسي. اودې ځاي کې شرعي مصلحت موجوددي چې ددفع د حاجت موضوع هم په نظرکې ونيول شي.

د رضاع ځيني اړين اوضروري مسايل:

دلوي کس په رضاع دعلماواوپوها نو اختلاف نظردي ځني وايي صحيح کيږي خوشيدې به د لوښې په واسطه خوړل کيږي ځکه چې لوي ته د ښځې تي رودل منع دي اوځني بيا وايي نه دي روا ځکه چې ددي وخت معلوم دي چې جمهوريي دوه کاله بولي او احناف يې دوه نيم کاله وايي چې دځنو اقوال په دي اړه بيانوو: قال علماء اللجنة الدائمة :يجوز للزوج أن يستمتع من زوجته بجميع جسدها ، ما عدا الدبر والجماع في الحيض والنفاس والإحرام للحج والعمرة حتى يتحلل التحلل الكامل. يجوز للزوج أن يمص ثدي زوجته ، ولا يقع تحريم بوصول اللبن إلى المعدة .(۲: ۱۹/۳۵۱ـ۳۵۲) .

ژباړه: ميړه ته روادي چې دښځې له ټول بدن څخه نفع اوگټه واخلي ، غيرله دبر(دغټوبولومخصوص اندام)او دحيض اونفاس په وخت کې جماع کول ، اود احرام په وخت کې که د حج يا عمرې وي ترڅو چې پوره حلال شي. اوهم ميړه ته روا دي که دښځې دشيدو ځاي(تي) باندې خوله کښيږدي ، اوکه چيرې بې شيدي گيډې اومعدې ته هم ورسيدلې نوهيڅ نه کيږي.

ښځې ته نه دي جايزچې خپل ځان ديوکار لپاره په اجاره ورکړي اويا پرته دميړه ياخاوند له اجازې څخه بل چاته شېدې ورکړي.

واختلفوا في رضاع الكبير فقال مالک وأبو حنيفة والشافعي وكافة الفقهاء: لا يحرم رضاع الكبير؛ وذهب داود وأهل الظاهر إلى أنه يحرم، وهو مذهب عائشة، ومذهب الجمهور هو مذهب ابن مسعود وابن عمر وأبي هريرة وابن عباس وسائر أزواج النبي عليه الصلاة والسلام(۲:۵۱).

ژباړه: د لوي کس په رضاع کې د علماواوپوهانو اختلاف دي د امام مالک ، ابوحنيفة ،شافعي، او زياتوعلماوله نظره: دلوي کس رضاع اعتبارنه لري ، د اهل ظاهرو ، داود په نزد : حراميږي يعني تحريم را ولي چې دا مذهب دحضرت عايشې ، اودجمهوروپه مذهب چې دا مذهب دابن مسعود ، ابن عمر، ابي هريرة ، ابن عباس اوټولو ازواجو مطهراتو دي.

أن أبا موسى الأشعري أفتى بجواز رضاع الكبير ورد ذلک عليه بن مسعود فقال أبو موسى لا تسألوني ما دام هذا الحبر بين أظهركم وروى مالک عن بن مسعود أنه رجع عن قوله في الربيبة إلى قول أصحابه في المدينة (۴:۱۰)

ژباړه: له حضرت ابې موسي الاشعري (رض) نه ثابت شوې چې نوموړي دلوي کس لپاره درضاع فتوا ورکړې وه ، مگرددې خبرې رد له حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه ثابت شوي دي اوبيا دوي وويل چې ترڅوپورې دا بحرستاسې منځ کې

موجود وي نوله ما څخه پوښتنه مه کوئ. اومالک له ابن مسعود نه روايت کوي چې دي له خپلي خبرې نه دپرکتې په اړه رجوع کړې ده يعنې پرکيتې ته کولاي شي چې شبدې ورکړې.

رضاع په شريعت کي:
رضاع عبارت ده دښځې دهغه شيدونه چې دماشوم بچي ګيدې ته ورسيږي هغه که ماشوم ته مستقيما دتي رودلو په واسطه وي اويا دخولې له لارې وي ، اويا په پوزه کې د اچولو له لارې وي.
رضاع په لغت کي
رضاع يوه عربي کلمه ده درضع رضعا ،رضاع و رضاعة څخه اخستل شوې ده په معنا دشبدې ورکولو سره ، يا ارتضع الولد امه ، امتص ثديها اوضرعها فهو راضع جمع يې رضع دي يعنې ماشوم ته مورشيدې ورکړي اووې رودله اويا يې ددې سينې وچوپلې اويا يې دشبدوله ځاي څخه شيده حاصل کړه ، چې ماشوم راضع دي اوجمع يې رضع ده داټول په معنا دشيدې خوړلو سره ده اوچې شبدې ورکوي هغې ته مرضعة جمع يې مرضعات ومراضع وايي (۱۱:۲۹۷).
رضاع په اصطلاح کي
رضاع عبارت دي دښځې له خوانه يوماشوم ته چې ددوه يادوه نيم کالوپه موده کې شيدې په مستقيم ډول يا دلوښي ،يا دپوزې له لارې دري يا پنځه ځلې ورکړل شي او د ماشوم معدې ته داخلې شي ويل کيږي.
درضاع اندازه: لږه اوډيره يوشانته حکم لري (قليل الرضاع وکثيره سواء اذا حصل في مدة الرضاع يتعلق به التحريم)(۹:۳۳۰) ژباړه: لږتي رودل اوډيرسره برابردي کله چې درضاع په موده کې ترسره شي نوتحريم ورپورې اړه اوتعلق نيسي ، اوددي موده دامام ابوحنيفه(رح) په نزد ديرش مياشتې يادوه نيم کاله ده اوکه کله يې دغه موده تمامه شي نوبيا يې رضاع اهميت نه لري اوتحريم پرې نه ثابتيږي.
درضاع موده: دامام ابوحنيفه(رح) په نزد دوه نيم کاله ده اودليل په دي ايت کريمه نيسي(وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا حَتَّى إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ [الأحقاف: 15] ژباړه: دماشوم پورته کول دولادت په وخت کې اوله دتي څخه يې بيلول ديرش مياشتي دي ترڅوپورې چې بلوغ ته ورسيږي. (ثم مدة الرضاع ثلاثون شهرا عند ابي حنيفه وقالا سنتين (۹: ۳۳۰) دوه نيم کاله يا ديرش مياشتې ده اودامام ابويوسف اومحمد په نزد دوه کاله ده. د امام شافعي اودجمهورعلماوپه نزد: دوه کاله موده درضاع ده اواستدلال په دي ايت کريمه نيسي (قوله تعالى: {وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ} {لقمان:14} يعني دماشوم له تي څخه جداکيدل دوه کاله دي ، وفي قوله: {وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ} {البقرة:233} يعني ميندې يې به خپل اولاد ته دوه پوره اوکامل کلونه شبدې ورکوي.
د مرضعي اجوره
دمرضعي (تي ورکونکي) اجوره به ورکول کيږي اودا به يواځې په ميړه وي يعنې دماشوم په پلار لکه چې الله تعالي(ج) هم پدي اړه فرمايلي دي:
(وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ) {البقرة: ۲۳۳}.
والمولود له: الأب، ورزقهن: الأمهات ژباړه: اوپه پلارد بچي باندي لازمه ده خوراک دهغوي لباس دهغوي دعرف موافق به يې ميندوته ورکوي (۵:۲۰۲).
{ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ } (الطلاق: ۲)ژباړه: اوکه چيرې يې تاسې ته شيدې درکړې نوبيا هغوي ته خپله مزدوري او اجوره ورکړئ.
درضاع تحريم: کوم اشخاص چې دنسب په اساس يوپربل باندي حراميږي نوپه رضاع کې هم دغه تحريم ثابتيږي (عن علي قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم ان الله حرم من الرضاع ما حرم من النسب)(۳:۱۳۲) ژباړه: حضرت علي رضي الله عنه ويلي دي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: په تحقيق سره الله تعالي حرام ګرځولي له رضاع نه کوم بې چې دنسب نه حرام ګرځولي دي.

او په يو بل روايت کې هم راغلي دي (عن عايشة قالت قال رسو ل الله صلي الله عليه وسلم يحرم من الرضاعة ما يحرم من الولادة)(۸: ۱/۴۲۲) ژباړه: د حضرت عايشي رضي الله عنها څخه روايت دي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: (کوم چې له ولادت نه حراميږي همداسې هم درضاع نه حراميږي).

د شبدو ګډوالي: که د ښځې شيدې له اوبو سره ګډې شي اوبيا ماشوم بچي ته ورکول شي نو که اوبه ډيرې وي او شيدې لږې وي تحريم نه ثابتيږي او که شيدې ډيرې وي او اوبه کمې وي نو تحريم ثابتيږي. او که چيرې شيدې له طعام سره ګډې شي نو په دې صورت کې اګرکه شبدې پرې غالبي هم وي نود امام ابو حنيفه (رح) په نزد تحريم نه رامنځته کوي. او امام ابو يوسف او محمد په نزد که شيدې غالبي وي نو تحريم رامنځته کوي. او که چيرې شيدې له دواء سره ګډې شي او دوا غالبه وي نو تحريم نه رامنځته کوي او که شيدې پرې غالبې وي نو تحريم رامنځته کوي. او که چيرې دغه شبدې د حيواناتو له شبدو سره لکه دغوا، مينښې، يا ګډې له شيدو سره يوځاي شي نو که د انسان شبدې پرې غالبې وي نو تحريم رامنځته کوي او که د حيوان شبدې پرې غالبې وي او ماشوم ته ورکول شي نو بيا تحريم نه رامنځته کوي. او که چيرې د دوه ښځو شبدې سره يوځاي اوګډې شي نو په دې صورت کې خو مطلق تحريم رامنځته کيږي مګرکه د هرې يوې شبدې غالبې وي تحريم هغې خواته ځي او د بلې شبدې ورکول معنا نلري او که په جدا توګه د هرې يوې ورکړل شي نو بيا تحريم را منځته کوي. او که د مړې ښځې شبدې يو ماشوم ته ورکول شي نو تحريم رامنځته کوي. او که چيرې د ماشوم د مخصوص اندام له لارې شبدې داخل شي نو بيا تحريم نه را ولي ځکه چې دغه ډول شبدې معدې ته نه رسيږي او نه کومه نمو ترسره کيږي. او که چيرې د يو کس دوه ښځې وي چې يوه يې ډيره کوچنۍ وي او مشره ښځه ورته شبدې ورکړي نو دواړه پرې حراميږي(۹: ۳۳۱-۳۳۲).

پايله:

له پورته بحث نه مونږته دا نتيجه او پايله په لاس راځي که چيرې د ضرورت او اړتيا په وخت کې د شبدو جوړشي نو بهتره به وي ځکه اکثره خلک او يا فاميلونه د ماشومانو لپاره مصنوعي شبدې له بازاره رانيسي او بيا يې ماشوم ته ورکوي چې اکثره وخت ماشوم ته ګټه نه رسوي يا کمه ګټه رسوي.

نو که د دې ډول شيدو څخه استفاده وشي او ګټه واخيستل شي بله دا چې نن سبا ډيرحالت بد دي په ټوله نړۍ کې جنګونه دي نو هغه مېندې چې د دې جګړو قرباني کيږي نو د هغوي ماشومان او کوچنيان همداسې بې سرنوشته پاتې کيږي نو کولاي شي دغه بانکونه له هغوي سره بې عوضه او يا په عوض سره مرسته وکړي.

تر څو د دې ماشوم ژوند وژغورل شي او هم ورسره انساني عاطفه شوې وي او بله دا چې که څوک دا کارکوي نو بهتره به دا وي لکه چې د علماو د اختلاف نظر وجه همدا وه چې انساني نسل او خصوصا د تحليل او تحريم مسئله به هم خرابه نشي او بلکې د هغې په اړه به يې پوره احتياط نه کار اخستي وي. نو له دې بحث څخه نتيجه ګيري دا شوه چې له احتياط سره به دا کارښې پايلې ولري او ټولنه به له دې ناحيې نه هم يو څه مطمينه شي فايده او ګټه به يې خصوصا ماشومانو ته چې اړتيا ورته لري ورسيږي.

وړانديزونه:

۱. د شبدو بانکونه که د ضرورت او اړتيا په اساس جوړشي ښه کاردي، مګرکه له کومې ښځې څخه که په هره طريقه اخستل کيږي او د هغې بوتل د پاسه د هغې مکمل ادرس موجود وي او کوم څوک چې ترينه استفاده کوي او ګټه اخلي هغوي ته ورکول شي تر څو هغه له ځان سره وساتي بهتره به وي.

۲. له اړتيا نه پرته بايد دا ډول شبدې استعمال نه شي ځکه بيا هم په کې يو څه خطر موجود يږي.

۳. عموما د رضاع موضوع يوه مهمه او خطرناکه موضوع ده چې پرته له اړتيا او ضرورته بايد په فاميلونو کې زنانه يود بل څخه ترينه ځان وساتي.

۴ـ که کومې ښځې په خپلوکورونو کې دا کارکوي او يا يې کړي وي چې دبل ماشوم ته يې شېد ې ورکړې وي نوبيا په کارده چې هغه پټ نکړي اويا يې له ځان سره وليکي اوټول فاميل يې تا ريخوار، له ځانه سره وساتي اوهم پرې شاهدان ونيسي نودا به ښه کار وي.

ماخذونه:

۱ـ القران الكريم.

۲ـ ابن رشد ،محمدبن احمدبن محمدبن احمد.( ).بداية المجتهد ، القاهرة :دارالحديث.

۳ـ الترمذي ، ابوعيسي بن السوره (۲۷۹)سنن الترمذي ، دهلي: كتب خانه رشيديه.

۴ـ جامعة الامام محمدبن سعود .(الموسوعة الميسرة في القضايا المعاصرة (فقه الاسرة)،. (۲۰۱۴). الرياض.

۵ـ الرستمي ، ابي ذكريا عبدالسلام.( ).تفسيراحسن الكلام ، پيښور: جامعة عربية لاشاعة التوحيد ،بډه بيره.

۶ـ الشيخ عبد العزيز بن باز ، الشيخ عبد الله بن قعود .( ). فتاوى اللجنة الدائمة ،الرياض .

۷ـ القرضاوي ،بنوک الحليب.( ).مجلة مجمع الفقه الاسلامي ، نسخة الالكترونية.

۸ـ القشيري ،مسلم بن حجاج ين مسلم.( ).صحيح مسلم ،كراچي: ناشر:قديمي كتب خانه .

۹ـ المرغيناني ، برهان الدين.( ). الهدايه. هند: ناشريوسفي لكهنوي.

۱۰ـ النمري ، ابوعمر.( ).الاستذكار، السعودي.

۱۱ـ لويس ،معلوف.(۱۳۲۵).المنجد في اللغة ،جزء۲، تهران: چاپ دوم ،چاپ خانه معراج.

پوهنـــدوی دوکتـــور عزيزالـــرحمن مکـــي
شـــــــــرعياتو پـــــــــوهنځی
تقريظ ورکوونکی: پوهاند دوکتور دل آقا وقار
د شـــــرعياتو پـــــوهنځي اســـــتاد

مرسل الصحابي

(د صحابي هغه روايت چې د نبي عليه السلام څخه يې نېغ په نېغ نه وي روايت کړی)

نظري او تطبيقي څېړنه

لنډيز:

مرسل الصحابي د اصول حديث او اصول فقه د هغو مسائلو څخه ده چې علماء يې د حجيت په هکله دوه مختلف نظرونه لري، ټول محدثين او د اصول فقه د علماؤ غوڅ اکثريت په دې نظر دي چې هغه حجت دی، او استدلال پرې کيږي، ځکه چې صحابه ټول عدول دي، او د صحابي دنوم نه يادونه کوم باک نه لري، خو يو شمير د اصول فقه علماء په دې نظر دي چې مرسل الصحابي د نورو راويانو د مرسل په څير ضعيف او حجت نه دی او استدلال پرې نه شي کيدای، په دې ليکنه کې دغه موضوع په نظري او تطبيقي ډول د موثقو دلايلو پر بنسټ څېړل شوي ده چې لوستونکو ته وړاندې کيږي.

موخې:

دمرسل الصحابي د حجيت بيان په نظري او تطبيقي توګه، د مرسل حديث سره يې توپير، او د هغو علماؤ د دلايلو ارزونه چې د مرسل الصحابي د حجيت په هکله مخالف نظر لري.

سريزه:

صحابه کرام د رسول الله صلی الله عليه وسلم نږدې ملګري او د اسلام د مقدس دين خپروونکي او په دې لار کې سربښندونکي دي، د هغوی د عدالت مسأله د اهل سنت و جماعت د عقيدې يوه برخه ده، او الله تعالی په دې هکله د قرآن کريم په ډېرو آياتونو کې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په متعددو احاديثو کې ورڅخه يادونه شويده، چې زه يې د بيلګې په توګه ديو آيت او يو حديث په راوړلو اکتفاء کوم.

الله تعالی فرمايي: (وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ) التوبة، ١٠٠ آيت.

ژباړه: او د مهاجرينو او انصارو څخه اولين او هغو کسانو چې په نيکۍ سره يې ددوی پيروي کړي الله تعالی ورڅخه راضي دی، او هغوی د الله تعالی څخه راضي دي.

او په هغه حديث کې چې ابو سعيد خدري د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی راغلي: (لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ) (٧: ٥/ ٨).

ژباړه: زما اصحابو ته ښکنځل مه کوئ، که چيرته ستاسې کوم يو د احد د غره هومره سره زر صدقه کړي د هغوی يوې لپې يا نيمې لپې صدقې ته نه رسيږي.

او د اسلامي امت په دې اجماع ده چې ټول صحابه عدول دي ، او د عدالت په اړه يې پوښتني ته اړتيا نشته.

نو ددې قاعدې پر بنسټ که کوم صحابي د بل صحابي له لارې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه کوم حديث روايت کوي او د صحابي نوم نه ذکر کوي باک نه لري، ځکه چې د صحابه وو له کردار څخه دا جوته شوي چې هغوی په هيڅ صورت رسول الله صلی الله عليه وسلم ته هغه څه نه منسوبوي چې صحت ونه لري، دغه ډول حديث ته داصول فقه او اصول حديث

علماء مرسل الصحابي وايي، او د هغوی غوڅ اکثريت په دې عقيده دي چې مرسل الصحابي صحيح او حجت دی، خو په اسلامي امت کې يو څو علماء يې بيا حجت نه بولي او د عام مرسل حديث په نظر ورته ګوري.
ما په دې ليکنه کې دغه موضوع په نظري او تطبيقي توګه څيړلې، او د دواړو خواؤ دلايل او نظرونه مې بيان کړي دي، تر څو لوستونکو ته په دې هکله وضاحت وشي.
ددې ليکنې توکي دادي:
لنډيز
سريزه
موخې
منځپانګه
نتيجه
مناقشه
وړاندیزونه
خلاصة البحث (عربي)
مأخذونه

نظري څيړنه:
د مرسل الصحابي پېژندنه:
لغوي پېژندنه: مرسل د عربي ژبې کلمه او د اسم مفعول صيغه ده چې معنا يې ده: خوشي (ايله) شوی.
صحابي: عربي کلمه ده او د صحبت څخه اخيستل شوې چې د ملګرتيا په معنا ده.

د مرسل اصطلاحي پېژندنه:
مَا سَقَطَ مِنْ آخِرِهِ مَنْ بَعْدَ التَابِعِي. (۳: ۲۳).
ژباړه: مرسل هغه حديث ته ويل کيږي چې د اسناد د آخر څخه يې د تابعي پسې شخص (صحابي) ساقط شوی وي.
د صحابي اصطلاحي پېژندنه:
مَنْ لَقِيَ النَبِي صلّى الله عليه وسلم مُؤْمِنًا بِهِ وَمَاتَ عَلى الاسْلام. (۳: ۳۷).
ژباړه: هغه څوک چې د نبي عليه السلام سره په داسې حال کې مخامخ شوی وي چې ايمان پرې ولري او پر اسلام مړ شي.
د مرسل الصحابي اصطلاحي پېژندنه:
هو مَا يَرْوِيهِ الصّحَابِي عَنِ النَبِي صلى الله عليه وسلم ولَمْ يَسْمَعْهُ مِنْهُ، إمّا لِصِغَرِ سِنّه، أَوْ تَأَخُّرِ إِسْلامِهِ أَوْ غِيَابِهِ عَنْ شُهُودِ ذَلِكَ. (۱۳: ۳۷۳).
ژباړه: مرسل الصحابي هغه حديث ته ويل کيږي چې صحابي يې د نبي عليه السلام څخه روايت کوي او ترې اوريدلی يې نه وي، د نه اوريدلو علت د صحابي کوچنيوالی ، يا وروسته اسلام راوړل او يا هم غياب وي.
د مرسل الصحابي حکم:
د مرسل الصحابي د حجيت په هکله دوه نظرونه دي:
لومړی: د اصول فقه د ځينو علماؤ نظر:
دوی وايي: د صحابه ؤ مراسيل د قبول وړ نه دي، نه له دې کبله چې د هغوی د عدالت په هکله څه شک دی، بلکه له دې کبله چې کېدای شي د هغوی ځينې د تابعينو يا هم د داسې اعرابي څخه روايت وکړي چې نه به يې صحابي توب معلوم وي، او نه يې هم عدالت ، له دې کبله د هغوی پر مراسيلو بايد عمل ونه شي، مګر که صحابي وويل چې: زه تاسو ته د رسول الله او يا هم د صحابي څخه پرته د بل چا څخه روايت نه کوم، په دې صورت کې يې د مرسل قبلول لازم دی. (۱۰: ۳۸۵). (دغه علماء

عبارت دي له: ابو بکر الباقلاني، ابو اسحاق الاسفرائيني، ابو الحسن ابن القطان او ابو الفتح احمد بن علي بن برهان. (۱:۲/ ۲،۱۵۴/ ۵۴۷-۵۴۸).

دويم نظر: ټول محدثين او د اصول فقه د علماؤ قاطع اکثريت او د اسلامي امت بې شمېره علماء په دې نظر دي چې: مرسل الصحابي صحيح او حجت دی.

دوی د خپل نظر د تأييد لپاره د مشهور صحابي براء بن عازب پر دې قول استدلال کوي چې وايي: (لَيْسَ كُلُّنَا سَمِعَ حَدِيثَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَتْ لَنَا ضَيْعَةٌ وَأَشْغَالٌ وَكَانَ النَّاسُ لَمْ يَكُونُوا يَكْذِبُونَ يَوْمَئِذٍ فَيُحَدِّثُ الشَّاهِدُ الغَائِبَ). (۱۰: ۳۸۵).

ژباړه: موږ ټولو د رسول الله څخه احاديث نه دي اوريدلي، ځکه چې موږ کرنيزې ځمکې او مصروفيتونه درلودل، او هغه وخت خلکو دروغ نه ويل، حاضر سړي به غائب سړی خبراوه.

د براء بن عازب د دې خبرې تأييد د عمر بن الخطاب هغه حديث کوي چې امام بخاري د خپل صحيح په کتاب العلم، باب التناوب في العلم کې روايت کړی دی:

(عَنْ عُمَرَ قَالَ: كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ وَهِيَ مِنْ عَوَالِي المَدِينَةِ وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِخَبَرِ ذَلِكَ اليَوْمِ مِنَ الوَحْيِ وَغَيْرِهِ ، وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ). (۷: ج۱، ص ۴۶).

ژباړه: عمر بن الخطاب وايي: زه او يو انصاري ګاونډي مې د مدينې منورې د عوالي د سيمې په بني امية کې اوسيدلو، موږ دواړو رسول الله ته د ورتګ لپاره نوبت ايښی وو، يوه ورځ به هغه او يوه ورځ به زه ورتلم، کله به چې زه ورغلم د هغې ورځې د وحې او نورو پېښو خبر به مې ورته راوړ، او هغه به چې کله ولاړ همدا شان کړنه به يې سر ته رسوله.

اعتراض او ځواب يې:

د مرسل الصحابي ردوونکي داسې ګمان کوي چې ددې احتمال شته چې صحابي دې حديث د نبي عليه السلام څخه اوريدلي وي، او يا دبل صحابي څخه او يا هم د ثقة يا ضعيف تابعي څخه، نو ددې احتمالاتو په صورت کې څرنګه کيدلای شي چې حجت وګڼل شي؟

ددې ځواب دادی: کله چې صحابي ووايي: رسول الله داسې فرمايلي دي، نو په ظاهر کې دا په دې دلالت کوي چې هغه حديث د نبي عليه السلام څخه او ياهم د بل صحابي څخه اوريدلی دی، خو دا احتمال چې هغه دې د کوم ضعيف تابعي څخه اوريدلی وي ډېر لږ دی، او پر نوموړي ظاهري حالت څه اثر نه غورځوي، او که فرضا روايت يې هم کړی وي، نو په دې صورت کې هغه دا بيانوي او همداسې يې نه پرېږدي.

حافظ ابن حجر وايي: د تابعينو څخه د صحابه ؤ روايات ما وپلټل ما هيڅ داسې ضعيف روايت ونه موند چې صحابه ؤ دې د تابعينو څخه په احکامو کې روايت کړی وي، او دا په دې دلالت کوي چې د هغوی روايت د تابعينو څخه ډېر کم او په نشت حساب دی. (۲: ج۲، ص ۵۷۰).

امام بخاري په صحيح البخاري کتاب العلم کې د (باب قول المحدث حدثنا أو أخبرنا أو أنبانا) تر عنوان لاندې يو شمير احاديث او آثار ذکر کړي دي، حافظ ابن حجر په فتح الباري کې پرې داسې ليکنه کړې: ددې آثارو د راوړلو څخه د امام بخاري مطلب دادی چې د صحابه ؤ مراسيل حجت دي، ځکه په هغه څه کې چې نبي عليه الصلاة والسلام د خپل رب سره مستقيما خبرې نه وي کړي لکه د اسراء او معراج په شپه کې نو منځګړی په کې جبرائيل عليه السلام دی، او هغه په قطعي توګه د منلو وړ دی، او د نبي عليه السلام او صحابي ترمنځ منځګړی په اتفاقي توګه مقبول دی ځکه هغه بل صحابي دی، البته دا په هغو احاديثو کې چې د احکامو پوري اړه لري، ځکه ددې پرته په نورو احاديثو کې کيدای شي صحابي يې د کعب الاحبار په شان دځينو تابعينو څخه روايت کړی وي. (۱: ۱/ ۱۴۴).

تطبيقي څېړنه:

د موضوع د لا زيات وضاحت او د راجح قول د تأييد لپاره مې په تطبيقي څېړنه لاس پورې کړ، ددې څېړنې لپاره مې د عبد

الله بن عباس احاديث تر څېړنې لاندې ونيول. د نوموړې څېړنې د مخه لازمه بولم چې نوموړی صحابي لوستونکو ته وروپيژنم او بيا څېړنې ته راشم .

عبد الله بن عباس د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تره زوی دی، د هجرت څخه درې کاله دمخه په مکه مکرمه کې زيږيدلی دی، هغه مهال چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د قريشو له خوا تر محاصرې لاندې وو ، په دې هکله د ابن عباس څخه را نقل شوي دي: زه هغه مهال وزيږيدم چې بني هاشم د قريشو له خوا محاصره شوي وو). (۵: ۲/ ۳۴۳).

د عبد الله بن عباس د کوچنيوالي او په ځانګړي توګه د مکي دورې د ژوند په هکله ډېر څه نشته، تر لاسه شوي معلومات دادي چې د مکې د فتحې د مخه د اسلام مقدس دين د عباس کورنۍ ته داخل شوی وو ، عباس او ښځه يې ام الفضل لبابة دواړه د اسلام په مقدس دين مشرف شوي وو ، د سيرت النبي مشهور ليکوالان د ابورافع څخه روايت کوي چې وايي: زه د عباس بن عبد المطلب مريی وم، او د اسلام مقدس دين زموږ کورته داخل شوی وو ، عباس ، ښځې يې او ما اسلام راوړی وو.، خو عباس د خپل قوم له وېرې اسلام نه ښکاره کاوه، او د هغوی سره يې مخالفت بد ګاڼه، او کله چې مسلمانان د بدر په غزا کې پر قريشو برلاسي شول، عباس خوښي ښکارواله (۱۲: ۲۸۳).

عبد الله بن عباس د هجرت په اتم کال د مکې مکرمې د فتحې څخه لږ دمخه د خپل پلار عباس سره مدينې منورې ته د هجرت لاره ونيوله ، خو د جحفي په سيمه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په داسې حال کې مخامخ شول چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې مکرمې د فتحې لپاره د يو لوی لښکر سره راروان وو ، دوی دواړه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره بېرته د مکې مکرمې د فتحې لپاره را ستانه شول، او د مکې مکرمې په فتحه کې يې ونډه واخيسته، او تر دې وروسته د حنين او طائف په غزاګانو کې يې هم ګډون وکړ. (۲: ۲۲۸).

د مکې مکرمې د فتحې وروسته عبد الله بن عباس مدينې منورې ته هجرت وکړ، او په مدينه منوره کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر وفات پورې هلته ميشت شو ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د عبد الله بن عباس د صحبت موده دوه نيم کاله يعنې (۳۰) د برش مياشتې وه، امام بخاري د سعيد بن جبير څخه روايت کړی چې د ابن عباس څخه پوښتنه وشوه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفات پر وخت څومره وې ؟ ابن عباس وويل: زه هغه مهال سنت شوی وم، په هغه وخت کې به چې څوک مراهق شوی نه وو نه به يې سنت کاوه (۷:۷ ج، ص ۱۴۴).

حافظ ابن حجر وايي: د ابن عباس په هکله صحيحه خبره هم داده چې هغه د هجرت څخه درې کاله دمخه زيږيدلی، او د نبي عليه السلام دوفات په وخت کې يې عمر (۱۳) ديارلس کاله وو. (۴: ج ۴، ص ۱۴۲).

عبد الله بن عباس د هجرت په (۲۸) کال په طائف کې مړ شو او هما غلته خښ کړی شو ، اوس يې هم قبر هلته معلوم دی.

عبد الله بن عباس درسول الله صلی الله عليه وسلم د ښينې زوی هم وو ، ځکه خاله يې ميمونة د نبي عليه السلام ښځه وه، او له دې کبله به کله کله د خپلې خاله په کوټه کې د نبي عليه السلام سره د شپې ويده کيده، نبي عليه السلام په عبد الله بن عباس کې د هوښيارۍ نښې نښانې درک کړې وې، او هغه ته يې دا دعاء کړې وه: (اللهم فهمه في الدين ، اللهم علمه التأويل) (۸: ج۳، ص ۲۵۸).

ژباړه: ای الله په دين کې پوهه ورپه برخه کړې، ای الله د تأويل (تفسير او وضاحت) پوهه ورپه برخه کړې.

د نبي عليه السلام دعاء د هغه په هکله قبوله شوه، او هغه د ډېر علم او پوهې نه برخورداره شو ، تر دې چې ترجمان القرآن او حبر الامة په لقب پېژندل کيده.

د ابن عباس مشهور شاګرد مجاهد بن جبر وايي: ابن عباس ته د علم د زياتوالي له کبله بحر ويل کيده (۴: ج ۴، ص ۱۴۳).

د عبد الله بن عباس د روايت کړو احاديثو شميره:

د اسلامي امت علماؤ د نبوي احاديثو د هر اړخيز خدمت په ترڅ کې د نبوي احاديثو د زيات شمير روايت کوونکي صحابه په ګوته کړي دي، او د غه شمېره يې اوو تنو ته رسولې ده، او ددې معيار هغه راويان دي چې د (۱۰۰۰) د زرو څخه زيات احاديث يې روايت کړي دي، په هغوی کې لومړی مقام د ابوهريرة رضي الله عنه دی چې (۵۳۷۴) احاديث يې روايت کړي، او آخرنی مقام د ابو سعيد خدري دی چې (۱۰۲۰) احاديث يې روايت کړي دي، عبد الله بن عباس د هغو اوو (۷) صحابه ؤ په

کتار کې چې ډېر شمېر احاديث يې روايت کړي پنځم مقام لري، او د احاديثو ټوله شميره يې (۱۲۲۰) يو زر شپږ سوه شپيته ده (۱۱: ۱۷۲)،

په داسې حال کې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د هغه د اوريدلو احاديثو او هغو احاديثو شميره چې د اوريدل شويو احاديثو په حکم کې دي ډېر لږ دي.

د عبد الله بن عباس د مقام او منزلت په نظر کې نيولو سره علماؤ د هغه د اوريدل شويو احاديثو قضيې ته ځانګړې پام اړولی دی، امام سفيان بن عيينة د هغه د يو حديث د روايت نه وروسته چې امام بخاري په خپل صحيح کې روايت کړی دی وايي: دا د هغو احاديثو له جملې څخه دی چې عبد الله بن عباس د نبي عليه السلام څخه اوريدلي دي. (۷: ج ۸، ص ۱۳۲).

البته هغه د اوريدل شويو احاديثو لپاره کومه شمېره نه ده ذکر کړې.

د عبد الله بن عباس د اوريدل شويو احاديثو په هکله علماؤ مختلف نظرونه ورکړي دي، امام ابو حامد محمد الغزالي د عبد الله بن عباس د اوريدل شويو احاديثو شميره (۴) ښوولي ده (۱۴: ۳۱۹)، او امام يحيى بن معين او امام ابو داود ويلي چې شمېر يې نهو احاديثو ته رسيږي، او يو بل عالم محمد بن جعفر غندر (۱۰) لس ښوولي دي، حافظ ابن حجر د خپل يوه استاد د استاد له قوله چې نوم يې نه دی ښوولی ليکلي چې شمېر يې له شلو څخه کم دی ، حافظ ابن حجر تر دې وروسته وايي: ما دابن عباس اوريدل شوي احاديث وپلټل او څه د پاسه څلويښت احاديث شول (۱: ج ۱۱، ص ۳۹۰).

ما په خپل وار د ابن عباس ټول هغه احاديث چې د نبي عليه السلام څخه يې اوريدلي د احاديثو په ګڼ شمېر کتابونو کې وپلټل، او د ابن حجر د ذکر شوې شمېرې څخه مې څه اضافه احاديث وموندل چې مجموعي شمېره يې پنځوس(۵۰) احاديث شول ، په دې احاديثو کې دوه ډوله احاديث شامل دي:

لومړی: هغه احاديث چې په هغو کې داوريدنې (سماع) لفظ په صراحت سره ذکر شوی او شمېر يې يو څلويښت (۴۱) حديثونو ته رسيږي.

دويم: هغه احاديث چې د اوريدنې (سماع) په صريحه صيغه نه دی روايت شوی. بلکه د سماع په حکم کې دي، ځکه چې له داسې احاديثو څخه عبارت دي چې د ابن عباس په موجوديت کې رسول الله صلی الله عليه وسلم بيان کړي، يا يې کوم کار ترسره کړی او ده بيان کړی، يا يې ابن عباس ته د کوم کار د ترسره کولو امر کړې وي، ددې ډول احاديثو شميره نهو (۹) احاديثو ته رسيږي.

د ذکر شوې شمېرې ټول احاديث په صحيحينو او د سننو او مسانيدو په کتابونو کې روايت شوي چې تفصيل يې دادی:

۱- هغه احاديث چې د سماع په صريحه صيغه روايت شوي:

تعداد	مصدر
۱۱	صحيح بخاري او صحيح مسلم [۴۲]
۲	د سننو کتابونه [۴۳]
۲۴	د مسانيدو او معاجمو کتابونه [۴۴]

(۴۲) وګورئ: صحيح البخاري ۲/ ۲۵۴ حديث شميره ۱۷۴۴، ۲/ ۷۷۵ حديث شميره ۲۱۱۲، ۳/ ۱۰۹۴ حديث شميره۲۸۴۴، ۵/ ۲۳۲۴ حديث شميره ۲۰۷۳، ۵/ ۲۳۹۱ حديث شميره ۲۱۵۹-۲۱۲۰، ۲/ ۲۵۲۲ حديث شميره ۲۵۰۰. صحيح مسلم: ۱/ ۲۷۷ حديث شميره ۳۲۲، ۱/ ۳۵۵ حديث شميره۴۹۲، ۱/ ۵۱۸ حديث شميره ۷۵۳، ۲/ ۲۵۵ حديث شميره ۹۴۸۱، ۲/ ۷۲۵ حديث شميره ۱۰۴۹، ۲/ ۸۳۵ حديث شميره ۱۱۷۸، ۲/ ۹۷۸ حديث شميره ۱۳۴۱، ۳/ ۱۲۴۱ حديث شميره ۱۲۲۲، ۳/ ۱۲۷۱ حديث شميره ۲۱۱۰، ۴/ ۲۱۹۴ حديث شميره ۲۸۲۰.

(۴۳) وګورئ: سنن الترمذي ۲/ ۴۷۲ حديث شميره ۵۷۹، ۳/ ۳۷۲ حديث شميره ۱۰۲۲، ۴/ ۱۷۵ حديث شميره ۱۲۳۹، ۵/ ۴۸۲ حديث شميره ۳۴۱۹. سنن النسائي ۷/ ۸۵ حديث شميره ۳۹۹۹، ۷/ ۳۸۵ حديث شميره ۴۵۹۸، ۸/ ۲۳ حديث شميره ۴۸۲۲. سنن ابن ماجه ۱/ ۳۳۴ حديث شميره ۱۰۵۳، ۲/ ۸۷۴ حديث شميره ۲۲۲۱.

۲- هغه احاديث چې د سماع په حکم کې دي:

تعداد	مصدر
۴	بخاري او مسلم [۴۵]
۴	د سننو کتابونه [۴۶]
۳	مسانيد [۴۷]

له بله پلوه د پورتنيو احاديثو څخه د قوت او ضعف له لوري:

تعداد	حکم
۱۵	صحيح
۴	اسناد يې صحيح دی
۲	حسن
۱۱	ضعيف
۲۵	نا څرګند دی (حکم پرې نه دی شوی).

نتيجه:

د پورته بيان څخه دا څرګندېږي چې درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د ابن عباس د اوريدل شويو احاديثو مجموعه د هغه د ټولو رواياتو په پرتله (۳ ٪) سلنه جوړوي.

خو محدثينو د هغه د اوريدل شويو او نا اوريدل شويو احاديثو ترمنځ هيڅ توپير نه دی کړی، او يوا ځينی شی چې په دې مورد کې ورته اعتبار ورکړل شوی هغه د ابن عباس پورې د سند صحت دی.

دا نتيجه په خپل وار د هغه حقيقت څرګندونه کوي چې محدثين او د اصول فقه علماؤ پرې شبه اتفاق لري او هغه دا چې مرسل الصحابی د موصول حديث حکم لري، او هغسې احتجاج پرې کيږي لکه په خپله چې يې اوريدلی وي، او په دې مورد کې د يو، دوه، درې تنو علماؤ خبره د يادونې وړ نه ده.

دلته يوه بله خبره هم د يادونې وړ ده او هغه دا چې ابن عباس کله نا کله د خپلو نا اوريدلو ځينو احاديثو په هکله پوښتل شوی دی نو دا يې په ډاګه کړې چې نوموړی حديث يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نه دی اوريدلی، بلکه د فلاني صحابي څخه يې اوريدلی دی، د مثال په ډول د (ربا النسيئة) حديث چې د هغه په هکله يې ويلي دي، د اسامة بن زيد څخه مې اوريدلی دی.(۷: ج ۳، ص۹۸).

يا په حج کې د تلبيې حديث چې ويلي دي: د خپل ورور الفضل بن عباس څخه مې اوريدلی دی (۹: ۲/ ۲۰۴).

([۴۴]) وګورئ: دامام احمد مسند ۱/ ۲۹ حديث شميره ۲۷۱۵، ۱/ ۲۳۱ حديث شميره ۲۰۵۰، ۱/ ۲۵۷ حديث شميره ۲۳۲۷، ۱/ ۳۱۲ حديث شميره ۲۸۹۹، ۱/ ۳۵۲ حديث شميره ۳۳۰۱. المعجم الکبير د سليمان بن احمد الطبراني ۱۱/ ۱۹۲ حديث شميره ۱۱۴۲۵، ۱۱/ ۲۰۳ حديث شميره ۱۱۴۹۸، ۱۱/ ۴۵۰ حديث شميره ۱۳۲۷۸، ۱۲/ ۹۷ حديث شميره ۱۲۵۹۱.

([۴۵]) وګورئ: صحيح البخاري ۱/ ۴۱ حديث شميره ۷۵، ۱/ ۲۲ حديث شميره ۱۴۳، ۱/ ۲۰۸ حديث شميره ۵۴۵، ۱/ ۳۱۴ حديث شميره ۸۸۵، ۳/ ۱۳۲۷ حديث شميره ۳۴۲۹، ۳/ ۱۳۷۱ حديث شميره ۳۵۴۲، ۲/ ۲۲۵۳ حديث شميره ۲۸۴۲.. صحيح مسلم: ۱/ ۴۴۴ حديث شميره ۲۴۲، ۴/ ۱۹۲۷ حديث شميره ۲۴۷۷، ۴/ ۲۰۱۰ حديث شميره ۲۲۰۴.

([۴۶]) وګورئ: سنن ابو داود ۱/ ۵۲ حديث شميره ۲۰۲، ۳/ ۳۳۹ حديث شميره ۳۷۳۰. سنن الترمذي ۱/ ۱۱۱- ۱۱۲ حديث شميره ۷۷، ۴/ ۲۲۷ حديث شميره ۲۵۱۲، ۵/ ۵۰۲ حديث شميره ۳۴۵۵. سنن النسائي ۵/ ۲۲۸ حديث شميره ۳۰۵۷.

([۴۷]) وګورئ: دامام احمد مسند ۱/ ۲۴۵ حديث شميره ۲۲۰۷، ۱/ ۲۹۲ حديث شميره ۲۲۵۵، ۱/ ۳۲۰ حديث شميره ۲۹۴۲، ۱/ ۳۳۲ حديث شميره ۳۱۱۴، ۱/ ۳۶۹ حديث شميره ۳۴۹۵، ۱/ ۳۷۲ حديث شميره ۳۵۲۸، ۱/ ۳۳۰ حديث شميره ۳۰۵۸، ۱/ ۳۵۲ حديث شميره ۳۳۲۹.

او دغې څېړنې دابن عباس د اوريدل شويو احاديثو کره شميره روښانه کړه چې هغه پنځوس احاديث دي، په داسې حال کې چې پخوانيو علماؤ فقط دوه څلويښت احاديث ښوولي وو.

مناقشه:

د اصول فقه ځيني علماؤ د يو احتمال له مخې داسې ګمان کوي چې ګواکې مرسل الصحابي حديث د نورو مرسلو احاديثو په شان دي، څرنګه چې په نوموړو مرسلو احاديثو کې ددې احتمال شته چې صحابي دې د تابعي څخه روايت کړی وي، او کېدای شي محذوف راوي ضعيف وي، نو په مرسل الصحابي کې هم دا احتمال موجود دی، له دې کبله پر مرسل الصحابي د صحت حکم نه شي کيدای، او نه حجت ګڼل کيدای شي، خو دې څېړنې دا وښوده چې دغه ادعاء کوم علمي اساس نه لري، ځکه چې د صحابه ؤ روايات د تابعينو څخه له يوې خوا ډېر کم دي، او د کموالي سره سره هغه په احکامو کې نه دي، بلکه په حکاياتو او اسرائيلياتو پورې تړاو لري، او له بلې خوا که کوم صحابي د تابعي څخه روايت کړی هم وي نو هغه يې بيانوي، چې دا کار د هر ډول احتمال مخ نيوی کوي، او په پای کې دا نتيجه تر لاسه کيږي چې مرسل الصحابي صحيح او حجت دی، دا د ټولو محدثينو او د اصول فقه د علماؤ د غوڅ اکثريت نظر دی.

وړانديزونه:

د څېړونکو څخه غوښتنه کوم چې د اصول حديث د متنازع فيه مسائلو په هکله لا زياتې څېړنې وکړي، او حقائق لوستونکو ته وړاندې کړي، او په دې ډول ددينې علومو په هکله د هر ډول شبهاتو او بې اساسه ويناؤ مخنيوی وکړي.

ماخذونه:

۱. ابن حجر العسقلاني، آحمد بن محمد (۱۹۸۷م): فتح الباري شرح صحيح البخاري، القاهرة، دارالريان.
۲. ابن حجر العسقلاني ، احمد بن محمد (بدون) النكت على كتاب ابن الصلاح، المدينة المنورة، الجامعة الاسلامية.
۳. ابن حجر العسقلاني، احمد بن محمد. (بدون). شرح نخبة الفكر فى مصطلح اهل الاثر، المدينة المنورة، مطابع الرشيد.
۴. ابن حجر العسقلاني، احمد بن محمد (۱۹۹۲) الاصابة فى تمييز الصحابة، تحقيق: على محمد البجاوي، لبنان، دارالجيل.
۵. ابن عبدالبر، ابو عمر يوسف (۱۹۹۲)، الاستيعاب فى معرفة الاصحاب.
۶. ابن عبدالبر، ابو عمر يوسف، الدررفي اختصار المغازي والسير، تحقيق شوقي ضعيف، وزارة الاوقاف المصرية.
۷. ابن عبدالبر، ابو عمر يوسف، الدررفي اختصار المغازي والسير، تحقيق شوقي ضعيف، وزارة الاوقاف المصرية.
۸. البخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، (۱۹۸۷م) تحقيق مصطفى ديب البغا، بيروت، دار ابن كثير.
۹. البغوي: عبد الله بن محمد، معجم الصحابة، تحقيق: محمد الامين، الكويت ،دار البيان.
۱۰. الترمذي، محمد بن عيسى (بدون) ، سنن الترمذي، لبنان، دار الفكر.
۱۱. الحاكم، محمد بن عبد الله (۱۹۹۲)، المستدرک على الصحيحين، تحقيق مصطفى عبد القادر عطا، بيروت، دار الكتب العلمية.
۱۲. الخطيب البغدادي، احمد بن علي (بدون): الكفاية في علم الرواية، المدينة المنورة، المكتبة العلمية، ص ۳۸۵
۱۳. الطحان، محمود .(۱۹۸۵). تيسير مصطلح الحديث، الرياض، مكتبة المعارف.
۱۴. عبد الملک بن هشام. (۱۹۹۱). السيرة النبوية، تحقيق طه عبد الرؤف سعد ، بيروت، دار الجيل.
۱۵. عتر، نورالدين .(۱۹۸۵) . منهج النقد في علوم الحديث، دمشق، دار الفكر.
۱۶. الغزالى، محمد بن محمد (۱۹۹۷م). المستصفى من علم الاصول، بيروت، مؤسسة الرسالة

پوهـــــــــندوی مـحـمـــــــــد ايمـــــل حـقـمـــــل
د حـــقـــــوقو او سياســـــي علومـــــو پـــــوهنځی
د عـــامـــــــه حـــقـــوقـــــــو څانـــــــــګه
تقريظ ورکـوونکی: پوهنـدوی دوکتـور محمـد مصطفی نيـازی
حقوقـــو او سياســـي علومـــو پـــوهنځي اســـتاد

د پيسو تطهير

(Money laundring)

لنډيز:

که د يو عملي تحقيق په جريان کې د خلکو نه وپوښتې، چې د پيسو تطهير څه شی دی؟ د ځوابونو له ټولولو څخه وروسته به قاعدتاً دې نتيجې ته ورسېږو، چې، ډېری خلک به په دې نه پوهېږي، چې د څه په اړه ورسره غږېږي. د خلکو دغه ډول عکس العمل د دولتونو او نړيوالې ټولنې په وړاندې د پيسو تطهير د جرايمو د مبارزې په برخه کې يو مهمه ننګونه حسابېږي. ددې وضعې لامل دا دی چې، په ابتداء کې داسې بريښي چې د پيسو د تطهير جرم متضرر او قرباني نه لري. ځکه خلک وايي، چې د پيسو د تطهير جرم د سرقت، قتل او اختطاف سره واقع شوی نه دی او همدارنګه د سيمې او سيدونکي ته کوم غم انګېزه صدمه نه ده رسېدلې.

خو دې خبرې ته بايد متوجه واوسو، چې د پيسو د تطهير جرم د يو بل جنايت له ارتکاب څخه وروسته سرته رسېږي چې کېدای شي دغه جنايت قتل، اختطاف، سرقت او يا هم د مخدره موادو قاچاق او يا داسې نور جرايم وي. په دې اساس ويلی شو، چې د کوڅې او سرک له خلکو سره د پيسو د تطهير د جرم په اړه د معلوماتو نه شتون ددې لامل ګرځېدلی چې دغه جنايت په يو نامريي شکل باندې تبديل شوی او دې پديدې سره مبارزه يې مشکله کړې ده.

په دې لنډه مقاله کې مو هڅه کړې، چې د پيسو د تطهير د بين المللي جرم محتوا او ماهيت او د رامنځته کيدو پس منظر تر څېړنې لاندې ونيسو، چې لوستنه به يې لوستونکو د دلچسپي نه خالي نه وي.

سريزه:

دا يو حقيقت دی چې، څومره د انسانانو ژوند انکشاف او پرمختګ کړی، په همغه اندازه جرايم د کيفيت له لحاظه وخيم او پېچيده شوي او د کميت له لحاظه ورځ تر ورځې زيات شوي دي. د ملل متحد د سازمان د دارالانشا يو راپور پر بنسټ د هغه جرايمو اندازه چې د هغه راپور ورکول شوی په نړيواله سطحه په متوسط ډول په کال کې په سلوکې پنځه فيصده زياتوالی پيدا کړي، چې د جرايمو د فيصدی دا کچه د ډېرو هېوادونو د نفوس او همدارنګه د اقتصادي انکشاف او رشد څخه زيات دي.

له بلې خوا لکه څرنګه چې نن ورځ د تخنيکي او د ارتباط د وسايلو د انکشاف له امله نړۍ د يو کلي حيثيت غوره کړی. ډېر جرايم د هېوادونو سرحداتو ته په نه پاملرنه، بين المللي بڼه غوره کړې. له همدې امله جرايمو سره د مبارزې او مقابلې لپاره د نړۍ هېوادونو ترمنځ همکاري يو ضروري خبره ګرځېدلې ده. د دې ډول جرايمو له جملې څخه چې نړيواله بڼه لري او د يو هېواد په سرحداتو پورې نه محدود کېږي، يو هم د پيسو تطهير دی. چې په دې مقاله کې زموږ د بحث موضوع تشکيلوي. البته دا جرم يواځې د پيسو د تطهير پورې نه محدود کېږي؛ بلکې د ټولو هغو اموالو د تطهير پورې اړه لري چې د جرم له لارې لاسته راځي. اما د ټولو څخه زيات انجاميدونکې د پيسو تطهير جرم دی او هغه هم هغه پيسې چې د مخدره موادو د فروش او قاچاق څخه په لاس راځي، چې په هر مياشت کې ميلونونو ډالرو ته رسېږي.

دا جرم نه يواځې بين المللي ماهيت لري؛ بلکې د سازمان (پلان) شوو جرايمو ماهيت هم لري، همدا لامل د دې جرم سره مبارزه د مشکل سره مخ کوي. ځکه په فردي او غيرسازماني جرايمو کې د مجرم د نيولو څخه وروسته د هغه جرمي فعاليتونه پای ته رسېږي، ولې په سازمان شوو جرايمو کې د باندې يا سازمان د افرادو جملې څخه د يود نيولو څخه وروسته پرته له ځنډه بل فرد د هغه ځای نيسي او جرمي فعاليتونه ادامه پيدا کوي. د مثال په ډول د د مخدره موادو د قاچاق باندې ونه سلګونه افراد په ټوله نړۍ کې په خپل باندې کې ګمارلي دي، چې نه يواځې د مخدره موادو د توزيع کولو په برخه کې فعاليت کوي؛ بلکې حتی ځينې نورو امورو برخه کې هم فعاليت کوي، لکه په عامه افکارو اغېز اچول، د داسې قوانينو د تصويب لپاره کوښښ کول، چې د هغوی په کارونو کې سهولت او اسانتيا رامنځته کړي يا د سياستمدارانو او د هېوادونو پارلمانونو د نماينده ګانو يا د پوليسو د مؤثرو افرادو توجه او د همکارۍ جلبول او داسې نور کارونه سرته رسوي، چې دا باندې ونه د دې کارونو د سرته رسولو لپاره ډېرې پيسې مصرفوي.

د دې ډول سازمان شوو جرايمو څخه د حاصل شوي پيسو په واسطه د هېوادونو يواځې اقتصادي نظام نه، بلکې حتی د قضايي او سياسي نظام د کمزوري کولو لپاره استفاده کېږي؛ نوکله چې ګورو، د نړۍ د زياتو وړو او فقيرو هېوادونو کلنۍ بوديجه د مخدره موادو د ځينې نړيوالو سازمانونو د کلني عايد څخه کم دي، نو هېڅ شک او ترديد ته ځای نه پاتې کېږي، چې دا ډول سازمانونه کولی شي د پيسو په زور د خپل غوښتنو مطابق د دې هېوادونو سرنوشت وټاکي او يا حتي سياستمداران، دولتي مامورين، قضات، د پوليسو مامورين او مالياتي مامورين خپل مزدوري کې وګماري.

د مجرمانه بين المللي شبکو سره د دې ډول هېوادونو مستقيم او غير مستقيم اړيکو له امله او همدارنګه د نورو دولتونو سره د هغوی عدم همکاري له امله ده، چې د پيسو د تطهير د جرم سره مبارزه په نړيواله سطح د مشکل سره مخ کوي. د غير مستقيم همکارۍ څخه زموږ هدف دا دی، چې د ځينو هېوادونو لکه سوئس او يا د کاريابين ځينې واړه جزاير او داسې نور... چې د ((مالياتو په جنت)) (Tex haven) مشهور دی، اقتصادي ژوند د افرادو له خوا په پرانستل شويو حسابونو او د بانکونو له خوا د رازدارۍ په ساتلو پورې تړلي دي. په هغه صورت کې چې دا اصل د بين المللي همکاريو او د مشکوکو بانکي حسابونو د تشخيص په هکله د اطلاعاتو تبادلې، له امله صدمه ووينې، د دې ويره موجوده وي، چې خلک د نوموړو هېوادونو په بانکونو کې د حساب له پرانېستلو څخه ځان وساتي او په نتيجه کې د دې هېوادونو اقتصادي ستني متزلزله شي. له همدې امله دا هېوادونه د بانکونو او مناسب اقتصادي مرکزونو په ايجاد سره د مشکوکو پيسو د مينځلو لپاره په (دوبي خانو) اوړي.

د پيسو تطهير د مختلفو عنوانو په ترڅ کې په دې مقاله کې د بحث او څېړنې لاندې نيول شوي دي، چې عبارت له، د پيسو د تطهير د تاريخي شاليد، د پيسو تطهير تعريف، د پيسو د تطهير لارې چارې، د پيسو تطهير چېرته صورت مومي، د پيسو د تطهير د مخنيوي لپاره ترسره شوي نړيوال اقدامات او تدبيرونه او په اخره کې به د ټولې موضوع څخه يو لنډه نتيجه او وړانديزونه موجود دي.

موخې:

نوموړې مقاله د لاندې موخو لپاره ليکل شوې ده.

۱- د حقوقو د مسلک مينوالو او نورو علاقمندانو ته د پيسود جرم پېژندنه.

۲- د پيسو د تطهير د جرم د ماهيت څېړنه.

۳- پيسو د تطهير د جرم د مواردو او ډولونو مشخصول.

۴- د خپلې علمي رتبې د اخيستنې د يو شرط (مقاله ليکنې) پوره کول.

مواد او کړنلاره:

په دې علمي مقاله کې د څېړنې له ګڼو ميتودونو او تګلارو څخه د کتابتوني څېړنې طريقه غوره شوې او هڅه شوې چې له باوري او اعتبار لرونکو اخذ ليکونو او منابعو څخه استفاده وشي.

لومړی: پيسو د تطهير تاريخي شاليد:
البته د نورو له سترګو څخه د پيسو يا مال پټول کوم نوی کار نه دی. د ډېر پخوا زمانو څخه خلکو په ډېر ابتدايي او ساده طريقو خپل مالونه د حاسدو سترګو او ناپاکو لاسونو څخه پټولو او مجرمينو کوښښ هم کولو ترڅو ځان خلکو ته پاک وښيي. هغه څه چې په دې برخه کې نوي دي، هغه له جرم څخه د لاسته راغلو اموالو د منشاء او سرچينې پټ ساتلو عمل د اصلي جرم څخه په جلا ډول د جرم په حيث پېژندل دي، چې د شلمې پېړۍ د اتياومې لسيزې د وسط څخه د بين المللي سازمانونو او له هغه جملې څخه د ملګرو ملتونو د سازمان او د نړۍ د مختلفو هېوادونو توجه وړ ګرځېدلې ده. په دې توګه ويلی شود پيسو تطهير د ((د يو جرم په توګه پېژندل)) دري لسيزې سابقه لري له دې نېټې څخه د مخه د نړۍ مقننينو د نوموړي عمل د جرم په حيث پېژندلو ته کومه توجه نه لرله او بين المللي مجرمينو په سهولت سره کولی شول، هغه پيسې او اموال چې مخدره موادو د قاچاق، برمته نيولو، سړي تښتولو يا هغه رشتونه چې د څو ملتي شرکتونو له خوا د ځينو هېوادونو مشرانو ته ورکول کېدې ترڅو هغوی په ګټه قراردادونه منعقد کړي او يا نورو داسې جرايمو څخه لاسته راغلې پيسې، پټې وساتي او يا هم د هېواد د سرحداتو څخه اخوا انتقال کړي او يا يې هم په يو بل مال تبديل کړي.
ويل کېږي چې د پيسو د تطهير اصطلاح د امريکا په متحده ايالاتو کې د مافيايي ډلو او دوبي خانو (کالو پريمنځلو) سره ريښې لري. چې (۱۹۲۰)او (۱۹۳۰ز) لسيزو ته ورګرځي. د لومړي ځل لپاره د ((لکاپون)) په نامه يو شخص د الکاپونانو يوه ډله تشکيل کړه او دې جنايتکاره باندې يو ډېره اندازه مال او پيسې د فحشا ، قمار، د مخدرو موادو او الکولي موادو د قاچاق او نورو لارو څخه لاسته راوړلې او اړتيا يې لرله ترڅو د دغو لاسته راوړلو پيسو منابع مشروع او روا وښيي. نو يو د دې لارو څخه داوو چې دوی خپلې دغه نامشروع ګټې د يو مشروع کارو بار سره ګډولې او په دې ترتيب سره يې خپلې ټولې پيسې پاک او مشروع ښوولې، چې ډېر ښه کار په هغه وخت کې دوبي توب (کالوپريمنځلو) کسب و ، نو د دې کار او د خپل دې عمل د پټولو لپاره يې د (laundry) (کالو پريمنځلو ځايونه) تاسيس او داسې به يې ښوله چې ګويا خپل عوايد له دې لارې څخه ترلاسه کوي.(۱،۱۲۷)
نو له همدې امله يو نظر د پيسو د تطهير د اصطلاح په هکله دا دی چې د پيسو تطهير يا وينځل، کېدای شي د همدې ځای څخه سرچينه اخيستې وي. د يو بل نظر په اساس دا ا صطلاح په دې خاطر د پيسو لپاره په کارېږي، چې لکه څرنګه چې د کالو مينځلو ماشين خيرې او کثافات د کالو څخه لرې کوي همداسې دا عمل د پيسو څخه جرم او جرمي وصف پاکوي.

دويم: د پيسو تطهير تعريف
په حقوقي او اقتصادي منابعو کې درج شويو تعريفونو ته په کتني سره بايد ووايو چې د پيسو تطهير ، هغه پروسه ده چې د هغې په ترڅ کې غير قانوني عوايد ، قانوني څرګندېږي او يا په بل عبارت، د غير قانوني عوايدو د قانوني کولو په معنا دی او يا هم د نامشروع يا حرامو پيسو تطهيرول او يا د غير قانوني اعمالو څخه د ترلاسه شويو پيسو تبديلول په پاکو او مطهرو پيسو باندې دي.
کارل لوين ليکي: (د پيسو تطهير هغه مهال پيښېږي، چې مجرمان هڅه کوي له مجرمانه فعاليتونو څخه لاسته راغلي عوايد د قانوني عوايدو په عنوان وځلوي).(۳،۱۲۲)
د پيسو تطهير په دې معنا دی چې اشخاص يا سازمانونه غير قانوني اقدامات او کړني صحيح وښيي او ترلاسه شوي عوايد د قانوني سرچينې درلودونکي وبولي په بل عبارت له غير قانوني منابعو څخه د پيسو توليد ته د پيسو تطهير وايي.
له جرم څخه د ترلاسه شويو عوايدو په هکله د سرحدونو نه اخوا له سازمان موندلو جرايمو سره د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو د کنوانسيون د دويمې مادې د (E) فقره د پيسو د تطهير په اړه دارنګه صراحت لري (له هر هغه ډول مال څخه عبارت دی چې په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د جرم د ارتکاب له لارې منځته راغلی يا حاصل شوی وي)(۱۰،۷۸)

د جنايي پوليسو نړيوال سازمان هم د پيسو له تطهير څخه دا رنګه تعريف وړاندې کړی دی ((د پيسو تطهير د نا مشروع عوايدو د پټولو (مخفي کولو) يا د ظاهري هويت د تغيرولو له هر ډول عمل يا عمل ته د اقدام کولو څخه عبارت دی، چې دا رنګه وښول شي چې له قانوني منابعو څخه يې سرچينه اخيستې ده)).

د افغانستان د پيسو د تطهير او له جرمونو څخه د راپيدا شوو عوايدو پر خلاف د مبارزې قانون د پيسو د تطهير په اړه داسې صراحت لري ((وجوه او يا شتمنۍ پټول، شکل ته يې تغير ورکول، تبديلول، تصاحب، انتقال، ګټه اخيستل، ساتل او يا يې د هېواد څخه بهر صادرول.د دې علم په لرلو سره، چې نوموړې شتمنۍ په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د هغه عمل يا غفلت په نتيجه کې لاسته راغلې وي، چې د غه عمل يا غفلت د هېواد په دننه يا په بهر کې يا يې د ارتکاب په ځای کې، د نافذو قوانينو مطابق جرم ګڼل شوي وي)).(۲، ۲)

له پورتنيو تعريفونو څخه دا ډول نتيجه اخستلی شو، چې د پيسو تطهير عبارت دی له هر هغه عمل څخه چې نامشروع عوايدو ته د مشروعيت بخښلو يا د غير قانوني وجوهو يا اموالو د موجه ځلولو په موخه صورت مومي.

دريم: د پيسو د تطهير لارې چارې

د پيسو د تطهير په جريان کې، د يو مجرمانه مالي فعاليت په عنوان، هغه عوايد چې د غير قانوني فعاليتونو زېږنده ده، د قانوني فعاليتونو څخه له ترلاسه شويو عوايدو سره دا رنګه ګډېږي، چې يو له بل څخه د هغه بېلول او پېژندنه امکان نه لري او کېدای شي له دې غير قانوني عوايدو څخه د ډېر لږ ريسک (خطر) په منلو سره په راتلونکي کې د نورو فعاليتونو لپاره ګټه واخيستل شي.

د پيسو د تطهير لارې چارې پيچلي او څو ډوله دي. دا لارې چارې د مختلفو عواملو لکه د ترسره شوي سرغړوني نوعيت، د اقتصادي سيستم نوعيت، د هغه هېواد قوانين او مقررات چې هلته سرغړونه ترسره شوي ده او د هغه هېواد د مقرراتو نوعيت چې پيسې هلته تطهير کېږي، پورې اړه لري.

په نړۍ کې د پيسو د تطهير د طريقو زياتوالي باوجود دلته د پيسو د تطهير ځينې مهمو ډولونو څخه يادونه کوو.

۱- د پيسو تصفيه

د پيسو د تطهير اسان ترينه او ډېر مروجه طريقه د پيسو تصيفه (refining) ده.د پيسو د تصفيه هدف د وړو پيسو مثلاً (۵ يا ۱۰ ډالري) تبديلولو په غټو پيسو (مثلاً ۱۰۰ ډالري) باندې او هغه په دې ډول چې د مخدره موادو معتادين چې په لارو او کوڅو کې د خپل مصرف لپاره د مخدره موادو په اخيستلو لاس پورې کوي. معمولاً د دې موادو قميت په وړو پيسو ادا کوي، دا پيسې چې ډېر وخت امکان لري په مخدره موادو ککړې وي، نو هم د دې ظاهري ککړتيا د پاکوالي لپاره او هم له هغه څخه مهم دا چې، نوموړې پيسې په اسانۍ نقل او انتقال شي، دا پيسې بايد (تصفيه) او غټو پيسو (مثلاً سلو ډالرو) واړول شي. ځکه يو ميلون ډالر د سل ډالري پيسو وزن (۱۰ کيلو) څخه کم دی او په يو بيک کې قابل د انتقال دي. که چېرته دا پيسې (۱۰) ډالره وي د هغوی مجموعي وزن (۵۰ کيلو) کيږي، چې نقل او انتقال لپاره به لسو لويو بيکونو ته ضرورت وي. د مخدره موادو د خرڅلاو څخه لاسته راغليو وړو پيسو زيات حجم، په اروپايي او امريکايي بازارونو کې، نظر د دې موادو د قميت زياتوالي او د هغه د استعمال پراختيا ته، هغه لوی مشکل دی چې د مخدره موادو قاچاقچيان ورسره مخ دي.

نو د وړو بانک نوټونو بدلول په لويو بانک نوټونو، په هغه ډول چې پرې شک ونه شي،د پيسو په تطهير کې يو د مهمو مراحلو څخه دی. د دې هدف لپاره معمولاً مختلف افراد استخدامېږي، چې دنده لري، ترڅو هره ورځ ۵۰ زره ډالرو څخه تر ۱۰۰ زرو ډالرو پورې د بانکونو مختلفو څانګو، د پست اداراتو، صرافيو او نورو مشابه مؤسساتو ته په مراجعې په مسافرتي چکونو، حوالو، بانکي چکونو او لويو نقدي پيسو تبديل کړي. دا افراد د دې لپاره چې د شک لاندې رانه شي، هېڅکله هم په ځانګړي ځای د ۳۰۰۰ ډالرو څخه زياته معامله نه کوي. بې ويلو دي پاتې نه وي چې، د دې ډول افرادو څخه د حد نه زياته استفاده د جنايتکار سازمان په داخل د مخبرانو د نفوذ خطر زياتوي. يعنې دا احتمال لري چې د پوليسو او يا نورو امنيتي ادارو افراد له دې لارې د سازمان داخل ته نفوذ وکړي.

د وړو پيسو له تبديلولو څخه وروسته په غټو پيسو او يا هم بانکي او مسافرتي چکونو او داسې نورو، بله مرحله هېواد څخه بهر د دې پيسو او چکونو ويستل دي. معمولاً د امريکا متحده ايالاتو غوندې هېوادونو کې چې د مخدره موادو پيرل او پلورل مهم مارکيټ دی. په بانکي حسابونو کې د دومره زياتو پيسو داخلول او يا د هغوی په واسطه نقدي خريداري امکان نه لري، ځکه، تر ټولو دمخه بانکونه د مشتري د پوره پېژندنې څخه پرته دهغه لپاره د بانکي حساب د پرانېستلو څخه ځان ساتي، دويم دا چې په امريکا کې يوا ځې بانکونه، نه بلکې افراد او مؤسسات لکه صرافياني، د موټرو د پيرل او پلور براګينونونه، د ملکي معاملاتو مارکيټونه او حتی وکيلان د اتيايمې لسيزې د وسط څخه، د قانون له مخې مؤظف شوي ترڅو په مشکوکو مواردو کې او يا هم د لسو زرو څخه زياتو نقدي معاملاتو په اړه دولتي مقاماتو ته خبر ورکړي.

له همدې امله د مخدره موادو قاچاقچيان پرته له دې څخه بله لار نه لري، چې د امريکا څخه بهر نقدي پيسې او يا چکونه انتقال او د نورو هېوادونو په بانکونو (هم د هغه مناطقو په بانکو کې چې په ((مالياتي جنت)) شهرت لري) د ايښودلو او وروسته عند اللزوم د بين المللي بانکي سيستم له طريقه هغه دوباره د امريکا بانکونو ته انتقال کړي. نو د هغه پيسو د حجم اندازه لګول چې ساتل شوي او په دې ترتيب هر ورځ له امريکا څخه خارجېږي يو مشکل کاردی، ولې ويل کېږي چې هره اوونۍ په زرګونو ټنه نقدي پيسې (مخصوصاً د مکسيکو د خاوې) له لارې د امريکا څخه خارجېږي. د مثال په ډول د **۱۹۹۵** ميلادي کال د اپريل او اکتوبر په مياشتو کې په دريو جلاجلا عملياتو کې ۲۰ ميلونه نقدي پيسې کشف او په لاس راغلې. د هغه نقدو پيسو د حجم په هکله چې د مخدره موادو د قاچاق څخه لاسته راغلې دي د لوستونکو د ذهن د روښانه کولو لپاره څو ژوندیو مثالونو ته اشاره کوو.

د مثال په ډول په ۱۹۸۸ ميلادي کال د امريکا د مالياتو د مامورينو څخه يو تن د فدرال منصفه هئيت ته په خپلو څرګندونو کې وويل، له هغه وروسته چې د پيسو د تطهير د يو مظنون شخص کورته په کاليفورنيا کې داخلېږي يو ډېر غټ غږ يې غوږ ته رسېږي، چې ټول کورته ټکان ورکوي. وروسته له تحقيق څخه متوجې شوم چې دوه نفره په کور کې د پيسو په ځای په ځای کولو مصروف دي او د پيسو دا بوجۍ دومره درنې دي چې کله غورزېږي ټول کور خوځوي. په ۱۹۹۱ ميلادي کال کې د امريکا د مخدره موادو پرضد د مبارزې د ادارې مامورينو (D.E.A) (U.S. Drug Enforcement Agency) کله چې مخدره موادو د قاچاقبرو يوه جلسه چې د کاريابين (ويسټ انډيز) د جزايرو څخه په يو جزيره کې چې (Guadalupe) نومېږي، دايره شوي وه، خپل نظر لاندې ساتلې وه، دوی ته معلومه شوه چې د مخدره موادو مشهور کولمبيايي قاچاقبر اسکوبار (Escobar) يو وخت (۴۰۰) ميلون ډالره د امريکا په لاس اينجلس کې د يو کور په زير زميني کې ځای پرځای کړي وو، ترڅو يې د امريکا د متحده ايالاتو څخه بهر انتقال کړي، اما مخکې له دې چې د متحده ايالاتو د سرحداتو څخه د هغه پيسو د انتقال لپاره کومه لاره پيدا کړي نوموړی کور د سيلاب د اوبو لاندې راغی او دا پيسې ټولې له منځه لاړې. دا ډول مشکلات د پيسو د تطهير په خلاف د پراخو اقداماتو د اجراء لامل وګرځېده. د مثال په ډول د لاس انجلس ښار د (La Mina) يا د جوهرو د معدن په مشهوره ناحيه کې ۲/۱ ميلياردې ډالر د مخدره موادو خرڅلاو څخه ترلاسه شوي نقدي وجه د ۱۸ مياشتو په دوران کې د پيسو د تطهير د پروسې لاندې قرار ونيوه، يعنې دوه ميلونه ډالره په هر ورځ کې او يا ۹۰ زره ډالر په هر ساعت کې، د نقدو پيسو حجم په هغه وخت کې دومره زيات وو چې بايد په کانتينرونو کې ساتل شوي وای.(۲،۲۸)

په ۱۹۸۳ ميلادي کال کې د يو تجار پورې اړه لرونکي يوه طياره د پرواز څخه مخکې چې غوښتل يې د امريکا متحده ايالاتو له فلوريدا څخه د پانامې هېواد ته لاړه شي د ګمرک د مامورينو له خوا وپلټول شوه، چې په نتيجه کې په نوموړې طياره کې پنځه ميلونه ډالر وموندل شول چې البته په شل ډالريز نوټونو باندې مشتملې وې. کوم چې په امريکا کې د مخدره موادو د خرڅلاو څخه لاسته راغلې وې. وروستنيو تحقيقاتو وښودله چې نوموړې طياره د هغه د نيولو څخه مخکې د شپږ مياشتو دوران کې هره اوونۍ د غه کار ترسره کړی وو، چې په مجموعي ډول يې ۱۵۱ ميلونه ډالره نقدي پيسې له امريکا څخه په همدې شکل خارج کړې وې، ترڅو په پاناما کې د مانوئل نوريګا (Manuel Noriega) د ولسمشرۍ په دوران کې د پيسو د تطهير له پروسې څخه تېره کړي. دا ډول اقداماتو پانامې ته پراخه ګټه رسوله. دلته بايد دې نقطې ته اشاره وکړو، چې امريکا د مخدره موادو په قاچاق کې د نوريګا نقش له امله د هغه په خلاف په فلوريدا کې د مخدره موادو د قاچاق لپاره سازش او د کوکائين او ماري جونا د توزيع په تور، دوه اتهام نامې په محکمې کې داخل کړل شوې، چې همدا واقعه په ۲۰ د

دسمبر ۱۹۸۹کې د امريکا د لس زره عسکرو لخوا د پانامې د اشغال لپاره بهانه وګرځېده. هغوی د پانامې له اشغال څخه وروسته داسې يو حکومت رامنځته کړ چې د آمريکا د حمايت لاندې وو او نوريګا هم چې د واتيکان سفارت ته يې پنا وړې وه، ځان امريکايي عسکرو ته تسليم کړ او د محاکمې لپاره امريکا ته يوړل شو.له دې باوجود چې د نوريګا وکيلانو د محکمې په صلاحيت اعتراض وکړ، ولې محکمې د حقوق جزا د خاورې د اصل د عيني تفسير په اساس ((چې د هېواد د محکمې صلاحيت، هغه جرايمو ته رسيدګي لپاره چې د هېواد څخه خارج واقع شوی وي، ولې د هغه هېواد په ګټو ناوړه اثار او اغېز ولري، په رسميت پېژني) خپل ځان د رسيدګۍ لپاره صالح (وړ) وګڼلو.(۷،۸۸)

د پيسو د تطهير ډېر معمول او مهمې لارې چارې دا دي چې مجرمين او يا جرمي باندونه او هم پيسو تطهير کوونکي، د پيسو د تطهير له عملياتو څخه د قانون د تنفيذوونکو د پام په بله اړولو لپاره د نقدو پيسو ډېر زيات مقدار په کوچنيو مقدارونو تبديلوي او يايې په مستقيمه توګه په بانک کې پانګونه (سرمايه ګذاري) کوي او يا په هغو باندې نورې مالي وسيلې لکه چک او نور پيري (رانيسي) او په نورو ځايونو کې يې امانت ږدي.

۲- د فاسدو بانکونو څخه استفاده

د ډېرو هېوادونو په بانکونو کې د حساب پرانېستل په جعلي او غير واقعي نوم باندې جرم نه شمېرل کېږي. له همدې امله د مخدره موادو بين المللي قاچاق کوونکي د ځينو بانکونو په همکارۍ جعلي حسابونه پرانيزي او په همدې کې د نقدو پيسو د داخلولو وروسته د هغه هېواد څخه بهر انتقالوي. دا ډول بانکونه د ناسالمه سرمايه ګذارانو له خوا د لويو سرمايه ګذاريو د جلب لپاره د پېژندنې د پوره پاڼو او يا د مشکوکو مواردو په هکله دولتي مقاماتو ته د راپور د ورکولو څخه ځان ساتي او په دې توګه د مخدره موادو او نورو جرايمو مجرمينو ته د پيسو د تطهير لپاره بهترينه موقع په لاس ورکوي. ځکه کله چې ناپاکې پيسې بانکي حساب ته د داخلېدو په ابتدا کې کشف نه شي، له هغه وروسته د يو په بل پسې د کمپيوتري او تلګرافي سريع ، تيز او پرله پسې انتقالاتو له امله کېدای شي نورو بانکونو او حسابونو ته لاړې شي او له همدې امله د هغه کشف مشکل شي، ولې چې، د مثال په ډول په امريکا کې د ورځې يو تريليون ډالر او د څلور سوه زرو څخه زيات بانکي معاملات بانکي سيستم ته داخلېږي. بنا پردې د پيسو کنترول د هغه انسان په څېر دی چې، يو هېواد ته د غير قانوني داخليدو اراده لري، د دې باوجود چې د سرحد په ورودي برخه کې د هويت د اسنادو په کنترول سره په اسانۍ کولی شو د هغه داخلېدو مخه ونيسو، ولې په سرحد کې د عدم دقت او هېواد ته د داخلېدلو په صورت کې د هغه پيدا کول به ډېر مشکل وي يا د ککړو اوبو لوښی چې کله د پاکو اوبو په يو حوض کې واچول شي د هغه تلاطم له امله چې ايجاد وي يې د پېژندنې وړ دي، ولې د حوض په اوبو کې له داخلېدو وروسته د حوض د اوبو برخه ګرځي او د هغه څخه د تفکيک وړ نه وي. په دې ترتيب د بانکونو نقش د مشکوکو پيسو په قبلولو کې ډېر مهم دی، په همدې اړوند د امريکا په متحده ايالاتو او اروپايي هېوادونو کې متعدد وظايف د بانکونو لپاره ټاکل شوي دي. چې مخکې مويو له هغه مواردو څخه ذکر کړ، چې په امريکا کې وجود لري. ليکن متاسفانه، نظر دې ته چې د جرايمو څخه او په خاص ډول مخدره موادو څخه لاسته راغلي بې اندازه پيسې، د بانکونو او خاصتاً د وړو هېوادونو د بانکونو لپاره چې په (مالياتي جنت) مشهور دي. لکه د کاريابين جزاير او داسې نور، د درامد او يا عوايدو لويه سرچينه شمېرل کېږي او د بانکي معمول ګټې څخه پرته، د پيسو د تطهير لپاره اضافه ګټه هم په نظر کې نيول کېږي، داسې بانکونه وجود لري، چې د مخدره موادو د قاچاقچيانو سره د پيسو په تطهير کې ډېر لوی کمک کوي او بانکي سيستم ته د هغوی د پيسو په داخلولو سره هغه په پاکو پيسو تبديلوي. ويل کېږي، چې په ځينو دغه مناطقو کې د بانکونو تاسيس داسې آسانه دی چې د ۲۰ ډالرو په اندازه پيسو په جمع کولو سره کېدای شي د بانک په جوړولو اقدام وشي.

د دې ډول بانکونو ګټه د ناپاکو پيسو د تطهير لپاره ډېر د کشش او وسوسې وړ دی. په يو وخت کې، د کاريابين د جزايرو د يو بانک څخه غوښتل شوي وو، چې که چېرته ۳۰۰ ميليونه ډالر په بانکي حساب کې د اخلېدو لپاره ومني نو بانک ته به په سلو کې درې فيصده (۹ ميلونه) ګټه ورکړي. د بانک مسولينو دې ډول پرکششه معاملې ترسره کولو لپاره پوره آماده درلودله، ولې دولتي مامورين په موضوع پوه شول او د نوموړي بانک جواز يې معلق کړ.

همدا اوس په ډېرو هېوادونو کې دا رنګه ارګانونه په ښکاره په قانوني عنوان او پوښښونو سره د قاچاق وړونکو په چوپړ کې دي او د کثيفو پيسو پر تطهير باندې لګيا دي.

سربېره په سويس د او کاريابين د جزايرو له بانکونو څخه چې په دې هکله زيات مشهور دي، چې له نورو څخه په غوره ډول کثيفې پيسې تطهيروي په نړيواله کچه ډېر بانکونه شته دي، چې د قاچاق وړونکو سره د پيسو په تطهير کې په دانسته او يا نا دانسته توګه سهيم دي.

د مثال په توګه: په اوياېمه او اتيا ايمه لسيزه کې قاچاق وړونکو ته د خدمت کولو په شک د ((اعتبار او سوداګرۍ د نړيوال بانک)) چې مرکزيې لوګزامبورک کې و او د نړۍ (۷۳) هېوادونو کې او په خاص ډول په فلوريدا او لندن کې فعالې څانګې درلودې او د دې بانک اصلي مالک د متحده عربي امارتو ابوظبي دولت و، وروسته له هغه چې څوکلونه د هغه فعاليتونه انګلستان د مالياتې مامورينو او پوليسو د نظارت او بررسۍ لاندې ونيول شوي، بالاخره ثابته شوه چې نوموړي بانک د پيسو تطهير مرتکب دی، نوله همدې امله نوموړي بانک ۱۹۹۱ کال په جنوري کې د انګليسي مقاماتو په حکم تعطيل شو، په ۱۹۹۰ م کال کې نوموړي بانک د خپل مختلفو څانګو له لارې ۳۲ ميلونه ډالره کثفې پيسې تطهير کړې وې، دغه بانک چې ((مانوئل نوريګا)) د پانامې پخوانې جمهور رئيس هم په هغه کې اکاونټ (حساب) درلوده او د هغه لپاره ۲۸ ميلونه ډالره په خپل حساب کې ځای پرځای کړې و او دا کار حتی د امريکا په محاکمو کې د هغه د اتهام د غوښتونو درخواست د داخلېدو څخه وروسته هم ادامه پيدا کړې وه. ۱۹۸۸ ميلادي کال د اکتوبر په مياشت کې د دې بانک ۴۳ نفره کارمندان چې په دې کې ۹ نفره د بانک اصلي مديران هم شامل و، ونيول شول او بانک د حقوقي شخص په توګه په امريکا کې د تعقيب لاندې قرار ونيو، دې بانک د سويس له بانکونو سره د پيسو په تطهير کې همکاري درلوده.(۳،۲۸۹)

په تيرو لسيزو کې د نړۍ د هېوادونو له پنځوسو څخه زياتو معتبرو بانکونو مديرانو د (مشتريانو په وړانديز د راز داري له قانون) څخه ملاتړ کاوه، خو اوس مهال چې د پيسو د تطهير ويجاړوونکي بهير مخ په زياتوالی دی، په ډېرو هېوادونو کې دا ډول حق په قوانينو کې، بانکونو ته نه دې ورکول شوي، په دې توګه د امريکا، کانډا، استراليا، نوي زيلاند، د اروپا د اتحادي هېوادونه، جاپان او ځينو نورو هېوادونو قوانين بانکونو ته اجازه نه ورکوي چې د قانوني څېړنو او تحقيقاتو په وړاندې د مشکوکو اماناتو په هکله د د رازدارۍ په پلمه سکوت وکړي.

په دې توګه ويلی شو چې، قاچاق وړونکي د معمول په څېر په دوديز ډول د بانکي سيستمونه لارې د پيسو د تطهير لپاره، د (ستوري د چاودنې) له ميتود څخه کار اخلي، په دې ميتود کې د کثيفو او پاکو پيسو په ګډون يو بانکي حساب پرانيزي او پرله پسې سپارښتونو سره د ليکلي، تلګرافي، تيلفوني، فاکس او.... حواله له لارې پيسې په بېلابېلو حسابونو مختلفو هېوادونو ته انتقالوي.

له همدې امله ځينو هېوادونو لکه استراليا، اتريش، ايټاليا، بيلجيم، ډنمارک، فنلنډ، فرانسې، المان ځينو نورو هېوادونو لکه ايسلينډ، ايرلينډ، لوکزامبورک، هالنډ، نوي زيلاند، ناروې، پرتګال، هسپانيې، سويډن، د فارس خليج غړي هېوادونو، هانګ کانګ، ترکيې، د امريکا متحده ايالتونو او نورو هېوادونو ته د پيسو د لېږدولو له پاره له لسو څخه تر شلو زره ډالرو پورې يو اندازه مقرر کړې دي، ترڅو په دې وسيلې د پيسو د ستر مبلغ (اندازې) له لېږدولو څخه مخنيوي وکړي مګر قاچاق وړونکي د خورا زياتو پيسو د لېږدوني لپاره، پيسې په کوچنيو برخو ويشي او د هغو د لېږد لپاره له بېلا بېلو افرادو څخه استفاده کوي. سره له دې چې دا ډېر ستونزمن کار دی او زيات وخت نيسي او لګښت يې هم زيات دی، بيا هم تر اوسه ترې کار اخيستل کېږي.(۸،۴۰)

۳- د مشروع تجارتي پوښښ څخه استفاده

د پيسو د تطهير بله لار د مشروع تجارتي پوښښ څخه د کثيفو او ناپاکو پيسو د اصلي منبع پټولو له طريقې استفاده کول دي.د مثال په ډول د مخدره موادو باندونه د مغازو او هغه مراکزو چې مشتريانو څخه زياتې پيسې لاسته راوړي. مثلا سوداګريز شرکتونه او مالي مرکزونه، سوپرمارکيټونه، هوټلونه، رستورانټونه، قمارخانې (کاسينوګانې) بارونه (شراب پلورنځي) د شپې کلوپونه، ايجادوي او د جرايمو څخه لاسته راغلې پيسې د هغه په ګټه کې شاملوي او هغه پرته د کوم مشکل څخه په خپل بانکي حسابونو کې داخلوي. هغوی د هر ډول شک د لرې کولو لپاره ممکنه ده دغه پيسې د دې مراکزو د

ګټې برخه وګرځوي او دا ګټه په مالياتو کې حساب کړي او همدا ماليات بيا دولت ته ورکړي. په دې صورت کې د دې تجارتي فعاليت د اسهامو صورت به هم د هغه د ګټور تصور له مخې ترقي وکړي. د دې طريقې يوه ډېر روښانه مثال په ۱۹۸۵م کې واقع شو، کازانوسترا (Casa Nostra) په نامه يوې مافيايي ډلې چې په هغه زمانه کې د امريکا په متحده ايالاتو کې مخدره موادو د قاچاق ډېره برخه يې په لاس کې وه، داسې يو پلان د عمل لاندې نيولی و، چې ځينې ايټاليويان چې په نيورياک کې اوسېدل او د دې ډلې د اعتماد وړ و، يو تعداد پيزا د خرڅولاو له دوکانونو او نور رستورانتونونه په دې ښار کې خريداري کړې و. د مخدره موادو د فروش څخه لاسته راغلې پيسې به د دې رستوانتونو د ګټې او درامد د پوښښ او عنوان لاندې په امريکايي بانکونو کې اچول کېدې د غه موضوع د امريکا په مطبوعاتو کې (Pizza Connection) تر عنوان لاندې انعکاس پيدا کړ.(۳،۱۱۵)

همدرانګه له تقلبي او صوري معاملو څخه استفاده هم د پيسو د تطهير په پروسه کې استفاده کېږي. يوه لاره يې په ودانيزو طرحو کې خصوصي پانګه اچونه ده.

د هنري اثارو د خريد او فروش بازار هم د يوې ښې وسيلې په توګه د مخدره موادو او نورو جرايمو څخه د لاسته راغلو پيسو د تطهير لپاره کارول کېږي. د هنري اثارو يو پراخه بين المللي بازار دی، چې پر هغه باندې دومره نظارت هم موجود نه وي. مثلاً د نقاشي هنري تابلوګانې کېدای شي زرګونه او هم کله کله ميليونونو ډالره قيمت ولري او په نتيجه کې د زرګونو او ميلونونو ډالرو نقدو کثيفو پيسو د تبديلې ښه وسيله وي، د نقاشي يو وړوکی قابل د حمل او نقل تابلو همېشه د هنر په بين المللي ماركيټ کې په پيسو د تبديلو ليدلو وړ دي. مثال په ډول ۱۹۹۴ ميلادي کال د دسمبر په ۱۴ يو ښځه چې د مخدره موادود يو مهم باند نماينده وه، د امريکا د مخفي استخباراتو دوه مامورينو سره، چې ظاهراً د هنري اثارو د کميشن کارانو په توګه يې ورته ځان معرفي کړی و، ملاقات وکړ او هغوی ټول يوځای ((انتلانتا)) ته لاړل ترڅو د هغې ښځې سره موجود هنري تابلوګانې په يو فرضي خريدار باندې خرڅ کړي. ويل کېده چې، دا تابلوګانې حد آقل ۲۰ ميلونه ډالره ارزښت لري. ښځه په همغه موقع ونيول شوه او د نقاشي تابلوګانې د امريکا د لوی څارنوال له خوا، چې د دې عملياتو مشري يې کوله، د خبري شبکو له لارې ټولې نړۍ ته وښودل شو، ترڅو د امريکا دولتي مامورينو د کار ارزښت، د دې قيمتي تابلوګانو په لاسته راوړلو او د مجرمينو په نيولو کې، نړيوالو ته ښکاره کړي. البته وروسته ثابته شوه، چې دا تابلوګانې جعلي دي او کوم درېيم کس هم د مخدره موادو د باند او هم د امريکا د امنيتي مامورينو نه زرنګ او چالاکه و او داړو ته يې (خولي په سر) کړي وه(۳،۲۱۲).

څلورم: د پيسو تطهير چېرته صورت مومي

د هر ډول مجرمانه فعاليتونو ترسره کول د هغه جرم لپاره مناسبو شرايطو او چاپېريال ته اړتيا لري، د دې شرايطو پېژندل د جرم له پيښيدو څخه د مخنيوي لپاره خورا اهميت لري، د پيسو د تطهير د جرم د ماهيت څېړنه او موجود شواهد راښيي، چې د پيسو تطهير په هغه چاپېريال کې چې لاندې شرايط ولري په سهولت سره ترسره کېدای شي:

- د مجرمانه او غير قانوني فعاليتونو دهليز او يا هم داخليدو ازاده لاره پرانستي وي.
- غير رسمي اقتصادي څانګې فعالي وي.
- رسمي څانګې، په تېره بيا مالي بازارونه له لازمي اداري او کنترول څخه برخمنې وي.
- د پيسو د تطهير ضد قوانين هومره فعال نه وي.
- د پيسو د تطهير عمل او جريان دومره د پاملرنې او اهميت وړ نه وي
- مالي بازارونه په حاشيو او نه پراختيا موندلي بڼه، خود پرمختللو مالي بازارونو سره په اړيکې کې وجود ولري.
- بل ځای ته د مجرمانه فعاليتونو لپاره د لاس ته را غليو عوايدو د لېږد امکان او اسانتياوې.

ازاده سوداګري او د چټکو اړيکو وسايل، پيچلي مالي فعاليتونه او له محلي سرحدونو څخه بهر د پيسو تطهير د اجراتو په اسانولو کې څرګنده ونډه تر سره کوي. چې په دې توګه د نړيوالو مالي بازارونو له منځ څخه ورځ کې د يو بليون په شاوخوا کې ډالر د جرم له عوايدو څخه په الکترونيکي شکل سره تحولېږي.

همدارنګه مالي متخصصيونو اټکل کړی دی چې د يو کال په ترڅ کې له (۳۰۰) څخه تر (۵۰۰) بيلونه پورې ډالر غير مشروع عوايد په مالي نړيوالو بازارونو کې تطهير کېږي.

پنځم: د پيسو د تطهير د مخنيوي لپاره ترسره شوي نړيوال اقدامات او تدبيرونه

د پيسو د تطهير چې له هغه څخه (د نشه يې توکيو د نړيوالې سوداګرۍ د وينو په جريان) تعبيرېږي په داسې ډول پيچلي دی چې د معمول اقدمات په دې نه دي توانيدلي چې د هغه د ميتودونو څخه مخنيوی وکړي چې نن ورځ په دې پروسه کې په کار وړل کېږي. په تېره بيا (د سايبر او يا انترنيت په فضا کې د پيسو عصري تطهير) د مواردو خرک لګول چې فزيکي لېږدونې رالېږدونې ته اړتيا نه لري، په جدي ډول لا پسې پيچلي دي.

له يوې خوا نړيوال کېدل داسې يوه څپه ده چې په ډېر چټکتيا سره سرحدات (په تېره بيا د اقتصاد په حوزه کې) رانغاړي او د اقتصاد د نړيوال کېدو نه بيليدونکي برخه په سوداګرۍ کې حد اقل ته د کنترول رسيدل دي او له بلې خوا د پيسو په تطهير کې له ماهرو او حرفه يې کسانو څخه د قاچاق وړونکو په واسطه ګټه اخيستنه د پيسو د تطهير د مواردو د کشف پيچلتيا او ستونزمن کېدل لا پسې زيات کړي دي.

اوس د نړۍ له (۱۴۰) څخه زيات هېوادونه د پيسو له تطهير سره د مبارزې قانون لري، پټه دې نه وي چې زموږ ګران هېواد افغانستان هم په ۱۳۸۳ هـ ش کال کې (د پيسو د تطهير او له جرمونو څخه د راپيدا شويو عوايدو پر خلاف د مبارزې قانون) تصويب او توشيح کړ او د نوموړي کال د لړم د مياشتې په (۱۰) مه نېټه د رسمي جريدې په ۸۴۰ مه ګڼه کې په ۱۲ فصلونو او ۷۵ مادو کې خپور شوی.

له دې څخه پرته، هغه هېوادونه چې د هغوی د جزا په قانون کې د پيسو تطهير يو مستقل جرم نه دی تعريف شوی او د پيسو له تطهير سره د هغه قوانينو څخه په ګټې اخيستنې چې په ضمني توګه د پيسو تطهير ته له نورو جرمونو سره يو ځای اشاره لري، مبارزه کوي، آما د دې باوجود کال کې د (۲.۸) تريليون ډالرو څخه زياتې پيسې نړۍ کې تطهير کېږي.

درې لسيزې وړاندې، هغه څه چې د نشه يې توکيو له قاچاق سره د مبارزې د مامورينو د فکر او توجه وړ و، مخدره موادو د قاچاقبرانو له خوا د نشه يې توکيو ځای پر ځای کول او د نقل او انتقال مخه نيول وو، خو اوس له دې سربېره هغه څه چې د دوی توجه يې ځانته جلب کړې د راکړې ورکړې په پای کې د وروستي پړاو شنډول دي، چې دا کار د نشه يې توکيو د قاچاق په مخنيوي کې فوق العاده اهميت لري ځکه که چېرته له هغه څخه ترلاسه شوي حاصل مصادره شي د قاچاق وړونکي ټول فعاليت بې پايلې پاتې کېږي او نوموړی له دې فعاليت څخه پرېباسي.

نو د دريو لسيزو څخه راپه دې خوا د دې جرم په وړاندې د مبارزې لپاره مختلف ارګانونه او سازمانونه د منطقي او نړۍ په سطح منځته راغلي او د دې جرم سره د مبارزې لپاره مختلف روشونه پيشنهاد کړي.

د مثال په ډول (فاتف) چې يو نړيوال سازمان دی، په دوامداره ډول د پيسو د تطهير ضد اقداماتو او د سياستونو د ټاکنې په برخه کې فعاليت کوي. د دې ارګان د مهمو فعاليتونو ل جملې څخه د (۴۰) پيشنهادونه (توصيه) تصويب شوي دي په چې ۱۹۹۰ م کال کې، دغه پيشنهادونه په څلور فصلونو کې تدوين شول.

لومړۍ برخه: کليات: په دې برخه کې د غړي هېوادونو څخه غوښتل کېږي، چې د ويانا کنوانسيون تصويب کړي او د دې ضمانت وکړي، چې د مالي مؤسساتو د اسرارو د حفظ په اړه قوانين او توصيه نامې اجراء کوي، او اجراء يې نه ځنډوي او خپل څو جانبه همکاري او دوه جانبه همکاري د دې ډول جرايمو د تحقيق، تعقيب او استرداد په برخه کې پراخه کوي.

دويمه برخه: حقوقي چارچوب: په دې برخه کې د مخدره موادو پورې مربوطه جنايتو څخه لاس ته راغلي عوايد جرم ګڼل شوي او د هغه قواعدو پر پراختيا باندې تاکيد شوی دی، چې د تطهير په جرم پورې د مربوطه عايد د ضبط، تصاحب او مصادرې اجازه ورکوي.

۳- د مالي سيستم نقش: په دې برخه کې، د بانکونو، د ژوند د بيمې د شرکتونو او نور هغه مالي موسساتو چې بانکونه نه دي نقش او رول بيانېږي. هغه نقش او رول چې مالي موسساتو ته ورکول کېږي عبارت دي له، د پېريدونکو د هويت تعين، د دفترونو ساتنه او د جزايي تحقيق او تعقيب لپاره، د همدې ارائيه کول صالح او مسؤلو مراجعو ته نو په دې اساس ويلی شو

چې، د دې توصیه نامو ضمني مفهوم دا دی چې د بې نومه حسابونو د پرانېستلو مخه ونیسي او پرېږدي چې خلک بې نومه حساب پرانیزي.

همدارنګه مالي مؤسساتو ته توصیه کېږي، چې د پیریدونکو د مکمل هویت د تعین ترڅنګ، د شکمنو فعالیتونو او مواردو څخه ګزارش ارائیه کړي او په داخلي سیاستونو باندې په ښه ډول نظارت وکړي، له بلې خوا دغه توصیه نامي دولتونه دې ته هڅوي چې د مشکوکو فعالیتونو د راپور ورکولو په اړوند د مالي مؤسساتو او د هغوی د کارمندانو د حمایې لپاره حقوقي مقررات په حسن نیت سره وضع کړي. ترڅو په دې برخه کې حقوقي مسؤلیت پر هغوی بوج نه شي.انتظار کېږي، چې اړوند مقامات به دا تضمین کړي، چې مالي مسؤلیت په داسې ځای کې استقرار پیدا کوي، چې کافي او پوره داخلي ضمانتونه د پیسو د تطهیر پر وړاندې شتون ولري. له دولتونو غوښتل کېږي چې حقوقي او انظباطي قدامات په پام کې ونیسي، ترڅو د جنایتکارانو په واسطه د مالي مؤسساتو د کنترول مخنیوي وکړي.

۴- بین المللي همکاري تقویت: بین المللي همکاري باید د دوه اړخیزه او څو اړخیزه معاهداتو له مخې د حقوقي مفاهیمو په اساس چې عموماً سره شریک دي، تقویه شي. دوه اړخیزه همکاري او لاس نیوی باید د استرداد، د هویت د تعین، تصاحب، ضبط، مصادره او عدلي تعقیب په برخه کې موجوده وي.

هېوادونو ترمنځ د همکارۍ په برخه کې ددوو نړیوالو کنواسیونونو یادونه کوو.

۱- د مخدره موادو د قاچاق په وړاندې د مبارزې او د معتادینو د دارو او درملو کنواسیون چې (۱۹۸۸ز) کال د دسمبر په میاشت کې دولتونو له خوا امضاء شوی. په دې سند کې د مخدره موادو په مبارزې او د معتادینو په دارو درملو تاکید شوی دی.

۲- د ملګرو ملتونو ۱۹۹۸میلادي کال د نشه یي توکیو د ځانګړې غونډې د پیسو تطهیر سره د مبارزې اعلامیه، چې همدې اعلامیې په بنا، د سازمان شوو جنایتونو په وړاندې د ملګرو ملتونو د سازمان کنواسیون، په (۲۰۰۰) میلادي کال کې د ایټالیې د هېواد ((پالرمو)) ښارکې د (۱۴۷) هېوادونو له خوا امضاء او د وروسته (۲۸) هېوادونو د پارلمانونو له خوا تصویب شوه. دغه کنوانسیون د پیسو د تطهیر د یوه سازمان شوي جنایت په توګه پېژني.

له جرم څخه د ترلاسه شوو پیسو له لېږد او پټولو سره د مبارزه د (۱۹۸۰)م کال په جون کې د اروپا د شورا د وزیرانو کمیټې په وسیله غړیو دولتونو ته توصیه شوه.

له دې، څخه علاوه.

د بازل د کمیټې اعلامیه (۱۹۸۸)م کال

د پیسو له تطهیر سره د مبارزې کمېټه (۱۹۸۹)م

د اروپا د اتحادي منشور(۱۹۹۰)م

د اروپا د اتحادي دستورالعمل (۱۹۹۱)م

د ارزښت لرونکو پاڼو د کمیسیون د نړیوال سازمان پریکړه لیک(۱۹۹۲) م

په ایټالیا کې د کو مایور د نړیوال کنفرانس اعلامیه(۱۹۹۴)م

په (۱۹۸۹)م کال د G-7 باندې مشهور د اوو عمده صنعتي هېوادونو مشرانو، د لومړي ځل لپاره د کثیفو پیسو تطهیر په رسمي ډول د نړۍ د مهمو مسألو څخه وګاڼه او په یو اتفاق یې له دې بحران سره د چال چلن د نړیوالې همغږۍ په موخه د مالي عملیاتو د کاري ځواک په نامه یوه سازمان رامنځته کړ، چې په (DCEO) مشهور دی، په دې سازمان کې د ګډون په غرض د نورو هېوادونو لپاره یې په سازمان کې غړیتوب پرانیستی پرېښود او اوس په (DCEO) کې د اتحادي G-7 غړي هېوادونو څخه علاوه د هانګ کانګ، سنګاپور او د فارس خلیج د همکارۍ شورا او د اروپا کمیسیون د همدې غړیتوب لري. د نوموړي طرحي یاد شوي ټولو غړیو هېوادونو څلویښت ډوله ځانګړې تدبیرونه د کثیفو پیسو د تطهیر کوونکو عملیاتو د مخنیوي لپاره لاسلیک کړي دي او همدارنګه د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه د پیسو له تطهیر سره د مبارزې لپاره مخنیوونکو هڅو صورت نیولي دي او هڅې په نظریاتي او عملي ډګرونو کې دوام لري، د مثال په توګه:

په امريکا کې په ۱۹۸۲م کال کې د پيسو د تطهير مخنيوي قانون تصويب او د عملي اجرا لاندې ونيول شو. په انګلستان کې (د نشه يي توکيو د قاچاق پورې د اړوندو جرايمو قانون) په ۱۹۸۲م کال کې تصويب او ۱۹۸۹م کال له پيل څخه تر لاس لاندې ونيول شو او(۱۹۹۴)م کال له لومړيو وختونو څخه(د پيسو د تطهير په اړوند مقررات) عملي اجرا او تطبيق لاندې ونيول شو. جاپان په (۱۹۹۱)م کال کې د نشه يي توکيو ځانګړی قانون تصويب کړ چې د هغه له مخې يې د پيسو تطهير جرم وباله. په سکاټلينډ کې په (۱۹۹۵)م کال کې له جرم څخه د رامنځته شويو عوايدو قانون تصويب شو.

په (۱۹۹۸)م کال کې د څلويښتو هېوادونو کارپوهان په فرانسه کې يو له بل سره وليدل تر څو په روسيه او ختيځه اروپا کې د پيسو له تطهير څخه مخنيوي لپاره تدبيرونه تر لاس لاندې ونيسي. د ۱۸۰ هېوادونو استازيو په مصر کې غونډه وکړه تر څو له سازمان موندلو جرايمو سره د مبارزې لپاره يوه نړيواله جبهه تشکيل کړي.

د امريکا مدافع وکيلانو په واشنګټن کې سره راټول شول تر څو د کثيفو پيسو په وړاندې خپل مسئوليت و ارزوي.

د ۲۵ هېوادونو وزيران په ارجنټاين کې سره ملاقات لاره او ژمن شول چې خپل دولتونه د پيسو له تطهير سره په مبارزه وګماري. د نړيوالو حقوقو شپږسوه ۲۰۰ کارپوهان په انګلستان کې سره وليدل تر څو د بانکونو د رازدارۍ د مقرراتو د اسانتيا په هکله وړانديزونه وکړي.

د اسپانيا په مادريد کې د نشه يي توکيو نړيوال کنفرانس، چې په هغه کې د نړۍ د ۹۰ هېوادو ګډون کوونکو پوليسو او سياستوالو د ۲۰۰۷م کال د مې په مياشت کې د انترنيت له لارې د نشه يي توکيو د سوداګرۍ د نوي ميتود په اړه اخطار ورکړ او اعلان يې وکړ چې: په اوسني وخت کې کېدای شي د (کوکايين) تشکيلوونکي کيمياوي مواد د کتاب يا د موسيقۍ د کسيټ په څير په کريډيت کارت باندې خرڅ او واخستل شي.

په ۲۰۰۳م کال کې د (پاريس پکت) موافقه ليک د نشه يي توکيو د قاچاق د کنترول او د مصرف کوونکو د غوښتنې د کمولو په موخه د فرانسې په پلازمينه کې منځته راغی.

د ۲۰۰۷م کال د اکتوبر په ۳۱مه نېټه د پاريس موافقه ليک د غړو هېوادونو د (۵۲) استازو په ګډون د افغانستان په پلازمېنه کابل کې د نشه يي توکيو سره د مبارزې د نړيواله غونډه ترسره کړه.

خو بايد ومنو چې، د ټولو مخنيوونکو تدبيرونو سره سره، په هېڅ کوم هېواد کې د پيسو د تطهير د بهير مخنيوي په مطلوب حد کې بريالیتوب نه دی لرلی، ځکه د يو آټکل له مخې په ۱۹۹۵م کال له ۳۵۰ ميليارد ډالرو څخه په امريکا کې تطهير شوي دي او نوي رپوټونه د هغه پيسو مقدار او اندازه چې په نړۍ کې تطهير کېږي په کال کې (۲.۸) تريليونه ډالرو ته ښيي. د نشه يي توکيو د قاچاق د هغه کثيفو پيسو مقدار چې په نړۍ کې په جريان کې په دې اندازه زيات دی چې دويم اقتصاد (تر ځمکې لاندې اقتصاد) د منځته راتلو لامل شوی دی او همدارنګه د اقتصاد په نړۍ کې، نفتي ډالر يا بترو ډالر وجود د اصطلاح ترڅنګ واقعي موجوديت ترڅنګ، د (هيروييني ډالر) اصطلاح هم په غير رسمي توګه موجود دي.(۱۴۹،۴)

نتيجه

د پيسو تطهير نن ورځ د اصلي جرم ترڅنګ په نړيواله سطحه د اکثر هېوادونو قوانينو او همدارنګه نړيوالې ټولنې د جرم په حيث پېژندلې. لکه څرنګه چې پوهېږو، د ځينو جرايمو هدف د مادي ګټو لاسته راوړل دي. نن ورځ هغه جنايتونه چې د هغه څخه پراخه مادي ګټې ترلاسه کېږي، په ډېر پرمختللي شکل د مافيايي کړيو او باندونو لخوا په نړيواله کچه ترسره کېږي.

دغه جنايي پرمختللي ګروپونه کم ترکمه درې غړي لري او معمولا د سلسله مراتبو لرونکي وي، چې يو تن په کې رئيس وي او کارونه په کې ويشل شوي وي، د سخت او شديد نظم تر څنګ د بې رحمانه اجرائيوي ضمانت لرونکي هم دی. د خپل ماموريت د ترسره کولو او هدف ته د رسېدلو لپاره هرې وسيلې ته لاس اچوي. په لومړي قدم کې کوښښ کوي چې د مختلفو فشارونو په ذريعه موجوده خنډونه د خپل مخ څخه لرې کړي او معمولا په مختلفو حکومتي او عمومي ادارو کې نفوذ کوي، د نه کاميابېدو په صورت کې په تاوتريخوالي لاس پورې کوي او حتی ځينې وخت دولتي مامورين هم عزل او د مخ څخه لرې کوي.

د دې ډلو نهايي هدف د مادي منافعو (ګټو) لاس ته راوړل دي. د پرمختللي جنايتکارو سازمانونو او ډلو فعاليتونه عبارت دي له: د مخدره موادو قاچاق، د فرهنګي، هنري او تاريخي اثارو غلا او قاچاق، د انسانانو قاچاق په خاصه توګه د ښځو او ماشومانو قاچاق د جنسي او جسمي استفادې په منظور، د انسان د بدن د غړو قاچاق او تجارت، د مهاجرينو قاچاق، قراردادي قتلونه، د توليدي وسايلو غيرقانوني توليد او قاچاق، د جعلي او تقلبي بانکنوټونو چاپ او قاچاق او نور هرقسمه ممنوع فعاليتونه چې ګټه پکې موجوده وي ترسره کوي.

د جرم د کشف څخه د مخنيوي لپاره او هم هغه منافع (ګټې) چې دوی د پرمختللي جرمونو د ارتکاب څخه لاس ته راوړي. د نورو پرمختللي جنایاتو د ارتکاب څخه وروسته لازمه ده چې لاس ته راغلي منافع تطهير شي او د هغې شروع منشاء يا سرچينه بايد پټ وساتل شي؛ نو د پيسو يا مال تطهير او يا پاکولو لاس پورې کوي. نو له همدې امله په جزايي حقوقو کې ((د جنايت څخه د لاس ته راغلو عوايدو د تطهير جرم)) د يو پرمختللي جرم په عنوان د ډېر اهميت څخه برخوردار اراه دی.

نن ورځ د فنونو او تخنيک په پرمختګ سره او د مجرمينو تجهيز کېدل په کمپيوټر او انترنيټ باندې، د جرم څخه لاس ته راغلي عوايدو تطهير نور هم پيچېده شوی او نوي ابعاد يې ځان ته نيولي.

د امريکا د متحده ايالاتو د عدلي وزارت د يو رسمي اعلاميې له مخې، هر کال تر ۱۰ ميليارد و ډالرو پيسې د دوی د بانکونو څخه د کمپيوتري جنایاتو د ارتکاب په وسيله غلا کېږي، کمپيوتري مجرمين خپل فعاليتونه يوازې د پيسو د غلا پورې نه محدودوي، بلکې د جرم د ارتکاب څخه لاس ته راغلي نامشروع عوايدو د پټولو لپاره د نورو کمپيوتري جرايمو مرتکب ګرځي.

په اوسط ډول هره ورځ يو ميليارد ډالر نامشروع او غيرقانوني سرمايې د نړۍ په مالي بازارو نو کې ښکته او پورته کېږي او حرکت کوي او د خارجي بانکونو په خاصه توګه د پرمختګ په حال کې هېوادونو بانکونو ته صدمه واردوي.

مجرمين په ډېرې اسانۍ سره دغه سرمايه تطهير کوي، پرته له دې چې د دوی عمل کشف شي، ځکه دوی په ډېرو لويو معاملاتو او راکړه ورکړو په منځ کې دغه سرمايې تطهير کوي.

او د پيسو د تطهير لارې چارې دا دي، چې په قانوني توليد سوداګريزو موسسو کې موقتي پانګونه، د ونډوو او قيمتي پاڼو په بازار کې پانګونه، د تقلبي خيريه سازمانونو جوړول، د سروزرو او الماسو په بازارونو کې پانګونه، د هنري اجناسو او لرغونو (انتيکو) سامانونو په مزايده کې ګډون او لکه د سويس په څېر هېواد د ازادو بانکي مقرراتو د درلودونکو هېوادونو ته د پيسو انتقال (لېږد).

په دې توګه کله چې کثيفې پيسې قانوني فعاليتونو ته داخلي شوي او پانګه کړای شوې، د لاس په لاس کېدو په جريان کې له پاکو پيسو سره ګډېږي، په داسې توګه چې نور نو د هغوی پېژندنه ناشوني کېږي.

په دې وروستۍ لسيزه کې د پيسو تطهير نړيوال اړخ پيدا کړی دی، چې د نړيوال سوداګرۍ پراختيا او له متخصصو او حرفه يي کسانو څخه د قاچاق وړونکو استفادې، د دې بهير (په تېره بيا د سايبر يا انترنيت په فضا کې د الکترونکي لېږد د نقش له امله د پيسو مدرن يا عصري تطهير رواج موندلي، چې فزيکي کړنو ته اړتيا نه لري، دا پروسه په يوې نه حل کيدونکې ستونزې اوښتې ده، چې د نړۍ هېوادونو ته ډېر زيان اړوي، دا ځکه چې له يو خوا د هېوادونو د سالم اقتصاد په څرخ د دولتونو د ماليو له ترلاسه کېدونکو عوايدو ته زيان رسوي، له بلې خوا د پيسو د تطهر د هېواد اقتصادي او ټولنيزې سلامتيا ته هم ګواښ متوجه کوي او د اقتصادي فساد لمن لاپسې پراخوي او د مالي موسساتو د ړنګېدو لامل ګرځي.

د کثيفو پيسو د تطهير ډېره برخه د نشه يي توکيو له قاچاق سره نيغ په نيغه اړيکه لري نو که چېرې د نشه يي توکيو د قاچاق جړې له بېخه وايستل شي د پيسو د تطهير به هم ډېره اندازه کم شي، خو د جنايي سياست له نظره بايد ووايو د پيسو د تطهير بهير يو اځې د نشه يي توکيو له قاچاق څخه د ترلاسه شويو پيسو پورې نه محدودېږي؛ بلکې هغه ټول موارد رانغاړي چې يو شخص نسبتاً زياتې پيسې له غير مجازو او د قانون سره له مخالفو لارو څخه په لاس راوړي او يا له ماليو او نورو څخه د تېښتې لپاره تطهير کړي.

په خلص ډول ويلی شو چې، د پيسو تطهير په هر هغه ډول اقدام او عملياتو باندې اطلاق کېږي، چې د نورو جنايتونو څخه د لاس ته راغليو مادي منافعو او عوايدو د لاس ته راوړلو نه وروسته د جرم کشف د مخنيوي او د هغه د عوايدو د مشروع

ګڼلو په موخه تر سره کېږي. د مال او يا پيسو له تطهير څخه موخه، له جرم څخه د لاسته راغليو اموالو د اصلي سرچينې پټول او په پاکو مالونو باندې د هغوی تبديلول دي، هغه داسې چې د مال د اصلي سرچينې موندل ناشوني يا ډېر ستونزمن شي. په حقيقت کې د جرم څخه لاسته راغليو پيسو او مال مصادره په خپله د اصلي جرايمو په مخنيوي او کنترول کې ډېر لو نقش ترسره کولی شي.

وړانديزونه:

د پيسو تطهير يو نړيواله پديده ده او د هغه سره مقابله نړيوال همت او د شپې او ورځې کار ته ضرورت لري. د پيسو د تطهير په وړاندې مبارزه په حقيقت کې د نورو پرمختللي جرمونو په وړاندې هم مبارزه ده، چې د غه نور جرمونه په کې د اصلي يا مقدم جرم په نامه ياد ېږي.

د پيسو د تطهير په وړاندې مبارزه چې د پرمختللي جنايتونو په وړاندې د مبارزې يو جز دی، د دې بين المللي جرم د کنترول لپاره لاندې وړانديزونه د يادونې وړ دي:

۱- د عايداتو د پراختيا مخنيوی او د جنايي سازمانونو د فعاليتونو د حجم کمولو لپاره بايد په نړيواله سطحه د هېوادونو ترمنځ دوامداره همکاري رامنځته شي.

۲- پټو او مخفي جنايت کاره ډلو او سازمانونو د اقتصادي قدرت تضعيف او د دوی د اموالو مصادرې لپاره بايد په نړيواله سطحه او د نړيوال پلان او ستراتيژي له مخې هڅه وشي.

۳- د جنايت کارو ډلو او سازمانو لوړو برخو ته د رسېدو په منظور، د دلائيلو لټون او د هغه طريقو او روشونو تشخيص چې د هغه په واسطه پيسې تطهير کېږي.

۴- د بانکونو لپاره د داسې قوانينو رامنځته کول، چې د پيسو تطهير د مخنيوي لپاره موثره وي.

۵- د نړۍ د اسهامو د بازارونو، د هوايي ميدانونو، بندرونو او سرحداتو د موثر کنترول لپاره د هېوادونو له خو وړ او موثره تدابير او اقدامات بايد صورت ونيسي.

ماخذونه:

۱. بسيوني، محمود شريف (۲۰۰۷). رهنمود تطبيق عدالت جنايي. کابل: مطبعه صبور.

۲. د پيسو د تطهير او له جرمونو څخه د راپيد شوو عوايدو پر خلاف د مبارزې قانون (۱۳۸۷) رسمي جريده.

۳. صادقي، مير محمد حسين. (۱۳۹۲) حقوق جزاي بين المللي تهران: نشر ميزان.

۴. عدالت (مجله). د عدليي وزارت. کابل: ۱۳۸۵کال

1. www.vekalat.org

6- Duhaime, Christine. "What is Money Laundering? Duhaime's Financial Crime and Anti-Money Laundering Law". Retrieved 7 March 2014.

7- "History of Anti-Money Laundering Laws". United States Department of the Treasury. 30 June 2015.

8- Jon Matonis (7 May 2013). "Money Laundering Is Financial Thoughtcrime". AmericanBanker.com. Retrieved 6 March 2014.

9- Financial Action Task Force. "Money Laundering FAQ". Retrieved 2 March 2011.

10- Lawrence M. Salinger, *Encyclopedia of white-collar & corporate crime: A – I, Volume 1*, 2005.

11- National Drug Intelligence Center (August 2011). "National Drug Threat Assessment" (PDF). Retrieved 20 September 2011.

پــــو هنــــدوی محمــــد عمــــر عــــا بــــد
ښــــونې او روزنــــې پــــو هنځــــی
بيولــــوژي څــــا نګــــه
تقريظ ورکوونکی: پو هاند دوکتور خليل احمد بهسودوال

د انسان په بدن کې د تايرايد غدې دندې

لنډيز:

تايرايد غده د اندوکرايني غدو له ډلې څخه ده، له حنجرې (Larynx) څخه لاندې د شزن په مخکې او دواړو خواو کې موقعيت لري، د دوو فصونو (ښي او چپ) لرونکې ده، دا دواړه فصونه د يوې تنګې ساحې پواسطه چې Isthmus ورته وايي سره وصل شوې ده، د غدې د Isthmus له برخې څخه يو بل منځنی فص پورته خوا ته غځيدلی چې Pyamidal lobe ورته وايي چې د H د توري په څېر شکل لري، دا غده په غټانو کې له (۱۵-۲۰) ګرامه پورې وزن لري، تور خاکستري رنګ لري.

له دې غدې څخه د Thyroxin(T_4),Tri-iodo-thyronine(T_3) او Calcitonin افرازېږي، د دې هورمونونو پواسطه د بدن اساسي استقلاب له (۲۰ - ۱۰۰) سلنه پورې ترسره کېږي، او د دې هورمونونو په نشتوالي کې د بدن استقلاب (۴۰) سلنه کمېږي، د دې غدې افرازات د Adenohypophysis د TSH هورمون پواسطه کنترولېږي.

سريزه:

د تايرايد غده د Endocrine غدواتو له ډلې څخه يوه مهمه غده ده، د تايرايد غده د غاړې په قدام او اړخونو کې د Trachea د غضروف له منځنۍ برخې څخه ترڅلورمې يا پنځمې حلقې پورې اوږدوالی لري، د تايرايد غدې هورمونونه د بدن د ميتابوليزم په انتظام، د بدن او دماغ په ودې او هم د کلسيم په ميتابوليزم کې رول لري، د تايرايد غدې د هر فص اندازه نژدې (5cmx 2.5cmx 2.5cm) او د Isthmus برخې اندازه يې (1.2cmx 1.2cm) ده.

موخې:

۱- د تايرايد غدې په اړه څرګندونې چې په اړونده موضوع کې د مسلک خاوندانو او مينه والو د ستونزو د حلولو لپاره د مرستندويه موادو په توګه تمام شي.
۲- د تايرايد غدې د بېلابېلو برخو پېژندل.
۳- د تايرايد غدې له بېلابېلو برخو څخه د افرازيدونکو هورمونونو پېژندنه.
۴- په بدن کې د تايرايد غدې د افرازيدونکو هورمونونو اغېزو پېژندل.

د تايرايد غده ترحنجرې (Larynx) لاندې د Trachea په مخ او دواړو خواو کې پرته ده، د تايرايد غده د اندوکراين لويه غده ده چې په لويانو کې له (۱۵-۲۰) ګرامه پورې وزن لري، تايرايد غده دوه مهم هورمونونه لري چې د Thyroxin (T_4) او Tri iodo Thyronine (T_3) په نوم يادېږي. دا دواړه هورمونونه د بدن په ميتابوليزم کې زيات اغېز لري، يعنې د تايرايد د غدې د هورمونونو په نشتوالي کې د بدن ميتابوليزم اندازه (۴۰) سلنه کمېږي. (۳: ۴۵۰)

د تايرايد غده د غاړې په قدام او اړخونو کې د Trachea د غضروف له منځنۍ برخې څخه تر څلورمې يا پنځمې حلقې پورې غځيدلې، د تايرايد غدې هورمونونه د بدن د ميتابوليزم په انتظام، د بدن او دماغ په نشونما او هم د کلسيم په ميتابوليزم کې ونډه لري، د تايرايدغدې د هر فص اندازه نژدې (5cmx 2.5cmx 2.5cm) او د Isthmus برخې اندازه يې (1.2cmx

1.2cm) ده. د تایرایـد غـده پـه نارینـه و کـې د ښـځو په نسبت کـوچنۍ ده، د دې غـدې سـایز د Pregnancy او Lactation پـه وختونو کې د بدن د ضرورت په کچه زیاتېږي.(۷: ۱۴۲)

د تایراید غده د امبریولوژي له نظره د ژبې د ریښې له تغلف څخه له منځنۍ کرښې څخه منشأ اخلي چې لاندې خواته وده کوي، د شزن او تایراید غضروف قدام کې خپل نارمل موقعیت غوره کوي، د Thyroglossal duct د ریشمي ژوند په شپږمه هفته کې له منځه ځي.

د هستولوژي له نظره د تایراید غده له یو شمېر فصیصاتو څخه جوړه ده چې د یو زیات شمېر کلوئیدې فولیکولونو لرونکي ده، په ټولیز ډول په هرفص کې له (۲۰-۴۰) په حدودو کې فولیکولونه شتون لري، فولیکولونه د تایراید غدې اساسي وظیفوي واحدونه شمېرل کېږي، چې د مکعبي Epithelium په وسیله پوښل شوي دي، دغـه فولیکلونـه لـه Thyroglobuline څخه ډک وي دا فولیکولونه یو له بل څخه د فبروزي نسج په وسیله جلا شوي دي چې یو زیات شمېرد وینې رګونه لري. د Calcitonine افرازونکې حجرې په فولیکولونو کې په خپور ډول شتون لري چې یوازې د نقرې د تلوین په وسیله پېژندل کېږي. (۱: ۲۵۲)



(۱) شکل: په پورتني شکل کې د تایراید غدې موقعیت ښودل کېږي. (http://www.google.com.)

د تایراید غدې تکامل

د بلعومي غضروفي قوسونو ترجوړېدو وروسته د Mandibular arches انسي نهایات د Midline swelling پواسطه سره جلا کېږي چې نوموړي swelling د Tuberculum imper په نوم یادېږي، د Tuberculum imper شاته چې د بلعوم په سطحه کې کوم Epithelium قرار لري په منځنۍ برخه کې لږ پلنوالی پیدا کوي او وروسته د بلعوم په سطحه کې د ډایورتیکول په شکل ښکته چې دغـه اخیري جوړښت دی د Thyrogolsal duct پـه نـوم یـادېږي، د نوموړې ډایورتیکول ځای د Foramen cecum په نوم یادېږي، دا ډایورتیکول د Midline تر غاړې پورې رسېږي او پای کې اخیري نهایت یي منشعب کېږي چې همدا انشعابي برخه د حجراتو Proliferation د تایراید غدې لوبونه (ورقې) جوړوي. (۷: ۱۱۱)

د تایراید غدې د میتابولیکي هورمونونو افرازات

د تایراید میتابولیک فعال هورمون (۹۳) سلنه د Thyroxin او (۷) سلنه لهTri iodo thyronine څخه عبارت دی، نژدې ټول Thyroxin په نسجونو کې په Tri iodo thyronine بدلېږي، دواړه هورمونونه نژدې یو شان وظیفه لري لیکن په عمل، تاثیر او دوام کې یوله بل څخه توپیرلري د بیلګې په توګه Tri iodo thyronine هورمون نسبت تایروکسین هورمون ته څلورچنده قوي او د لږ دوام اغېز ښندي. (۳: ۴۵۰)

د تایراید غدې فولیکولي حجرې

د تايرايد غدې د فوليکولي حجرو شکل متغير دی دا تغيير د حجرو په فعاليت پورې اړه لري په نارمل حالت (يا د فعاليت په متوسطه درجه) کې حجرې مکعبي وي چې د فوليکول په منځ کې د کلوئيدي موادو مقدار هم په متوسطه اندازه وي، کله چې حجره غير فعال وي يعنې د استراحت په حالت کې وي نو حجرې هموار يعنې Squamous وي او کله چې حجرې ډېرې زياتې فعال وي نو د حجرو شکل Columnar وي او کلوئيد هم په کم مقدار کې وي.

فوليکولي حجرې دوه ډوله هورمونونه افرازوي چې د بدن د ميتابوليزم په درجو باندې تاثير لري، د دې هورمونونو مهمه برخه ايودين دی يو ډول هورمون چې په هر ماليکول کې درې اتومه ايوډين لري د Tri iodo thyronin T_3 په نوم يادېږي، بل هورمون چې په هر ماليکول کې څلور اتومه ايوډين لري د Tetra iodo thyronin T_4 يا Thyroxin په نوم يادېږي، T_3 نسبت T_4 ته زيات فعاليت لري.

د تايرايد غدې د فوليکولي حجرو فعاليت د Thyroid stimulating hormone (T.S.H) تر تاثير لاندې قرار لري چې د نخاميه غدې پواسطه افرازېږي. همدارنګه د سمپاتيک اعصابو تنبه هم د فوليکولي حجرو فعاليت زياتوي. (۲: ۴۵۷)

د ايوډين (Iodine) ميتابوليزم

سابه او کبان په زياته اندازه ايوډين لري، په کومو ځايونو کې چې ايوډين لږ وي خلک يې بايد د خوړو مالګه کې ايوډين زيات کړي، په غذايي رژيم کې اخيستل شوی ايوډين پر Iodide باندې بدلېږي وروسته جذب صورت نيسي، د انسان په بدن کې (۱۵۰) ملي ګرامه ايوډين وي چې له دې څخه له (۱۰-۱۵) ملي ګرامه پورې د تايرايد په غده کې وي، نارمل ورځنۍ اخيستنه يې له (۱۰۰-۲۰۰) مايکرو ګرامه پورې ده، چې کمه ورځنۍ اړتيا يې تر (۲۵) مايکروګرامه پورې رسېږي. (۴: ۳۹۰)

د تايرايد غدې فزيالوژيکي دندې

د تايرايد غدې هورمونونه د بدن د ټولو نسجونو ميتابوليک فعاليت زياتوي که چېرې په زياته اندازه هورمونونه افراز شي د بزل ميتابوليک اندازه يې له (۲۰-۱۰۰) سلنه نسبت نارمل حالت ته پورته وړي او هم د غذايي موادو په جوړښت اولګښت باندې اغېزلري. د تايرايد غده د حجرو د مايتوکاندريا په فعاليت او شمېرکې زياتوالی راوړي او په دې شان د ATP جوړښت زياتوي چې د حجرو په انرژۍ کې ورڅخه استفاده کېږي. (۸: ۲۷۴)

د بدن په نشونما باندې د تايرايد غدې د هورمون اغيز

د تايرايد غدې هورمون په عمومي او خصوصي ودې اغېز لري دا تاثير د ماشومانو په وده کې په ښه شان ليدل کېږي ليکن د غدې په Hypothyroid حالت کې د ماشومانو وده وروسته پاتې کېږي او په Hyperthyroidism کې ماشوم په لومړيو کلونو کې ډېر لوی په نظر راځي.

د کاربوهايدريتونو پرميتابوليزم يې اغيز

د حجرو په وسيله د ګلوکوز اخيستل زياتوي د Glycolysis عمليه زياتوي، له پروتينونو څخه د ګلوکوز په جوړښت (Glyconeogenesis) کې زياتوالی راولي او په همدې شان د معدې او کولمو له سيستم څخه د ګلوکوز جذب زياتوي. (۸: ۲۷۵)

د شحمياتو پرميتابوليزم يې اغيز

د تايرايد غدې هورمون د شحم پر ميتابوليزم باندې له هرې خوا تاثيرلري يعنې د شحمونو نسجي ذخيرې په شحمي تيزابو او د وينې د شحمي تيزابو زياتوالی او د حجرو په وسيله د شحمي تيزابو په مصرف کې چټکتيا راوړي.

د بدن پر وزن يې اغيز

د تايرايد غدې هورمون د بدن له وزن سره معکوسه اړيکه لري که چېرې د هورمون اندازه له نارمل حد څخه پورته شي د بدن په وزن کې کموالی راځي او کله چې د هورمون افراز له نارمل حد څخه کم شي د بدن د وزن د زياتوالي سبب کېږي.

د زړه پر حرکاتو يې اغيز

د تايرايد غدې هورمون په اثر د زړه د حرکاتو او قلبي دهانې د ډېرښت سبب ګرځي، داسې فکر کېږي چې د زړه د حرکتونو دا زياتوالی د هورمون د مستقيم تاثير په اثر منځته راځي.

د وينې پر شرياني فشار يې اغيز

د تايرايد غدې هورمون د شرياني وينې په فشار کې تغييرنه راوړي که چېرې د وينې سستاليک فشار لږ زيات شي په هماغه اندازه د وينې دياستوليک فشار کمېږي.

پر تنفسي سيستم يې اغيز

د اکسيجن د مصرف زياتوالی او د کاربن ډای اکسايد ډېرښت د تنفس شمېر او ژوروالی زياتوي. (۹: ۲۰۷)

له حجروي غشا څخه د ايونونو پر لېږد يې اغيز

د تايرايد غدې (T_3 يا T_4) هورمونونه د Sodium Potassium ATPase فعاليت زياتوي چې له حجروي غشا څخه په زيات مقدار د Na او K ايونونو د انتقال سبب ګرځي، څرنګه چې دا يوه فعاله عمليه ده نو په دې ډول د انرژۍ د مصرف او د تودوخې د توليد سبب ګرځي.

د پلازما او ځيګر پر شحمونو يې اغيز

د تايرايد غدې د هورمونونو د زياتوالي له کبله د پلازما د کولسترول، فاسفولپيد او ترای ګليسرايدونو غلظت کمېږي په ځيګر کې هم زيرمه کمېږي او د شحمي اسيدونو غلظت په ځيګر کې لوړېږي، چې په دې ډول د Hypothyroidism په ناروغانو کې د کولسترول غلظت په پرلپسې ډول لوړېږي او د Atherosclerosis سبب ګرځي. (www.wikipedia encyclopedia.com)

د تايرايد غدې د فعاليت کموالی Hypothyroidism

يو کلينيکي سندروم دی چې له تايرايد غدې څخه د هورمونونو د افراز د کموالي له کبله رامنځته کېږي، که د ناروغۍ لامل خپله غده وي د پرايمري هايپوتايروديزم په نوم، که نخاميه غده وي د دويمې هايپوتايروديزم په نوم او که هايپوتلاموس کې وي د دريېمې هايپوتايروديزم په نوم يادېږي خو د ناروغۍ له (۹۰-۹۵) سلنه پېښې د تايرايد غدې ناروغي جوړوي.

په عمومي ډول هايپوتايروديزم د ميتابوليکي پېښو د سستوالي لامل ګرځي خو وخيم شکل کې په پوستکي کې د پولې سکرايدونو راټوليدل رامنځته کېږي، چې د Non pitting اذيما لامل کېږي چې د Myxodema په نوم يادېږي. (۵: ۱۴۰)

پايله:

د تايرايد غده د اندوکراين لويه غده ده، له حنجرې (Larynx) لاندې د Trachea په مخ او دواړو خواو کې پرته ده، په لويانو کې له (۱۵-۲۰) ګرامه پورې وزن لري، په نارينه و کې د ښځو په نسبت وړه ده، تايرايد غده د دوه فصونو (ښي او چپ) لرونکې ده، دا دواړه فصونه ديوې تنګې ساحې پواسطه چې Isthmus ورته وايې سره نښتې دي، تايرايد غده دوه مهم هورمونونه لري چې د (T_4) Thyroxin او (T_3) Tri iodo Thyronine په نوم يادېږي. د تايرايد ميتابوليک فعال هورمون (۹۳) سلنه Thyroxin او (۷) سلنه له Tri iodo thyronine څخه عبارت دی، نژدې ټول Thyroxin په نسجونو کې په Tri iodo thyronine بدلېږي، دواړه هورمونونه نژدې يو شان وظيفه لري ليکن په عمل، تاثير او دوام کې يو له بل څخه توپير لري. د تايرايد غدې هورمونونه د بدن د ميتابوليزم په انتظام، د بدن او دماغ په وده او هم د کلسيم په ميتابوليزم کې رول لري، د تايرايد غده د حجرو د مايتوکاندريا په فعاليت او شمېرکې زياتوالی راوړي او په دې شان د ATP جوړښت زياتوي چې د حجرو په انرژۍ کې ورڅخه استفاده کېږي، د هورمونونو د افراز د کموالي له کبله ځينې مرضونه هم رامنځته کېږي.

وړانديزونه:

۱- د تايروکسين او تايرونين په ترکيب کې د ايوډين عنصرشته بايد دغذايي موادو له لارې د ايوډين عنصر واخيستل شي.

۲- د تايرايد غدې هورمونونه د بدن پر وده اغيزه لري نو د ماشومانو د ودې لپاره هغه خواړه استعمال شي چې د ايوډين عنصر ولري لکه سابه او کبان.

۳- کله چې د تايرايد غدې هورمونونه لږ افراز شي د بدن وزن زياتېږي بايد له ډاکتر سره مشوره وشي چې بدن نارمل وزن ولري.

۴- د تايرايد غدې د هورمونونو د افرازاتو په زياتوالي سره جاغور جوړېږي نو بايد د هورمونونو جوړيدل راکم کړای شي.

۵- په اميدوارو ښځوکې هايپوتايرودیزم د سقط لامل ګرځي بايد د ډاکتر په مشوره کنترول شي.

اخځليکونه:

۱- بهسودوال، خليل احمد .(۱۳۹۲). د سيستمونو پتالوژي. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون. طب پوهنځی. م. **۲۵۲**.

۲- بهسودوال، خليل احمد .(۱۳۸۹). طبي هستولوژي. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون. طب پوهنځی. م. **۴۵۷**.

۳- شريف الله.(۱۳۸۰). طبي فزيالوژي. ننګرهار: ننګرهار. طب پوهنځی. م م. **۴۵**.

۴- عظيمي، محمد عظيم.(۱۳۹۲). د طبي بيوشيمي اساسات. جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه. م. ۳۹۰.

۵- نشاط، محمد طيب.(۱۳۸۷). اندوکراينولوژي او روماتولوژي. د افغان کلتوري ټولنو جرګه. م. ۱۴۰.

۲- نصرتي، محمدناصر .(۱۳۹۳). اناتومي دريم جلد. عصبی سيستم، حواص او اندوکراين غدوات. ننګرهار: ننګرهارپوهنتون. طب پوهنځی. م. ۱۴۲.

۷- نصرتي، محمدناصر .(۱۳۹۳). طبي امبريولوژي. ننګرهار: ننګرهارپوهنتون. طب پوهنځی. م. ۱۱۱.

8- Rod. R. Seeley. (2008). Essentials of Anatomy and Physiology. Fourth edition. Trent D. Stephens. Idaho State university. pp. 274, 275.

9- Stanley. E. Gunstream. (2005). Anatomy and Physiology. Second edition. Pasandena city University. p. 207.

پوهنـــــوال جـــــان محمـــــد پيغـــــام
تقـريظ ورکـوونکی: پوهنـوال مسـتعلي نيـازی
د ښـــوونې او روزنـــې پـــوهنځي اســـتاد

محمدګل خان (مومندبابا) وسله واله مبارزه، علمي او فرهنګي هڅې

لنډيز:

په دې علمي مقاله کې د وزير محمدګل خان مومند ملي وطنپرستانه احساس، د افغان ولس سره د هغه د سوکالۍ هيله او د هيواد پرمختګ او د خپلواکۍ د روحيې د پياوړتيا په اړه ګټورو معلوماتو ته اشاره شوېده او هم د نوموړي د علمي او فرهنګي هڅو او د افغان ولس د سوکالۍ په اړه په تفصيل سره معلومات په همدې علمي تاريخي مقاله کې راټول شويدي.

وزيرمحمدګل خان (مومند) په (۱۲۲۳لمريز) کال د کابل ولايت په اندرابيو کې زيږېدلی او په (۱۲۹۰لمريز) کال په حربي ښونځي کې د زده کړو د بشپړولو وروسته په دولتي دنده ګمارل شوی، نوموړي لس (۱۰) کاله د کورنيو چارو د وزير په توګه ددندې اجراکولو وروسته يې تر (۱۳۲۷) لمريزکال پورې د سمنګان په ولايت کې استوګنه کوله، چې بالاخره همدا سترمشر په (۱۳۴۳) لمريز کال په کابل کې مړشو.

سريزه:

د پښتنو سترمشر وزير محمدګل خان مومند د امير شيرعلي خان د لومړي ځل واکمنۍ پر مهال د کابل په اندرابيو کې زيږېدلی او د خصوصي زده کړو د بشپړولو وروسته يې حربي ښوونځی و لوست، د هيواد د خپلواکۍ پرمهال د ختيځې جبهې د ارکانحرب د مسؤل په توګه وټاکل شو.

وزيرمحمدګل خان (مومند) د خپلواکۍ د اعلان وروسته د افغان حکومت د سفارت دګرځنده پلاوي په ډله کې د اسيايي، اوروپايي هيوادو اود امريکا متحده ايالتوته يې اوږد مهاله سفر وکړ، چې د همدې سفر څخه هيواد ته دبيرته راتګ وروسته داعليحضرت امان الله خان په حکم په ترکيه کې د افغانستان د سفارت نظامي اتشه او د ځينو اعلی حکومتونو د حاکم اعلی او پوځي مسؤل په توګه په دنده ګمارل شوی و.

د اعليحضرت محمد نادرخان د واکمنۍ پرمهال د کورنيو چارو د وزارت له دندې سره جوخت يې ديوې نايب الحکمه ګۍ اداري او نظامي مسؤليت هم ورته سپارل شوی و، چې همدې دواړو دندو ته يې په صدافت، ايمانداری او لوړمورال ادامه ورکوله، چې بالاخره همدا ميړنی پښتون مشراو سپه سالار په (۱۳۴۳) لمريز کال د کابل په ولايت کې مړشواو د شهدای صالحين په هديره کې په ډېر درنښت خاورو ته و سپارل شو.

هدف او موخه:

ددې علمي تاريخي مقالې د ليکلو څخه زما هدف د وزير محمدګل خان مومند د ژوند د بېلا بېلو پړاونو په اړه څرګندونې او د هغه د علمي او فرهنګي هڅو او وسلوالې مبارزې په اړه مې معلومات را ټول او د تاريخ د مينه والو د لوست له پاره مې چمتو کړيدي او بل هدف مې د خپلو علمي او اکاډميکو چارو د پرمختګ پر لورهڅول دي، ترڅو د ليکلولو لپارې خپلو هيوادوالو ته د ښه خدمت مصدر وګرځم.

وزير محمدګل خان مومند

وزيرمحمدګل خان مومند د محمد خورشيد زوی، د مومن خان لمسی، د عبدالکريم کړوسی او د عبدالرحيم مومند کودی و، په ختيه دويزی او په قوم حسن خېل مومند و. په (۱۳۰۳هـ ق) کال چې د (۱۸۸۵م) کال سره سمون خوري د کابل ولايت د اندرابيو په سيمه کې زيږېدلی دی (۲:۲).

د محمدگل خان مومندنيکه (مومن خان) د اميردوست محمدخان د واکمنۍ پرمهال په بلخ کې د عسکري ساتونکې په توگه په دنده گمارل شوی و، چې نوموړی د امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ پرمهال د حکومت د مخالفينو له خوا د سمنگان په ولايت کې و وژل شواو د بلخ د (شيخ حسن بابا) په هديره کې خاورو ته و سپارل شو.

د محمدگل خان مومند پلار (محمدخورشيد مومند) د هيواد په لرې پرتو سيموکې په پرله پسې دنده بوخت و، نوموړی د هيواد د ختيځو ولايت (سرکانو، اسمار او بريکوټ) کې د حاکم اعلی په توگه دنده اجرا کوله اوله همدې ځای څخه د شينوارو د حکمرانۍ د (کهې) په پوځي چونۍ کې په ملکي او نظامي دنده وگمارل شو، محمد خورشيد مومند د علم او پوهې په گاڼه سمبال، زيږ او زړور پښتون و او هم يې خپل زوی د هغه مهال د رواجي علومو د زده کړې له پاره و هڅوه، چې د خصوصي زده کړو د بشپړولو وروسته يې په (۱۲۸۵) لمريز کال د حربي ښوونځي په دويم ټولگي کې شامل کړ، چې د پنځه کالو په لړ کې يې خپلې عسکري زده کړې په نوموړي ښوونځي کې بشپړې کړې او په هيواد کې د څه مودې عسکري دندې د اجرا کولو څخه وروسته د لوړو زده کړو له پاره د ترکېې هيواد ته وليږل شو، چې په هغه هيواد کې د لوړو زده کړو د بشپړولو وروسته بېرته هيواد ته راستون شو او د اعليحضرت امان الله خان د واکمنۍ پرمهال په ترکېه کې د افغاني سفارت د نظامي اتشې په دنده وگمارل شو، چې د همدې دندې د سرته رسولو وروسته بيرته هيواد ته راوغوښتل شو (۲:۲۱۲).

محمدگل خان مومند د ښوا خلاقو، ټينگې ارادې او کلک عزم له امله مذهبي زيږ پښتون گڼل شوی و، نوموړی ستر پښتون په پښتونولۍ مين و، د پښتنود تاريخ د عظمت اولوړوالي سره يې مينه درلوده او تل يې د پښتني اصولو د تطبيق ملاتړکاوه، د همدې سترمشرهرې خبرې د افغانانو لپاره د مدرسې حيثيت درلود. د نوموړي په څټه کې له کوچنيوالي څخه علم ،ادب، نظم او د سپلين اخښکل شوی و، نوځکه په ټول افغان ولس کې د يو ملي شخصيت په توگه ومنل شو.

محمدگل خان مومند د پياوړې ارادې او ټينگ غزم خاوند و او د پښتنو په خبره د پيسو پرځای يې کېسې گټلې او مادي شتمنۍ ته يې چندان ارزښت نه ورکاوه، نوځکه يې د خپل عمرتر پايه د کابل په ښار کې په يو کرايي کورکې استوگنه کوله، د ژوند تر وروستۍ سلگۍ پورې د خپل کور خاوند نه شو او په کرايي کورکې مړ شو، له همدې امله ټول افغان ولس محمدگل خان (مومندبابا) ته په درنه سترگه گوري او افغان ولس او هيواد ته د هغه د ښه خدمتونو ستاينه کوي.

محمدگل خان (مومندبابا) د نظامي دندې پرته د ولسي خير ښيگڼې په چارو کې زړه سوانده او بشردوست شخص گڼل شوی و، تل يې د افغان ولس هرې ستونزې ته د حل لارې چارې لټولې، د هرستونزمن حالت پرمهال يې خپل حوصله له لاسه نه ورکوله اوله هرچاسره يې په پراخه ټنډه خبرې کولې. دې ستر پښتون د خطابت او نطاقۍ پرته يې د افادې پياوړې قوه هم درلوده او په هر ستونزمن حالت کې د نوموړي په خبروکې زړورتيا او حوصله نغښتې وه او هم يې تل په رسمي او دولتي غونډوکې رښتيني وينا او خبرې کولې. چې د همدې افغاني او اسلامي اخلاقوله امله افغان ولس ورته په درنه سترگه کتل.

وزيرمحمدگل خان (مومند) د عصري علومو پرته په ديني علوموکې هم لوی لاس درلود، ځکه د قرانکريم په تلاوت، تفسير، احاديثواو د فقهې د اصولو په تطبيق کې د هرمذهبي عالم څخه ښه پوهيده او اسلام پاله گڼل شوی و، چې تل يې په خپلوخبروکې د اسلامي اصولو تطبيق او رواجولو ته هراړخيزه پاملرنه کوله او هم يې په خپلوخبروکې اسلاميت او افغانيت يوله بل سره تړلي و او تل يې افغان ولس ته د اسلامي او افغاني اصولو د تطبيق او پلي کولو لارښوونه کوله (۲۱:۹).

د وزير محمد گل خان مومند دندې
وجايب او مسؤليتونه

دا ستر پښتون د ژوند په بېلابېلو پړاونوکې د افغان حکومت له خوا په ملکي او نظامي دندو گمارل شوی و؛ مثلاً: د عسکري پوځ منصبدار، حاکم اعلی، تنظيمه رئيس (نايب الحکمه)، قومي مشراو د وزارت په دنده هم گمارل شوی و، د ژوند په هر يو پړاوکې يې د افغان ولس د خدمت مصدرگرځيدلی و، نوځکه يې د ځينو رسمي او غېرې رسمي دندو يادونه اړينه او لازمي گڼو. کله چې وزيرمحمدگل خان (مومند) خپلې عسکري زده کړې بشپړې کړې، په (۱۲۹۰المزيز) کال د افغان حکومت د پريکړې له مخې د (اردليانو) په عسکري (غنډ) کې د قومندان په توگه و ټاکل شو، چې په همدې مهال د شاهي کورنۍ د زده کونکو د ځانگړې ټولگي د تدريس او انظباط د مسؤل په توگه هم و ټاکل شواو هم يې په حربي ښوونځي کې د سرښونکي په توگه دنده اجراکوله، د هيواد د خپلواکۍ د اعلان سره جوخت د ملي دفاع د وزير(صالح محمد) د (ياور) په

توګه وټاکل شو، د هيواد د خپلواکۍ د جګړې پرمهال (۱۲۹۸ لمريز) کال د ملي دفاع وزير (صالح محمد) د ختيځې جبهې د عمومي قومندان په توګه او د همدې جبهې د ارکانحرب دنده کنډکمشر محمدګل خان (مومند) ته و سپارل شوه، چې همدا مهال د ملي دفاع د وزيرنظامي ياورهم و (۱۲: ۱۲).

دملي دفاع وزير (صالح محمد) د جګړې د اعلان د مخه د (۳/مې/۱۹۱۹) نېټه جګړه پيل کړه، چې همدا مهال د ختيځې جبهې تر شا محمدعمرافريدي د بريتانوي پوځ پرخلاف وسله واله مبارزه پيل کړې وه، د همدې جګړې د جريان پرمهال د ختيځې جبهې قومندان (صالح محمد) په پښه سرسري ټپي شو، د ختيځې جبهې ګرم جګړه ايز سنګر يې د کوم دولتي حکم پرته د زخم په بهانه پريښود، نوځکه ختيځې جبهې قومندان (صالح محمد) د بې تدبيره نظامي حرکت له امله د ختيځې جبهې وسله وال پوځ د منظمې قومندې د نه لرلو له امله دپوځي ماتې سره مخامخ وه، مګرد (کنډک مشر محمدګل خان مومند) د ښه منظم تدبيرله امله يې مات ګوډ پوځ دوباره منظم او د خيبراولنډې کوتل د پوځي تاڼو د امنيت د ټينګښت په دنده يې همدا پوځ دوباره په دنده وګماره، ترڅو د بريتانوي پوځ د لويديځ (جلال آباد) پرلور د پرمختګ مخه ونيسي (۱۱: ۷۵۹).

د هيواد د خپلواکۍ د جګړې د بري وروسته ډېر ژر (کنډکمشر محمدګل خان مومند) د هغه د صداقت، خدمت او بهادرۍ له امله د اعليحضرت امان الله د ځانګړي حکم له مخې د ارګ د شاهي ګارډ د قومندان په توګه وټاکل شو (۱۲: ۱۲).

کله چې د افغانستان دولت خپله سياسي خپلواکي اعلان کړه، دافغان دولت د پريکړې له مخې د ګرځنده سفارت يو پلاوی و ټاکل شو، چې د همدې ګرځنده سياسي پلاوي په ترکيب کې (محمدولي خان بدخشي) د مشر په توګه او (ميريارېيګ بدخشي، ميرزامحمد يفتلي، عبدالرحمن لودين، سردار فيض محمد ذکريا، قاضي سيف الرحمن، قومندان عبدالحميد، خواجه هدايت الله، بشيراحمد، عزيزالرحمن او کنډکمشر محمدګل خان مومند په ګډون يې همدا پلاوی (تاشکند، مسکو، اورو پا يې هيوادو، د امريکا متحده ايالتو او دانګلستان مرکز (لندن) ته اوږد مهاله سياسي سفر وکړ او د هغه هيوادو د حکومتي مشرانو غوږونو ته يې د افغانستان د خپلواکۍ د اعلان انګازې و رسولې (۱۱: ۷۸۲).

کله چې محمدګل خان مومند د بهرنيو هيوادو د اوږد مهاله سفرڅخه بريالی کابل ته راستون شو، د افغانستان د ځوان خپلواک دولت د پريکړې له مخې يې په ترکيه کې د افغاني سفارت د نظامي اتشې په توګه و ټا کل شو، کله چې نوموړي په ترکيه کې خپله دنده په بري سره پای ته و رسوله، بېرته هيواد ته راوغوښتل شواو په همدې مهال (۱۳۰۰لمريز) کال د اوردو د (عسکري مجلې) د مسؤل مدير په توګه و ټاکل شو، نوموړې مياشتنۍ مجله د حربي ښوونځي له خوا خپريدله او همدې مجلې د (کنډکمشر محمدګل خان مومند) په ابتکار خپلې خپرونې پيل کړې وې په (۱۳۰۳لمريز) کال د پکتيا د حاکم اعلی او د عسکري قواو د قومندان په توګه و ټاکل شو، په (۱۳۰۶ لمريز) کال په مزارشريف کې د ملکي پلټنې د رئيس په توګه په دنده وګمارل شو او په (۱۳۰۷لمزيز) کال د ننګرهار د عسکري قواو د قومندان په توګه ټاکل شوی و.

اعليحضرت محمدنادر خان د خپلو ورونوا و محمدګل خان مومند په هڅو لويه جرګه را وبلله، ترڅو افغان ولس يوځل بيا د سولې او امنيت په رڼاکې د ملي وحدت لاسونه ورکړي، د همدې جرګې د پريکړې له مخې محمد نادر خان د پادشاه په توګه، محمدهاشم د صدراعظم په توګه، شاه محمود د ملي دفاع د وزير په توګه، فيض محمد اوعلي محمد دپوهنې اوبهرنيو چارو د وزيرانو په توګه او محمدګل خان مومند د کورنيو چارو د وزير په توګه و ټاکل شو (۱۳: ۲۰۴).

وزيرمحمدګل خان مومند همدا دنده په (۱۹۲۹م) کال پيل او تر (۱۹۳۹م) پورې پوره لس کال دکورنيو چارو د وزارت له دندې پرته په (۱۳۰۹ لمزيز) کال چې د (۱۹۳۰م) کال سره سمون خوري د کندهار او فراه د نايب الحکمه ګۍ د تنظيمه رئيس په توګه، په (۱۳۱۱ لمريز) کال د پروان د تنظيمه رئيس په توګه او د هغه وروسته د مزارشريف او ميمنې د تنظيمه رئيس په توګه په دنده ګمارل شوی و او بالاخره په (۱۳۱۹لمزيز) کال د قطغن او بدخشان د تنظيمه رئيس په توګه ټاکل شوی و، چې دکورنيوچارو د وزارت له دندې سره جوخت يې پورتنۍ دندې په صداقت او ايمان دارۍ اولوړ مورال سرته رسولې دي.

د همدې واکمنۍ پرمهال ابراهيم بيګ لقي چې ډېر مشهور آس ځغلونکی او ډاکو و، تقريباً (۳۰۰) تنه آس ځغلوونکو څځه يې منظمه وسله واله ډله جوړه کړې وه، نوموړی د (انوربيګ) د همکارانو له ډلې څخه و، چې تل يې د افغاني او

روسي ترکستان امنيت دګوابښ سره مخامخ کړی و. د ژمي د سختې يخنۍ پرمهال د (خاواک) دکوتل له لياري د خپلې وسله والې ډلې پرملاتړ يې د قطغن ايالت د وسله وال ګوابښ لاندې ونيوه، همدې يرغلګرې ډلې د وزير محمدګل خان مومند د سالمې نظامي رهبرۍ له امله ماتې وخوړه او د قطغن د ايالت پرېښودو ته اړشول او بېرته روسي ترکستان ته وتښتيدل (۱۳: ۲۰۸).

کله چې په (1311 لمريز) کال وزير محمدګل خان مومند دکندهار او فراه د نايب الحکمه ګۍ (د تنظيمه رياست) د دندې پرمهال د ميوند د غازيانو د اتلوالې مبارزې په ياد يې د ميوند د شهيدانو په هديره کې يوڅلی جوړکړاو هرڅوک چې د کندهارڅخه هرات او ياهلمند ته مسافرت کوي، دا تاريخي څلی يې ضرور تر سترګو کېږي او د ميوند د شهيدانو اوميرمن ملا لي د اتلوالې مبارزې ياد يې په ذهن کې را ژوندی کېږي (۵: ۲۷۴)

همدارنګه وزير محمدګل خان مومند د ښواخلاقو له امله د لمر په نښان (بهادرۍ) او (۵۰۰) جريبه ځمکې د اعليحضرت محمدنادرخان په حکم ويا ړل شوی و. مګرهمدا (۵۰۰) جريبه ځمکه د وزير محمدګل خان (مومند) له خوا د کابل پوهنتون او د هيواد د مرکز اوايالتونو د نايب الحکمه ګيو اواعلی حکومتونود روغتونونو د ودانيولپاره بېرته افغان دولت ته و سپارل شوه، تر څو د يوې خوا د هيواد ځوان نسل د پوهې په ګاڼه سمبال شي اوله بلې خوا د هيواد د رنځورانو په همدې روغتونونوکې معالجه اوعلاج و شي، چې د (مومندبابا) همدې پريکړې يوڅل بيا افغان ولس ته د هغه افغاني اواسلامي هوډ څرګندکړ. د وزير محمدګل خان مومند د همدې سترو خدمتونو له امله په (۱۳۳۴لمريز) کال د قومي شوراګانود ټاکنې پرمهال د لويې جرګې د مرستيال په توګه و ټاکل شو، چې همدا لويه جرګه د وزيرمحمدګل خان (مومند) په هڅو بريالۍ پای ته ورسيده (۱۲:۱۲).

وزير محمدګل خان (مومند) د خپل ژوند پرمهال تل هڅه کوله، چې د هيواد د ټولو قومونو او قبايلوترمنځ د اتفاق او يوالي فضا رامنځته کړي، ترڅو ټول افغان ولس د ورونو غوندې ژوند وکړي، د همدې مقصد د بشپړولو لپاره يې د هيواد شمالي ولايتونو ته ګڼ شمېر افغانان د دايمي استوګنې له پاره وليږل، ترڅو د قطغن، بدخشان، بلخ اونوروشمالي ولايتونو دښتې او رغونه په همدې افغانانو آباد او د خلکود استوګنې لپاره يې چمتوکړي.

کله چې په (۱۲۹۰ل) کال وزيرمحمدګل خان مومند د حربي ښوونځي څخه فارغ شو، د هغه مهال څخه د اعليحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ تر وروستي مهال پورې يې د هيواد ملکي او عسکري لوړې دندې په بشپړ صداقت او ميړانې په بريالیتوب سرته رسولې دي او په همدې مهال يې ګڼ شمېر پښتانه د افغانستان د جنوب اوختيځو سيمواو هم يې د ازادو قبايلوڅخه ګڼ شميرقبايلي پښتانه د (عجب خان اپريدي او شهزاده خان اپريدي) په ګډون د افغانستان په شمالي ولايتونو (قطغن، بدخشان او بلخ) کې يې ورته د دايمي استوګنې زمينه برابره کړې وه (۷: ۳۲۴).

همدارنګه وزير محمدګل خان مومند ته د افغان ولس اقتصادي حالت څرګند و، نوځکه يې د افغانستان د ښيرازۍ اوابادۍ لپاره هڅې کولې، ترڅوټول هيوادوال په خوشحالۍ خپل راتلونکې ژوند ته ادامه ورکړي اوهم يې له کوم تبعيض اوتوپير پرته د افغان ولس د فرهنګي اړيکود پياوړتيا لپاره متې راو نغاړلې.

کله چې وزير محمدګل خان مومند شمالي افغانستان ته د دايمي استوګنې لپاره افغان ولس و ليږه، همدې ښتنو ته يې هلته شاړې ځمکې، دښتې او رغونود خړوبولو پرته يې دځنګلي ځمکو د ابادولواوښيرازه کولو سپارښتنه وکړه، ترڅو همداشاړې ځمکې دابادۍ وروسته همدې خلکوته وسپاري، په همدې دښتو، شاړو ځمکو اورغونوکې هغه مهال ځناورو ګذاره کوله اوهمدې ناقلينو همدا شاړې ځمکې، رغونه او ځنګلونه دکرنې لپاره چمتوکړل او د همدې خلکو په هڅويې د افغانستان شمالي ولايتونه د غلو په ګډامونو بدل کړل.

همدارنګه د وزيرمحمدګل خان مومند په هڅو د قرقل د پوستکوانحصاري سوداګرۍ ته د پای ټکی کېښودل شو، ځکه د شمالي ولايتونو خلک يې د سوداګرۍ لپاره وهڅول او په مزارشريف کې يې د (رښتياويوالي) په نومونودوه شرکتونه جوړکړل.

کله چې د اميرعبدالرحمن خان د واکمنۍ پرمهال د تزاري روسي پوځ په (۱۸۸۴م) کال د افغانستان څخه د (پنجدهـ) سيمه جلا او په خپله قبضه کې يې ونيوله، وزير محمدګل خان مومند په لومړي پړاوکې د تزاري روسي او په وروستي مهال

د شوروي اتحاد د پوځي ځواک همکارۍ ته د شک په سترګه کتل، چې د (مومندبابا) همدې شک په (۱۳۵۸لمريز) کال د عمل جامه واغوسته، ځکه چې د شوروي روسي پوځ د کومې دولتي پريکړې پرته افغانستان په خپله قبضه کې ونيوه.

د وزيرمحمدګل خان (مومند بابا) په هڅو د نجم الدين اخوندزاده د زيارت ترڅنګ د ختيځو افغانانو قومي جرګه راوبلله، چې د همدې جرګې مشري هم په خپله (محمدګل خان مومند) ته سپارل شوې وه او د جرګې د پريکړې له مخې يې ځينې قومي مشران پکتيا ته هم وليږل، ترڅود ننګرهارد لويې جرګې د پريکړې څخه د پکتيا قومونه هم خبرکړي (۱۰: ۸۷ـ ۷۷).

کله چې په (۱۳۰۳لمريز) کال د اماني واکمنۍ پرخلاف (۷۰۰۰) تنو مخالفينو د خوست حکومتي چوڼۍ کلابنده کړه او د هغه حکومت اعلی حاکم (عبدالحکيم) په ډار شپې او ورځې تيرولې، مګر د عسکري قواو قومندان (محمدګل خان مومند) په هڅو همدا مخالفين د اماني حکومت اطاعت ته په داسې حال کې چمتوشول، چې (مومندبابا) په خپل سپين آس سپورشواود يوتن خورد ضابط او څو تنو ساتونکو سره تش لاس د خوست د مخالفينو مرکزته ولاړ او هلته د هراړخيزې پښتني او اسلامي خبرو په لړ کې ټولو مخالفينو د اماني واکمنۍ څخه خپل بشپړ ملاتړ څرګند کړ، له همدې مخالفينو څخه څو تنه سپين ږيرې د محمدګل خان مومند سره عسکري قشلې ته ولاړل او هلته د رسيدو سره سم د خوست د عسکري قواو قومندان د تيلفون پواسطه د قومي مشرانو سره د ګډې پريکړې څخه اعليحضرت امان الله خان خبرکړاوهمدا قومي مشران د خوست په عسکري قشله کې د څو ورځو ميلمه پالنې څخه وروسته محمدګل خان مومند د همدې قومي مشرانو سره يوځای کابل ته ولاړ او هلته همدې ټولو مشرانو په (ارګ) کې د اعليحضرت امان الله خان سره وکتل د افغانستان دځوان پادشاه په حکم د خوست دعسکرې ليوا مشر(محمدګل خان مومند) د همدې بري وروسته د خوست د عسکري قواود قومندانۍ پرته د خوست د حکومتي ادارې د مسؤل په توګه هم وټاکل شو (۱۵: ۲۲ـ ۲۱).

کله چې په (۱۳۲۹لمريز) کال شاه محمود خان د افغانستان د صدراعظم په توګه و ټاکل شو، وزيرمحمدګل خان مومند يې د خپلې دندې پرته د خود مختاره وزير په توګه هم په دنده وګماره، په همدې مهال د امريکاد متحده ايالتو لوړ رتبه مامور د وزيرمحمد ګل خان مومند سره وکتل او د خپلو خبرو په لړکې يې ورته وويل چې: (ستاسې د پوهې او منظم تدبيرله امله کولی شئ، چې په افغانستان کې مثبت بدلون منځته راشي او ستاسې په هڅو افغان ولس د سوکالۍ پرلور وهڅول شي، مګر وزير محمدګل خان مومند ورته په ځواب کې وويل: چې انګليس (۲۰۰) کاله زمونږ د قومي اتحاداو يوالي پرخلاف ځينې افغانان په خپله غيږکې ونيول او افغان ملت يې په چل او فريب پرې غولولې و، مګر افغان اولس اوس د پخوا غوندې ويده نه دي، دخپل هيواد د پرمختګ لپاره يې په اخلاص متې رابډو لې اود ولس د پراخه پرګنود سوکالۍ لپاره هڅې کوي، محمدګل خان (مومند) د افغانستان د خلکو دښمنان او دوستان ډير ښه پيژندل، په همدې مهال ګڼ شمير افغانان بيسواده وو او د خپلو پاکو زړونو او عقيدو له امله يې دوست او دښمن نه پيژنده، د مخالفينو په نرمه ژبه، مکارو خبرو او ظاهري ښه ډير ژرغوليدل، د شپون او قصاب توپيرې نه شوکولی، چې د افغان ولس همدې ناپوهۍ وزيرمحمدګل خان (مومند) ډيرخواشينی کړی و، نوځکه نوموړي خپله مبارزه د افغان ولس د سوکالۍ او بيدارۍ له پاره پيل کړی وه.

په (۱۹۴۰م) کال چې د ۱۳۱۹لمريز) کال سره سمون خوري د يوې خوا د کورنيو چارو وزير او له بلې خوا د قطغن او بدخشان د ايالت نائب الحکمه هم و، کله چې د اقتصاد وزير (عبدالمجيد زابلي) د بغلان او پلخمري د بورې د فابريکې د بنسټ د ډبرې ايښودلو په مراسمو کې د افغانستان صدراعظم (محمدهاشم) د کابينې د ځينو غړيو سره ګډون درلود، کله چې عبدالمجيد زابلي د بغلان او پلخمري د بورې د فابريکې اساسنامه ولوستله، وزير محمدګل خان (مومند) ورته خپل نظرپه دې الفاظو څرګندکړ، چې دا فابريکه بايد د ولسي خلکو په پانګه خپل توليدي فعاليت پيل کړي، د نوموړي وړاندېز ته د حکومت د رئيس په ګډون هيچا پاملرنه ونه کړه، (مومندبابا) د همدې نيټې وروسته په ډېرګړندي توب د قطغن او بدخشان ايالت څخه د کابل پرلور وخوځيده او د ځنډ پرته يې خپله استعفاد صدارت عظمئ دفتر ته وړاندې کړه (۱۲: ۲۴ـ ۲۳).

وزير محمدګل خان (مومند) د (۱۳۲۷ـ۱۳۱۹لمريز) کال پورې د سمنګان په ولايت کې اوسيده، مګرکله چې شاه محمود خان د افغانستان د صدراعظم په توګه و ټاکل شو، د هغه د بلنې له امله کابل ته راغی، چې له همدې نېټې وروسته

يې د ژوند پاتې عمر په کابل او ننگرهار کې تيرکړ، يانې ژمی يې د شينوارو د لويې ولسوالۍ د غني خيلو د (گولايې) په قريه کې او اوړی د کابل په ولايت کې اوسيده او په دې توگه يې خپل کوچاني ژوند ته ادامه ورکوله.

همدارنگه وزير محمدگل خان (مومند) د افغان حکومت له خوا په لوړو دندو گمارل شوی و او په ډېر اخلاص يې د افغان ولس خدمت ته ادامه ورکوله، چې بالا خره همدا ستر پښتون او د پښتنې جرگو، دود او دستور ساروان په کابل کې د محمد نبي ښوونکي په کرايي کورکې د (۲۷/ زمري/۱۳۴۳) د سې شنبې په ورځ د سهار په اتو بجو د (۸۰) کالو په عمرمړ شو او په ډېر درنښت د شهداي صالحين په هديره کې خاورو ته وسپارل شو (۸:۲).

د وزير محمدگل خان (مومند) د جنازې په مراسمو کې د حکومت د لوړ رتبه مامورينو، عسکري منصبدارانو، روحانيونو او د (مومند بابا) خپلوانو او دوستانو برخه اخستې وه، چې په همدې مهال يې بيوگرافي (ژوندليک) د مولانا محمدشاه خان (ارشاد) له خوا ولوستل شوه، ور پسې د کابل پوهنتون استاد پوهاند صديق الله رښتين د (مومندبابا) ملکي او عسکري دندې او د سياسي او فرهنگي هڅو په اړه هراړخيزه وينا وکړه او د خپلو خبرو په لړکې يې وزير محمد گل خان مومند د خپل عصر د خوشحال خټک په نوم ياد کړ، ځکه چې نوموړی هم د خوشحال خټک غوندې د تورې او قلم خاوند او د سياست د ډگر پهلوان او پياوړی عسکري منصبدار و.

د وزير محمدگل خان (مومند) فاتحه د (۲۹ـ۲۸ / زمري / ۱۳۴۳) نيټه د شير پور په جامع جومات کې د پوهنې د وزارت له خوا واخيستل شوه، چې د فاتحې په مراسمو کې د دولتي لوړ رتبه مامورينو، عسکري لوړرتبه افسرانو او د شاهي کورنۍ له غړيو پرته اعليحضرت محمد ظاهر شاه هم گډون کړی و. روح دې ښاد وي

Http:/www.hewad.com /mohammadgul /index /htm

د وزيرمحمدگل خان مومند فرهنگي هڅې

وزيرمحمدگل خان مومند د سياسي او نظامي تگلارې پرته په علمي او ادبي ډگرکې هم ستر خدمتونه کړېدي؛ مثلاً: د پښتو ژبې د پراختيا لپاره يې د ژوند په هر يو پړاوکې گړندي گامونه پورته کول. په افغانستان کې د پښتو لومړنۍ اکاډمي په (۱۳۲۱م) کال جوړه شوه او د پښتنو د بيلابيلو قومونو استازي يې په کې راغونډ کړي و. ترڅو هر يو نماينده د خپلې سيمې لغتونه راټول کړي، چې د پښتو د نورو خپرونو لپاره د عمومي بنياد له مخې نومونه کېږدي.

د اعليحضرت امان الله خان د سلطنت د زوال (۱۳۲۹م) کال وروسته تريو کلنۍ پورې د خونړۍ جگړې وروسته د نوي حکومتي ادارې له جوړېدو وروسته په (۱۹۳۲م) کال په کندهار کې د پښتو ژبې انجمن د وزيرمحمد گل خان په لارښوونه جوړشو، چې په همدې کال د کندهار مطبوعاتي خپرونې (طلوع افغان) په بشپړه توگه په پښتو ژبه خپرونې پيل کړی.

همدارنگه په (۱۹۳۶م) کال د افغانستان د حکومتي پريکړې له مخې د پښتوټولنې په نوم د پښتوژبې اکاډمي جوړه شوه، چې د همدې پريکړې له مخې د پښتو ژبې د ودې او پرمختگ لپاره د (زيري) په نوم اونيزې جريدې خپلې خپرونې پيل کړی، ترڅود پښتو ژبې درسونه او د پښتو ليار (گرامر) چاپ اوخپور شي، چې دولتي مامورين په اسانۍ پښتو ژبه زده کړي (۱۴۶:۸ـ۱۴۵)

وزيرمحمدگل خان مومند هڅه کوله، چې پښتو ژبه د لومړۍ او دري ژبه د افغانستان د دويمې ژبې په توگه وگڼل شي، د پښتو ژبې د پراختيا او پياوړتيا لپاره يې د خپلې مبارزې د پيل کولو پرته يې د هندوکش د غرونو شمال ته ډلې ډلې پښتانه وليږل، چې په همدې پښتنو يې د شاړو ځمکو د ابادولو پرته يې ورته د دايمي استوگنې زمينه هم برابره کړه (۲۷:۴).

سيد قاسم رښتيا وايي: د پښتو ژبې د پرمختگ او رسمي کېدو لپاره د سردارمحمد هاشم د صدارت پرمهال د پوهنې وزير سردار محمد نعيم له خواچې کوم پروگرام ترتيب شوی و. د سردارشاه محمود خان د صدارت پرمهال د پوهنې وزير نجيب الله هڅه کوله، چې په نوموړي پروگرام کې بدلون راوړي، نوموړی په خپلوليکونو کې زياتوي چې: ما هم د وزير صاحب د نظرملاتړ کاوه، مگر د وزيرصاحب د همدې پريکړې سره وزير محمد گل خان مومند مخالفت څرگند کړ، ځکه چې نجيب الله هڅه کوله، چې د پښتنو په سيمه کې پښتو لومړۍ ژبه او دري دويمه ژبه وگڼل شي او برعکس په دري ژبو سيمو کې دري لومړۍ ژبه او پښتو دويمه ژبه وگڼل شي، د پوهنې د وزيرله همدې پريکړې سره وزير محمدگل خان مخالفت وکړ

او د هغه مهال صدراعظم (شاه محمود خان) ته يې شکايت وکړ، صدراعظم هم دواړو ته يوه شپه خپل کورته د ناستې بلنه ورکړه، نوموړی زياتوي چې: ما ته هم په همدې شپه د ناستې بلنه راکړل شوه او د پوهنې د وزير ملګرتيا مې وکړه، د دواړو ترمنځ د هراړخيزو خبرو وروسته د وزيرمحمدګل خان مومند د منطقي دلايلو منلو ته ماهم غاړه کېښوده داسې مې څرګنده کړه چې زه د پښتو ژبې د پرمختګ او پياوړتيا سره مينه لرم، د همدې شپې وروسته مې د پښتو ژبې د زده کړې لپاره هڅې پيل کړې، په پښتو ژبه مې مقالې وليکلې او د خپل ځان لپاره مې پښتو تخلص د (رښتيا) په نوم غوره کړ، له همدې نيټې وروسته وزير محمد ګل خان مومند څوځلې و غوښتم او د پښتو ژبې د پرمختګ د پروګرام د تطبيق لپاره يې زما سره صلاح مشورې کولې، چې بالاخره هغه ته مې ډاډ ورکړ، چې د پوهنې په برخه کې د پښتو ژبې لپاره خدمت نشم کولی، مګر د مطبوعاتو په ډګر کې به د زړه د اخلاصه د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره هڅې وکړم، ترڅو د پښتو ژبه نوره هم په مطبوعاتي ډګرکې وځليږي (۴۹۷:۳ـ۴۹۲).

د سردارمحمدهاشم خان، سردارشاه محمودخان، شاه ولي خان او د حکومتي کابينې غړي ،لوړ رتبه افسران او ملکي مامورين ددې حقيقت شاهدان دي. چې وزير محمدګل خان مومند د خپلو تاريخي خدمتونو په بدل کې داعليحضرت محمد ظاهر شاه او حکومت څخه د جايدادونو، کوټيو او ماڼيو غوښتنه نه کوله(۴:۲۸)

په همدې غريب ژوند خوشحاله و، مګر د پادشاه او حکومت څخه يې د ملي ژبې (پښتو) په اړه د حق غوښتنه کوله، پښتو او پښتنواله د وزير محمدګل خان مومند دژوند فلسفه او ايمان و، نوخکه يې د خپل ژوند په فلسفه او ايمان معامله نه شوه کولی.(۳: ۴۸۸)

وزيرمحمدګل خان مومند به ويل: چې انګريزي پادشاهان په انګريزي ژبه خبري کوي، ايراني پادشاهان په ايراني (فارسي) ژبه خبري کوي، مګر زمونږ پادشاهان پښتانه دي، خو په پښتو ژبه خبري نشي کولی، چې دا په حقيقيت کې زمونږ د واکمنانو د افغان ولس سره سترظلم او جفاګڼل کېږي (۳:۴۸۷). مګرپه داسې حال کې چې عربو ،ايرانيانو او د نړۍ د نوروهيوادو پوهانواو د ژبې ماهرانو پښتو ژبه د افغاني ژبې په نوم ياده کړېده (۳ : ۴۹۰)

وزير محمدګل خان مومند د لومړي ځل لپاره د افغان قوم سره خپلې ناسيونالستي او فلسفي افکارپه ساده افغاني ژبه څرګندول؛ مثلاً: پښتو، پښتومنل، پښتوکول او پښتوژبه ويل.(۴: ۲۲)

همدا مبارزه وزير محمد ګل خان مومند په يواځې ځان پيل کړه، ډېر ژر يې قيام الدين (خادم)، عبدالحی(حبيبي)، ګل پاچا (الفت)، صديق الله (رښتين)، عبدالروف (بينوا)، د هيواد سياسي شخصيت غلام حسن (ساپی) او غلام محمد (فرهاد) ټولو په اتفاق او يوالي د وزيرمحمد ګل خان مومند تګلاره غوره کړه. (۳: ۴۹۲)

د همدې خاموشو اعتراضونو له امله اعليحضرت محمد ظاهرشاه د پښتو ژبې د زده کړې د پر مختګ لپاره وهڅول شو او همدا هڅه يې د خپل کورڅخه پيل کړه، ځکه چې د خپلو زامنو (احمدشاه، محمدنادر او ميرويس) لپاره يې د پښتوژبې د زده کولو لپاره د (محمد دين ژواک، محمد سلام ساپی او عبدالغفور (ويانډ) د کورنيو ښوونکو په توګه وټاکل، چې اعليحضرت محمد ظاهرشاه همدا پريکړه د پوهنې د وزير علي احمد په لا ښونه کړې وه. (۴: ۲۷)

د کندهارد نائب الحکمه ګۍ پرمهال يې د اعليحضرت محمد نادرخان په حکم په (۱۳۱۱ لمر يز) کال د محمدګل خان مومند له خواد پښتو د ادبي انجمن د بنسټ ډېره کېښودل شوه (۳: ۴۱۴). چې همدا د پښتو ادبي انجمن د کابل د ادبي انجمن سره په (۱/لينديۍ/ ۱۳۱۲) لمريز کال يوځای شو او د پښتوټولنه يې جوړه کړه، چې د پښتوټولنې مياشتنۍ خپرونه د کابل د مجلې په نوم ياده شوه (۱۴: ۴۷).

وزيرمحمدګل خان مومند د همدې دندې پرمهال د طلوع افغان ورځپاڼې د مضامينومتن پښتوژبې ته واړول شو، د ځوانوليکوالو روزنې ته يې هم پاملرنه وکړه، مومند بابا په خپله هم ډېر ښه شاعر، ليکوال او ادبپوه و، چې د ځينوادبي اثارو يادونه يې په لاندې توګه کوو:

۱ـ د پښتوسيند: همدا د لغتونو ټولګه يې په (۷۲۵) مخونوکې په (۱۳۱۲لمريز) کال د کابل عمومي مطبعه کې په دوه ټولګوکې خپره شوېده، چې په دې قاموس کې مومندبابا د دري ژبې لغتونه په پښتوژبه اړولي دي، په افغانستان کې د

وزيرمحمدگل خان مومند دا لمړنی ابتکار ؤ، چې له نوموړي څخه پخوا هيڅ اديب دې ډول نازکخياله ابتکار ته پاملرنه نه وه کړی .

۲ـ د پښتو ليار: د پښتوژبې د بنسټ د ټينگښت لپاره د مومند بابا سترعلمي او فرهنگي اثر(د پښتوليار) ادبي اثريې ليکلي دی ، چې نوموړی ادبي اثرد پښتو ژبې غوره گرامرگڼل کېږي ، همدا اثريې په پښتو ژبه ليکلي او په (۱۳۲۷ لمزيز)کال په لاهورکې چاپ اوخپورشوېدی.

۳ـ لنډوکی پښتواوپښتنواله: دا خوږ ادبي اثرپه (۱۳۲ لمزيز)کال د پښتوټولنې له خواچاپ او خپورشوی اوهمدارنگه د پښتنون سترمشر(وزيرمحمدگل خان مومند) ځېنې نوراثارهم ليکلې دي مثلاً: پښتنې روزنه، پښتونواله ، د پښتو نخوه (معاني او بيان) يې هم ليکلې دي، مگرلا تراوسه نه دي چاپ شوې اوهم(مومندبابا) په نثرليکلو برسيره ځېنې پښتواوفارسي شعرونه هم ويلې دې اود پښتواو دري ژبو پرته په روسې ، ترکې، عربي اوازبکې ژبو هم په بشپړه توگه پوهيده اوخبرې يې پرې کولی شوې (۱۲: ۱۹) .

وزيرمحمد گل خان مومند په خپلو کتابونو د پښتوليار(گرامر) اولنډوکی پښتو اوپښتنواله] کې يادونه کړې ، چې ملي ژبه د ملي هويت،ملي موجوديت ، ملي وحدت ، هوساتوب او سعادت ستهگڼلې ده او بايد هرافغان پورتنۍ ځانگړتياوې خوندي وساتي ،و پالل شي اود ملت اړتياو ته اړين وگڼل شي ، پښتو ژبه د پښتنو په ولس کې لکه روح چې په کالبوت کې وي اوکه په کالبوت کې روح نه وي ،نوکالبوت بې معنا مفهوم گڼل کېږي(۳:۴۹۰)

د وزيرمحمدگل خان (مومند) په حکم د اميرحبيب الله کلکاني د واکمنۍ پرمهال (دکورغم) په نوم جريده کې ليکوالو د افغان ولس د بيدارۍ لپاره گټورمضامين خپرول، ترڅود لوستونکو ذهنونه نورهم روښانه شي اوپه همدې مضامينوکې افغان ولس سولې، اتفاق اويوالې ته رابلل شوی و.

پايله:

وزير محمدگل خان (مومند) د برتانوي هندي پوځ د پرله پسې يرغلونو پرمهال په(۱۲۲۳)کال زيږيدلی ، نوځکه يې له کوچنيوالې څخه د هيواد پرمختگ ، خپلواکې اود افغان ولس د سوکالۍ مينه په بدن کې اخښکل شوې وه ، دا ستر ميړنی مشراو د توراوقلم خاوند او د ادب په ځانگو کې روزل شوی افغان په حربي ښوونځي کې د زده کړو د بشپړولو وروسته په پوځي دنده وگمارل شو ، د نوموړي د استعداد له مخې چې د يو پياوړی افسر په توگه روزل شوی و ، مگربيا هم د افغانستان د سترو اديبانو ، قومي مشرانواو سترو لوړرتبه ملکي اوعسکري افسرانوله ډلې څخه گڼل کېږي ، همدې ستراديب او ولسپال شخصيت د خپلواکۍ په جگړه کې فعاله ونډه اخستې وه اود خپلواکۍ د گټلو وروسته د افغان حکومت له خواپه لوړو ملکي اوعسکري دندوگمارل شوی و ، د امير حبيب الله کلکانې څخه سپه سالار محمد نادرخان ته د حکومت په انتقال کې يې ستر رول لوبولی و.

همدارنگه وزيرمحمدگل خان (مومند) په فرهنگي ډگرکې د پښتو او د پښتونولۍ لپاره د سترو حدمتونو پرته د پښتو ژبې او پښتونولۍ په اړه ځينې کتابونه اود علمي او فرهنگي ډلو لپاره د پښتوليار(گرامر) ليکلی دی اوهم يې د خپل ژوند ترپايه ځينې نورعلمي، ادبي اوفرهنگي خدمتونه کړی ، نوځکه يې ټول افغان ولس د (مومندبابا) په نوم يادوي

اخځليکونه

۱ـ اندیشمند ، محمد اکرم. (۱۳۸۴ل) . د امريکامتحده ايالتوکې...ژباړه (سيدعبدالله پاچا ، ميوندخپرندويه ټولنه.

۲ـ حصارشاهيوال ، اسدالله (۱۳۸۷ل) . د لوی ننگرهارمشهورې څيرې ،پيښور دانش مطبغه.

۳ـ خيبري، غوث.۱۳۸۸ل)، پښتانه د کلتوري ښکېلاک په زنځيرونوکې ، اسد دانش مطبعه.

۴ـ خيبري ، غوث ،(۱۳۸۴لمريز)کال ، ورځ مجله ، د پښتو ژبې لپاره د وزير محمد گل خان مومند او ملگرو مبارزه ، د ساپي د پښتوخيړونو او پراختيا مرکز.

۵ـ رښتيا ، سيدقاسم. (۱۳۴۶ل). افغانستان درقرن نوزده. کابل دولتي مطبغه .

۶ـروند مياخيل، مخمد عمر.(۱۳۸۳ل) د پښتنو قبيلو شجرې او ومېنې ، ميوند خپرندويه ټولنه.
۷ـريه تالې سيتورات ،(۱۳۸۳ل) ژباړه (عبدالحسيب حکېمي) ، اور په افغانستان کې، ميوند خپرندويه ټولنه.
۸ـرفيغ ، حبيب الله.(۱۳۹۴ل) ، ژبساتنه ، جلال اباد مومند خپرندويه ټولنه
۹ـساپی ، امام الدين .(۱۳۸۳ل) ، د مومندبابا او ساپي پښتو خپرونواو پراختيا مرکز .
۱۰ـصابر، صابرشاه. (۱۹۹۸م) کال. محمدگل مومند لوی افغان ، ماستري پرينترز .
۱۱ـغبار، ميرغلاممحمد. (۱۳۴۶ل) . افغانستان درمسيرتاريخ . کابل دولتي مطبعه
۱۲ـغريبيار، سيداگل. (۱۳۸۲ل). ستر پښتون محمد گل خان مومند ،کابل د غريبيار. مطبعه.
۱۳ـ فرهنگ ، محمد صديق. (۱۳۷۳ل). افغانستان درپنج قرن اخر. تهران اسمغليان مطبعه
۱۴ـناصر ،نصراله.۱۳۸۹ل) ، دافغانستان دعلوموا کاډمۍ تاريخچه،عدالت مطبعه.
۱۵ـهميش ، خليل. (۱۹۹۵م). محمد گل مومند ، پيښورجدون پرنتنگ پرس

پوهنـــدوی ســـيد اجان عتيـــق (عبـــد ياني)
کرنـــې پـــوهنځی – هـــارتيکلچر څانګـــه
تقريظ ورکوونکی: پوهاند محمد آصف (باوري)

د ژوندیو سرو ارزښت او په افغانستان کې ورڅخه د ګټې اخستنې فرصتونه

لنډيز :

د ژوندیو سرو اصطلاح هغه ځانګړي اورګانيزمونه لکه بکتريا، فنګسونه او اوبړي رانغاړي چې د هوا ماليکولي نايتروجن (N2) په خاوره کې نصبوي او په خاوره کې شته فاسفورس او نور عناصر چې د نبات د استفادې وړ ندي، د ګټې وړ ګرځوي. دغه سرې چې په حقيقت کې ژوندي مايکرو اورګانيزمونه دي، د ټيټ قيمت لرونکې، د چاپيريال سره ملګرتوب لري په اسانۍ سره د تکثير وړ او د کيمياوي سرو له پاره ښه تعويض ګڼل کيږي او هم د دوی په استعمال سره د کيمياوي سرو په استعمال کې کموالی راځي او اغيزمنتوب يې لوړيږي. پدې توګه د خاورې حاصلخيزي تامين او ورڅخه دوامداره ګټه اخيستنه صورت نيسي. دغه مايکرو اورګانيزمونه د نباتاتو سره ګډ، مرستندويه او يا هم آزاد ژوند لري چې ګټې يې يو له بله سره شريکې دي. نن سبا دغه مايکرو اورګانيزمونه د ژوندیو سرو په توګه په تجارتي پيمانه توليد او استعماليږي، ځکه د نايتروجن نصبوونکو په ډله کې رايزوبيم بکتريا کولی شي د ليګيومي نباتاتو سره د ګډ ژوند له لاري په يوه هکتار ځمکه کې د 50-300kg نايتروجن نصب او هم د فاسفورس حلوونکې بکتريا له لاري په يوه هکتارکې په خاوره کې د شته فاسفورس د 30-50kg د نباتاتو د استفادې وړ وګرځي چې پدې توګه د ژوندیو سرو د استعمال له لاري د حاصلاتو په کچه کې د 5-35% زياتوالی راتلای شي چې له کبله يې د کيمياوي سرو په استعمال کې د 25-40% کموالی راځي.

د ګاونډيو هيوادونو بزګران ژوندۍ سرې چې ښې پايلې يې لرلي دي استعمالوي او د هرې ورځې په تېريدو سره پاملرنه ورته زياتيږي، تر اوسه افغان بزګران ورسره بلدتيا نلري، د هيواد د سرو او آفت وژونکو په مارکيټونو کې جامد او مايع کيمياوي سرې د نباتاتو د ودې تنظيموونکې، هيوميک اسيد او داسې نور خرڅيږي، هټيوال د ژوندیو سرو د نوم سره بلدتيا لري ژوندۍ سرې غوره ټکنالوژي ده ځکه پرې د 1-2 افغانيو په مصرف سره د 50-100 افغانۍ ګټه ترلاسه کيدلی شي، د ژوندیو سرو د عامولو او معرفي له پاره لازمه بريښي چې په هکله يې څېړنې، نمايشي قطعې، عامه پوهاوی، د بزګرو واردونکو سره مرستي او د هيواد دننه د توليد او جوړونې له پاره يې پانګونه وشي ځکه روښانه او ګټوره راتلونکې لري او په افغانستان کې د استعمال له پاره يې ډېرې فرصتونه موجود دي.

سريزه:

د وګړو د شمېر په زياتيدو سره، زياتوکرنيزو توليداتو ته اړتيا بريښي، نو لازمه ده په زياتو ځمکو باندې کر وشي او هم د موجوده ځمکو څخه د پخوا په پرتله زيات توليد تر لاسه شي، د لومړنۍ ستراتيژي د تطبيق لپاره زياتو سرچينو ته اړتيا بريښي او دوهمه يې د متکاثفي کرني (Intensive agriculture) له لارې يعنې د اصلاح شوو نباتاتو ،کيمياوي سرو، افت وژونکو، ځمکې، اوبو، بشري سرچينو او نورو عواملو څخه د معقولې او اغيزمنې ګټې اخيستنې په صورت کې ترلاسه کېدلی شي.

اصلاح شوي نباتات د محلي نباتاتو په پرتله زياتو غذايي موادو ته اړتيا لري چې د سرو د استعمال څخه پرته د وخت په اوږدو کې خاوره خواره ګرځي، خاورې ته غذايي مواد معمولا د کيمياوي او عضوي سرو د استعمال له لارې اضافه کيږي، پداسې حال کې چې د کيمياوي سرو د جوړونې اوسنې سرچينې او لومړني مواد د (500-600 کلونو په موده کې) ختميږي او

د هغې لپاره کارنده انرژي هم مخ په کميدو ده (2). نو له دې کبله د کيمياوي سرو بيه ورځ تربلې زياتيږي او د استعمال له کبله يې خاوره، اوبه او هوا ککړه او د خاورې څخه دوامداره ګټه اخيستنه د ګواښ سره مخامخوي.

دکيمياوي سرو د استعمال پر ځاي او يا د مقدار د کمولو په بدله کې عضوي سرې استعمال او يا هم په خاوره کې شته غذايي عناصر چې د استفادې وړ ندي د ګټې وړ وګرځو يا په بل عبارت سره په طبيعت کې د موجوده طبيعي عناصرو څخه د نباتاتو او خاورې په ګټه په ډېر لږ مصرف ګټه واخيستل شي.

دا چې زمونږ د هيواد خاورې د لږو عضوي موادو(1%) د لرلو له کبله خوارې دي او هم تر ٨٠٪ بزګران د خپلو کرنيزو فصلونو تر اړتيا لږ کيمياوي سرې استعمالوي، دکيمياوي سرو لوړه بيه او تر شک لاندې کېفيت يې بزګر د هغه د استعمال څخه زړه توری کوي. له بلې خوا زمونږ بزګران عضوي مواد لکه د څارويو خوشايي، پچې او نباتي بقاياوې د سون د موادو په توګه سوځوي او فصلونه دومره له بيخه ريبي چې په خاوره کې عضوي مواد نه پاتې کېږي او کله هم د لو څخه وروسته سواري او وابنه سوځوي چې له ګټې څخه يې تاوان زياتيږي، دا حالتونه ددې څرګندونه کوي چې خاورې مو لږ عضوي مواد لري او هم بزګران د اړتيا وړ کيمياوي سرې نه استعمالوي چې له کبله يې د حاصلاتو کچه ټيټه او غذايي موادو ته اړتيا ورځ تر بلې زياتيږي نو څه بايد وشي او دا ستونزې څنګه حل شي؟

ددې ستونزو د حل لپاره يوه ښه، اسانه او ارزانه سپارښتنه د ژونديو سرو استعمال دی.

ژوندۍ سرې (Bio Fertilizer) هغه ارګانيزومونه (بکتريا، فنګسونه او اوبړې) دي چې د هوا ماليکولي نايتروجن (N2) په ځمکه کې نصبوي او په خاوره کې شته عناصر يا منرالونه لکه فاسفورس(P) پوتاشيم(K) او نور چې د نباتاتو عمده خواړه تشکېلوي د استفادې وړ ګرځوي ددې تر څنګ د نباتاتود ودې تنظيمونکې مواد او انتي بيوتيکونه ترشح، وده چټکوي او د نباتي ناروغيو مخه نيسي چې په پايله کې د خاورې حاصلخيزي تامين او د نباتي توليد کچه لوړيږي (3).

په ګاونډيو هيوادونو کې د ژونديو سرو استعمال ورځ تر بلې د ښو پايلو په لرلو سره عام شوی او په استعمال سره يې د حاصلاتو په کچه کې 5-35% زياتوالی راغلی دی (3). او سږ کال د پېښور دکرنې پوهنتون دماسترۍ پروګرام يوتن افغان محصل د ننګرهار پوهنتون دکرنې پوهنځي په تحقيقاتي فارم کې زمونږ په مرسته پرې يوه څېړنه ترسره کړه.

موخې:

د ژونديو سرو د معرفي، ګټو، ډولونو، د اغيزو ميکانيزم، د استعمال طريقو په هکله د معلوماتو ورکړه، د استعمال له پاره يې د بزګرو هڅونه او په افغانستان کې د استعمال له پاره يې د فرصتونو مطالعه تر څو په ټيټه بيه لوړ توليد او عايد د چاپيريال دککړتيا څخه پرته ترلاسه شي.

مواد او کړنلاره

ددې څېړنې د ترتيب له پاره د افغان بزګرانو، دکيمياوي سرو او افت وژونکو د هټيوالو، دکرنيز ترويج د مامورينو سره مرکې شوي همدارنګه د کتابونو، رسالواو ويب پاڼو او خپلې شخصي تجربې څخه کار اخيستل شوی او د هيواد د شرايطو سره پرتله شوي.

دژونديو سرو د استعمال ګټې

د حجم له پلوه د هوا د ترکيب 78% او د وزن له پلوه 75% ماليکولي نايتروجن تشکيلوي(9). چې د نباتاتو د استفادې وړ ندي، ددې نايتروجن يو مقدار (50-300kg/ha) د هغو بکترياو په وسيله چې د ليګيوم نباتاتو په ريښوکې ژوند تيروي نصب چې د کوربه او راتلونکي فصل د نباتاتود استفادې وړ ګرځي.

ددې ترڅنګ ځينې نورې بکتريا په خاوره کې موجوده فاسفورس (95-99%) چې د نباتاتود استفادې وړ ندي يو مقدار يې منحل او د نباتاتو د استفادې وړګرځوي چې په خاوره کې موجوده فاسفورس د همدې بکتريا د فعاليت له لارې تر سلوکالو د نباتاتولپاره کفايت کوي. اړونده مايکرواورګانيزمونه کولای شي په خاوره کې شته عضوي مواد په چټکۍ تجزيه او د استفادې وړ وګرځوي، ددې ترڅنګ مايکرواورګانيزمونه د نباتاتود ودې تنظيموونکي مواد او هم انتي بيوتيکونه توليدوي چې د نبات د ودې د چټکوالي او هم د ناروغيو مخنيوی کوي(5).

هرکال په نړۍ کې 80 میلیونه ټنه نایتروجن د صنعتي فعالیتونو(کیمیاوي سرو) له لارې په خاوره کې اضافه کېږي پداسي حال کې چې د مایکرواورګانیزمونو(بیولوژیکي پروسې) له لارې 175-170 میلیونه ټنه نایتروجن په خاوره کې د نباتاتو د ګټې اخیستنې لپاره د هوا څخه نصبیږي، ددې تر څنګ د ژوندیو سرو استعمال له لارې د کیمیاوي سرو په استعمال کې په ځانګړې توګه د فاسفورسو په برخه کې د %50-25 کموالی یا سپما راتلای شي (6,5,4).

استعمالیدونکې نایتروجني سرې د %45-40 اوفاسفورسي سرې %33-25 د نباتاتود استفادې وړګرځي او پاتې نور مقدار یې د مختلفو لاملونو له کبله د استفادې وړ نه ګرځي، چې د دوی اغیزمنتوب په خاوره کې د شته مایکرو اورګانیزمونو د فعالیتونو له لارې هم زیاتیږي (5).

په لنډه توګه ویلای شو چې د ژوندیو سرو (مایکرواورګانیزمونو + اورګانیزمونو) په استعمالولو سره د حاصلاتوکچه د %35-5 لوړیږي چې د ژوندیو سرو استعمال د لاندې ګټو په لرلو سره غوره بریښي(3).

۱. په طبیعت یاچاپیریال کې شته غذایي عناصر د نباتاتو د استفادې وړګرځوي.
۲. د زیاتې مودې لپاره یې اغیزې په خاوره کې پاتې کیږي.
۳. کیمیاوي سرو لپاره یو ښه تعویض او متبادل دي.
۴. د خاورې د ښیرازۍ او جوړښت د ښه کیدو سبب ګرځي.
۵. په ډېرلږ مقدار سره استعمالیږي او بیه یې ټیټه ده.
۶. د ځینو نباتي ناروغیو د مخنیوي سبب ګرځي.
۷. استعمال یې جانبي عوارض نلري زیات او یا کم استعمال یې خاورې نه زهري کوي.
۸. د خاورې د عضوي موادو د ژر تجزیې او خوسا کیدو سبب ګرځي.
۹. د نباتاتو د ودې تنظیموونکې او انتي بیوتیکونه تولیدوي.
۱۰. په دواړو للمي او ابي ځمکو کې استعمالیږي.

د ژوندیو سرو ډولونه

د سرو د تولید لپاره اړونده اورګانیزمونه د مختلفو دلایلو او انګیرنو له مخې یعنې د ژوند د ډول (ګډ، ازاد او مرستندویه ژوند)، د اورګانیزم د ډول (بکتریا، فنګسونه او اوبړي)، د غذایي عناصرو د نصب او استفادې وړ ګرځولو (نایتروجن نصبوونکې او فاسفورس حلوونکې / استفادې وړګرځوونکې)په بنسټ، صنف بندي او پیژندل کیږي. چې په لاندې ډول د هر یو څخه یې په لنډه توګه یادونه کیږي.

I. نایتروجن نصبوونکې (**Nitrogen fixers**)

الف: بکتریا (**Bacteria**)

۱- رایزوبیم (**Rhizobium**): د بکتریا ددې جنس مختلفې نوعې؛ لکه:

leguminosarum, phaseoli, japanicum, lupine, meliloti, trifoli د لیګیومي یا پلي لرونکو نباتاتو د ځانګړو نوعو سره ګډ ژوند لري یعنې د بکتریا نوعه د لیګیوم د یوې ځانګړې نوعې سره ګډ ژوند لري چې (Cross Inoculants) بلل کیږي (6). بکتریا د لیګیوم نباتاتود ریښود پاسه د غوټو(Nodules) په دننه کې ژوند تیروي، د کوربه نبات څخه خپل خواړه ترلاسه او د هوا مالیکولي نایتروجن (N2) په خاوره کې نصبوي اوکولای شي په خاوروکې تر لسوکلونو پورې د میزبان پرته ژوندي اوسي.

۲ - ازوتوبکتر(**Azotobacter**): د مرستندویه(Associative) ژوند لرونکې بکتریا دي په خاوره کې د عضوي موادو د تجزیې څخه انرژي ترلاسه کوي، د غله جاتو، سبزیجاتو، پنبې، ګنیو او نورو فصلونو کې کولای شي د هوا مالکیولي نایتروجن نصب او د استفادې وړ وګرځوي د (A.chroococum)، (A. beijerinckii) او(A. vinelandii) ډولونه یې نایتروجن نصبوي چې لومړني نوعه یې په تیزابي اودوهمي یې په خنثی او القلي خاوروکې فعالیت کوي، ددې بکتریا د استعمال له لارې په یو جریب کې 4-5kg نایتروجن نصبیږي چې له کبله یې د حاصلاتوپه کچه کې د %30-5 زیاتوالی راځي(5).

دغه بکتريا د نباتاتو د ودې تنظيمونکې او انتي بيوتيکونه هم توليدي چې وده چټکوي او د نباتي ناروغيو مخه نيسي.

۳ – ازوسپيريليوم(**Azospirillium**): دا بکتريا د مرستندويه(Associative) ژوند له لارې د هوا ماليکولي نايتروجن نصبوي، دوی په ريښو باندې کتلوي ژوند لري د (Spirillium lipoferum) نوعه يې مهمه بلل کيږي ددې بکتريا د استعمال له لارې د غله جاتو حاصل %20-5 دباجري حاصل %30 او دعلوفه يې نباتاتو تر %50 زياتوالی مومي ځکه په يو جريب کې 4-5kg نايتروجن اضافه کوي(5).

د ازاد ژوند نايتروجن نصبوونکې بکتريا دي چې په خاوره او کوربه نبات کې نايتروجن نصبوي دګنيو لپاره تر نورو ټولو نباتاتو غوره ده ځکه په يوه جريب کې د 20-30kg نايتروجن نصب او د حاصل کچه %10-15 لوړوي.

۵ - ابي شني اوبړي(**Blue green algae /BGA**): د ازاد ژوند لرونکې او د ضيايي ترکيب له لارې خپله غذا جوړوي عمده نوعې چې حجرې يې يو له بله سره په ځنځيري ډول نښتي دي عبارت دي له Nostoc، Tolypthrox، Calothrixاو نورې په حاره سيموکې د شولو په فصلونو کې موجود او د هوا ماليکولي نايتروجن نصبوي چې د 4-5kg نايتروجن په يو جريب کې اضافه کوي او د حاصل کچه د %14-5 لوړوي (6).

۲ – ازولا(**Azolla**): د اوبو يو لامبو وهونکې سرخس دي د BGA اوبړي د (Anabaena azollae)سره ګډ ژوند لري چې د شولو په فصلونوکې نايتروجن نصبوي او عام نوعه يې په هندوستان کې(Azolla pinnata) دي.

II. فاسفورس حلوونکې(**Phosphate Solubilizing**):

الف: بکتريا (Phosphate Solubilizing Bacteria/PSB): بکتريا لکه(Bacillus megaterium)، (B.circulans)، (B.subtilis)، (B.polymyxa)، او (Pseudomonas striata) په خاوره کې د غير منحل فاسفورس د حلولو او نبات ته د استفادې وړ ګرځولو سبب ګرځي.

ب: فنګسونه(Fungi): د (Penicillium digitatum),(Aspergillus awamoori) او Mycorrihiza د فاسفورس د حلولو او نبات ته د استفادې وړ ګرځولو سبب ګرځي.

د ريښو د پاسه ګډ ژوند کوونکې مايکورايزاوي (Ecto Mycorrihiza/Endotrophic) تر څنګ يوه بله ډله چې د داخلي برخو مايکورايزاوي (Endo mycorrihiza/Endotrophic) دي يو ګروپ يې د Vesicular Arbuscular Mycorrihiza/VAM په نامه يادېږي هم رغنده فعاليت کوي ددې مايکورايزاو د فعاليت له کبله د نبات په وسيله د عناصرو جذب زياتيږي او د استفادې وړګرځي. د ريښو د بهرنۍ سطحې مايکورايزاوي معمولا په جمنو سپرمونو او د داخلي سطحې مايکورايزاوي د مخروطيانو د کورنۍ څخه پرته د جمنو سپرمونواو انجيوسپرمونوسره ګډ ژوند تيروي(5).

د يادونې وړ بلل کېږي چې د خاورې د مايکرواورګانيزمونو له ډلې څخه د %1-50 بکتريا اود %0.1-0.5 فنجيان تشکيلوي چې بيا د بکتريا په ډله کې %3.98 يې فاسفورس حلوونکې بکتريا دي(2).

بايد وويل شي چې په ټوله کې دوه ډوله ژوندۍ سرې لکه نايتروجن نصبوونکې او فاسفورس حلوونکې په بازارونو کې تر ټولو زياتې دي او داسې سرې هم شته چې د دواړو ترکيب لري.

دمايکرواورګانيزم پوسيله دنايتروجن د نصب اودفاسفورس دحل او جذ ب ميکانيزم

الف: دنايتروجن نصب:

رايزوبيم اونورې بکتريا د نباتاتو سره د ګډ او ازاد ژوند له لارې په خاوره کې نايتروجن نصبوي او هم په خاوره کې %95 نايتروجن چې په عضوي شکل وجود لري، منرالي شکل ته د اوړيدو وروسته د نباتاتو د استفادې وړګرځوي(7).

رايزوبيم بکترياوې د ليګيوم د نبات په وسيله د ترشح شوي Flavonoids خواته حرکت کوي پر ريښو يې ځان نښلوي د هغې د زخمي کېدو له کبله دننه خواته حرکت او د ځينو هڅوونکو موادو د توليد له لارې غوټې (Nodules) جوړوي او په دننه کې ژوند تيروي، د کوربه نبات څخه غذايي مواد ترلاسه کوي، د Leghemoglobin پروتين چې غوټو ته ګلابي رنګ ښې د اکسيجن حدو د تنظيموي او د بکتريا د تنفس لپاره اکسيجن برابروي تر څو د بکتريا په وسيله د Nitrogenase انزايم د فعاليت له لارې د ماليکولي نايتروجن نصب تنظيم شي.

د نايتروجن نصب د لاندې فورمول له مخې صورت نيسي

$$N_2 + 8H + 8e^- + 16\,ATP \Longrightarrow 2NH_3 + H_2 + H_2 + 16\,ADP + 16\,PI$$

په پورتنۍ عمليه کې د امونيا (NH_3) دوه موله د نايتروجن ګاز(N_2) د يومول څخه توليديږي چې له کبله يې **16** موله ATP او د هايدروجن ايون د الکترون په ورکړې سره تر سره کېږي پدې عمليه کې د Nitrogenase انزايم د کتلست په توګه برخه اخلي (4).

امونيا د نايترو فيکيشن د عمليې له لارې په نايترايت(NO_2) او بيا په نايتريت(NO_3) بدليږي چې وروستي ډول اوامونيم (NH_4^+) يې د نبات په وسيله د جذب وړ دي(6).

الکترون او ATP ته اړتيا ده چې په امونيا باندې د ماليکولي نايتروجن د بدلولو لپاره انرژي برابره کړي او اړونده الکترون او ATP د کاربني مرکباتو لکه Pyruvate څخه ترلاسه کېږي، الکترونونه Nitrogenase انزايم ته ورکول کيږي تر څو ماليکولي نايتروجن په امونيا واړوي(8).

د بکتريا په وسيله نصب شوي نايتروجن نژدې په سلوکې 50 برخې Nodule په وسيله د Diffusion د عمليې له لارې خاورې ته ترشح کيږي چې د کوربه نبات د استفادې وړ ګرځي همدارنګه په غوټوکې پاتې مقدار نايتروجن د کوربه نبات د ريښو او غوټو د خوساکيدو وروسته په خاوره کې علاوه او دراتلونکې فصل د استفادې وړ ګرځي (5).

په کوموخاوروکې چې د نايتروجن مقدار زيات وي، نايتروجني کيمياوي سرې استعمال شوي وي او پکې نايتريت او امونيم وجود ولري د بکتريا پوسيله د هوا د ماليکولي نايتروجن نصب صورت نه نيسي او يا هم ډېرکمزوري وي او پدې شرايطو کې د ليګيومي نباتاتو د ريښو د پاسه غوټې نه جوړيږي، پر ريښو د کافي شمېر ګلابي رنګه غوټو شته والي د بکتريا او د هغوی د ښه فعاليت استازيتوب کوي.

د ازاد ژوند لرونکې بکتريا پر عضوي موادو د ژوند له لارې د Nitrogenase انزايم په مرسته د هوا ماليکولي نايتروجن په خاوره کې نصبوي او دا کار د اوبړيو په وسيله هم صورت نيسي، پدې توګه په يو هکتار کې د 50-300Kg نايتروجن نصب او د حاصلاتو کچه د 10-35% او حتی تر 70% پورې لوړيږي.

ب: فاسفورس حلوونکې او د استفادې وړ ګرځوونکې:

په خاوره کې شته 95-99% عضوي او غيرعضوي فاسفورس (په يوه هکتارکې د 30cm په ژوروالي سره د 400-4000kg فاسفورس وجودلري) چې د نبات د استفادې وړنه وي يواځې 0.1% يې د استفادې وړ وي او پاتې نور مقدار يې غير منحل په خاوره او نبات کې د کمزوري حرکت لرونکې وي(2,7).

په خاوره کې شته فاسفورس د کلي خاورې په ذراتو پورې نښتي وي او يا هم د المونيم فاسفيټ، اوسپني فاسفيټ اوکلسيم فاسفيټ په شکلونو وجود لري چې فاسفورس يې له ځانه سره کلک ساتلي او غير منحل ګرځولي وي او يا هم د فاسفورسي تيږو په شکل وجود لري چې د نبات د استفادې وړنه دي د فاسفورس حرکت په خاوره او نبات کې په ډېرې کرارۍ صورت نيسي ددې ترڅنګ عضوي ډولونه يې لکه پايتين، فاسفوليپيدونه او نيوکليک اسيد چې په خاوره کې د عضوي موادو د تجزيې له لارې منځته راځي د منرالي کېدو څخه وروسته د نبات داستفادې وړ ګرځي. ټوله استعمال شوي فاسفورسي سرې هم د نبات د استفادې وړ نه ګرځي.

د فاسفورس حلوونکې او د استفادې وړګرځوونکې مايکرواورګانيزمونه (بکتريا اوفنګسونه)په خاوره کې پرعضوي موادو د خپل فعاليت له لارې عضوي تيزابونه لکه Formic, Acetic, Propionic, Lactic, Glycolic, Fumaric, Succinic او داسې نور توليدوي چې دغه تيزابونه د خاورې د PH د ټيټوالي سبب ګرځي او په ټيټ PH کې غير منحل فاسفورس منحل او د نبات د استفادې وړ ګرځي. دغه تيزابونه د المونيم (Al) ، اوسپنې(Fe) اوکلسيم (Ca) د کليتونو(Chelates) څخه فاسفورس جلا او هم د فاسفورسي تيږو د نرميدو سبب او ورڅخه فاسفورس جلا کوي او د نبات د استفادې وړ يې ګرځوي.

ځينې غيرعضوي تيزابونه لکه هايدروکلوريک اسيد او نور چې د عضوي تيزابونو په پرتله يې اغيزې کمې وي هم فاسفورس د حل وړ وګرځوي.

د Bacillus او Rhizobium بکتريا د منراليزيشن (Mineralization)، د Pseudomonas او Enterobacter بکتريا د فاسفورس دحلولو(Solubilization) او د Azospirillium او Azotobacter بکتريا د فاسفورس د حرکت د چټکولو (Immobilization) دندې ترسره کوي.(2)

د مايکورايزا فنګسونه د نباتاتو سره د ګډ ژوند له لارې د ريښو په بهرنۍ او دننۍ سطحه کې ژوند لري د ريښو ګرد چاپيره د شته غذايي عناصرو اومواد و د حل او د استفادې وړ ګرځولو وړتيا لري، ځانګړي جوړښتونه لکه Vesicules او Arbuscules لري چې ريښو ته د موادو د انتقال په برخه کې مرسته کوي، vesicules فاسفورس د فاسفوليپيد په توګه ذخيره کوي چې دا ډول مايکوريزا د Vesicular Arbuscular Mycorrihiza /VAM په نامه يادېږي ماکوريزاوي د P، Zn، Cu او B دحلولو او استفادې وړګرځولو په برخه کې مرسته کولای شي(1).

د نباتاتو په وسيله فاسفورس له خاورې څخه د اورتوفاسفورس (- H2PO4) او دوهمي اورتوفاسفورس (2- HPO4) په شکلونو جذب او هم يوکم مقدار عضوي فاسفورس جذبيږي، عضوي فاسفورس د کيمياوي او بيولوژيکي فعاليتونوله کبله په منرالي فاسفورس بدليږي او بيا د نبات په وسيله جذبيږي(6) . په دې توګه هرکال په يوه هکتارځمکه کې د 30-50kg داستفادې وړفاسفورس رامنځ ته کېږي.

لومړي جدول: د ژونديو سرو د استعمال له کبله د حاصلاتو زياتوالي

ګڼه	نبات	اړونده مايکروارګانيزم	حاصل زياتوالي سلنه
۱	ليږو	Azotobacter	8.3
۲	توربانجان	Azotobacter	15.8
۳	مرچک	Azotobacter	10.3
۴	توربانجان	Phosphrouse soliablise bacteria	10
۵	ګلپي	Phosphrouse soliablise bacteria	7.35
۶	ګلپي	Azotobacter	6.2
۷	نخود	Rhizobium	13.90
۸	هرهرودال	Rhizobium	9.9
۹	پنبه	Azotobacter	6.8
۱۰	نري باجره	Azospirillium	25.1
۱۱	شولي	Azolla	24.3

منبع: Basic Horticulture , 2012 او Principles of Horticulture 2nd edi., 2012

دژونديو سرو داستعمال طريقه

په مارکيټ کې دوه ډوله ژوندۍ سرې خرڅيږي يوه يې نيمه جامد (Powder/Granules) او بله يې مايع (Liquid) وي چې البته بکتريا او فنګسونه پکې د اضافي موادو(Filler) سره ګډ وي.

۱. دنيمه جامدو ژونديو سرو د استعمال طريقه

۲. د تخمونو سره معامله ياککړول(**Seed treatment**)

200gr وزن لرونکې ژوندۍ سرې کتله د 10-14kg تخم د لړلو لپاره کافي ده، تخم بايد يو څه لوند او بيا دغه نيمه جامد مواد پرې وشيندل او د ښه لړلو وروسته وکرل شي. کېدلای شي نوموړي 200gr په 400ml اوبو کې ګډ او تخمونه پرې ولړل شي (8).

۳. په محلول کې د بوزغليو د ريښو ډوبول: د جامدي يا نيمه جامدي ژوندۍ سرې 4kg په 20-25 ليتره اوبو کې ګډ او بيا د بوزغليو ريښې پکې د 20-30 دقيقو پورې غوټه او يا هم يوکيلوګرام په 10 ليتره اوبو کې ګډ او د بوزغليو ريښې پکې 15-20دقيقو پورې غوټه شي. له بلې خوا د ژوندۍ سرې يو کيلوګرام په 50-60 ليترو اوبو کې ګډ او قلمي پکې د 15 دقيقو لپاره غوټه او په سيوري کې تر وچولو وروسته وکرل شي.

۴. جامد یا نیمه جامد ژوندۍ سرې 7-5 کیلوګرامه په 100 کیلوګرامه حیواني سرې او یا 60 کیلوګرامه کمپوست سره ګډ او بیا د کرد مخه په اخري قلبه کې په یوه هکتار ځمکه باندې وشیندل شي.

۵. دمایع ژوندیو سرو د استعمال طریقه

۶. د تخمونو معامله کول: دمایع سرې 500 ملي لیتره په 3-2 لیتره اوبو کې ګډ او تخمونه پکې د 20-15 دقیقو لپاره لامده، په سیوري کې د نیم ساعت وچولو وروسته کرل کېږي.

۷. د خاورې سره ګډول: یو لیتر مایع ژوندي سره د 100 کیلوګرامه کمپوست سره ګډېږي او بیا هغه په یوه هکتار ځمکه باندې د کرد مخه په ماښام یا وریځن ورځ کې پاشل کېږي.

۸. داوبو سره ګډول: یو لیتر مایع سرې بوتل یا قطي سوری او د اوبو په وتره کې ایښودل کېږي تر څو د څاڅکې په توګه ټول پټې یا یو هکتار ساحې ته ورسېږي او یا د څاڅکې اوبخور سیستم له لارې د اوبو په ټانکرکې ګډ شي تر څو د څاڅکې اوبخور له لارې استعمال شي.

د Mycorrhiza استعمال

مایکورایزا د انتقالونکې موادود کڅوړې 100 ګرامه پر یو متر مربع ساحې د شیندلو لپاره کافي دي او یا په خاوره کې د تخم او قلمي څخه 3-2 سانتي متره ټیټ استعمال شي.

همدا رنګه د نیالګیو په روزونکو کڅوړو کې د همدې موادو 10-5 ګرامه د خاورې سره ګډ شي او یا هم 10 کیلوګرامه د یو ټن خاورې سره ګډ او بیا د ګډولې څخه په هر کڅوړه کې 20 ګرامه خاوره واچول شي او د هرې ونې یا کرونکي نیالګي لپاره 100 ګرام د همدې ګډې خاورې استعمال غوره بریښي.

د شنو اوبړیو او **Azolla** د استعمال طریقې

وچ او یا تازه 10 کیلوګرام د ابي شنو اوبړیو ساقي د شولو د بوزغلیو د انتقال څخه دوه ورځې وروسته په یوه هکتارکې په ولاړو اوبو باندې وشیندل شي او بیا په پټې کې د 4-2 ورځو لپاره اوبه ډنډ وساتل شي چې له دې وروسته ابي شنه اوبړي په فعالیت پیل کوي، یو ځل استعمال یې د زیاتې مودې لپاره کفایت کوي.

د Azolla 1-0.6 کیلوګرامه په یومتر مربع باندې د شولو بوزغلیو د مخه د خاورې سره ښه ګډ او یا هم د لومړۍ خیشاوې پر وخت کې استعمال شي.

په یو هکتارکې د ژوندیو سرو مقدار د مختلفو نباتاتوله پاره په لاندې جدول کې سپارښت کېږي.

دوهم جدول: د ژوندیو سرو د تولید له پاره د مایکرواورګانیزمونود استعمال مقدار

ګڼه	اورګانیزم	مقدارپه یوه هکتارکې
الف: دلیګیومي نباتاتوله پاره		
1	رایزوبیم (Rhizobium)	1.5kg
2	ازوتوبکتر(Azotobacter)	0.5kg
3	فاسفورس حلوونکې(PSM)	3.0kg
ب: دغلواوباجروله پاره		
1	ازوتوبکتر/ازوسپیریلیوم	2.0kg
2	فاسفورس حلوونکې(PSM)	3.0kg

منبع: Principles of Horticulture 2nd edi, 2012

پایله:

د هیواد خاورې د نباتي غذایي موادو د لرلو له درکه خوارې دي د لوړ تولید لپاره لازمه بریښي چې کیمیاوي سرې استعمال شي خو بیه یې لوړه او چاپیریال ککړوي نو ددې پرځای د ژوندیو سرو استعمال چې بیه یې ټیټه، په لږ مقدار سره ورته اړتیاده، انتقال او استعمال یې اسانه او هر اړخیزې ګټې لري د یو متبادل په توګه په کار یوړل شي.

د ژوندیو سرو د تولید عاملین په طبیعت کې شته په طبیعي توګه او یا هم په لابراتوارونو کې تکثیر مومي او کولای شي په خاوره کې غیر منحل غذایي عناصر د نبات د استفادې وړ وګرځوي او یا هم د هوا څخه خاورې ته نایتروجن نصب کړي، د خاورې د اصلاح او د نباتي تولید د لوړوالي سبب شي ددې ډول سرو استعمال د کرنې په چارو کې په ګاونډیو هیوادونو کې عمومیت موندلی دی او ورځ تر بلې زیاته پاملرنه جلبوي، تولید یې هم دکیمیاوي سرو په پرتله ساده او پایلې یې اغیزمنې دي لازمه برینبي چې زمونږ په هیواد کې هم عامې شي ځکه د پورته ځانګړنو په لرلو سره دلته ورته ډېره اړتیا لیدل کیږي. د معرفي او عاملو لپاره یې ځینې سپارښتنې لرو او هغه عبارت دي له:

۱. د کرنې د څېړنیزو مرکزونو لخوا پرې څېړنې پیل شي.
۲. دمعرفي او عاملو لپاره یې په ولسوالیو اوکلیوالي علاقو کې نمایشي قطعي جوړې شي.
۳. دبزګرو، ترویج کارکوونکو او خصوصي سکتور لپاره پدې هکله روزنیز کورسونه جوړ شي.
۴. په لومړیو کې دبهرنیو هیوادونو څخه وارد اوپه هیواد دننه یې د تولید لپاره شرایط او اسانتیاوې برابرې شي.
۵. دواردولو، ساتلو، زیرمې لپاره یې خصوصي سکتور وهڅول شي او هغوی ته امکانات په لاس ورکړل شي.
۶. درسنیو له لارې د معرفي، استعمال لپاره یې عامه پوهاوی ترسره شي.

ددې ترڅنګ بزګرو ته هم ځینې سپارښتنې لرو او هیله کوو چې پرې عمل وکړي.

۱. په خپلو ځمکو کې حیواني او عضوي سرې استعمال کړي ځکه دا مواد د خاورو څخه د نبات پوسیله د عناصرو جذب زیاتوي اوکیمیاوي سرو ته اړتیا کموي.
۲. په ځمکو باندې شته نباتي بقایاوې ونه سوځوي د خاورې سره یې ګډې کړي.
۳. پرخپلو ځمکو پلي لرونکې لیګیومي نباتات وکري.
۴. کولای شي د پخواني فصل د ځمکې څخه یو مقدار خاوره په نوو کرونکو ځمکو کې وشیندي تر څو اړونده مایکرو اورګانیزمونه هلته هم ډېرښت ومومي.
۵. پلي لرونکې یا لیګیومي نباتات د نورو نباتاتو سره ګډ وکري.

مناقشه:

ژوندۍ سرې هراړ خیزې ګټې لري په استعمال سره یې دکیمیاوي سرو په استعمال کې کموالی راځي او یا هغه تعویضوي، تولید او استعمال یې اسانه، بیه یې ټیټه ده، اوس مهال استعمال یې په ګاونډیو هیوادو کې رواج موندلی او ډېره پاملرنه یې جلبه کړې، ناکاره طبیعي سرچینې داستفادې وړګرځوي او د تولید کچه لوړوي په افغانستان کې د جامدو کیمیاوي سرو د استعمال تر څنګ د مایع کیمیاوي سرو، د ودې تنظیموونکو موادو، او د هیومیک اسید استعمال رواج موندلی او خلک د بڼوالي په چارو کې ورڅخه ګټه اخلي، د جلال اباد او د هیواد د نورو ښارونو د سرو او افت وژونکو د خرڅلاو په مارکیټونو کې ژوندۍ سرې نه پلورل کیږي، لاکن هټیوال ورسره بلدتیا لري د کرنې د ترویج مامورینو لخوا ددې سرو په رواجولو سره هټیوال حاضر دي چې دغه سرې د هیواد له بهره واردې کړي، یواځې د(NEI) موسسې لخوا دسایبینو دتخم سره د ژوندې سرې پاکټونه چې د (Rhizobium japanicum) بکتریا لري ورکول کېږي ترڅو د تخم سره ولړل شي، په یو جریب کې د ژوندې سرې د 200-1000gr استعمال غوره برینبي اوکیدلی شي له کبله یې په یوه جریب کې 4-5kg فاسفورس او د 10-60kg نایتروجن نصب شي چې ددې ژوندیو سرو د پیرلو له لارې د 2-1 افغانیو په بدله کې د 100-50 افغانۍ ګټه ترلاسه کیږي، په افغانستان کې ددې سرو لپاره شرایط اماده او ډېر فرصتونه وجود لري، ان شاالله په ډېر نژدې راتلونکي کې به ددې سرې استعمال دلته هم عام شي.

References:

1. George Thomas, C. (2003). Forage crop production in the Tropics. Kalyani Publ. New Delhi. India. pp 35-36
2. Khan, A.A. *et al*. (2009). Agricl, Biol, Sci. J.(1) . Phosphorus Solubilizing Bacteria: occurrence, Mechanism and their role in crop production. PMAS .Rawalpindi. Pakistan, Pp 48-58.
3. KRIBHCO. (2013). We are the nutrients behind progress. Farm Advisory Services. India.
4. Mangesh,Y.Dudhe.(2013).Plant Physiology. New vishal pbul. New Delhi. India.pp 123-126.
5. Prasad/Kumar.(2012).Principles of Horticulture 2nd edi. Agrobios (India). pp 254-269.
6. Rashid ,A.,Memon,Kazi Suleman. (2001) . Soil science. National book foundation. Islamabad. Pakistan .p p 201—311.
7. Sharma,B.S. *et al*.(2013). Springer open journal. PSM:Sustainable approach for managing Phosphorus deficiency in Agricl. soil. 1-14
8. Singh,Jitendra.(2012).Basic Horticulture. Kalyani Publ. New Delhi. India pp 134-138.
9. Subramanian, S. (2004).Globalization and Sustainable Agriculture.Kalyani Publ. New Delhi. India. pp 141-144.

پوهنـــــدوی محمـــــد اســـــماعيل (ســـــعادت)
کرنـــــې پـــــوهنځی - هـــــارتيکلچر څانګـــــه
تقريظ ور کوونکی: پوهندوی سيد اجان عتيق عبديانی
د کرنـــــــــی پـــــــــوهنځی اســـــــــتاد

د سبو د حاصلاتو د ټولولو وروسته د ضايعاتو مخنيوی

لنډيز:

د هغه وخت راهيسې چې انسان خپل ځان پيژندلی تر اوسه پورې چې د اتوم زمانه ده د لوږې او قحطي سره لاس او ګريوان ده. هغه څېړنې چې د عالمانو له خوا تر سره شوي، ښودل شوي چې ۱/۳ برخو څخه زيات د نړۍ وګړي د لوږې څخه رنځ وړي او يا د سؤ تغذې د شديدې ستونزې سره مخ دي. انسان تل دا کوشش کوي چې د عصري تکنالوژي، ځمکې او اوبو څخه اعظمي استفاده وکړي او يا د پرمختللو زراعتي ماشين الاتو څخه استفاده او د ناروغيو او آفاتو سره د مبارزې په اساس د زراعتي محصولا تو د توليد کچه لوړه کړي. همدارنګه د ګڼ شمېر طريقو له لارې لکه د مختلفو زراعتي محصولاتو د ساتنې دپاره د سترو او عصري سړو خونو جوړول تر څو چې محصولات تر يو څه وخت پورې وساتل شي او يا پروسس شي، هڅې کړي چې تر يو حده پورې د لوږې او قحطي سره مبارزه وکړي لکن دا کوششونه د نفوس د زياتوالي په وړاندې بې پايلې دي، په داسې توګه چې په اوس مهال کې د نړۍ ۳۰ سلنه څخه زيات وګړي د غذايي موادو له اړخه د ستونزو سره مخامخ دي.

په نړۍ کې هېوادونه د غذايي موادو د مصرف په اساس په دوه برخو وېشل شوي دي. په لومړۍ برخه کې پرمختللي او صنعتي هېوادونه (امريکا) دي چې نه يوا ځې د غذايي موادو د شتون سره مشکل نه لري بلکې د پلورلو د پاره يې نورو هېوادونو ته صادروي، دويمه برخه کې د پرمختګ په مهال او وروسته پاتې هېوادونه دي چې د خپل هېواد د وګړو د پاره غذايي مواد نه شي برابرولی چې د نمونې په توګه بعضې افريقايي او د لا تيني امريکا څخه نوم اخيستل کيږي. د ځمکې د کرې پرمخ د وګړو شمېر ورځ په ورځ زياتيږي او عالمانو دا پيشبيني کړې چې په ۲۰۳۰ کال کې د ځمکې د کرې نفوس ۱۰ ميليارده کسانو ته رسيږي. اوس دا سوال رامنځته کيږي چې ددې وګړو د پاره د غذايي موادو په هکله څه بايد وشي تر څو چې د غذايي موادو د تغذيې مشکل حل شي. په دې هکله متخصصينو ګڼې نظريې ور کړې دي.

ځينې په دې باور دي چې د هېوادونو تر منځ جنګونه کولی شي د وګړو شمېر کم کړي، ځينې په دې باور دي چې د زيږېدنې کنترول کولی شي چې د نفوسو کچه راټيټه کړل شي او بالاخره ځينې دا سې نظر لري چې د عصري تکنالوژي استعمال او همدارنګه د کرنيزې ساحې د کښت زياتوالی ددې باعث کيږي چې د زراعتي محصولاتو د توليد اندازه لوړه کړي. همدارنګه زيات شمېر محصولات د کروندې څخه د ټولولو مخکې او يا د کروندې څخه د ټولولو وروسته ضايع کيږي چې دا ستونزه په ځانګړې توګه په هغه هيوادونو کې زياته ليدل کيږي چې د عصري تکنالوژي څخه برخمن نه وي چې د محصولاتو د ضايعاتو کچه يې د ۴۰-۳۰ سلنه پورې رسيږي. ددې تر څنګ د ناروغيو او آفاتو په اساس د زراعتي محصولاتو د له منځه وړلو له امله هم تر سره کيږي. د ځينو څېړنو پر اساس ښودل شوي چې ددې ډول خساراتو اندازه تر ۴۵ سلنې پورې رسيږي، بعضې عالمان دا باور لري چې هغه خواړه چې مونږه يې خورو د حشراتو د پاتې شونو څخه عبارت دي.(۳، مخ۳-۱-) (۸ مخ ۲).

سريزه:

د سبو اصطلاح يوه تاريخي سابقه لري. سابه هغه وښين نباتات دي چې د عمر له مخې يو کلن ، دوه کلن او محدود شمېر يې څوکلن ګڼل کيږي او مختلفې برخې لکه ريښې، ساقې، پاڼې، خامې ميوې، پاخه تخمونه د خوړلو د پاره تر استفادې لاندې نيول کيږي. د هغه وخت راهيسې چې انسان د ځمکې پرمخ ژوند غوره کړی سابه يې د خوراک يوه مهمه برخه ګڼلې ده.

په پخوا وختونو کې انسان په خپل سر شنو شوو سبو څخه استفاده کوله چې په اول کې به يې په باغچو او بيا وروسته په کروندو کې کرل. ننني سابه اصلا د هغو وحشي سبو د اصلاح کولو پايله ده. تاريخ ښودلې ده چې انسان د نن څخه د ۷۰۰۰-۱۰۰۰۰ کاله مخکې د مختلفو نباتاتو د کرلو په فکر کې شو کوم چې د غذايي موادو په توګه به يې ترې استفاده کوله. مصريانو د ميلاد څخه ۳۵۰۰ کاله مخکې د سبو په کښت يې پيل کړی و. هغه سابه چې مصريانو د کښت لاندې نيولې وو د بادرنګ، هوږه، پياز، کاهو، نعنا، خربوزې څخه عبارت دي. مصريانو د ميلاد څخه ۷۰۰ کاله مخکې ۹۰۰ ډوله نباتات پيژندل چې ددې جملې څخه سابه، طبي نباتات او تيلي نباتات وو، چې د ۱۴۹۲ کال څخه وروسته يې ځينې د پلورلو په توګه د استفادې لاندې ونيول. سابه د ورځني خوراک اساسي برخه جوړوي او د روغتيا له مخې د محافظوي خوراک په نوم يادېږي. په لوړ کميت سره د سبو توليد د يو لړ ستونزو سره مخامخ کيږي چې د ناروغيو او آفاتو دلارې د حاصل کموالی او د حاصل ټولولو څخه وروسته د مختلفو لارو له مخې زيانونه يې ځانګړې او غوره بېلګې ګڼل کيږي.(۲مخ۲۲) (۳مخ۲) (۱مخ ۳).

موخې:

دا موضوع ددې دپاره وټاکل شوه چې مينه وال او د مسلک خاوندان دا پوهه تر لاسه کړي چې څرنګه د زيات شمېر سبو حاصلات د کروندې څخه د ټولولو وروسته ضايع کيږي او څرنګه يې مخنيوی تر سره شي، چې ددې ضايعاتو د مخنيوي پر اساس د وګړو د پاره په مارکيټ کې د سبو شتون لوړ شي. همدارنګه دليکوال دپاره ديوه فرعي اثر په توګه ورڅخه ګټه پورته شي.

د سبو د حاصلا تو د ټولولو وروسته د ضايعاتو مخنيوی

په لاندې توګه ګڼ شمېر د هغو فکتورونو اغېزې چې په سبو باندې دمحصولاتو د ټولولو څخه وروسته لري ښودل شوي دي.

الف: دضايعا تو لومړني سببونه

- ميخانيکي ضايعات لکه زخمي کيدل، چاوديدل، پرې کېدل او داسې نور.
- دفنګس او بکتريا په واسطه ميکروبي خوساکېدنه.
- په ميوو/ پليو اوداسې نورو کې فزيالوژيکي تغيرات لکه تنفس، حمل او نقل، پخېدنه، زوړوالي، بچکي ويستنه، دتخم تيغوهنه.
- فزيکي ضايعات لکه دنامناسب سوړ زيرمه ځای تودوخه، نسبتي لندبل او په کنترول شوي اتماسفيري زيرمه ځای کې د ګازونو نامطلوب ترکيب، د پروسس کولو په وخت کې نا مناسبه تودوخه او داسې نور سببونه دي چې زيرمه ځای کې په بې نظمي باندې پای ته رسېږي.
- په بوشيمکي ضايعاتو کې انزايمي غبرګون لکه دکاربوهايدريت، خوند او د ويټامين محتويات مخصوصاً د ويټامين سي بدلون او همدارنګه غير انزايمي تغيرات لکه د انساجو نرموالي، کلکوالي، او سستوالي، دپګمنټونو تخريب او توليد.

ب: دضايعاتو دوهمي سببونه

- د سبو د ټولولو په وخت کې د دوی د معياري پخېدنې په هکله نامناسبه پوهه.
- د محصول نامناسبه اداره کول.
- دمحصولا تو په ټولولو کې د زيات وخت نيول او په کرونده کې د محصولاتو پرېښودل.
- دباران د اوريدو څخه سمدستي وروسته دسبو د محصولا تو ټولول.
- د ورځې په ګرمو ساعتونو کې کروندې څخه دمحصولاتو ټولول.
- په پيازو او کچالو باندې نا مناسب کيورنګ سرته رسول.
- دمحصولاتو د ټولولو څخه وروسته سمدستي دکروندې دحرارت له منځه وړلو لپاره دامکاناتو نشتوالي.

- د مناسب سوړ زيرمه ځای د سهولتونو نه موجوديت.
- دمحصولاتو د ټولولو څخه وروسته د فنګس وژونکو د نه معامله کولو نيمګړتياوې.
- د محصولا تو دانتقال په اوږدو کې دبسته بندي کولونامناسب مواد کوم چې فزيکي او ميخانيکي زخمونه رامنځته کوي.
- دچټک او اغېزمن ترانسپورتي سهولتونو نشتوالی.
- په يوه مناسب ځای کې دمارکيټي سيستم نشتوالی.
- د پروسس له پاره دلږو محصولاتو څخه استفاده کول (ديوې سلنې څخه لږ) .(۷مخ ۲۰۸) (۸مخ ۲۲۱).

د سبو د محصولا تو دټولولو څخه وروسته کېدلی شي چې نوموړي ضايعات د مناسبو کرنيزو عمليو، د محصولا تو ټولولو، د محصولاتو د ټولولو اداره او تنظيم، زېرمه کولو او د محصولاتو دټولولو څخه مخکې او وروسته د ځينو موادو سره معامله کولو په واسطه ټيټيدلی شي. دغه شته مهم ټکي په لاندې توګه څېړل شوي دي.

۱. د سبو د ضايعاتو د مخنيوی له پاره اړونده کرنيزې عمليې:

د اوږد وخت له پاره د سبو په تازه ساتلو کې کرنيزې عمليې دروغ نبات او خوساکيدونکو اورګانيزمونو څخه د مخنيوي ډاډمن کيدلو کې مرسته کوي. په نيله لروونکو سبو کې د ريښې دښاخ ښاخ کېدو د مخنيوي له پاره خاورو ښه نرمول او پسته ول اړين بلل کېږي. دغير منظمې آبيارۍ په صورت کې درومي بانجانو، ګازرو او مليو چاوديدنه او د پيازو دبهرنيو پوستکې درزيدنه يې عمده سببونه دي. د پيازو او هوږې دمحصولا تو د ټولولو څخه درې اونۍ مخکې ابياري بايد ودرول شي ترڅو چې په زېرمه ځای کې د ښه ساتلو کيفيت تر لاسه کړل شي. د نايتروجن دزيات استعمال په صورت کې انساج په چټکۍ سره خرابېږي، په دې صورت کې چې د پوتاشيمي سرې استعمال دسبو دساتلو کيفيت اصلاح کوي. په کرمو کې دمولبدينيم دعنصر دقلت په صورت کې منځنۍ خوساکيدنه، په مټرو کې دمګنيزيم دقلت په صورت کې زينماکه داغونه، په خوږو جوارو کې دجستو قلت دسپين پنډک موجوديت ليکن په هغه صورت کې چې کچالو ته زياته آبيار ورکړل شي په کچالو کې منځ خالي زړه رامنځته کېږي. دګلپي دګل پوښل دښه کيفيت او اوږد وخت لپاره دساتلو ډاډ رامنځته کوي. همدارنګه ملچ هم کولي شي چې دسبو دتازه ساتلو وخت اوږد کړي ځکه چې، دملچ مواد دخاورې دتودوخې انعکاس په محصول باندې ودروي چې په دې اساس لږه تودوخــه ورته رسيږي او دمحصول دخرابيدو څخه مخنيوی کوي. ددې لپاره چې د سبو د کرلو په اوږدو کې د ضايعاتو څخه مخنيو وشي بايد د سپارښت شويو کرنيزو عمليو څخه استفاده وشي.(۷مخ ۲۲۲) (۹ مخ ۱۱۹).

۲: دمحصولا تو ټولول

سابه بايد په داسې وخت کې دکروندې څخه راټول شي کله چې اعظمي سايز ته رسېدلي وي او نازک او ځلا لرونکي وي. په نيله لروونکو سبو کې زياته پخيدنه، اسفنجي توب، پت لروونکي او دسختوالي باعث ګرځي. د پيازو او هوږې ناوخته د کروندې څخه راټولولو د زېرمه کولو کيفيت ټيټوي. که چېرې لري واټن ته رومي بانجان ليږدول کېږي نو بايد درنګ دبدلون په وخت کې دکروندې څخه راټول شي. ددې برعکس ګلابي مرحله د محلي مصرف لپاره مناسب ده، پداسې حال کې چې پوره پخه مرحله د پروسس د موخو لپاره مناسبه ګڼل کېږي. دمحصولاتو ټولول بايد د ورځې د سړو برخو په اوږدو کې تر سره شي چې دا اکثره دسحر لخوا تر سره کېږي، او څومره چې ژر امکان ولري محصولات يوه سيوري ځای ته انتقال کړل شي. دګرمو ساعتونو په اوږدو کې دمحصولاتو ټولول د مړاوې کېدو او ګونځېدو باعث ګرځي. دباران د وريدو په اوږدو کې يا دباران د ودريدو څخه سمدستي وروسته دمحصولاتو ټولول دمايکرو اورګانيزمونو حملې او تکثير لپاره وړ شرايط برابرېږي. (۷مخ ۲۲۳)

۳: دمحصولا تو تنظيمول

الف: وينځل، داضافي برخولرې کول او درجه بندي:

مخکې له دې څخه چې سابه بسته بندي شي ځانګړو عمليو ته اړتيا لري. نيله لروونکي او ټيوبر لروونکي سابه اکثره د خاورې، ګرد او د چټلۍ د لرې کولو لپاره وينځل کېږي. د وينځلو په واسطه د سبو د ظاهري شکل په ښه ساتلو او مړاوې

کېدو څخه مخنيوی تر سره کېږي. دا همدارنګه د مايکرو اورګانيزمونو فشار هم کموي. زخمي شوي سابه لري کړل شي. د محصولاتو درجه بندي بايد د سايز، شکل، رنګ، د پخېدو مرحله، ورايټي، او ديوه محصول عمومي شکل په نظر کې نيولو سره لکه رنګ(رومي بانجان، توربانجان) – سايز(ميوه، نيله لروونکي او ګنډه لروونکي سابه) – پخوالي(باميه، بادرنګ کريله او داسې نور) – پوره پخېدنه(رومي بانجان) له مخې تر سره شي. محصولات دناروغو او افاتو دحملې او همدارنګه د دوی د اغېزو څخه پاک ساتل يو دمهمو پاملرنو څخه ګڼل کېږي، خصوصاً په هغه حالت کې چې د صادراتو لپاره درجه بندي کېږي. د مارکيټ د غوښتنې پر اساس ټول هارتيکلچري محصولات په مختلفو درجو باندې درجه بندي کړای شي، ځکه چې درجه بندي شوي محصولات په مارکيټ کې په ښه بيه پلورل کيږي. يادونه بايد وشي چې د خارجي مارکيټ دپاره محصولات په بين المللي معيارونو سره درجه بندي شي. (۷ مخ ۲۲۳) (۹ مخ ۵۴) (۸مخ ۲۰۴).

ب: مخکينۍ سړونه:

د اوړي د موسم په اوږدو کې کله چې نوموړي محصولات دلوړې تودوخې سره مخامخ کېږي او د ورځې په ګرمو ساعتونو کې دکروندې څخه راټولېږي، د سبو په خوسا کيدو کې اساسي رول لري. مخکنۍ سړونه يوه داسې پروسه ده چې په ډېره چټکۍ سره د محصولا تو څخه د کروندې ګرمي لرې کړل شي. دا د زېرمه کولو او انتقالولو څخه مخکې يوه جدا پروسه ده کوم چې ديخولو ځانګړو سهولتونو ته اړتيا ليدل کېږي. دمخکنۍ سړونې اصلي موخه د محصول څخه دتنفس ټيټېدنه، دمايکرو اورګانيزمونو څخه دفعاليت کموالي اود اوبود ضايعاتو ټيټول دي. مخکينۍ سړونه دهغو هارتيکلچري محصولاتو دپاره غوره بلل کيږي چې يا لري مارکيټونو ته انتقاليږي او ياد يو څه وخت دپاره په زيرمه ځايونو کې ساتل کيږي. د مخکينۍ سړوالي عمليه د څو ساعتونو يا څو دقيقو په تېرېدو سره سرته رسيږي. د يخولو طريقې په کوټه کې يخونه، په هوا په واسطه يخونه، د يخ د ټوټو په واسطه يخونه، د اوبو په واسطه يخونه او د واکيوم په واسطه يخونې څخه عبارت دي. د واکيوم پواسطه (سړونۀ) ډېره زياته قيمته تمامېږي. دمحصولا تو بسته بندي او په تعقيب يې مخکنۍ سړونه د سبو دتازه ساتلو په زياتولو کې دکتنې وړ زياتوالي راولي کوم چې په دې سره فزيالوژيکي او بيوشيميکي تغيرات کمېږي. د سبو د ډلې څخه باميه، کوم چې ډېر ژر خرابېږي نو پدې اساس سړولو ته يې اړتيا ليدل کېږي. (۹ مخ ۴۹) (۷ مخ ۲۲۳)

ج: کيورنګ يا رغونه (Curing)

د ټيوبر او ګنډه لروونکو سبو د پوستکي د تقويې لپاره کيورنګ يوه ضروري پروسه ده. د نوموړو سبو دعمر زياتوالی ښايي په لوړه پيمانه سره دکيورنګ پواسطه زيات کړل شي. د محصولا تو د ټولولو څخه سمدستي وروسته محصولات په نسبي لوړه تودوخه او نسبتا نسبتي رطوبت کې وساتل شي کوم چې په دې کې دسيو برايزيشن (Suberization) دبهرنيو انساجو او په تعقيب يې د زخمونو رغيدل چې د انفکشن او د اوبو ضايع کېدنې پر خلاف موثر عمل دي. دکيورنګ دپاره محصولات په يوه سوري ځای کې ټول شي ترڅو د نوموړو محصولا تو د پوستکي رنګ اصلاح، د پوستکي د زخمونو رغيدل او د اضافي اوبو تبخير په کې صورت ونيسي. همدارنګه کيورنګ په پيازو او هوږه کې درطوبت دکموالي باعث ګرځي کوم چې د زېرمه کولو ژوند ته زياتوالی ورکوي. خواږه کچالو په ۳۳ سانتي ګراد تودوخه او ۹۵٪ نسبتي رطوبت کې په چټکۍ سره کيورنګ کېږي، په داسې صورت کې چې دکچالو تيوبرونه ۱۸ سانتي ګراد تودوخې ته دوه ورځو له پاره ضرورت لري او ددې څخه وروسته د ۸-۷ سانتي ګراد تودخه او ۹۵٪ نسبتي رطوبت د ۱۰-۱۲ ورځو له پاره ضروري ګڼل کېږي. په کرونده کې دپيازو د کيورنګ د پاره ۸.۳۷ سانتي ګراد تودوخه د ۵-۳ ورځو لپاره کفايت کوي. د پيازو د مصنوعي کيورنګ له پاره ۴۰ سانتي ګراد تودوخه د ۱۲ ساعتونو له پاره اړينه بلل کېږي. دکيورنګ پواسطه کچالو، پياز، هوږي او خواږه کچالو د سبو دکتنې وړ دخوسا کيدنې ضايعات کموي. (۷مخ ۲۲۳)

د: په موم ککړول (waxing)

دچاپيريال په شرايطو کې دا دلنډ وخت له پاره د تازه سبو د زېرمه کولو د تخنيک څخه عبارت دي کوم چې موم د محلول په استعمال سره چې دپارافين موم، تراي ايتانول (Tri Ethanol) او اوليک اسيد (Olic acid) څخه عبارت دي، چې د ميوو پر مخ باندې نرۍ قطع شوې طبقه ده. د موم ددغې طبقې پواسطه د تنفس او تبخير اندازه کمېږي چې په پايله کې د

سبو د تازه والي دوره زياتېږي. کله چې دموم په محلول کې ځينې فنگس وژونکي گډ کړل شي د مايکرو اورگانيزمونو دحملې څخه په لرې ساتلو کې کومک کوي. په مومو سره د نازکو ميوه لروونکو سبو ککړول مخصوصاً لکه بامیه، توربانجان، صراحي کدو، کريله، تره، هندوانه، خربوزه، او داسې نورو لپاره گټور تمامېږي. په عمومي توگه د مومو محلول بايد د ۲-۱۲٪ غلظت سره کوم چې دا هم بيا د سبو ډول پورې اړه لري استعمالېږي. ځينې فنگس وژوونکي لکه Benomyl ,Thiabedazole, Benlate او داسې نور د محلول سره يوځای استعمالول په زېرمه ځايونو کې دفنگسي ناروغيو دحملې څخه مخنيوی کوي. (۷مخ ۲۲۴)

۴: دټولو شوو محصولاتو سره دکېمياوي مواد معامله کول

الف: دنبات دساتنې کېمياوي مواد

دمحصولاتو دټولولو څخه وروسته دفنگس وژونکو (Captan , Benomyl , Benlate , Thiabendazole, Dithan M-45 او داسې نور) اوانتي بيو تيکونه (سترپتو مايسين) استعمال د سبو په زېرمه ځايونو کې په اغېز منه توگه سره د خوسا کيدو څخه مخنيوی کوي چې دفنگس او بکتريا پواسطه تخريب رامنځته کېږي. په رومي بانجانو باندې د Benomyl اغېزمن استعمال داکثره زيان رسوونکي فنگس پواسطه د ودې مخنيوی کوي. د هوږې وچه خوسا کيدنه په اغېزمنه توگه سره د Formalin ۰.۳ سلنې پواسطه مخنيوی کيدلی شي، په داسې حال کې چې گنډې يې په نوموړي موادو کې غوټه کړل شي. د پيازو د تور پوپنک ستونزه دچونې (۱۲ کيلو گرامه په يوه هکتار کې) په اچولو سره د ټولولو په اوږدو کې د گنډې دقطع شوي ځای په برخه کې مخنيوی تر سره کېږي. دبکتريايي نرمې خوسا کيدنې د حملې د مخنيوي له پاره بسته بندي شوي پالک او کرم د Streptemycin د ppm۱۰۰۰ په غوټه کيدو سره مخنيوی ترسره کېږي.

ب: وده تنظيموونکي مواد (Growth substances)

د محصول د ټولولو څخه وروسته فزيکي، بيوشميکي عمليې په مسلسله توگه جاري پاتې کېږي کوم چې په پايله کې دمحصولاتو د ټولولو څخه وروسته سابه خوسا کوي. دغه ميتابوليکي فعاليتونه دنبات د ودې د داخلي هارمونونو پواسطه اداره کېږي چې دا په عمومي توگه داکسين، جبريلين، اوسايتو کاينين څخه عبارت دي. ځکه نو د دغو پورته هارمونونو مصنوعي شکل دميتابوليکي پروسې په تغيير کې مرسته کوي چې په دې سره د سبو د تازه والي عمر زياتېږي. د محصولاتو د ټولولو څخه مخکې يا وروسته د N^6 - Benzyladenine (BA)-5-15 ppm سره کرم، گلپي، براکولي او غوزه يې کرمو باندې په شنيدلو سره دزوړوالي پروسه په اغېزمنه توگه سره ځنډوي. داکسين(2-4-5 T and 2-4 D) په گلپي کې دپاڼو توييدل يا رژيدل ځنډوي. د رومي بانجانو او پاڼه لرونکو سبو د ټولولو څخه وروسته د جبرلين په استعمال سره ديوې خوا د رومي بانجانو پخيدنه ځنډېږي او د بلې خوا څخه په پاڼه ايزو سبو کې دکلورو فيل دتخريب مخنيوی صورت نيسي. په کچالو باندې د الر (Alar) استعمال دسولانين دتوليد مخنيوی کوي. دبراکولي، کاهو، اسپرگس او داسې نورو سبو دزېرمه کولو عمر دسايکوسيل (cycocel) د استعمال پواسطه لوړېږي. دماليک هايدرازايد د ppm۱۰۰۰ درې ځلې شيندل په هره اونۍ کې د پيازو په زېرمه ځای کې دتيغوهنې مخنيوی کوي. د رومي بانجانو ميوې د خوسا کيدنه او د وزن بايلل دسايکوسيل (cycocel)ppm۱۰۰ په شيندلو سره کموالی کوي. په مليو باندې د BA د ۵-pm۲۰ شيندل د تازه والي دوره يې اوږدوالي پيداکوي. دغوزه يې کرم د تازه والي عمر کيدلی شي چې يې د ۹-۱۰ ورځو د پاره په ۲۰ سانتي گراد تودوخه کې د جبرلين د ppm۱۰۰ په استعمال سره لوړ کړل شي. دجبرلين (GA) په ppm۱۰۰ محلول کې د بامیه ميوې د لسو دقيقو له پاره غوټه کيدل او په تعقيب يې درسته بسته بندي تر سره کول د تازه والي عمر ته ۹ ورځې زياتوالی کوي.

۵: د بسته بندی دمخه کړنې (Pre – packaging)

دا په عمومي توگه د مصرف کوونکو د سايز لپاره د محصول د بسته بندي په معنی سره دي. په دې کار سره د سبو د اضافي برخو دلرې کولو په اساس دحمل او نقل مصرف کمېږي. بسته بندي د محصول د تازه عمر زياتوالي رامنځته کوي، د زخمونو منځته راتگ کموي، خوسا کيدنه ټيټوي او همدارنگه د مصرف کوونکي لپاره د انتقال په وخت کې کموالی راولي او په اساني سره دغه محصول اداره او انتقالېږي. دبسته بندي د مختلفو ډولونو د ډلې څخه د پولي ايتايلين فلم استعمال ښه نتيجه ورکړې ده. دمليو، گازرو، شلغمو، او داسې نورو سبو دپاڼې دلري کولو څخه وروسته پلاستيکي فلم د تازه عمر د

زياتوالي باعث ګرځي کوم چې د CO_2 په لوړ غلظت سره متغير اتماسفير پيدا کوي. په هر حال، دابه غوره وي چې په بسته بندي کې تنفسي فلم استعمال کړل شي لکه پولي ستيارين فلم (Polystyrene film) کوم چې په مناسب اندازه سره د غير هوازي شرايطو د مخنيوي له پاره يو څو دانې سوري موجود وي. په انفرادي توګه د رومي بانجانو، تورو بانجانو، مرچکو او داسې نور ميوو د پولي ايتايلين فلم د ۱۰ مايکران په غلظت سره تاوول (پيچل) د زېرمه کولو ژوند دعادي حالت په نسبت زياتوي (بغير د بسته کولو څخه).(۷مخ ۲۲۴).

۶: بسته بندي کول(Packaging)

په زړه پورې او مناسبه بسته بندي کول د توليدوونکي او مصرف کوونکي دا ړيکو دانکشاف لپاره ضروري ګڼل کېږي. د بسته بندي کولو لپاره د مختلفو موادو څخه استفاده کېږي. چې د هغې جملې څخه د باڼس څخه جوړې شوې ټوکرۍ، تاريني بورۍ، لرګين بکسونه، پلاستيکي کريټونه او داسې نورو څخه عبارت دي. د سبو د بسته بندي لپاره د پلاستيکي کريټونو استعمال د بسته بندي د موادو د نرخ په ټيټوالي کې مرسته کوي او دا ټوله پروسه د لرګيو د لږوالي په اساس لږې اړيکې لري، له دې امله د چاپيريال په ساتنه پای ته رسېږي. اکثره سابه په هيواد کې د ننه د بوريو، صندوقونو، کاغذي کارتنونو سره بسته بندي کيږي.

د بسته بندي ګټې:

- ✓ بسته بندي شوي محصولات د عاجلو ضايعاتو مخنيوي کوي.
- ✓ بسته بندي شوي محصولات د يوه مناسب وخت د پاره محصولات تازه ساتي.
- ✓ بسته بندي شوي محصولات په مارکيټ کې د ښې غوښتنې لرونکي وي.
- ✓ بسته بندي شوي محصولات په اطميناني ډول انتقاليږي.
- ✓ بسته بندي شوي محصولات د خاورو، دوړو او مړاوې کيدو مخنيوی کوي. (۸ مخ ۲۰۵) (۴مخ ۲۹۲)

۷: انتقال(Transportation)

د محصولاتو د ټولولو څخه وروسته زياتره ضايعات د حمل او نقل په اوږدو کې ليدل کېږي. د اساسي عواملو له ډلې څخه د غېر کنترول شوې تودوخې او نسبتي رطوبت پر اساس د حمل او نقل په اوږدو کې د يو شمېر سبو او ميوو خوسا کيدل تر سره کېږي. د دې لپاره چې د ضايعاتو څخه مخنيوی وشي ضروري ګڼل کېږي چې عاجل، اغېزمنه او ارزانه شبکه د سبو د کرونکو او توليدوونکو په ساحو کې اماده کړل شي. د محلي مارکيټ له پاره د تراکتور د ټرالیو څخه استفاده کېږي. د تراکتور د ترالیو د سطحې په بيخونو کې د پاڼو يا وښو اچول د دې باعث کېږي چې محصولات د زخمي کيدو څخه ساتي. لرې واټن ته د سبو انتقال اساساً د سرک د لارې تر سره کېږي ليکن قيمتي تمامېږي. د ريل پواسطه انتقال د ۸-۱۰ ځلو زيات موثر تمامېږي ليکن په دې کې د سبو د انتقال برخه اخيستنه نسبتاً لږه ده. په دې خاطر دا ضروري ګڼل کېږي چې ښه تهويه شوي يخچالي موټر يا وسايلو ته انکشاف ورکړل شي په داسي حال کې چې د محصول د بسته کولو او بارولو د سيستم اصلاح وشي. (۷ مخ ۲۷۵) (۹مخ ۲۲۸).

۸: وړانګو سره معامله کول (Irradiation)

د وړانګو په وړاندې د سبو مخامخ کول خصوصاً د Mutagenic وړانګو سره د وړانګو ورکولو په نوم يادېږي. دلته ميوې او سابه د ايونايز کيدونکو وړانګو سره مخامخ کېږي لکه ګاما وړانګې، X- ray، ماورابنفش وړانګې کوم چې د تازه محصولاتو د تازه والي عمر زياتوي، د خوسا مايکرو اورګانيزمونو د ودې او د ميتابوليزم د اندازې د ټيټولو پواسطه تر سره کېږي. د دې څخه پرته چې په محصول باندې د کتنې وړ د تودوخې درجه لوړه شي پتوجنيکي اورګانيزم تخريب کوي، پر دې اساس دا همدارنګه د ساړه ضد عفوني کيدنې په نوم يادېږي. کچالو ته د Gy ۷۵-۱۵۰ د وړانګې ورکولو (Irradiation) سره د تيغوهنې څخه مخنيوی کولی شي او وړانګو سره معامله شوي کچالو کيدلی شي چې د ۶ مياشتو څخه د زيات وخت د پاره په ۱۵ سانتي ګراد تودوخه او ۹۰-۹۵٪ نسبتي رطوبت کې په بريالي توګه زېرمه شي. د مني د زېرمه شويو پيازو ضايعات د ۲۰Gy-۹۰ د وړانګو د معامله کولو پواسطه د ۵ مياشتو په اوږدو سره د زېرمې په دوران کې د

وچوالي او تيغوهنې څخه مخنيوی کېږي، کيدلی شي چې د وړانګيو سره معامله کول پخېدنه او زوړوالی وځنډوي. (۷مخ ۲۲۲)

۹: پروسس کول (Processing)

زمونږ په هيواد کې زياتره د سبو محصولات په تازه توګه په مصرف رسېږي. په هر حال، دغه محصولات د قطۍ کولو، وچولو، کنګل، ساس، اچارو په ډول هم استعمال کيدلی شي. د سبو د پروسس کولو په اساس نه يواځې دا چې د محصولا تو د ټولولو څخه وروسته ضايعات کموي، بلکې همدارنګه د هغو محصولا تو څخه اغېزمنه توګه استفاده کېږي، کوم چې توليد يې زيات وي او اکثره په غېر موسمي وختونو کې ترې استفاده کېږي. هغه سابه چې د قطۍ کولو لپاره پروسس کېږي د (متر، لوبياو، باميه، ګازرې، ګلپي، خواره کچالو)، وچ شوي محصولات (کچالو، پياز، هوره، متر، ګازرې)، جوسونه (رومي بانجان، هندوانه)، مربا (رومي بانجان، خربوزه، هندواونه)، جيلي (هندوانه)، اچار (مرچ، ګازرې، بادرنګ، کرم، ګلپي، کدو، شلغم، چغندر)، شريني جوړولو (Wax gourd، ګازرې، چغندر)، کنګل شوي محصولات (متر، خواره جوار، کچالو، خواره کچالو، عادي لوبيا، ګازرې) او پوري (puree) رب، ساس (Sauce) کيچپ (رومي بانجان) څخه عبارت دي. په دې وروستيو کلونو کې کنګل شوي سابه په زيات مقدار سره شهرت تر لاسه کړي، کنګل شوي سابه د متر، خواره جوارو، ګلپي، عادي لوبيا او ګازرو څخه عبارت دي. د رومي بانجانو د محصول په هکله، د رومي بانجانو روب په دې وروستيو کالونو کې زيات شهرت تر لاسه کړي دي. د سبو يو بل توليد کوم چې زيات ګټور ارزښت لري د کچالو د چپس څخه عبارت دي. د کچالو هغه ورايټيګانې چې لږه اندازه شکر او زياته اندازه د نشايستې لرونکي وي د چپسو د جوړولو له پاره غوره بلل کېږي.

۱۰: زېرمه کول (Storage)

د سبو د محصولاتو د ټولولو څخه وروسته د ضايعاتو د کموالي اساسي محدودونکي فکتورونه د زېرمه ځايونو کمزوري او د نشتون شرايط ګڼل کېږي. په ښه زېرمه ځای کې تودوخه، د نسبتي رطوبت اندازه او د زېرمه ځای د چاپيريال ترکيب د سبو د ضروريا تو په اساس ساتل کېږي. د ميتابوليکي فعاليتونو او ميکروبي خوسا کيدو د مخنيوي په اساس دغه شرايط د محصولاتو د تازه عمر زياتوالی زياتوي، همدا رنګه زېرمه ځای د مارکيټ د موسمي مړښت څخه مخنيوی کوي او کروندګر ته د ښه عايد امکانات برابروي. د زېرمه ځای مختلف شکلونه په لاندې توګه ذکر کېږي.

الف- په فارم کې زېرمه ځای (On Farm Storage)

د ترانسپورت د کمزورې شبکې په درلودلو سره يو شمېر سخت سابه لکه ګازرې، شلغم، چغندر، کرم او داسې نور د يوه لنډ وخت لپاره د کروندې په يوه برخه کې زېرمه کېږي. په عمومي توګه سابه په يوه ځای کې اچول کېږي چې په وښو او په تعقيب يې د خاورې پوسيله پوښل کېږي. بعضې وخت ځينې سابه لکه پياز، کچالو، خواره کچالو او داسې نور د ځمکې لاندې زېرمه ځای کې ساتل کيدلی شي.

ب- کورنۍ زېرمه کول (Home storage)

ځينې سابه لکه کدو، ژمنۍ کدو، خواره کچالو او داسې نور په نسبتاً لوړه تودوخه او ټيټ نسبتي رطوبت کې د زېرمه کولو ته اړتيا لري. ددې د پاره کيدلی شي چې په سوړ او سوري لرونکو کوټو کې د يوه اوږد وخت لپاره وساتل شي. (۷ مخ ۲۲۲).

پايله:

ددې ليکنې په پای کې دا جوتيږي چې سابه د کروندې څخه د ټولولو څخه وروسته د ګڼ شمېر ضايعاتو له مخې ضايع کيږي. د ضايعاتو د مخنيوي د پاره د مختلفو لارو څخه د کنټرول د پاره لارې ښودل شوي دي. ددې د پاره چې د بشر د پاره په مارکيټ کې د سبو شتون مناسب وي بايد ددې ضايعاتو مخنيوی ترسره شي. د سبو ضايعاتو مخنيوی د يوې خوا څخه د کروندګر د پاره ګټور او دبلې خوا څخه د خوراکي موادو د شتون په زياتوالي کې مرستندويه پاتې کېدلی شي. په دغه مقاله کې د سبو د ضايعاتو ګڼ شمېر سببونه او د حل لارې چارې په ګوته شوې دي چې مسلک مينه وال، د ترويج مامورين

او کروندگر يې په پوره پاملرنې سره کولی شي چې د دغو ضايعاتو کچه کمه او په مارکيټ کې د سبو شتون زيات شي. په لنډه توگه د کروندې څخه د سبو د محصولا تو د ټولولو وروسته د ضايعاتو مخنيوی د لاندې ټکو په نظر کې نيولو سره ترسره کيږي.

- ✓ د کروندې څخه د خاصو پاملرنو په نظر کې نيولو سره د سبو ټولول تر سره شي.
- ✓ کروندې څخه د سبو محصولات د پخيدو په ځانگړو مرحلو کې راټول کړل شي.
- ✓ د سبو محصولات په درسته توگه سورت ، درجه بندي او بسته بندي سرته ورسيږي.
- ✓ د خاصو پاملرنو په نظر کې نيولو سره د سبو محصولات انتقال شي.
- ✓ د سبو د پاره د مناسبو زېرمه تونونو اسانتياوې په پام کې ونيول شي.
- ✓ د کروندې څخه د سبو د ټولولو وروسته او مخکې محصولات بايد د ځينې موادو سره معامله شي.

ماخذونه (Reference):

۱. حمزه خيل،نورگل.(۱۳۲۲). سبوروزنه.د کابل پوهنتون خپرونه . کابل

۲. پيوست، غلام علي. (۱۳۸۳).سبزيکاري. انتشارات دانش پزير ، تهران - ايران

۳. دانشور ،محمد حسن.(۱۳۸۳). پرورش سبزي. انتشارات دانشگاه شهيد چمران بنار- ايران

۴. مبلي ،مصطفی.(۱۳۷۷).توليد سبزي. مرکز نشر دانشگاه صنعتی اصفهان. ايران

5: Chadha, K, L, and Kaloo, G. (1993). Advances in horticulture,Val.6 , Malhotra Publishing House ,New Delhi. Indai.

6: Hazra, P. and Som, M, G, (2006), Vegetables Science, Kalyani Publishers, New Delhi India.

7: Fageria, M.S. , Choudhary ,B.R.and Dhaka, R.S .(2006) Vegetable crops Production Technology ,Kalyani Publishers ,India.

8. Singh. S. P. (1997), Principles of Vegetables Production, Agrotech Publication, India.

9: Sudheer, K, P and Indira, V. (2006) Postharvest Technology of Horticulture Crops, New India Publishing Agency Pitam Pura, New Delhi. India.

پوهـــــــندوی فـــــضل ولـــــي (ناگـــــــار)
ژبـــو او ادبيـــاتو پـــوهنځی- پښـــتو څانگـــه
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال محمدابراهيم همکار
د ښـــــوونې او روزنـــــې پـــــوهنځي اســـــتاد

د يوولسمې هجري پېړۍ د ستر عالم او عارف اخون موسٰی بټي کوټي رحمة الله عليه په باب نوې څېړنه

لنډيز

يوولسمه هجري پېړۍ که له سياسي پلوه د افغان ولس د تودو جنگونو پېر دی، او روښاني غورځنگ پر پوځي ډگر چوپ ښکاري، خو په فرهنگي کچه دغه عصر د پښتنو لپاره د زرين باب حيثيت لري. که روښاني غورځنگ د ميرزا خان انصاري، علي محمد مخلص او دولت لواني غوندې شاعران وزېږول، نو ورپسې جوخت د خوشحال خان خټک غوندې شخصيت راميدان ته شو، چې هم يې توره وچلوله، او هم يې د خبرو ملک فتحه کړ. ورپسې سمدستي دغه لړۍ په عبدالرحمان بابا رحمة الله عليه، قلندر او نورو لاښکلې او ځواکمنه شوه. خو د دې تر څنگ يوې بلې عرفاني حوزې هم د پښتو ادب ډېر چوپړ وکړ، او هغه د حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله عليه د عرفاني سلسلې نوموتي بزرگان ميا يار محمد پاپين خېل رحمة الله عليه او اخون موسٰی بټي کوټي رحمة الله عليه وو. که د پاپين ميا صاحب رحمة الله عليه غازي ايمل خان مومند د ميا برهان رحمة الله عليه له خانقاه راوايست، او د پښتنو د مشرۍ پگړۍ ورپه سر کړه، نو اخون موسٰی بټي کوټي رحمة الله عليه هم د زړونو پر تزکيې سربېره له مغلي يرغلگرو پښتانه سرتېري په خيبر ژغورل، او د ننگرهاري قامونو ساتونکی او مدافع ؤ. دغه عرفاني لړۍ له پوهانو، شاعرانو او مصلحينو څخه ډکه وه، چې تر شا يې هوتکي او ابدالي ځواکونه څپاند او د نوي افغانستان تېره کېښودل شوه.

سريزه

چا رښتيا ويلي، چې د هر لوی شاعر تر شا يو انقلاب په څپو وي. هغه وخت چې د پښتو ژبې ستر شاعر خوشحال خان خټک د خپل فطري رجحان پر خلاف په موروثي او روايتي ډول د مغلي امپراتورۍ سره اړيکې درلودې، د پښتنو روحاني مشرانو او بزرگانو د دې ولس د انسجام او تمرکز خيال لاره، او دا کومه تصادفي خبره نه وه، بلکې يو شعوري او خود آگاهانه خوځښت ؤ. په دغو سپېڅلو هستيو کې، چې پښتون ولس يې منسجم کولو، د اخون موسٰی بټي کوټي رحمة الله عليه نوم هم اوڅار دی. په دې ليکنه کې به مو هڅه دا وي، چې د دې مشهور عالم او مصلح په باب لاس ته راغلي معلومات له نقد او کره کتنې سره وړاندې کړو او هغه نظر ته ترجيح ورکړو، چې مستدل بنسټونه ولري.

موخې

د دې څېړنې هدف دا دی، چې د پښتنو مشهور اسلاف چې ډول ډول کرامتونه ورته منسوب دي، يواځې د دم او دعا خلک نه وو، دوی په خپل وخت کې ټولنه رهبري کړې، او د سمې لارښوونې لپاره يې ورته د قدر وړ آثار پرېښي. دغو بزرگانو په ډېرو لږو امکاناتو داسې کارنامې ترسره کړي، چې هم مو پرې د ادب تاريخ ښکلی، پياوړی او هم مو سياسي او فرهنگي تاريخ پرې ښايسته دی. خو د ډېر تأسف ځای دا دی، چې زموږ غيرتي ولس له خپل تاريخه خبر نه دی. يوولسمه او دولسمه هجري پېړۍ چې هم د آزادۍ پر غورځنگونو جړاو ده، او هم په کې د نبوغ څښتان گڼ شخصيتونه زېږېدلي دي، بايد خپل سياسي او

ادبي تاريخ ته پرې ښکلا ورکړو. نو په همدغې موخې مو نوميالی روحاني اخون موسٰی بټني کوټي رحمة الله عليه د ليک لپاره غوره کړ. شونې ده، چې دغه څېړنه د نورو ډېرو لاسته راوړنو جوګه شي.

اخون موسٰی بټني کوټي رحمة الله عليه

د پښتنو د ادبي تاريخ تر ټولو ستره غميزه دا ده، چې په تيارو کې پټ او هيڅ پام ورته شوی نه دی. تر ټولو ستر لامل يې ښايي دا وي، چې له مغلو سره څو پېړۍ پرلپسې جګړې او بيا يې د هېواد سوق الجيشي ارزښت دغه پرګنې دې ته پرېښې نه دي، چې د ارام ساه واخلي. له يوناني سکندره، مغلو، انګرېزانو او تر روسانو پورې ټول يرغلګر دلته مات شوي دي. نن هم که د خپل تاريخ څه مواد تر لاسه کوو، بايد د نړۍ کتابتونونه پسې ولټوو. زموږ د لوی عارف او عالم اخون موسٰی بټني کوټي رحمة الله عليه له آثارو سره هم دغه چلند شوی دی.

د صديق ديوان په سريزه کې ليکل شوي دي: "د **۱۳۴۵** لمريز کال د چنګاښ په مياشت کې چې د هند د جمهور رئيس مرستيال (او بيا وروسته جمهور رئيس) اروانباد ډاکټر ذاکر حسين (اپريدی پښتون) افغانستان ته په رسمي سفر راغلی ؤ، د هند له کتابخانو څخه يې د پښتو د ځينو قلمي نسخو ميکرو فلم هم له ځانه سره راوړی ؤ، چې بيا د پښتو ټولنې په واک کې ورکړ شو. په دغه ميکرو فلم کې د.... د اخون موسٰی [دنيا] رساله شامل وو." (**۲**: **۳**)

حيرانوونکې دا ده، چې تر بنګاله پورې د مار خوړلو په دمولو کې اخون موسٰی بټني کوټي رحمة الله عليه يادېږي، خو د دغه سپېڅلي سيّد او ستانه شخصيت په باب هيڅوک خبر نه دي، چې څوک او څه يې کړي دي. د اخون موسٰی بابا رحمة الله عليه زيارت د بټي کوټ ولسوالۍ جنوب ته په څو قدمه کې نزدې پروت دی، خو د دې ولسوالۍ اړوند د چاردهي او غازي آباد د کليو تر منځ يو زيارت شته، چې د اخون محمود بابا رحمة الله عليه په نامه يادېږي. د زيارت په څلور دېوالۍ کې يې دوه قبره دي. دا په ټول ولس کې مشهوره ده، چې دغه اخون محمود بابا رحمة الله عليه د اخون موسٰی بابا رحمة الله عليه پلار دی. د غازي آباد کلي کې هغه پالکۍ هم شته، چې د خلکو په خوله، اخون محمود بابا رحمة الله عليه به په کې له يوه ځای څخه بل ته نقل کېده. دغه پالکۍ د يوه چا د کاله پر بام پرته بارانونو او د زمانې څېړو ښه بدرګه کړې ده. د دغه زيارت په مخ کې د شګې بابا رحمة الله عليه په نوم د يوه بزرګ قبر دی، چې د چاردهي د مشهور عالم مولوي عبدالرحيم رحمة الله عليه شاګرد ؤ. د شګې بابا رحمة الله عليه کرامتونه نن هم خلکو ته ياد دي.

اخون موسٰی بټني کوټي رحمة الله عليه د خپل پلار نوم اخون محمد رحمة الله عليه بولي. لېږې نه ده، چې دغه محمد رحمة الله عليه دې خلکو اخون محمود رحمة الله عليه کړی وي، يا د زيارت د څلور دېوالۍ په دغو دوو قبرونو کې دې يو اخون محمد رحمة الله عليه د ده پلار او بل دې يې تره اخون محمود رحمة الله عليه وي. خو په هر صورت، دغه زيارت د اخون موسٰی بابا رحمة الله عليه د اسلافو دی او څرنګه چې د صحيح تلفظ ربړه په ټولو پښتنو کې شته، نو ځکه دغه ابدال ناشونی نه ښکاري.

اخون موسٰی بابا رحمة الله عليه د شاعر او مؤلف په توګه هم د پښتنو په علمي مراکزو کې شهرت لاره، چې ليکوالو ترې ډېر اقتباسات کړي دي. په "فرهنګ زبان و ادبيات پښتو" کې د ده د ژوند زمانه **۱۱۵۰** هـ ق اټکل شوې، او د "ورکه خزانه" د دويم ټوک حواله ورکړل شوې ده. (**۱۳**: **۴۹۰**)

د "ورکه خزانه" ليکوال ليکي: "هيڅ نه شي ويل کېدی، چې موسٰی څوک ؤ، د کوم ځای ؤ، ژوند څواک يې څرنګ وو؟ البته د قياس په رڼا کې يې که د ژوند زمانه د کال **۱۱۵۰** هـ راپد ېخوا اټکل کړو، نو غلط به نه وي. د کلام دغه يوه نمونه يې ګوتو ته راغله، نور افکار يې لاندې ښکاره شوي:

ما دا خپل بخت ازمېيلی دی، پوهېږم
که قدم په ځمکه کېږدمه، ښويېږم
که په دُر پسې غوټه کړم، شګې راشي
که په ګل باندې لاس ږدم، په خار غوڅېږم
طبيبان مې د وګړي په ځان ټول کړل
که د رنځ دارو کومه، نه ښه کېږم
د هجران په لمبو هسې سوی تن يم

لکــه پنــډ پــه دکــان کښېباســي، وېرېــږم
زه آهــو د لويــو غــرو ؤم، نيــوی نــه شــوم
د قضــا پــه لومــه بنــد شــوم، نــه خلاصــېږم
زه موسٰــی لــه خپلــه بختــه ناويســا يــم
لکــه ويشــتی غرڅنــی لــه ملــو ترهېــږم." (۴: ۲۵۸)

د اخون موسٰی بابا رحمه الله غزل د عرفان او پښتني کولتور يوه ښکلې هېنداره ده، چې په کې د ده لوړ عرفاني افکار په سېمبوليک ډول منعکس ښکاري، او د غزل هغه روايت بشپړوي، چې غزل د حيا پوشې پېغلې غوندې هيڅکله مخې ته بې پردې نه راځي. د قدرمنو څېړونکيو دغه زيار د ډېر قدر وړ دی، چې د اخون موسٰی بابا رحمه الله کلام يې تر موږ راورساوه، خو د ژوند زمانه يې تر ۱۱۵۰ هـ ق وروسته اټکلول د تأمل وړ ښکاري. موږ د دې ستر عارف اخون موسٰی رحمه الله د ژوند زمانه د شاه جهان دور او يا د اورنګزېب د پاچاهۍ تر نيمايي پورې اټکلولی شو. دغه شهادتونه له تاريخ مرصع او ځينو نورو پښتنو ليکوالو له ليکنو لاس ته راځي، چې وروسته به يې ولولو.

اخون موسٰی رحمه الله په خپل دور او تر هغه راوروسته هم د لوړې نامې عارف، عالم او مصلح شخصيت ؤ. معاذ الدين ختک يې پر وينا داسې استناد کوي:

دغه نقل مهمه که
حواله يې په قنسيه که
دا پخپل تصنيف ليکلي
دي اخون موسٰی ويلي (۱۱: ۲۷۱)

"قنسيه" کوم او د چا کتاب دی؟ د اخون موسٰی بابا رحمه الله تصنيف همدا دی، او که کوم بل کتاب. خو دا ترې څرګند ېږي، چې دی مشهور عالم، مؤلف او په علمي حلقو کې مشهور او خلکو يې له ويناؤ ګټه اخيستله.

ميا وکيل شاه "فقيرخېل" معاذ الدين ختک داسې راپېژني، چې د خوشحال بابا له علمي کورنۍ څخه ؤ. معاذ الدين ابن اکبر خان ابن سعادت خان ابن خوشحال خان ختک، او د محمد شاه معاصر ؤ.

بادشاهي دې د ډهلي محمد شاه کړي
زه معاذ ختک ګدا د يار د کوی بس (۱۰: ۳۲)

محمد شاه له ۱۱۳۱ هـ ق څخه تر ۱۱۲۰ هـ ق پورې د ډيلي مغلي واکمن ؤ، چې د اخون موسٰی بابا رحمه الله د ژوند زمانه له ۱۱۵۰ هـ ق څخه راوروسته بېخي ردوي، او څرګند ېږي، چې تر دې ډېر مخکې تېر شوی دی.

خو له ښه بخته نامتو څېړونکي استاذ هېوادمل د "فرهنګ زبان و ادبيات پښتو" تر يادښت وروسته په يوه بله څېړنيزه ليکنه کې وايي، چې د اخون موسٰی رحمه الله د "حقوق الاستاذ" په نامه د مسجع نثر يوه پښتو رساله د پېښور او هند د کتابخانو په ځينو خطي مجموعو کې خوندي ده. د دې رسالې په ليکلو کې اخون موسٰی رحمه الله له ډېرو عربي او نورو آثارو لکه "ارشاد العالمين"، "تنبيه الغافلين"، "فتاوای نوادر"، "دخيره"، "مشارق"، "حجة الاسلام" ... ګټه اخيستې ده.

د ليک ډول يې دا دی: "واورئ يارانو! دا خبرې له خبرو معلومېږي. هسې وايي، که يو حرف دې له چا زده کړ؛ دی بنده، هغه څښتن شي. په ارشاد العالمين يې وګوره، که باور دې په پښتو ژبه نه کېږي."

پر دې رسالې سربېره د پېښور د پښتو اکاډمۍ په خطي جونګ کې تر دې رسالې د مخه د ده يو بل بيان هم شته، چې يوه دعا يې له عربي څخه پښتو ته ژباړلې ده. په دې دعا کې دی د خپل پلار نوم "محمد رحمه الله" ښيي، او دا يو نوی انکشاف دی، لکه چې د دې دعا په پای کې وايي: "دا دعا په سرياني وه، د عباس زوی عبدالله، چې په دواړو دې د خدای جل جلاله رحم وينه، دا دعا په عربي وه سازه کړې، اوس موسٰی د محمد يې په پښتو کې جوړوينه."

استاذ هېوادمل گومان کوي، چې دا به هماغه د بتې کوټ مشهور اخون موسٰی رحمة الله علیه د مارانو هوده دار وي، چې زيارت يې د ننگرهار په بتې کوټ کې د عامو خاصو مرجع او په خلکو کې يې ډېر کرامتونه مشهور دي، او په تاريخ مرصع کې د ميا موسٰی بتې کوټې رحمة الله علیه په نامه ياد شوی دی. (۱۴: ۲۱۲)

د اسلامي تاريخ مؤرخين په دې اند دي، چې د اسلام د سپېڅلي دين په خپراوي کې د مسلمانو صوفيانو نقش له شاهانو زيات دی؛ هغه کار چې د سلجوقيانو توري ونه کړ، د امام غزالي رحمة الله علیه قلم ترسره کړ، چې تر اوسه ورته د تجديد او وينښتابه کارنامې منسوبېږي. د پښتنې ټولنې هم دغه حالت ؤ. ايمل خان مومند د کم پاپين د حضرت ميا برهان رحمة الله علیه خليفه ؤ، چې په "توده چينه" کې يې چلې ته کېنولی ؤ. کله چې د مشرتابه اړتيا پيدا شوه، ميا يار محمد صاحب رحمة الله علیه د لوی پاپين ورته د پښتنو د پاچاهۍ پگړۍ وتړله، او له خانقاه يې راوويست. ميا برهان رحمة الله علیه او ميا يار محمد رحمة الله علیه د سيد آدم بنوري رحمة الله علیه (۱۰۵۲ هـ ق مړ) خلفاء وو، چې د دير د نوابانو نيکه اخون الياس رحمة الله علیه او اخون موسٰی رحمة الله علیه يې معاصر وو. (۵: ۱۳)

بايد يادونه وکړو، چې د دغو ټولو بزرگانو د فيض چينه يوه وه. ميا برهان رحمة الله علیه او ميا يار محمد رحمة الله علیه د سيد آدم بنوري رحمة الله علیه خلفاء او اخون موسٰی رحمة الله علیه او په غالب گومان اخون الياس رحمة الله علیه د عروة الوثقٰی خواجه محمد معصوم رحمة الله علیه خلفاء وو، چې د حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله علیه درېيم زوی او خليفه ؤ. همدارنگه سيد آدم بنوري رحمة الله علیه مشهور په "پير پتان" هم د حضرت مجدد صاحب رحمة الله علیه خليفه ؤ. دغه دواړه سلسلې ډېرې مشهورې او خورې شوې دي. سيد آدم بنوري رحمة الله علیه د مغلي پاچا شاه جهان له خوا له هنده وايستل شو، او حجاز ته لاړ. مؤرخينو دا تبعيد د شاه جهان وېره بللې، ځکه د سيّد صاحب په رکاب کې لس زره افغانان تلل، چې د مغلو ورسره تاريخي دشمني وه.

د اخون موسٰی بتې کوټې رحمة الله علیه د نسب سلسله نبوي (ص) کورنۍ ته رسېږي، چې لمسي يې نن هم د سيّدانو او ميرانو په نامه ياديږي. دا خبره تواتر ته رسېدلې ده؛ تر دې چې زموږ د هېواد پوهانو او ليکوالو هم ورته له ډېر عقيدته سيادت مآب ليکلی، او په دغه لوړ نوم يې ستايلی دی. (۳: ۱۳۵)

همدارنگه د ميا، مير، ملا، شيخ، اخوند، مخدومي او سيادت مآب په درنو القابو ياد شوی، چې تاريخ ضبط کړي دي. تاريخ مرصع چې د خوشحال خان خټک لمسي افضل خان ليکلی، او زياته برخه د خوشحال بابا له بياضه اخيستل شوې، د دې ښکاره ثبوت دی، چې د يوه مصلح په توگه اخون موسٰی بابا رحمة الله علیه د سيمې او هېواد په سياست کې ژرگند نقش او رول لاره، چې د تاليف، تزکيې، ارشاد او روحاني جهت له ټاکلو سره سره په ټولنيزو ربړو کې هم له نفوذ سره شريک ؤ، او دا يې د روحاني رهبرۍ او د پښتنو د مشرۍ غوره بېلگه او مثال دی. تاريخ مرصع ليکي، چې پښتنو د مغلو منصبدار فتح الله خان ته د "علي مسجد" لاره نيولې وه، خو لړ وو، بريالي نه شول؛ نو په دې جنگ کې څه پښتانه بنديان او څه ووژل شول، او سرونه يې بهادر شاه ته واستول.

په سبا يې ناصر خان په "علي مسجد" پرېښود، د لوارگې پر لار ډکې ته راغی، پښتانه راجمع نه شول، يانې پر دې بريالي نه شول، چې لښکر راټول کړي. په دې وخت کې يې ميا موسٰی بتې کوټې رحمة الله علیه تر منځه کړو. چوهړ مهمند يې هم خلاص کړل، صلحه يې تر ميان وکړه، پښتنو هم موافق د وخت خس پوشي ورسره وکړه. (۳: ۴۲۲)

د اخون موسٰی بتې کوټې رحمة الله علیه له منځگړتوبه ښکاري، چې دا وخت په ټوله سيمه او مغلي امپراتورۍ کې د ده عرفاني او روحاني نفوذ په څپو ؤ، ځکه د پښتنو او مغلو تربگنۍ او جنگونو خو شپږ پېړۍ دوام لاره، خو دا يې د روحانيت زور ؤ، چې د جنگياليو پښتنو په کار راغی، او آزاد يې کړل. داسې به ډېرې پېښې شوې وي، خو متاسفانه چې دغه کارنامې تر موږ رارسېدلې نه دي. د تاريخ مرصع دغه برخه په غالب گومان چې د خوشحال بابا د بياض نقل دی، ځکه ورپسې مسلسل له فتح الله خان (مغلي منصبدار) بدگوماني اوالبّا د ښکار خبره کوي، او دا دواړه په خوشحال بابا پورې ځکه اړه لري، چې هم يې ښکار ښکلې مشغله او هم د مغلو دشمن ؤ. همدغسې د قحط او خشکۍ بحث هم کوي. د خوشحال بابا د وچکالۍ ياد مؤرخينو دوه ځايه قلمبند کړی دی.

لومړی د ۱۰۸۸ هـ ق د زمري په مياشت کې تر شپږو مياشتو وچکالۍ وروسته داسې وايي:

چې باران په جهان وشو پس له پاسه

فتح الباب ؤ په تحويل د سرطان
د اسد تر نويشتمه ورځ په ورځ شي
په باران سره نهال شو درست جهان

دويم ځل پر ۱۰۸۹ هـ ق د حمل دولسمه د ګرانۍ او وچکالۍ يادونه کوي:

د نوروز په دولسم
مياشت صفر، کال د غفط ؤ
غله ګرانه، کښت زبون شو
په عالم نازل سخط ؤ
(۹: ۲۷)

له دغو وجوهاتو څرګند ېږي، چې اخون موسٰی بتني کوټي رحمة الله عليه د خوشحال خان خټک همزولی او يا تري څه مشر دی، ځکه روحاني شهرت ته رسېدل په لوی عمر کې ممکن وي، او ډېر رياضت او وخت غواړي.

اخون موسٰی بتني کوټي رحمة الله عليه چې له کومې عرفاني حلقې سره تړاو لاره، هغه د شيخ احمد کابلي سرهندي (حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله عليه- ۱۰۳۴ هـ ق مړ) عرفاني غورځنګ ؤ، چې ستري تجديدي کارنامې يې ترسره کړې دي. که روښانيانو د توري په مټ پر مغلو ځمکه تنور کړې وه، خو حضرت مجدد رحمة الله عليه د خپل علم او روحانيت په زور مغلي امپراتوري وجړقوله. د مغلي واکمن د څرګند کفر په باب د هغه وخت يو شاعر ملا شيری په طنز وايي:

شاه ما امسال دعوای نبوت کرده اند
گر خدا جل جلاله خواهد پس از سالی خدا خواهد شدن
(۱۲: ۱۲۴)

د جهانګير د واکمنۍ پر وخت د حضرت مجدد رحمة الله عليه زيار دا ؤ، چې پاچا ته سجده او ډېر رواج شوي بدعتونه ورک کړي. پاچا په ګواليار کې دوه کاله بندي کړ، خو په پوځ کې د ده نفوذ او د دولت له لوړو اراکينو سره يې اړيکې د دې لامل شوې، چې د اکبر د وخت الحاد مغلوب او د ده تجديدي کارنامې عملي شي، چې يوه لويه موضوع او اوږد بحث دی. د دې نقشبنديه مجدديه سلسلې په لکونو مريدانو او په سوونو خلفاؤ له هند څخه تر منځنۍ اسيا او ترکيې پورې د سپېڅلي اسلام د تزکيې په زور د شرک او بدعتونو لمن ټوله کړه. تر حضرت مجدد رحمة الله عليه وروسته د ده دوو خلفاؤ ډېر نوم او پيروان وموندل، چې يو د ده درېيم زوی عروة الوثقٰی خواجه محمد معصوم رحمة الله عليه (۱۰۷۹ هـ ق مړ) او بل حضرت سيد آدم بنوري رحمة الله عليه (۱۰۵۹ هـ ق مړ) وو. (۷: ۴۸۲)

اخون موسٰی رحمة الله عليه د حضرت عروة الوثقٰی مأذون او خليفه ؤ. د خواجه محمد معصوم رحمة الله عليه مکتوبات چې په اردو ژبه چاپ شوي دي، په دويم او درېيم ټوک کې يې يو يو مکتوب د اخون موسٰی بتني کوټي رحمة الله عليه په نامه شته. په يوه مکتوب کې ورته خواجه صاحب رحمة الله عليه ملا موسٰی، ديني ورور او په بل کې يې شيخ مير محمد موسٰی او [زما مخدوم] په القابو مخاطبوي. (۱: ۱۲۲)

مکتوب کې ورته ليکي: "زما ديني وروره ملا موسٰی! د دې مسکين له خوا څخه سلامونه ومنه. ستا ليک خوښ کړم، ځکه چې په ذوق او شوق ليکل شوی ؤ. هغه حلاوت او ذوق چې په ذکر و مراقبه کې تر لاسه کېږي، له [جذبۀ آثار] ګڼل کېږي، او د فنا او محويت ليدل نېک او مبارک دي. په دې باب چې شاهد غيبي (د حق ذات) همېشه د ظاهري محبوب غوندې په نظر کې ساتل او غير ته پام نه اړول دغه پوهه غواړي، چې [شاهد غيبي] تر دې ډېر لوړ دی، چې د پوهې او سترګو په نظر راشي." (۱: ۲۳۵)

بيا د حضرت خواجه نقشبند رحمة الله عليه وينا راوړي، او پر دغه حالت يې باقي پاتې کېدل (محل غور) ګڼي، يانې پرې تنقيد کوي. د "مکتوبات معصوميه" په درېيم ټوک کې هم ۱۷۹ مکتوب د اخون موسٰی رحمة الله عليه په نامه دی، چې ورته شيخ مير محمد موسٰی ليکل شوی، او د ده د احوالو او د نفس د فنا په باره کې دی. تر حمد و سلام وروسته ورته يو ځای "زما مخدومه" هم

ليکي، او زياتوي: "تا ليکلي، چې د زړه فنا حاصله شوې او د نفس کېږي، خو زه غواړم، چې فنا په بشپړ ډول تر لاسه شي. صفات له ځانه بېل او له اصل سره وصل شي. زما مخدومه! څه چې تر لاسه شوي، نعمت دی، او شکرانه يې ادا کړه. نورې پرمختيا ته منتظر اوسه. د الا د کلمې په وسيله وجود او صفات له ځانه نفی کړه، چې دغه هستي په بشپړ ډول له منځه لاړه شي...."

دغه يو عرفاني او تصوفي بحث دی، چې بېلګه مو راوړه. د دې ليک په پای کې سپارښت کوي، چې ديني ورونو حافظ محمد طاهر او رجب علي ته هم سلام ووايه. (۲: ۲۲۱)

پايله

له پورتنۍ څېړنې دې پايلې ته رسو، چې زموږ په سرتاسره هېواد او په ځانګړي ډول په پښتنو سيمو کې داسې عرفاني او علمي شخصيتونه تېر شوي دي، چې په خپل وخت کې يې د ټولنې د اصلاح لپاره ډېرې کارنامې ترسره کړي؛ له هغې ډلې يو هم اخون موسٰی بټې کوټې رحمة الله عليه دی، چې هم يې په سيمه کې د عرفان شمعې بلې کړې، علم يې خپور کړی، او هم د يوه مصلح په توګه يې په سياست کې د خپلې ټولنې او خلکو په ګټه زيارونه ګاللي، چې بېلګې مو په لنډ ډول وړاندې کړې. د اخون موسٰی بټې کوټې رحمة الله عليه په شخصيت کې ګڼ ارزښتونه راټول وو، چې هم عالم، ليکوال، مؤلف او مصلح ؤ، او هم يې د روحاني کمال نقش دومره ځواکمن ؤ، چې د خپل وخت د امپراتورۍ واکمن ترې هم متاثر وو، خو دا زموږ د ټولنې بد قسمتي ده، چې د خپلو مشاهيرو د کارنامو او شخصيتونو نه ناخبره يو.

اخځليکونه

۱- زوار، سيد حسين شاه. (.). مکتوبات معصوميه (اردو ترجمه). دفتر دوم. کراچي: زوار اکېډمي.
۲- زوار، سيد حسين شاه. (.). مکتوبات معصوميه (اردو ترجمه). دفتر سوم. کراچي: زوار اکېډمي.
۳- خټک، افضل خان. (۲۰۰۶ م). تاريخ مرصع. پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي.
۴- خليل، همېش. (۱۹۶۰ م). ورکه خزانه- دويم ټوک. لاهور: منصور پرېس.
۵- خوږياڼی، محمد امين. (۱۳۴۶ل). ننګرهار مجله- پرلپسې ۱۲۰ ګڼه. ننګرهار: نشراتي مؤسسه.
۶- دوست، دوست محمد. (۱۳۵۸ل). د صديق ديوان- سريزه. افغانستان: د علومو اکاډمي.
۷- سندهي، عبدالمجيد. (۲۰۰۰ م). پاکستان مېں صوفيانه تحريکېں، لاهور: سنګ ميل.
۸- سيرت، حفيظ الله. (۱۳۲۲ل). محضرت مجدد الف ثانی. پېښور: جبهۀ ملی نجات.
۹- صميم، محمد آصف. (۱۳۷۸ل). ګام پر ګام له خوشال سره. جرمني: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.
۱۰- فقيرخېل، ميا وکيل شاه. (۱۳۹۳ل). د کامګار خټک کليات. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
۱۱- نسيم، عارف. (۱۹۸۶ م). پښتو ژبه کې ديني شعراء- مقاله (وړومبی لساني او صحافتي کانفرنس). پېښور يونيورسټي: پښتو اکېډمي.
۱۲- نعماني، شبلي. (۱۳۲۳ل). شعر العجم- څلورم ټوک. د داعي ګيلاني ژباړه. تهران: دنيای کتاب.
۱۳- هېوادمل، زلمی. (۱۳۵۶ل). فرهنګ زبان و ادبيات پښتو- جلد اول. وزارت تعليم و تربيه: رياست تأليف و ترجمه.
۱۴- هېوادمل، زلمی. (۱۳۷۵ل). د پښتو نثر اته سوه کاله. لاهور: ملت پرنټرز.

پوهنمل ملالۍ ساپۍ
ښوونې او روزنې پوهنځۍ
د جغرافيې څانګه
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال عزت الله
دښوونې او روزنې پوهنځي استاد

د افغانستان پر اقليم اغېزمن عوامل

لنډيز:
څرنګه چې افغانستاند اسيا د لويېوچې په مرکزيبرخې پورېټرلی غرنيهېواددی، چې له سمندر سره لار نه لري او د ځمکې(۸۰) سلنه يې غرونونيولې ده، د اقليميځانګړتياووله مخېتر استوايي(سبتروپيک Sub Tropic) لاندېسيمه کې پروت اونيمهصحراييااقليمتمثيلوي. د توپوګرافيکيجوړښت اودغرونود موجوديت له کبلهمختلفوسيمو کې يېبېلابېل اقليمو نهشتونلري.

سريزه:
اقليمد جغرافيې په علم کېدېره مهمه، ارزښتناکهاو حياتيموضوعده،ځکه د بشريټولنېد اقتصادي او کلتوري فعاليتونومحور تشکيلوي.
اقليم دنباتاتوودې،دنفوسواستقرار،د حيواناتود روزنې پراختيا،د ځمکې جوړښتاو په مجموعي ډول ژوندیوموجوداتو سرهنېغه نېغه او متقابلېاړيکې او اغېزې لري.
د يوېسيمېاقليمد هغې سيمېپه جغرافيايیموقعيت،څلور خواوو،توپوګرافيکيجوړښت، د سمندرد سطحې لوړوالي،له سمندر څخه لرېواليواونژدې واليسره اړيکهلري،ځکهد اقليميځانګړتياووپه څېړنه کې پورتنيمسايلدېر مهمروللري.
اقليمياغېزمناصليعواملعبارت دي، له:تودوخې،لنده بل،د هوا فشاراو بادونو جريانونوڅخه چې ديوېسيمېپر اقليمي ځانګړتياوو پوره اغېزښندي.
دا چېافغانستاند نړۍپه منځنيوعرض البدونو کې چې دنړۍد لويې دښتېکمربندتشکيلويپروت دی، نوموړی کمربندد اسياپه لويه وچه کې له عربستانڅخه تر مرکزياسياپورېغځيدليدی، نود افغانستانجنوبيبرخه د همدېکمربندیوه برخهجوړ وي.
افغانستانله سمندرڅخه د لرېواليو د لوړ فشارساحېد موجوديتله مخېوچاقليملري، په ټوله کې افغانستانپه تحتاستوايي(سب تروپيکSub Torpic)سيمه کېپروت دی،چې د ژميموسم يېمرطوباو بارانياو داوړي موسم يېوچ او گرم دی او پهمختلفوبرخوکې يېلابېلاقليمونه،لکه: دښتې،مونسوني،مديترانه يي،ستېپ،الپاينتندراا و غرنياقليمونه ليدل کېږي.

موخې:
۱_ دافغانستاناقليميځانګړتياوېاو هغهاغېزمنفکتورونه،چې د افغانستانپر اقليماغېزېلري، لوستونکو ته ور وپېژنم.
۲_ پهعلميلحاظ د اقليممتقابلېاړيکېاو اغېزېد نورو طبيعي پديدو (بشري ټولنواو له نورو ژوندیو موجوداتو)سره وڅېړم.
د افغانستان پر اقليم اغېزمن عوامل

افغانستاند اسيابراعظمپه مرکزيبرخه کېږو غرنيـاو ډېـر لرغونيهېـواد دی، د اقليميځانګړتياوولـه مخېافغانستانتراستوايي(سپ تروپيک Sub Tropic)لاندې سيمه کېږروت دی، دژميموسم يېمرطوباوبارانياو داوړي موسميې وچاو گرم دی.

د افغانستانهېواد د جغرافيويموقعيت،توپوگرافيکي وضعباو څلور خواوو پهنظر کې نيولوسره مختلفباقليميسيمې لري.د جغرافيويموقعيت له مخې افغانستاند عربستان،لويې صحرا ،مکسيکو ، کلفورنياپه اوږدو کې پروت دياودکوپن د اقليميوبش پر اساسد هغهاقليميسيمې په ليکه کې ځای لري،چې نيمهصحراييياقليم لري. د افغانستان هېواد (۲۲۵،۲۵۲) مربع کيلو متره پراختيا په لرلو سرهد شمالي عرض البلد (۲۹) درجو(۲۲) دقيقواو (۵۲) ثانيواو ختيځ طولالبلدد(۲۰)درجو(۲۸) دقيقواو (۴۱)ثانيواو (۷۴)درجو(۵۱)دقيقو او ۴۷ثانيوترمنځموقعيت لري.(۲: ۱۲)

افغانستانپه وچهکېږروت او د مرکزياسيا له هېوادونو څخه شمېرل کېږي،دا هېوادلوړ غرونه،څپاند سيندونهاو ښکلېشنې درېلري، چې گڼ نړيوال يې د ښکلا لـه املـه د اسيا سويس بولي او د خپل ځانګړي جغرافيايموقعيتلـه مخېد هندوستاندروازهبلل شوېده.(۱: ۹۹).

په بل عبارتد افغانستاناقليمد ځمکېد جوړښتاو موقعيتله مخېکولای شو ، چې په ښهتوگهوټاکو.افغانستان د اسيا پهزړه کې پروت دی،لهسمندر څخه لرې اوتراستوايياقليملاندېدلوړ فشارپه ساحه کې يو وچاقليملري،هغه سيمېچې وچاقليم لري،هلته هواپه عموميتوگه وچه وي اونسبيلنده بليې کم وي،د کال پهاوږدوکې يې وربځېکمېوي، داورښتکلنۍ کچهيې لـه(۳۰۰)مليمتـرو څخهنـه زيـاتېږي پـه اوړيکـې يـې تودوخهگرمهاوسـوزندهوي،مگرد ژمـي هـوا يېډېرهيخـه او سـړه وي،واورپېکېورېږي.

همدارنگهد يوې سيمېد اقليميخصوصياتوڅېړنهپه جغرافيويابعادوياني طول البلد ، عرض البلد ، لوړواليااقليميشرايطو پـورې مسـتقيمې اړيکـې لـري، لـه همـد ېکبلهپوهانود افغانستاناقليميمختلفېسـيمېد لوړواليپـه پـام کېنيولـو سـره هـم وېشلېدي.د هواييکتلې اود فشارمرکز ونهنورعواملدي،چېد يوېسيمېاقليمې شرايطد بلې سيمېله اقليميشرايطوڅخه بېلاوځانګړي کوي.(۲ : ۸۴).

دا چېد افغانستانهېواد کې د زياتلوړواليلـه املهـد حرارتدرجېبدلونزياتـدی،دغههېواد د لـوړواو ژورو برخولـه نظرهپـه لاندېدرې برخوويشليشو.

۱_ لوړې يا غرنۍ برخې: چې تر (۲۵۰۰_ ۷۴۸۵) مترو پورې لوړوالی لري او د افغانستان ټولې غرنې برخې په دې منطقې پورې تړاو لري.

۲_ منځنۍ برخې:چې د بحر له سطحېتر(۱۰۰۰ _ ۲۵۰۰) مترو پورې لوړوالی لري، چې دفلاتونو او لوړې سطحو تر سرليک لاندې مطالعه کېږي.

۳ _ ټيټېبرخې: د بحر له سطحې څخه تر (۲۵۸ _۱۰۰۰) مترو پورې لوړوالی لري،چې د ټيټو ځمکو تر سرليک لاندې مطالعه کېږي(۳ : ۳۹ _ ۴۰)

د اقليم تعريف

د اقليمکلمهلاتينيرينبـه لري،چې لـه(Klima) څخـه اخيستلشـوې ده،چېد ميلانمفهوماومانـاورکوي. دا ميلانـد لمـر لـه هغولېږدوونکووړانګوڅخه عبارتدی،چې د ځمکېپـه مختلفوبرخو کې په بېلابېلوزاويولګېږي. اقليميا(Climatology)د يوېسيمې د ټولوجوي پديـدواو پېښـود منځنـي حدلهڅېړنو څخـه عبـارت دی،چې پـه يـو ټاکليزمانـاو مکـان کېبېلا بېلصفتونهځانتهغوره کوي،د جوي پديدو دا منځنی حد له(۳۰ څخه تر۵۰) کالوپه اوږدو کېتر څېړنېلاند ښيسي.(۵ : ۳ _۴)

د لمـر وړانګـه د ځمکـې پـر مـخ د انـرژۍ اصـلي منبـع او د ژونـد د کنتـرول اصـلي عامـل ګڼـل کېـږي. اقليم د لمر وړانګې د ځمکې تودوخه، لنده بل او فشار هم په مختلفو ځايونو او وختونو کېتعينوي.(۵۷:۸)

د اقليممهماو اصلي عوامل: د هوا د حرارت له درجې،دهوا فشار ، د بادونوجريان،رطوبتاو اورښت څخه عبارت دي.

هغه بدلونونه چې پهپورتنيوڅلوروفکتورونو کې منځته راځي،د لاندينيو عواملو پورېاړه لري:

۱_ د لمرد وړانګو دلګېدو زاويه.

۲ـ د عرض البلدونو درجه.
۳ـ د لوړ او ټيټفشارمرکزونه.
۴ـپه هوا کېد گرمو او سړو څپواوصاف.
۵ـ د سمندر لهسطحېڅخه لوړوالی.
۶ـد ځمکېجوړښتاو د غرونوشتون.
۷ـ د سمندريجريانونو نوعيت.
۸ ـسيمهييز يامنطقويبادونه.
۹ ـله سمندرڅخهلرېوالياو نژدې والی.(۵: ۲۲) .

د تودوخېدرجه:د يوبسيمېد اقليمپه ټاکلو کې ډېر مهمرول لري،ځکه پهلوړو برخو کېد تودوخې درجهکمه او پهټيټوبرخو کېد تودوخې درجهزياتهوي. يانېد تودوخېدرجېدلونپکې ليدل کېږي. دا چېافغانستاند شماليعرض البلدونو (۲۹)درجواو (۳۰)دقيقوکې پروت دی، چېد لمر دوړانگولگېدوداعظميحد په(۲۰)درجواو (۳۰)دقيقو کېاو اصغريحد يې(۱۵)درجواو(۲۹)دقيقوکې دی،دامسله د يوې سيمېد اقليمياوضاعوپهټاکلوکې مهم رول لري.

اورښتاو لنده بل: د اقليملهغورهعواملو څخهشمېرل کېږي،چې د مياشتېاو کالپهاوږدو کې د يوې سيمېاقليممستقيماکنترولوي.

د افغانستاندجغرافيويموقعيتپه نظر کې نيولو سره، چې تراستوالاندېد لوړ فشارپه ساحه کې د شيناسمان، لړلنده بل، تودوخېدرجېزياتاختلاف،کمدوامهاورښت، نيمهصحراييوچاقليمخصوصيت ورکوي.

بادونه: بادونههم د اقليمپه ټاکلو کې مهم ارزښتلري، د افغانستانجوی حالاتد دوړو او بادونوتر اغېزې لاندې دی.

۱ـتلپاتې بادونه:د سايبرياسارهاو د هند گرمبادونه.

۲ـسيمه ييزبادونه: هغه بادونه دي،چې د يوې سيمېدلوړ فشارله ساحې څخه ټيټ فشارپه لور منځته راځي.په افغانستانکې دا ډولبادونهد هېوادپه ټولوبرخو کېليدل کېږي،لکهد هرات(۱۲۰)ورځني بادونه. د ټيټفشارپه وسيلهد افغانياو ايرانيسيستانپه ساحه کې تشکيلېږي(۴: ۸۵ ـ ۹۱)

د افغانستان پر اقليماغېزمنعوامل عبارت دي، له:

۱ـ دعرض البلدونودرجې.
۲ـ لوړوالی.

افغانستان په شماليعرض البلدونو کې د(۲۹او ۲۸)درجوتر منځموقعيت لري، څرنگهچېپه نړۍ کېد (۳۰) درجوعرض البلد د لوړ فشار ساحهجوړويا و په دې ساحه کې د اورښتاندازهکمه وي، په افغانستانکې هماورښتکم ورېږي.

دافغانستان اقليمد لوړواليله مخېپه لاندېسيموو بشل کېږي.

الف- هغهسيمې چېلوړواليې له(۹۰۰) مترو څخهکم ويا و د لوړ فشارپه ساحه کېموقعيت لري، دښتياقليم ورته ويل کېږي،د دښتي اقليمخصوصياتدادي،چې په ټولکال کېد ورځېاو شپېد تودوخېدرجېدلونونهپکېزيات ليدل کېږي.لکهپه شمالکې کندوز،بغلان، مزار شريف او شبرغاناو په ختيځ کې ننگرهاراو لغمان.لويديځاو جنوبلويديځکې فراه،هلمند ،نيمروز،د بگوادښتياقليميخاصيت لري.

ب-هغه سيمې چې لوړواليې تر(۹۰۰ـ۱۳۰۰) مترو پورېرسېږي،دا ډولاقليميسيمېتوداوړيلري او ژمييې ډېرسوړنه وي، دکلنياورښتاندازهيې(۲۰۰) ملي متروته رسېږي،د هندوکششماليياوجنوبي لمنېدا ډولاقليملري.

ج-هغه سيمې چېلوړوالی يې تر (۱۳۰۰ـ ۲۴۰۰)مترو پورېرسېږي،دا ډولاقليميسيمېد معتدل اقليم لرونکېدي.د اوړيموسم يېډېرتود نه ويخو ژمييې پهځينوسيمو کېډېر سوړويا و زياتاورښت يې په ژمي کېدواورې او بارانپه څېردی. پهټول کالکې د اورښتاندازه(۴۰۰ مليمترو) تهرسېږيلکه کابل،غزني،لوگر،کټواز،بدخشاناو د هزارهجاتوله ځينوسيمو څخهيادونه کولای شو.

د-هغه سيمې، چېتر (۲۴۰۰_۴۰۰۰) متر ويالـه د ښخه زيات لوړوا ليلري، لکهنورستان،هزاره جات، بدخشانچې ژمی پکې له(۲) مياشتو څخه زياتوي(۱:۱۰۱)

د افغانستاناقليمپه شپږوبرخو وېشل شوی،چې لاند ېورڅخه يادونه کوو:

الف-دښتياقليم

د دې ډولاقليميسيمو دشپېاو ورځېتودوخې درجې اندازه فوق العاده زياتتوپير لري، مثلاً دورځې د تودوخې درجه(۴۸)سانتيګريد او د شپې دتودوخې درجه تر(۲۵_۳۰)درجو پورېرابښکتهکېږي،همدارنګه د ژمي په موسم کې تر صفر او (۵) درجو پورې رابښکته کېږي. اواورښتاندازهپکې ډېرهلږه وي، لکهنيمروز، فراهاود سيستاندښتي سيمې. (۱:۱۰۲).

ب-ستپ اقليم

په افغانستان کې د ستپاقليمي سيمو پراخوالی،ترمونسونياو مديترانه ييسيمو زيات دی،ستپ اقليم عموماً د صحرايي اقليم په څنډو کې موقعيت لري.

هغه ډاګونه، چې د (۱۵) او (۳۵) درجو عرض البلدونو کې واقع دي، د ډاګونوپه پورتنيو، لوړو او ځوړو برخو کې د ستپ اقليم خصوصيت ليدل کېږي، لکه په افغانستان کې د هندوکش غرونو د موجوديت له امله صحرايي اقليمي حالت څخه وتلي پر ستپ اقليمي سيمې بدل شوې ده.

د دې اقليم ځانګړتياوې دا دي:

هوا يې وچهوي،د شپې او ورځې دتودوخې درجېتوپير يې له شلو درجوڅخه نه ډېرېږي، د اورښت کلنۍ کچه يېتر (۲۵۰_۳۰۰)مليمترو ترمنځقرار لري، په ژميکېاورښت يې د واورې په څېروي.ددې اقليم لرونکېسيمېد برزياتوابنه(څرځای) لري.ستپ اقليم لرونکې سيمې دڅارويو په روزنه او د کليوالي اقتصاد په پياوړتيا کې مهم رول لري. دا مسئله په افغانستان کې صدق کوي، ځکه له يوې خوا ستپ اقليمي سيمې لرونکې دي اوبله دا چې د طبيعي څرځايونو په درلودلو سره د کوچيانو استوګنځي ته نږدې د څارويو روزنې لپاره مساعد شرايط لري.(۵۲:۲_ ۵۷).

جوي عوارض په فزيکي لحاظ پر ډېرو داسې اغېزې لري، چې ډېرې ټوټه کوي، په لويو او کوچنيو پارچو يې بدلوي، د ډېرو په ماتولو کې د تودوخې درجې فوق العاده اختلاف،لږباران او کنګل کېدو عمل له مهمو اغېزمنو عواملو څخه شمېرل کېږي، چې دغه عمل هغو سيمو کې واقع کېږي، چې د وچ اقليم ځانګړنې ولري.(۷: ۹۳)

ج- مونسوني اقليم

دغه اقليم زياتره د ټيټ فشار په ساحه کې منځ ته راځي او د هند له سمندر څخه پورته شوې لنده بل لرونکې هوا ده، چې منځنۍ اسيا د دښتو په لور را الوځي، په افغانستان کې يې مثالونه د خوست، ننګرهار، لغمان او کنړ ولايتونه دي.

د- مديترانه يي اقليم

هر هغه ځای، چې اوړی يې تود او ژمی يې معتدل او باراني وي، مديترانه يي اقليم يې بولي، چې زموږ په هېواد کې يې ښه مثال ننګرهار، لغمان او کنړ ولايتونه دي، په دې ډول اقليم لرونکو سيمو کې نارنج، مالټه او لېمو ښه حاصل ور کوي.

ه)الپاينتندرا اقليم

د لوړوغرونوهغه ساحې، چېهلته د ځنګلونوساحه پايته رسېدلېوي، د الپاين(تندرا)اقليم يې بولي، لکهد ناورلوړېسيمې،د غزنياو باميانوځينېسيمېاو همدارازد بابا غره، سفيد کوهاوسياه کوه لهځينوبرخوڅخه يادونه کولی شو.

و-غرنياقليم

هغه سيمې،چې تر (۳۵۰۰) متروپورې لوړوالی لري،ځرګندهده چې د تودوخېدرجه يې کمېږي،مګراورښتيې ډېرزياتوي،لکهشماليا و جنوبيسالنګافغانستان د تودوخېلوړهدرجهد نيمروز ولايتپه زرنجسيمهکې،چې د تودوخې لوړه درجه(۵۱) سانتي ګرېدتهرسېږي او د افغانستاند تودوخې ټيټه درجهد غور ولايتله شهرکسيمې څخه عبارت ده، چېد ژمي په موسم کېديخنۍ درجه(۵۲)سانتي ګريد درجوته رسېږي(۱:۱۰۲_ ۱۰۳)

پايله

دا چې افغانستاند طبيعيڅرنگوا ليله مخې يو غرنيهېوا ددی او د اسياد لويې وچې په مرکزي برخه کېموقعيت لري، چې په څلوروبرخو کې درې برخې يې غرونونيولياود غرونود موجوديتله املهيېد وچ اقليم پرځايبارانياقليمته را گرځولې دي.
د افغانستانپر اقليماغېزمنلاملونه د هغه جغرافيايېموقعيت، توپوگرافيوضعيت، د بحرلهسطحېڅخه لوړواليا و لرېوالی، چې دغه هېوادپه مختلفوسيمو کې ځانگړياقليمونهرامنځتهکړي دي، په دېترتيبد افغانستانهېوادپه عموميډولتراستوايي(سپ تروپيک)سيمه کې پروت دی اود جغرافيوي موقعيتپه اساسپه ټول کال کېد هواييتوپانونو له املهد رېټيټاو لوړ فشارمرکزونوتر اغېزې لاندې دی، چې دغههواييکتلېله څلوروخواووڅخهافغانستانته راداخلېږي،لکهد هند گرمهڅپه، د سايبيرياسړه څپه،د فارس خليج څپېاو د ايسلينډلويديځېکتلېدي، چې د ژميپه موسمکې لهاورښتسرهجوختد يخوبادونود لگېدوسبب گرځي.
وړانديزونه
۱_ دا چې اقليمد طبيعيپديدېپه توگهپهبشريټولنه کې مهمه،با ارزښتهاوحياتيموضوع ده، چېد بشرياو کلتوريفعاليتونومحورتشکيلوي،نوخلکد خپلژوندانهد پر مخبيولو لپارهپه هغه سيمو کېمتمرکزشي، چېښه اقليميشرايطولري.
۲_ دا چېافغانستانختيځزون د کښت(کرهڼې) لپارهنسبتاًبرابراقليميشرايطلري، په ځانگړې توگهننگرهارولايتکې د افغانستان له دولتي چارواکو څخه هيلهکوم، چې د کرنيزوځمکوپه له منځه وړلو کې مافيايي ډلو لاسونه لنډ کړي، ځکه دا ډول کړنې د وختپه تېريدو کرنيزې ځمکې له منځه وړي او د خلکو اوبزگرانوکرنيز محصولاتله ستونزوسره مخامخ کوي.
۳_ اقليم دبشري ټولنوپه ټولو فعاليتونو خصوصاً په زراعتي او صنعتي برخوکې د ملاحظې وړ اغېزې لري اود صنعتي فابريکو خاوندانو تهوړانديز کوم،چې له يوې خوا اقليمي شرايط او له بلې خوادبشري چاپېريالاو دخلکو او ولسونوسوکالياو نېکمرغي په نظر کې ونيسي او خپلې فابريکې د بشري چاپېريالاواستوگنځيو څخهپه لرې پرتو سيمو کېجوړېکړي او د کرهڼې په برخه کېهغه کرنيز محصولات د کرهڼې لپاره چمتو کړي، چې دهماغې سيمې لهاقليمي شرايطوسره توافق ولري.

ماخذونه

۱_ ارشاد ، اورنگزيب. (۱۳۸۴ل). افغانستانپيژندنه. پېښور عليجانی براصول .
۲_ ټنيوال، محمد ظريف. (۱۳۸۹ل). د افغانستانعمومي جغرافيه، نشرات پوهنتون کابل
۳_شورماچ، محمد اکبر .(۱۳۵۰ل) . عمومي جغرافيه. موسسهانشاراتزوری .
۴_ رحمتی، محب الله.(۱۹۹۹ز) . اختصارياز جغرافيای عموميافغانستان. طبع دوم.پشاور گل حاجی پلازا ارباب روډ.
۵_ عارض، غلامجيلانی. (۱۳۵۷ل). اقليمشناسي. کابل: نشراتپوهنتونکابل.
۶_ عارض، غلام جيلانی. (۱۳۸۱ل) . محيط زيستو اقليم افغانستان، پېښور: اداره کتابخانه سيار اريک.
۷_ عارض، غلام جيلاني.(۱۳۵۹) . جغرافيه فزيکي تاثير قوه داخلي وخارجي برقشر زمين. کابل: نشرات پوهنتون کابل.
۸_ کاديانی، محمد رضاء. (۱۳۹۰کال) .مبالي اب و هوا شناسی سازمانمطالعه و تدوينکتب علوم انسانی. تهران: دانشگاهها (سمت) مرکز تحقيق و توسعه علوم انسانی.

پوهنمـــــــل ســـــــيد غني (غنـــــــي)
د ښـــــوونې او روزنـــــې پـــــوهنځی
د پښـــــــتو ژبې او ادب څـانـــــــــگه
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی محمد ابراهيم همکار
د ښـــــوونې او روزنـــــې پـــــوهنځي اســـــتاد

په پښتو غونډلو کې د نوم کارونه

لنډيز:

په غونډله (جمله)کې نوم د خپل دريځ له مخې په ببلا ببلو بڼو کارول کيږي، چې دا کارونه په لومړي سر کې په دوو برخو وېشل کيږي، چې يوه ته وينا ييزه (لفظي) او بلې ته يې مانيزه (معنوي)کارونه وايي. په دې مقاله کې به يوازې د نوم دمانيزو کارونو پر پېژندلو خبرې وشي او څرګنده به شي چې نومونه د پښتو ژبې د پښوييز دوی (ګرامري قاعدې) له مخې په کوم ډول او کومې زمانې کې بدلون مومي او په کوم حالت کې پرته له بدلون پر خپلې اصلي بڼې راځي.

سريزه:

د مانا له مخې نوم په څلورو بڼو کاريږي چې له فاعلي، مفعولي، ندايي او ارتباطي کارونې څخه عبارت دي، چې د دې کارونو نومول د نوم د هغه دريځ له مخې چې په غونډله کې يې لري څرګنديږي. همدارنګه نوم د پښتوژبې د پښوييز دوی(ګرامري قاعدې) له مخې يا پر خپله اصلي بڼه راځي او يا بدلون مومي چې په دې مقاله کې به د نوم پر مانيزې (معنوي) کارونې خبرې وشي او پر هغو ټولو مواردو به رڼا واچول شي چې نوم په مانيزحالت په کې بدلون مومي او يا پر خپلې اصلي بڼې راځي.

موخې:

ددې څېړنې موخه دا ده چې زده کړيالان، څانګيز وال او مينه وال په پښتو ژبه کې دنوم د مانيزې کارونې په اړه پوهه تر لاسه کړي او په دې ببلا ببلو کارونو کې د پښتوژبې پښوييزې دوی (ګرامري قاعدې) له مخې د نوم په جوړښت کې په کوم حالت کې څه تغييرات يا بدلون راځي؟ او په کوم حالت کې پر خپلې اصلي بڼې راځي؟

همدارنګه کيدای شي دا مقاله نور ليکوال دې ته وهڅوي چې د پښتو ژبې د نومونو او پښوييزې دوی (ګرامري قاعدې) پر ببلا ببلو اړخونو ليکنې وکړي چې په پايله کې به زده کړيالان، څانګيز وال او مينه وال ترې ګټه پورته کړي.

په پښتو غونډلو کې دنوم کارونه

لومړی – دکړند (فاعل) په بڼه

که يو نوم په جمله کې فاعل وي، څه کار او عمل ترې صادر يا ورپورې تړلی وي، که فعل لازمي، متعدي او يا حکمي متعدي وي په درې واړو صورتونو کې فاعلي بڼه لري، لکه: بريالی کار کوي ، توريالی درس لولي، گلالۍ کالي پرمينځي. ، ميمونه ځي.

په پورته غونډلو کې بريالی، توريالی، گلالۍ او ميمونه کړند پير (فاعلي حالت) لري.

دکړند او کړند نوم (فاعل او اسم فاعل)

کړند هغه چا ته ويل کيږي چې ورڅخه کار تر سره شوی وي؛ لکه: (عارف وليکل) په دې جمله کې عارف کړند (فاعل) دی چې د ليکلو کار يې تر سره کړی دی. د همدې کار کولو له کبله موږ عارف ته کارکوونکی يا (ليکونکی) وايو چې دا اسم فاعل دی. اسم فاعل له بلې کلمې يا مصدر څخه وځي او فاعل خاص د هغه ذات نوم بلل کيږي، چې کار کوي. اسم فاعل دتل لپاره په صرف کې راځي او فاعل په نحو کې راځي. اسم فاعل مشتق وي او فاعل مشتق نه، بلکې ساده نوم وي. (۲۳:۳)

په غونډله کې د کړند (فعل)او ښتنه

ټول اوښتونکي نومونه که چېرې په يوه غونډله کې د کړند (فاعل) په توګه راشي، هغه وخت په اوښتې بڼه راځي چې د غونډلې کړند (مسند) متعدي وي او فعل په تيره زمانه کې واقع شوی وي. په لاندې ډول يې له هرې کټګورۍ څخه دوه دوه بېلګې راوړو:

الف _ د نارينه (ی) يا (ay) په غبرګ غږ پای نومونه:

اوس مهال	تېر مهال
سړی / ay / ډوډۍ خوري.	سړي /i/ ډوډۍ خوړه .
زلمی /ay/ کتاب لولي .	زلمي /i/ کتاب لوسته.

ب _ د (a) په دخيل خپلواک پای ته رسېدلي نومونه ، لکه:

اوس مهال	تېر مهال
ښځه / a/ ډودۍ پخوي .	ښځې /e/ ډوډۍ پخوله..
زرمينه /a/ دکورکار کوي.	زرمينې /e/ دکور کارکاوه..

ج _ هغه نومونه او ستاينومونه چې د ويي د منځ (واو) يې غورځېږي، پرځای يې (الف) راځي او په پای کې يې (∂) دخيل خپلواک راځي. لاندې بېلګې ګورو:

اوس مهال	تېر مهال
پښتون کار کوي.	پښتانه / ∂/کار کاوه.
شپون رمه پيايي.	شپانه / ∂ / رمه پووله .

د _ ځينې يو څپه ييز نومونه او ستاينومونه:

اوس مهال	تېر مهال
خر وانبه خوري.	خره / ∂ /وانبه خوړل.
غل غلا کوي.	غله / ∂ / غلا کوله.

هـ _ شخصي نومځري:

اوس مهال	تېر مهال
زه درس لولم.	ما درس لوسته.
ته درس لولې.	تا درس لوسته.
دی درس لولي.	ده / ∂ / درس لوسته.
دا کتاب لولي.	دې/ e / کتاب لوسته.

و _ پوښتنومځري:

اوس مهال	تېر مهال
څوک کار کوي ؟	چا کار کاوه ؟
کومه کالي ګنډي ؟	کومې کالي ګنډل ؟

ز _ اشاري نومځري:

	اوس مهال	تېر مهال
نږدې:	دغه /a/ هلک کار کوي.	دغه / ∂/ هلک کار کاوه.
		دغې /e/ نجلۍ کار کاوه.

	اوس مهال	تېر مهال
لرې:	هغه /a/ هلک کار کوي.	هغه / ∂ / هلک کارکاوه .
		هغې /e/ نجلۍ کار کاوه.

	اوس مهال	تېر مهال
لا لرې:	هوغه /a/ هلک کار کوي.	هوغه / ∂ / هلک کارکاوه.
		هوغې /e/ نجلۍ کار کاوه.

(۵۰:۴)

په پورته بېلگوکې گورو چې اوښتونکي نومونه، ستاينومونه او نومځرې د متعدي ماضي په فاعلي حالت کې په غېر اصلي بڼه راځي. بايد يادونه وشي چې په اوسنۍ زمانه کې (دجملې د فاعل په توگه) ټول اوښتونکي نومونه په اره (اصلي) بڼه استعمالېږي، خو نه اوښتونکي نومونه که چېرې د غونډلې فاعل واقع شي په اوس مهال او تېر مهال کې په اره بڼه راځي.

په کړيز غونډلو (فعليه جملو) کې د قرينې په سبب کله کړند (فاعل) او کله کړی (مفعول) غورځيږي، مثلاً که څوک پوښتنه وکړي: ((څوک راغی ؟)) او په ځواب کې يې ووايي: (احمد) دلته فعل (راغی) غورځيدلی دی او که څوک پوښتنه وکړي او په جواب کې يې ووايي ((هو !راغی)) دلته کړند (احمد) غورځيدلی دی او که په ځواب کې يې ووايي: ((هو)) دلته ټوله غونډله (احمدراغی) غورځيدلې ده او که څوک پوښتنه وکړي: ((چا ډوډۍ وخوړه ؟)) او په ځواب کې يې وويل شي: ((احمد وخوړه.)) دلته (ډوډۍ نژدې کړی (مفعول به) غورځيدلې ده، کله د وېرې په سبب ويل کيږي: (غل غل)، (مارمار) ددې ترکيب داسې کېږي: ((غل راغی.))، ((ماردی)) (۲: ۲۹)

دويم ـ کړی (مفعولي) پيير

که چېرې يو نوم په غونډله کې مفعول به راغلی وي. يانې فعل پر هغه سرته ورسيږي، هغه نوم ته مفعول به او بڼې ته يې مفعولي بڼه وايي؛ لکه: سليم ډوډۍ خوري. رحيمه کتاب لولي.

په دغو جملوکې (ډوډۍ او کتاب) مفعولي بڼه لري.

په پښتو ژبه کې مفعول به په دوو ډولو دی:

۱- نږدې يا مستقيم چې بې واسطې مفعولي بڼه يې هم بولي.

۲- لېرې يا غير مستقيم چې بالواسطه مفعولي بڼه هم ورته وايي.

۱ـ نږدې يا مستقيم مفعولي بڼه (بې واسطې مفعولي بڼه)

نږدې يا مستقيم مفعول به (بې واسطې مفعول به) هغه حقيقي مفعول به دی چې فعل پرې بې له کومې واسطې يانې پرته له (سربل او اوستر بل) په مستقيم ډول واقع شوی وي. بې واسطې مفعول د ((څوک ، څه شي او څه)) پوښتنو ته ځواب وايي (۷: ۲۳)

لکه په دې غونډله کې :

(سليم ته کتاب ورکړه.) کتاب نږدې يا مستقيم مفعول به او سليم لرې مفعول به دی. نږدې مفعول په پښتو کې ساده بڼه لري او هيڅ بدلون په کې نه راځي او د ((نه ،له ، لره ، ته)) وييکي هم ورسره نه يو ځای کېږي خو له ليرې مفعول سره بيا ياد وييکي يو ځای کيږي ، چې دغې بڼې ته يې ارتباطي بڼه وايي. (**۵** : ۱۱۸)

لاندې بېلگو ته پاملرنه وکړئ:

احمد ما ته ډوډۍ پخوي.	احمد ماته ډوډۍ پخوله .	پلوشه زرمينې ته کميس گنډي.
پلوشې زرمينې ته کميس گانډه .	زمرک زرڅانگې ته کتاب لولي.	زمرک زرڅانگې ته کتاب لوسته.
بريالی زلمي ته کتابچه ورکوي.	بريالي / I / زلمي / I / ته کتابچه ورکوله.	شپون تا ته رمه پيايي.
شپانه / ∂ / تاته رمه پووله.		

په پورتنيو بېلگو کې (احمد ، پلوشه ، زمرک ، بريالی ، شپون) په غونډله کې فاعلي بڼه لري خو (زرمينې، زرڅانگې ، زلمي ، تا) د جملې ليرې يا غير مستقيم (بالواسطه) مفعول به دي. همدارنگه (ډوډۍ ، کميس ، کتابچه ، رمه) د غونډلې نږدې يا مستقيم (بې واسطې) مفعول به دي. يا په بله وينا نومورې نومونه بې واسطه مفعولي بڼې لري او فاعل په تېر مهال کې د همدغه بې واسطې مفعول به سره سمون نښودلی يا دا چې دهغه لپاره تصريف شوی دی.

۲ _ ليرې يا غير مستقيم مفعولي بڼه (بالواسطې مفعولي بڼه)

ليرې يا غير مستقيم مفعول به (بالواسطه مفعول به) هغه دی چې فعل پرې نيغ په نيغه يا مستقيم ډول نه وي واقع شوی، بلکې د فعل اغيزه پرې شوې وي، لکه په دې غونډله کې (سليم ته کتاب ورکړه.) کتاب نږدې مفعول به او سليم ليرې مفعول به دی. په پښتو ژبه کې نږدې مفعول ساده بڼه لري او هيڅ بدلون پکې نه راځي خو له ليرې مفعول به سره د (له ، لره ، ته) وييکي يو ځای کېږي، لکه چې د مخه مو وويل دې بڼې ته يې بيا ارتباطي بڼه وايي. په تېرو بېلگو کې چې د نږدې يا مستقيم مفعولي بڼه تر سرليک لاندې مو ولوستله (ما ، زرمينې ، زرڅانگې ، زلمي ، تا) بالواسطه مفعولي بڼه لري. له دې بېلگو دا پايله لاسته راځي چې د پښتو گرامر له قاعدې سره سم ټول اوښتونکي نومونه که په اوس مهال او تېر مهال کې په غونډله کې د بالواسطه مفعول په توگه واقع شي نو په غير اصلي بڼه استعمالېږي. د موضوع د ښه وضاحت لپاره لاندې بېلگې گورو :

اوس مهال	تېر مهال
زه تاته ډوډۍ پخوم.	ماتا ته ډوډۍ پخوله.
زرمينه پلوشې ته کتاب لولي.	زرمينې پلوشې ته کتاب لوسته.
شپون ماته رمه پيايي.	شپانه /∂/ماته رمه پووله.
بريالی ده ته کتاب ورکوي.	بريالي ده ته کتاب ورکاوه.
غل ماته غلا کوي.	غله / ∂ / ماته غلا کوله.

په پورتنيو بېلگو کې (تا ، پلوشې ،ما ، ده ، ما) نومونه بالواسطه مفعولي بڼه لري، چې اوس مهال او تېر مهال کې په غير اصلي بڼه اوښتي دي نو له پورتنيو څرگندونو څخه دا نتيجه اخيستلای شو چې که چېرته اوښتونکي نومونه په ليرې يا غير مستقيمه بڼه (بالواسطه مفعولي بڼه) کې را شي، په غير اصلي بڼه استعمالېږي، همدارنگه که چېرې دغه تغيير منونکي نومونه د نږدې يا مستقيم (بې واسطې مفعول به) په توگه واقع شي نو په اصلي بڼه استعمالېږي، لکه په لاندې بېلگو کې:

اوس مهال	تېر مهال
احمد زرمينه وهي.	احمد زرمينه وهله. / a /
زمرک بريالی وهي.	زمرک بريالی واهه . / ∂ /
تورگل خر وهي .	تورگل خر واهه . / ∂ /
اڅک شپون وهي.	اڅک شپون واهه. / ∂ /
احمد دی وهي .	احمد دی واهه . / ∂ /

په پورتنيو بېلگو کې (زرمينه ، بريالی ، خر ، شپون ، دی) چې نږدې يا مستقيم (بې واسطې) مفعولي بڼه لري او په اصلي حالت کې راغلي دي.

بايد وويل شي چې که:

۱ـ که فاعل او مفعول به دواړه څرگند نومونه وي او يا فاعل يوازې خپلواک نومځری وي په دې صورت کې فاعل له مفعول څخه ترمخه راځي، لکه: سليم حميد وواهه.، ما حميد کورته بوت. او په هغه صورت کې چې فاعل ناخپلواک نومځری وي نو مفعول به بيا تر مخه راځي، لکه: سليم مې وليد.، زه دې وليدم.

۲ـ اوس مهال لازمي او راتلونکي مهال متعدي فعلونه په ټوليز ډول د کړند (فاعل) تابع وي او کله چې زمانه ماضي متعدي شي فعل د مفعول به سره سمون کوي يانې په لومړي کې له فاعل او په دويم کې له مفعول به سره سم راځي، لکه:

لازمي: سليم ولاړ.، رحيمه ولاړه.، هلکان ولاړل.، جينکۍ ولاړې. اوس مهال متعدي:

زه اوړه اخلم.، ته غوښه اخلې.، هغه به اوبه اخلي.

تېر مهال متعدي: ما اوړه اخيستل ،تاغوښه اخيسته، هغه اوبه اخيستې. (۵ : ۱۱۸)

همدارنگه: د لومړي او دويم شخص مفرد نومځري (زه ، ته) په اوسمهال کې د نږدې يا مستقيم (بې واسطې) مفعول به په توگه په غير اصلي بڼه (ما ، تا) استعماليږي ، لکه:

اوس مهال	تېرمهال
احمد ما وهي.	احمد زه وهلم.
احمدتا وهي.	احمد ته وهلې
احمد ما پېژني.	احمد زه پېژندلم.
احمد تا پېژني.	احمد ته پېژندلې.

په پورتنيو بېلگو کې (زه ، ته) نومځري په اوسمهال کې د نږدې يا مستقيم (بې واسطې) مفعول په توگه په غير اصلي بڼه استعمال شوي دي ، خو گورو چې په تېر مهال کې نږدې يا مستقيم (بې واسطې) مفعول په اصلي بڼه راغلي دي. نور ټول نومځري او اوښتونکي نومونه که چېرې په غونډله کې د نږدې يا مستقيم (بې واسطې) مفعول په توگه واقع شي په اصلي بڼه استعماليږي ، لکه په لاندې بېلگو کې:

احمد دی وهي.	احمد دا وهي.	احمد شپون وهي.
احمد زرمينه وهي.	احمد زلمی وهي.	احمدغل وهي.

۳ـ که چېرته لازمي وي په درې واړو زمانو کې فعل د فاعل تابع گرځي؛ لکه:

راتلونکی مهال	اوس مهال	تېر مهال
زه به کښېنم	زه کښېنم	زه کښېناستم
ته به کښېنې	ته کښېنې	ته کښېناستې
دی به کښېني	دی کښېني	دی کښېناسته

دفعلي صفاتو وروستاړي

فعلي صفتونه هغه دي چې له مصدر څخه جوړېږي او فاعلي يا مفعولي مانا لري. دا صفتونه د معنوي ځانگړنو له مخې په دوو ډولو دي: يو هغه چې په کومې خاصې زمانې پورې اړه نه لري او تل پر خپلې مانا دلالت کوي؛ لکه: (خوځند ، گرځند) او بل ډول يې هغه دي چې په يوې زمانې پورې ځانگړې وي؛ لکه: (تلونکی ، تللی) چې لومړی يې په اوسمهال او راتلونکي مهال او دويم يې په تير مهال کې خپله مانا څرگندوي. لومړي ډول فعلي صفتونه په پښتو کې نسبتاً لږ دي او له ټولو مصادرو څخه په قانوني او عمومي توگه نه جوړېږي، خو دويم ډول فعلي صفتونه بيا ډېر او له ټولو مصدرونو څخه په عمومي اوقانوني صورت لاس ته راځي.

لومړي ډول فعلي صفتونه

۱–د (ند) وروستاړی غالباً د (يدل) والا مصدرونو د فعلي مادې په پای کې د مصدري نښې پرځای راځي او پر فاعلي مانا باندې دلالت کوي؛ لکه: له گرځېدل څخه گرځند ، له ژړېدل څخه ژړند ، له رغړېدل څخه رغړند ، له رژېدل څخه رژند.

۲ _ د (ندی) وروستاړی د (ند) په ډول د ېدل والا مصدرونو په پای کې د (ېدل) پرځای راوړل کېږي او فاعلي صفت ترې جوړيږي؛ لکه: له خوځېدل څخه خوځندی، له چورلېدل څخه چورلندی، له رپېدل څخه رپندی او داسې نور

۳ _ د (نده) وروستاړی هم د فعلي مادې په پای کې د مصدري نښو پر ځای راوړل کېږي؛ لکه: له پوول څخه پوونده، له بهېدل څخه بهنده، له څرېدل څخه څرنده.

۴ _ د (اند) وروستاړی هم د فعلي مادې په پای کې د فعلي صفت د جوړلو لپاره راځي؛ لکه: له پوهېدل څخه پوهاند ، له ژړېدل څخه ژړاند ، له ځلېدل څخه ځلاند ، له بهېدل څخه بهاند.

۵ _ د (ندو) وروستاړی ددې وړاندې موخې لپاره استعمالېږي خو لږه مبالغه هم پکې شته؛ لکه: له ژړېدل څخه ژړندو ، له قارېدل څخه قارندو ، له وېرېدل څخه وېرندو .

ددې بېلگو په پای کې کله کله (کی) هم زياتيږي؛ لکه: وېرندوکی ، قارندوکی.

۶_د (ندوی) وروستاړی د فعلي مادې په پای کې د مصدري نښې په پای کې راځي او فعلي صفت جوړوي؛ لکه: له ساتل څخه ساتندوی، له څرگندېدل څخه څرگندوی، له گټل څخه گټندوی.

دويم ډول فعلي صفتونه

۱ _ د (ونکی) وروستاړی په ټولو مصدرونو کې د (ل) پر ځای د فعلي صفت د جوړلو لپاره راځي خو په لازمي او متعدي معلومو مصدرونو کې فاعلي مانا او په مجهولو مصدرونو کې مفعولي مانا ورکوي او مانا يې په اوس مهال او راتلونکي مهال پورې اړه لري؛ لکه: له تلل څخه تلونکی، له ختل څخه ختونکی، له ماتول څخه ماتونکی، له وهل څخه وهونکی، له ساتل څخه ساتونکی، له پخېدل څخه پخېدونکی.

۲ _ د (ونی) وروستاړی هم د (ونکی) په ډول د مصدري (ل) پر ځای راځي او فعلي صفت جوړوي، نورې ځانگړنې يې ټولې د (ونکی) وروستاړي په ډول دي؛ لکه: له تلل څخه تلونی، له وتل څخه وتونی، له ساتل څخه ساتونی، له پخېدل څخه پخېدونی او داسې نور

۳ _ د (ی) وروستاړی هم د لام والا او ځينې ول والا او ېدل والا مصدرونو په پای کې د فعلي صفت د جوړولو لپاره راوړل کېږي خو په لازمي مصدرونو کې فاعلي مانا او په متعدي مصدرونو کې مفعولي مانا ښندي او مانا يې په تير مهال (تېرې زمانې) پورې اړه لري؛ لکه: له تلل څخه تللی، له وهل څخه وهلی، له ختل څخه ختلی، له ساتل څخه ساتلی، له پاڅول څخه پاڅولی او داسې نور (۲: ۸۳)

درېيم: بلن پيير (ندايي بڼه)

که چېرې نوم ته بلنه يا غږ شوی وي، بلن نوم يا منادي بلل کېږي او بڼې ته يې ندايي بڼه وايي. د نداء او غږ بڼه کله د وييکو پواسطه او کله له هغو څخه پرته يوازې د نوم په اخيستلو سره رامنځته کېږي؛ لکه: ای وروره ! ، يه ځوان هلکه ! ، ځلميه !

۱- په بلن پيير (ندايي بڼه) کې دنوروبڼو پرخلاف هغه نومونه چې پر بېواک (کانسونينټ) غږ پای ته رسېدلي وي، په ندايي بڼه کې ددې نومونو په پای کې دخيل خپلواک (a) زياتيږي؛ لکه:

ای هلکه ! شور او ځوږ مه کوه. ای ځوانه ! دلته راشه .

ای استاده ! ستا په پوهې قسم. ای گرانه ! تاته وايم.

ای هېواده ! ستا په لوړو غرو مې قسم.

۲- همدارنگه ټول هغه نومونه چې پر نارينه (ی) يا (ay) غبرگ غږ پای ته رسېدلي وي، په ندايي بڼه کې د نوم په پای کې دخيل خپلواک (a) زياتيږي؛ لکه:

ای زلميه ! ماته غوږ شه. ای توريالیه ! ښوونځي ته ولاړ شه.

ای پسرليه ! گلان وغوړوه. ای شپونکيه ! رمه دې وځروه.

۳- هغه نومونه چې د دخيل خپلواک (a) پر خپلواک غږ پای ته رسېدلي وي، په ندايي بڼه کې يې په پای کې د (a) پر ځای (ې = e) زياتېږي؛ لکه:

ای موري ! د ډېرې درناوي وړ يې. ای لوري ! د خپل وطن پت او عزت وساته.

ای ورينداري ! خپل زامن ښه وروزه. ای پيغلې ! د خپلې کورنۍ پت وساته.

۴- ټول معنوي ښځينه نومونه که په ندايي بڼه کې واقع شي په پای کې يې اوږده (ې) ورزياتېږي؛ لکه:

ای مورې ! ستا تر کړېدلي ژوند ځار شم. ای خورې ! دا هېواد ستا مېړانې ته اړتيا لري.

ای لورې ! دلته راشه.

د يادونې وړ ده چې نور نه اوښتونکي نومونه چې په نورو بڼو کې تغيير نه کوي په ندايي بڼه کې هم بدلون نه مومي. (۸: ۳۱) ؛ لکه:

ای ليلا ! له خوبه پاڅه. ای ملا ! لمونځ څه وخت کېږي ؟ ای کاکا ! ستا مهربانۍ ته اړتيا لرم.

ای ماما ! زما نيکې هيلې ومنه. ای زانګو ! ستا په غيږ کې د هېواد نوميالي روزل شوي دي.

څلورم ـ ارتباطي بڼه

که نوم په يوه غونډله کې د ارتباط له مخې له ناخپلواکو کلمو سره راشي نو هغه نوم ارتباطي بڼه لري. (۱:۳۷)

يا په بله وينا کله چې يو نوم د ارتباط له وييکو سره استعمال شي او د ارتباط وييکي ورڅخه تر مخه يا وروسته راشي، نو هغه نوم اړيک (ارتباطي) بڼه خپلوي ، لکه: له کابله راغلم. کلي ته ځم. په دغو بېلګو کې (کابل) او (کلي) په ارتباطي بڼه راغلی دی او د (له ـ ته) وييکو پواسطه د (راغلم ـ ځم) له فعلونو سره اړيکه (ارتباط) او اړه لري.

اړيک وييکي (ارتباطي ادات) په پښتو ژبه کې په دوه ډوله دي:

۱ ـ سرينه (مختاړی) :هغه ادات دي چې له مدخول څخه د مخه راځي او هغه دا دي: (په ،پر ،د ، تر ، له ، بې ،)

۲ ـ پسينه (وروستاړی) هغه ادات دي چې له مدخول څخه وروسته راځي او هغه دا دي: (له ، ته ، لره ، نه ، څخه ، لپاره ، باندې ، کې ، لاندې ، پورې ، په شان ، غوندې ، په څېر ، پسې ، راسې).

پنځم ـ اضافي ارتباط (اضافي بڼه)

که يو نوم د ارتباطي وييکي يانې (د) او يا د (زما ، ستا ، زموږ ، ستاسې) نومځرو پواسطه له بل نوم سره اړيکه او نسبت پيدا کړي، اضافي ارتباط ورته ويل کيږي. هېره دې نه وي چې اضافي ارتباط ته (اضافي بڼه) هم ويلای شو.

په اضافي ارتباط کې لومړني نوم ته مضاف اليه او دويم ته مضاف وايي. او د پښتو ژبې قاعده دا ده چې لومړی د اضافت نښه (د) ، ورپسې مضاف اليه او وروسته بيا مضاف راځي ، لکه: د نعيم کور ، د کوټې دروازه ، زما قلم ،زموږ هېواد) خو که چېرې مضاف اليه يو له (مې ، دې ،يې ، مو) نومځرو څخه وي په دې صورت کې پرته له (د) څخه مضاف رامنځته کېږي،لکه: (زړه مې خپه دی ، کار دې خپل دی ،قلم يې مات شو ،اختيار موخپل دی) مشهور ډولونه يې په لاندې ډول دي:

۱ ـ ملکي: چې د ملکيت مانا ورکوي ، لکه: د زرمينې قلم تور دی. ، د ښځې پيزوان ښکلی دی. ، د حميد خولۍ ورکه شوه.

۲ ـ بياني: چې مضاف اليه د مضاف له جنس څخه وي او مضاف توضيح کړي ، لکه: د زرو ګوته ، د خاورو څلۍ ، د اختر ورځ.

۳ ـ ظرفي: چې يو دبل لپار ظرف وي ، لکه: د بوسو کوټه ، د بورې بوجۍ ، د چينې اوبه.

۴ ـ استعاري او تشبيهي: د زړه ستنې ،دفکر ټال ،د سترګو تور ، د مينې تول ، د ژبې توره ، دهېواد لمن.

۵ ـ لياقت او وړتيا : ديوه فعل لپاره د يو شي وړتيا او لياقت څرګندي ، لکه: دا کار دکولو دی ، دا انار د خوړلو دی ، دا نجلۍ د ستايلو ده ، دا هلک د وژلو دی.

۶ ـ خاص ته دعام اضافت: دکابل ښار ، د آزادۍ څلی ، دشفتالو ونه .

۷ ـ نسبتي ـ لکه: د هرات زرکې ، د چترال پټوان ، د قندهار انار مشهور شيان دي.

۸ ـ د نورو مطالبو ، لکه: نژديوالي او نورو لپاره راځي ، لکه: کريم دخان خپل دی.

بايد يادونه وشي چې د اضافت(د) په خاصو نومونو کې د ډېر استعمال له کبله د اسانتيا لپاره زياتره له منځه ځي ، لکه: (ټولی مشر ، کنډک مشر، هډې صيب ، افغان مېنه ، پښتوټولنه ، کابل پوهنتون ، ننگرهار پوهنتون) چې په اصل کې د اضافت(د) لري. (۵ :۱۲۰)

پايله:

په پای کې دې پايلې ته رسيږو چې نوم د خپل دريځ له مخې چې په جمله کې يې لرې د مانيز اړخ له پلوه بېلا بېلې بڼې غوره کوي په دې مانا چې نوم د پښتو ژبې د گرامري قاعدې له مخې په ځينو مواردو کې په اصلي بڼه راځي او په ځينو ځايونو کې بيا بدلون مومي.

ماخذونه

۱) الکوزی ، جانداد.(۱۳۸۵ل.ل). مورفولوژي (گړپوهنه) . لغمان: پټان ادبي ټولنه.
۲) ايازي، محمداعظم. (۱۳۳۷ل.ل) . د پښتو نحوه. کابل: د پوهنې وزارت.
۳) بريالی،عبدالکريم .(۱۹۸۲ع) .جامع القواعد پښتو. کويټه : پښتواکيډمي.
۴) خويشکی ، محمدصابر. (۱۳۸۰ل.ل) . پښتوغږپوهنه او وييپوهنه. پېښور: دافغانستان دکلتور ودې ټولنه جرمني.
۵) رښتين ، صديق الله. (۱۳۷۲ل.ل) . پښتوگرامر. ژباړن سيدمحي الدين هاشمي. پېښور. يونيورسټي بک ايجنسي.
۶) رښتين، صديق الله. (۱۳۸۱ل.ل). د پښتو اشتقاقونه اوترکيبونه. جلال اباد : مومندخپرندويه ټولنه.
۷) شيرزاد ، محمداقا او الکوزی ، جانداد . (۱۳۸۹ل.ل) . نحو . کابل: دښوونې او روزنې پوهنتون. پښتو څانگه.
۸) هاشمي ، سيدمحی الدين. (۱۳۸۳ل.ل) . د پښتوژبې لنډ گرامر. پېښور: د اريک دگرځنده کتابتونونو اداره.

پوهنمل اختر محمد (شينواری)
انجنيري پوهنځی
د سيول انجنيري څانګه
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال زلمی خالقي
د انجنيري پوهنځي استاد

د (ACI Code) پر بنسټ د مستقيم ډيزاين او معادل چوکا ټ طريقو په مرسته د مومنت محاسبې کړنلارې پرتلنه

لنډيز:

په دې علمي څيړنه کې د پوښښ د هوارو او سپنيزکانکريټو تختو محاسبه د(ACI) کود سره سم تر سره کړو. له دې څخه موخه داده چې د ودانيو د ساختمان په تحليل کې د مستقيم ډيزاين او د معادل چوکاټ ميتودونو څخه استفاده شوې ده. تر څو دواړو ميتودونو د ډيزاين کړنلاره يو له بله سره پر تله کړو چې د تحليل او ډيزاين د ميتودلوژۍ تشريح يې په بشپړ توګه په دې مقاله کې ځای پر ځای شوې ده. خو بيا هم په دواړو ميتودونو کې د هوارو پوښښ تختو مومنټونه محاسبه شوي دي چې د محاسبې په کړنلاره يې بنيادي تفاوت لري. د مستقيم ډيزاين ميتود د محاسبې اساس مجموعي ستاتيکي مومنټ محاسبه ده. په دې ميتود کې سلبونه د هوارې تختې په ډول قبليږي او مجموعي ستاتيکي مومنټ په هر لوري په جدا ډول محاسبه کېږي، وروسته نوموړی مومنټ و ايه وي مثبت اوا تکا يې منفي مومنټ وېشل شوی دی، سر بيره پردې نوموړی مومنټ د هوارې تختې د پايي او منځني تسمو با ندې وېشل کېږي.

په معا دل چوکاټ ميتود کې د پوښښ هواري تختې يه يو شمېر دوه بعدي چوکاټو باندې وېشل شوي دي. او مثبت او منفي مومنتونه محاسبه شوي دي.

د هوارو تختو پوښښونه يو ساده پوښښونه دي چې يو شان ضخامت لري او په پايو باندې تکيه شوي دي.ددې ډول پو ښښ تختو څخه په پراخه پيمانه ګټه ا خيستل کېږي، ضخامت لږ وي، د جوړ ېدو پروسه يې چټکه ده او ښه مهندسي ښکلا لري.

سريزه:

په لومړي ځل د پو ښښ د هوارو تختو څخه په ودا نيو کې ګټه اخيستنه پر(**1906**) م کال د امريکايي عالم. سی -. ای. پی. . تير نر (C .A .P. Turner) په واسطه رواج شوه، چې د پو ښښ هوارو تختو څخه يې د مينيپو ليس(Minneapolis) نومي ځای کې وکاروله، پر همدې کا ل د سيويس زرلنډ(Switzerland)څخه ميا لا ر ت (maillart) د پوښښ هوأری تختې جوړې کړې.

ا مر يکايي عالم سي ا ی. بی تير نر(C .A .P. Turner) د دې ډول د هوارو تختو د جوړ يد نې منشاء د ځمکې د مرخيړې ميشروم(mushroom) څخه اخيستې وه. دا ځکه چې مر خيړې د يوه ډ نډر پر سر د چتر په شکل ولا ړ وي، نو دا همدا لا مل شو چې په ودانيو کې د دې ډول پو ښښ تختو د کار ونې فکر ورسره پيد ا شو په هغه مهال د دې پوښښ تختو ډيزاين او محا سبې لپاره کوم ځا نکړې ميتود شتون نه درلود. همدا وه چې هغه په خپل اند سره پوښښ نوموړې تختې په خيالي ډول سيخبندي او په ودانيو کې ترې ګټه وا خيسته او پرهغه مهال دا ډول پوښښ تختې په ودا نيو کې د خلکو لخوا ډ يرې خطر نا که وګڼل شوې. بيا وروسته پر(**1914**) م -کا ل د جي. ار. نيکلوس(J.R.Nichols) لخوا ددې ډ ول پو ښښ تختو د د مومنتونو محا سبې لپاره ستاتيکي معا دله پيشنهاد شوه. پد ې برخه کې (J.R.Nichols) پر(۱۹۲۰-۱۹۱۴) م کا ل پورې خپلې هڅې وکړې. چې تر (**1970**) م کال پورې د(Nichols) وړانديز شوې معادله په(ACI Code)کې په رسمي ډول نه پيژندل کېدله. خو په ودانيو کې له د اډول پوښښ تختو کارېدلې. خو بلاخره پر(**1971**) م کال کې د پو ښښ د هوآرو تختو

دمومنتونو د محا سبې لپاره د (Nichols) معادله او وړاندې شوې تيوري په رسمي توګه وپيژندل شوه او په (ACI Code) کې شا مله او تر اوسه د پوښښ د هوارو تختو د مومنتونو د محا سبې لپاره ترې ګټه اخيستل کېږي. (۹: ۲۲۴).

موخه:

د دې علمي څېړنې يوازينۍ موخه د پوښښ د هوارو تختو د مومنتونو محاسبه په دوو ميتودونو د مستقيم ډيزاين او معادل چوکاټ طريقو پر تلنه ده، تر څو جوته شي چې په کومه يو ه طريقه ا غېزمنه محاسبه ترسره کېدای شي. نو په دې با ره کې د علمي معتبرو موادو را ټولول او توحيدول، چې د ساختماني رشتې انجنيرانو لپاره په ا ړونده موضوع کې د مشکل د حل لپاره مر سته وکړي او همدا رنګه د راتلوونکو علمي تر فيعا تو لپاره يې د يو فرعي ا ثر په توګه استعمال کړ م.

د څېړنې کړنلاره:

د (ACI Code) پر بنسټ د دواړو ميتودونو چې د ودانيو د پوښښ د هوارو تختو د تحليل او ډ يزاين لپاره ترې ګټه اخيستل کېږي. له کتابخانې څخه د نويو ما خذونو او په عملي توګه ساختماني ساحې څخه د څېړنې د موخې سره سم اړ ين آرقام او اسناد تر لا سه او د څېړنې په مطا لبو کې تر بحث لا ندې نيول شوي دي.

د پوښښ پلان او د پوښښ تختو د ډولونو انتخاب، پوښښ د هوارو تختو د ضخامت ا نتخابول. د ډ يز اين مومنت د مـــحا سبې لپا ره د ميتود انتخا بول، مستقيم ډيزاين ميتود، د مستقيم ډ يزاين يا محاسبې طريقې لپاره د کارونې محدوديتونه،د يوې وايه لپاره- ډ يزاين مجموعي ستا تيکي، د پو ښښ تختو مثبت او منفي مومنت پيدا کو ل، معادل چوکاټ ميتود محاسبوي طر يقه، معادل چوکاټ د طريقې کړنلاره، معادل چو کاټ ميتود کې اتکا يي مومنت، سختي، carry over factor، ويشونکې ضر يب، پايله، وړاندېزونه، لنډ يز ا و ماخذونه شا مل دي.

د پوښښ پلا ن اود پو ښښ تختود ډولونو انتخاب

د پوښښ تختې ودانې له پا سه خوا پوښوي اود ودانيو ا ماکن د اتمو سفيري تا ثيراتو څخه سا تي. د پوښښ تختې هغه سا ختماني عنا صر دي چې ضخا مت يې نظر اوږدوالي او د پلنوالي په پر تله کم دي. په عمومي ډول په ودانيو کې د پوښښ تختې په دوه ډوله دي چې عبا رت دي له:

ا لف - يو لوريزه پو ښښ تختې (One Way Slabs)

ب - دوه لور يزه پو ښښ تختې (Two way slabs)

هغه پو ښښ تختې چې په يو لوري تغيير شکل (deflect) کوي نو اسا سي سيخان يې په لنډ لوري اچوي د او ږده لوري اوږد والي اولنډ لوري اوږدوالي نسبت ($\frac{L_{long}}{L_{short}} \geq 2$) وي د يو لوريزه پوښښ تختو څخه عبارت دي ا و هغه پو ښښ تختو چې دوه لوريزه تغيير شکل ((deflect) کوي او اساسي سيخان يې په دوه لوري اچول شوي وي عبا رت دي لـه دوه لـور يـزه پـو ښـښ تختـو څخـه او ږد لـوری اوږد والـي اولنـډ لـوري اوږدوالـي نسـبت يې ($\frac{L_{long}}{L_{short}} \leq 2$) وي. (۷: ۳۹۴).

ودانيو کې د کار ېدنې له پلوه دوه لو ريزه پو ښښ تختې په لا ندې دوه ډولونو سره وېشل شوي دي. (641:9).

۱. ګا ډ رلرونکي دوه لوريزه پو ښښ تختې (Two way slab with beams) دا هغه پو ښښ تختې دي چې د اتکا د پاسه ګا ډ رونو ته خپل وزن انتقا لوي. دا ډول پوښښ تختو څخه هغه مها ل استفاده کېږي چې د پو ښښ تختو با ندې وزن زيا ت وي او يا د ا چې د وايو تر منځ فا صله ډ بره وي، يا هم د پو ښښ هوارو تختو (*flat plate slabs*)اود هواره پو ښښونه (*flat slabs*) ضخا مت ډ ېر او غېرې اقتصادي وي.

۲. بې له ګاډره دوه لوريزه پو ښښ تختې (Two way slabs without beams) ..

هغه پو ښښ تختې دي. چې د اتکا له پاسه ګاډر موجود نه وي په لا ندې درې ډوله دي. (4 : 492).

- د هوارو تختو پو ښښونه (flat plate slabs)
- فلټ سلبونه (flat slabs)

- پو ښتۍ لرونکې پو ښښ تختې (waffle slabs)

دا چې د څېړنې موخه د پو ښښ هوا رو تختو د مومنټ د محاسبې څخه ده. د نورو پوښښ تختو د مطا لعې څخه صرف نظر شوي دي.

د هوارو تختو پوښښونه

دا لـه هغـو پـو ښـښ تختو څخـه دي چـې بـې لـه ګـاډر خپـل وزن د ډراپ (*drop*)، کپيټـل(*capital*) او د شـير کيـپ (*shear caps*) پـو اسـطه خپـل وزن پـايو تـه انتقـالوي. دغـه ډول پـو ښـښ تختـې زر او پـه اسـانۍ سـره جـوړيږي. قالبنـدي او سـيخبندي يـې اسـانه ده. ددې پـو ښـښ تختـو پـه کاريـدنې سـره د پـوړ ار تفـا ع کمېـږي او چـت پـه ښـه ډول روښـا نـه کېـږي. ددې ډول پـو ښـښ تختـو څخـه پـه لـوړ پـوړيزه ودانيـو کـې لکـه هوټلونـو، رهايشـي اپارتمـا نونـو، شـفا خـا نـو او ليليـو کـې ګټـه ا خيسـتل کېـږي. ددې ډول پـو ښـښ تختـو عمـده نـوا قـص د پـا يـه پـه سـر د ډ يـرې عرضـي قـوې انتقـا ل او د بحرانـي مقطعـي د مـا تېـد نـې زيـا نونـه دي. چـې د دې د مخنيـوې لپـاره بـا يـد د پـا يـو ابعـاد اضـا فـه کـړو، او يا د پو ښښ تختو ضخا مت ډ ير شي(۴ : 491).

د پو ښښ دا ډول تختې د هغو وا يو لپا ره ډ يري ګټوري دي چې د وا يو او ږدوالي يې له(*m* ۲--۴.۵) بو رې وي چې شکل يې په لا ندې ډول سره ښودل شوي دي(۹ : ۲۲۲).



۱- شکل د پو ښښ هواره تخته (۹: ۲۲۳)

د شکل له مخې په ودانيو کې د پو ښښ هوارې تختې په دوه ډوله د کاريدنې وړدي: (۲ : ۲۲۸)

۱. د پوښښ هغه هوارې تختې چې د ثابتو مقطعه لرونکو پايو له پا سه تکيه شوي وي لکه په لا ند ينيو شکلونو کې ښود ل شوی دي.



۲-شکل د ثا بتو مقطعه لرونکو پايو له پا سه تکيه شوي د پو ښښ هوارې تختې. (۲: ۳۲۹)

۲. د پو ښښ هغه هوارې تختې چې د حمايه کوونکو پايه مقطعه ثابتې نه وي او د پايه پورتنۍ سر يې پر اخه شوی وي چې دې برخې ته کپيتل (capital) وايي، لکه په لاندينيو شکلونو کې چې ښودل شوی دي. کپيتل برخې پراخوالي (۰.۲-۰۲۵) وا په اندازه دی.



۳-شکل د حما يه کو ونکو پا يه له پا سه چې مقطعه ثا بتې نه وي تکيه شوي د پو ښښ هوارې تختې. (۲ :۲۲۹) . (۹ : 623)

د پوښښ هوارو تختو دضخامت انتخا بول

د پو ښښ د هوارو تختو ضخامت د هغوی د ډول له مخې په دوه ډولونو ټا کل کېږي.

ا لف - د پو ښښ د هغه هوا ر وتختو پوښښونه چې په څنډ و کې کا ډرولري نو پدې حا لت کې ګاډر او پو ښښ شخې نسبت با يد محاسبه شي.

ب - د پو ښښ هغه هواري تختې چې په څنډو کې کا ډر ونلري نو پدې حا لت کې د ګاډر او پو ښښ تختې د شخې نسبت له صفر سره مساوي دي(a_f =۰) (۹.:۲۳۹)

د پورته دوه ډوله د پو ښښ تختو ضخامت د (ACI code) ۲ ۳ ۵. ۹ section) بر خې د لا ر ښوونې سره سم د هغو هوارو تختو پوښښ ضخامت چې په څنډ و او داخلي کې ګاډر ونلري له(۱۲ ۵.cm)څخه کم نه وي او د سيخانو کششي مقاومت يې د لاندينې(1) جد ول څخه ټا کل کېږي .(۷ :۴۳۵).

-1 جدول: د پوښښ د هوارو تختو د اصغري ضخامت.(۷ : ۴۳۲)

f_y (MPa)	بې له ګاډرا پنيلونه			ډراپ لرونکي پنيلونه		
	بېروني پنلونه		دننني پنلونه	بېروني پنلونه		دننني پنلونه
	بې له څنډې له ګاډره	څنډې لرونکي ګاډرونه		بې له څنډې له ګاډره	څنډې لرونکي ګاډرونه	
۲۸۰	۳۳ℓ_n/	۳۶ℓ_n/	۳۶ℓ_n/	۳۶ℓ_n/	۴۰ℓ_n/	ℓ_n/ ۴۰
۴۲۰	۳۰ℓ_n/	۳۳ℓ_n/	۳۳ℓ_n/	۳۳ℓ_n/	۳۶ℓ_n/	۳۶ℓ_n/
۵۲۰	۲۸ℓ_n/	۳۱ℓ_n/	۳۱ℓ_n/	۳۱ℓ_n/	۳۴ℓ_n/	۳۴ℓ_n/

د ډيزاين مومنت د محاسبې لپاره د ميتود انتخابول

د پوښښ د هوارو تختو اناليز او محا سبه د لأند نيو دوه طر يقو له مخې تر سره کېږي:(۸ :۱۸۱) ، (۴:۴۹۵).

۱. دمستقيم ډيزا ين طريقه(Direct Design Method)

۲. د معادل چوکا ټ طريقه(Equivalent Frame Method)

۳. د مستقيم ډ يزاين ميتود (Direct Design Method)

مستقيم ډيزاين ميتود ته د مستقيم تحليل ميتود هم ويل کېږي .ددې ميتود پو اسطه له دې پرته چې د پوښښ تختې تحليل شي. د پوښښ تختو په مختلفو برخو کې د مومنت د قيمتونو وړاندوينه کوي. ددې ميتود څخه د مسلسلو پوښښ تختو د سيستم د انا ليز لپا ره ور څخه کار اخلي. (۹ : ۲۴۲).

دمستقيم ډيزاين يا محاسبې طريقې د کارونې محدوديتونه

دمستقيمې محاسبې طريقه له مخې د هموارو تختو پوښښونو (flat plate slabs) ډيزاين مومنت د محاسبې له پاره د کارونې معين حدونه په لاندې ډول سره دي.

۱. د پلان په دوه لوروکې د وايو شمېر لږ تر لږه د رې څخه کم نه وي.

۲. د امکان تر بريده د پو ښښ تختې بايد مستطيلي وي، او د اوږدې او لنډې ضلعې نسبت يې له (2) څخه کم وي يعنې د پو ښښ تختې دوه لوريزه وي.

۳. په مسلسلو وايو کې د لنډې وايي د طول نسبت پر اوږدې وايي په طول باندې بايد (0.۲۷) څخه لوی وي.

۴. د پايې له مرکزي محورې خط څخه د پو ښښ تختې وتنه د وايو د طول د (% ۱۰) څخه اضافه نه شي.

۵. پر پو ښښ تختو باندې بارونه بايد يو شان وېشل شوي وي او يوازې عمودې بارونه دمستقيمې محاسبې طريقه له مخې محاسبه کېږي او افقي بارونه پرې نه محاسبه کېږي

۶. un factored live load ≤ 2* unfactored dead load

۷. که چېرې د پو ښښونو په پلانونو کې د پايو د پاسه ګاډرونه وي نو بايد ګاډرونو سختې (stiffness) په دوه عمودي لورو کې د لاندينۍ رابطې شرط صدق وکړي:

$$0.2 \le \frac{a_{f1} * l_2^2}{a_{f2} * l_1^2} \le 5.0 \quad \text{.....(۱)}$$

پورته رابطه کې (l_1) او l_2 په دوه مخالفو لورو کې د وايو اوږد والی دی. (a_f) د ګاډر او پو ښښ تختې د شخې نسبت دی. (642−643:9).

د يوې وايه لپاره ډيزاين مجموعي ستاتيکي مومنت

د يوې وايه لپاره د ډيزاين مجموعي ستاتيکي مومنت د محاسبې معادله په لاندې ډول ده. (۸ : ۱۸۲).

$$M_0 = \frac{q_u * l_2 * l_1^2}{8} \quad \text{.....(2)}$$

پورته فورمول کې:

q_u - د ډيزاين بار دې په مترمربعه کې په (k N /m^2).

l_2 - د پو ښښ تختې د تسمې (slab- strip) عرض دی په (mm)

l_n - د مومنت په لوري د وايو تر منځ خالصه طول دې په (m m).

په مستقيم ډيزاين ميتود کې لاندينې درې اصله ډېر مهم دي:

۱- (ACI Code د ۲. ۲. ۱۳ Section) په مطابق مجموعي ستاتيکي مومنت محاسبه کول دي.

۲- د محاسبه شوي مومنت وېشنه (Distribution) ده د سلب په تسمه (Slab Strip) کې د وايو پر مثبتو او منفي مومنتونو باندې.

۳- د پو ښښ تختې د وايو د مثبت او منفي مومنت ضريبونه (Coefficient) له محاسبې وروسته د پو ښښ تختې د مومنت ډ يا ګرام په دوه تسمو (Strips) باندې وېشل کېږي چې عبارت دي له پايي - تسمه (column strip-) او منځنۍ تسمې (Middle Strip)) څخه. (۱: ۲۳۸)

د پو ښښ تختو مثبت او منفي مومنتونه پيدا کول

په خارجي وايه (exterior span) کې د اتکايي او وايوي مومنت د وېشنې ضريبونو قيمتونه سره مختلف دي. ولې په ټولو داخلي وايو (interior span) کې وايوي مثبت مومنت د مجموعي ستاتيکي مومنت (٪ ۳۵) دی. اتکايي منفي مومنت يې د مجموعي ستاتيکي مومنت (٪ ۶۵) د (ACI) کود په مطابق په نظر کې نيول کېږي. (۷: ۴۲۷).





٤ – شکل په خارجي او داخلي وايو کې ډ يزاين مجموعي ستا تيکي مومنت د ويشنې ډ يا گرامونه(٧ : ٤٢٨)

٢- جدول: د پايې د تسمې لپاره په سلنې سره مجموعي ستاتيکي مومنتونه (431:٧).

مومنتونه		ℓ_2/ℓ_1		
		٠.٥	١	٢.٠
داخلي منفي مومنتونه	$\alpha_1\ell_2/\ell_1 = ٠$	٧٥	٧٥	٧٥
	$\alpha_1\ell_2/\ell_1 \geq ١$	٩٠	٧٥	٤٥
خارجي منفي مومنتونه	$\alpha_1\ell_2/\ell_1 = ٠$	١٠٠	١٠٠	١٠٠
	$\beta_1 = ٠$	٧٥	٧٥	٧٥
	$\beta_1 = ٢.٥$	١٠٠	١٠٠	١٠٠
	$\alpha_1\ell_2/\ell_1 \geq ١$	٩٠	٧٥	٤٥
مثبت مومنتونه	$\alpha_1\ell_2/\ell_1 = ٠$	٢٠	٢٠	٢٠
	$\alpha_1\ell_2/\ell_1 \geq ١$	٩٠	٧٥	٤٥

١. معا دل چوکاټ محا سبوي طريقه

د معادل چوکاټ طريقې څخه عملاً د هر ډول مسلسلو وايو لرونکو پوښښ تختو دتحليل لپاره گټه اخيستل کېږي .د معادل چوکا ټ طريقې څخه د کاراخيستنې شرايط د مستقيم ډ يزاين طريقې په پرتله پراخه دي. ددې طريقې د قوانينو تفصيل د (ACI Code) په (١٣.٧) برخه کې واضح شو ي دي . (٩ : ٢٥٧) .

معادل چوکاټ د طريقې کړنلاره

د پوښښ د هوارو تختو د مومنتونو د محاسبې لپاره د معادل چوکاټ طريقې کړنلارې څخه په لا ندې ډول يادونه کېږي:

٢. د پوښښ دهوارو تختو پلان په طولاني او عرضاني لورو د پايو او د پوښښ تختو په چوکا ټ (column- slab frame) وېشل کېږي.

۳. د پوښښ تختو دلوري په پام کې نيولو سره د پا يو تر منځ فاصله د وايو اغېزمن يا محاسبوي اوږدوالی دی.
۴. د پوښښ تختو اغېزمن يا محاسبوي عرض په پلا ن کې د پا يو د محورنو تر منځ د حقيقي فاصلې سره مساوي دي.
۵. د پوښښ تختې عرض د پايو په تسمه(column strip) او په منځنۍ تسمه(middle strip) با نـدې وېشل کېږي.
۶. د پايې د تسمې عرض د پوښښ تختې د عرض د نيما يي سره او د منځنۍ تسمې عرض د پوښښ تخـتې د عرض د نيما يي سره مساوي دې.
۷. کولا ی شو چې چو کاټ په (hardy cross) ميتود او يا د کوم بل مناسب ميتود په واسطه تحليل کړو. (۲ :۲۳– ۲۲) .

معادل چو کاټ ميتود کې اتکا يي مومنت(Fixed End Moment) , سختي(Stiffness)او carry over factors محاسبه
په (ACI Code) کې د معادل چوکا ټ ميتود له مخې د پا يي او د پوښښ تختې چوکا ټ د تحليل لپا ره په تفصيل سره د ټولو عنا صرو سختې د مقطعې د قطعې څخه په لاندې ډول محاسبه کېږي:
($k := 4$, $COF := 0.5$ او $FEM > \frac{q \cdot l^2}{12}$) قبلېږي چې دغه قيمتونه يې د جد ولونو له مخې اخيستل کېږي . (۹ : ۲۵۸) .
د پوښښ د هوارو تختو د خارجي او د ا خلي پا يو لپاره د (k_t) ، (k_c) او (k_{ec})محاسبه
k_t–دتاوېدنې شخې(Torsion stiffness) د ه چې د (attached torsion member) لپاره د لا ندې فورمول له مخې محاسبه کېږي:

$$= \sum \frac{9 + E_{cs} \cdot C}{l_2 (1 - {}^{c_2}/_{l_2})^3} k_t \quad \text{.....(۳)}$$



۵-ب شکل د پای او د پو ښښ تختې چو کا ټ



۵-ا لف شکل د پای او د څنډ ې پو ښښ تخته

۵- شکل: د پاي او د څنډ ې پو ښښ تخته او د پا يي او پو ښښ تختې چو کاټ (۹ : ۲۶۹)

(l_2):له د پوښښ تختې د تسمې په اوږدو کې د تسمې عرض دی چې دی ته نښتې تاوېدونکي عنصر Attached Torsion Member)هم و يل کېږي .بس(ℓ_2)د همدې عنصر عرض دی چې به محا سبو کې ددې عنصر له عرض سره موازي د پا يې اندازه (c_2) ده د او د پوښښ تختې د تسمې د اوږدوالي په ا متد اد د پايي اندازه (C_1) فرضيږي.
د لته(C) د تا ويدنې ثا بت قيمت دی چې د څنډو پوښښ تختو اومنځنيو پو ښښ تختو د قطعه شوو مقطعو لپـــاره د لا ندې فارمول په واسطه محا سبه کېږي:

$$c = \sum (1 - 0.63 \frac{x^2 y}{3} \quad \text{.....(۴)}$$



- شکل: په چوکاټ کې د پایو موقعیت . (۹: ۲۲۹).

د لته د k_c – د پا ی سختې ده . چې د لا ند ی فو ر مول له مخې محا سبه کېږي.

$$k_c = \frac{K_{AB} * E_c * I}{H} \quad (۵)$$

د لته(I د پا یې انر شیاءیي مومنت دی(I.=b*h^3 / ۱۲) او(H) د پا یې ار تفا ع ده اود(K_{AB}) قیمت د جدو ل څخه اخیستل کیږي.

(۴ : ۵۳۸) , (۹ : ۲۲۸ ÷ ۲۲۵).

وېشونکی ضریب **(Distribution Factor)**

دګادر او د پایه په مفصل (Joint)کې دبې توازنه مومنت د موازني کونی(Factor)دنسبت څخه عبارت دي .او یا په یوه مفصل کې دمورد نظرساختماني عنصرد سختې تقسیم دمفصل په مجموعي سختې د نسبت څخه په لا س راځـي چې دلا ندې شکل لپاره په(B) مفصل کې محاسبه شوې دی: (۵ : ۵۱۷). , (۳ : ۵۵۲) .

D.F For the beam AB = $\frac{K_{AB}}{K_{AB}+K_{BC}+K_{BE}}$ (۶)

D.F For the beam BC = $\frac{K_{BC}}{K_{BC}+K_{BA}+K_{BE}}$ (۷)

D.F For the column above = $\frac{\frac{K_{BE}}{2}}{K_{BA}+K_{BC}+K_{BE}}$ (۸)



۷- شکل:د چوکاټ په غوټه کې د مومنټ وېشنه (۴ : ۵۱۷) .

Carry over Factor

دیوه مفصل د مومنټ نسبت بل مفصل ته انتقا لید نه د(Carry Over Factor)په نوم یا دیږی . (۵ : ۵۱۷) ، (۳: ۵۵۳).

د پورتنیو معلوما تو پربنسټ د مستقیم ډیزاین میتود او معادل چوکاټ میتود کړنلارو له مخـې د پوښښ دهوارو تختو پلان د ا خلي پوښښ تختو مومنټونه په لاندې ډول محاسبه کوو :

= 11.5 k N / m^2 $f_c = 21Mpa$. $f_y = 275Mpa$. U_L ،

د لا ندی پلان له مخې د (x) او (y) په دواړو لورو د وایو شمیر او د وا یو تر منځ فا صله یې (5.35 m) سره مساوي دې ښودل شوی دی.



8- شکل د پو ښښ د هوا ر و تختو پلا ن

حل:

د پورتني پلا ن له مخې لومړی په مستقيم ډ يزاين ميتود پربنسټ محاسبې تر سره کوو ، چې ستا تيکي مومنټ په لاندې ډول محاسبه کېږي: د سلب په في متر مربعه کې ډ يزاين مجموعي با ر (q_u - 11.5 KN / m^2) دی لرو چې:

$$M_0 = \frac{q_u * l_2 * l_n^2}{8} = \frac{11*5.35*5^2}{8} = 184KN.m$$

اوس د لاند ينی شکل له مخې د پو ښښ تختې د محاسبې لپاره د پو ښښ په پلان کې د پا يو او منځنۍ تسمې ښلو.



9 - شکل: د پو ښښ د هوا ر و تختو پلا ن کې د پا يې د تسمې او منځنې تسمې عرض ښودل شو ی دی.

10 - شکل د پوښښ په پلان کی د پا یـ او منځنی تسمی لپاره مثبت او منفـ مو مومت گر اف



11 - شکل د پوښښ په پلان کې د پا يي تسمې لپاره مثبت او منفي مو منتټ گر ا ف.



12- شکل د پوښښ په پلان کې د منځنې تسمې لپاره مثبت او منفي مو منتوېه گرا ف.



د ترتيب شوي پلان له مخې د معادل چوکاټ ميتود پر بنسټ د پوښښ د پايي تسمي او منځني تسمي د مومنټ قيمتو نو محاسبا ت تر سره کوو او د مومنټ په محا سبوي ډ ياگرامونو (diagrams) په د ا خلي او خا رجي وا يو کې په لا ندی شکلونو کې ښا يو:

10 - شکل د پوښښ په پلان کی د پا یـ او منځنی تسمی لپاره مثبت او منفـ مو مومت گر اف



11 - شکل د پوښښ په پلان کې د پا يي تسمې لپاره مثبت او منفي مو منتټ گر ا ف.



12- شکل د پوښښ په پلان کې د منځنې تسمې لپاره مثبت او منفي مو منتوېه گرا ف.



پايله:

دپوښښ د هوارو تختو د مومنټ محا سبه دمستقيم ډيزاين او معادل چوکا ټ په واسطه تر سره شوه اود د واړو طريقو له محاسبې څخه لا ندينۍ پا يلې په لاس راغلې:

۱. که د پوښښ هوارې تختې د دوه لوريزه پوښښ تختو شرايط پوره نه کړي نود مومنټونو دمحا سبې لپاره د مستقيم ډ يز اين طريقې ګټه نه اخيستل کيږي.

۲. د معادل چوکا ت ميتود څخه د پوښښ د هر ډول هوارو تختو پو ښښونو د مومنټو نو د محا سبې لپاره ګټه ا خيستل کيږي او د مومنټو نو د محا سبې لپاره يې شر ايط د مستقيم ډ يز اين ميتود په پرتله پر اخه دي.

۳. دمستقيم ډ يز اين مېتود د دوه لوريزه پوښښ تختېو دمومنټونو دمحا سبې لپاره ډېر پخوا نې او زوړ ميتود دی هغه مهال ترې ډېره ګټه اخيستل کېدله چې کو م ځانګړې کمپيو ټرې سا فتويرونو شتون نه لره.

۴. دمعا دل چوکا ټ ميتود د لا س (manual) په واسطه او د کمپيو ټرې سا فت ويرونو په واسطه د پوښښ تختو دمومنټونو دمحا سبې لپاره په پراخه پيمانه د ګټې اخيستنې وړدی.

۵. مستقيم ډ يز ا ين ميتود کې د مومنټ د وېشنی ضريبونه اختيا ري دي او په تجر بوې ډول قبلېږي او محاسبه يې په يوه دوره کې تر سره کېږي.

۶. په معادل چوکا ت ميتود کې د مومنټ د محا سبې دقت لپاره د مومنټونود محا سبې څو دوري سرته رسېږي چې په پايله کې د مقطعې ډ يزاين ډ اډ منو ی.

۷. که دپوښښ په تختې با ندی له يوه ټنه ډ برمتمر کز بار عمل وکړي، نود مستقيم ډيز ا ين ميتود د مومنټ د محا سبې لپا ره منا سب نه دی او اړينه ده چې د معادل چوکا ت ميتود څخه کار وا خيستل شي.

۸. دمعادل چوکا ت مېتود سربېره له عمو دي بارونو څخه د افقی بارونو (د با د او زلز لی قوه) د محاسبې لپاره ډ بر وړ او ښه مېتود دی.دا ځکه چې په مستقيم ډ يز اين ميتود کې افقی با رونه نه محاسبه کيږي.

۹. په مستقيم ډ يز ا ين ميتود کې د پوښښ تختې تسمې اوږدوالی د پا يه له مرکز څخه بيرون لوري ته (10%)سلنه مجاز دی، خو په معا دل چوکا ت مېتود کې د پوښښ تختې تسمې اوږدوالی له دپايو دويو د مر کزڅخه تر مرکزه په پام کې نيول کېږي.

وړانديزونه:

په دې مقاله کې د دواړو مستقيم ډيزاين او معادل چوکاټ مېتودونو د څېړنيزې پرتلنې په پايله کې لاند يني وړانديزونه کېږي:

۱. د پوښښ دهوارو تختو د مومنټونو د محاسبې لپاره د معادل چوکاټ مېتود ډېر اغېزمن دی.

۲. د پوښښ دهوارو تختو د مومنټونو د محاسبې لپاره د معادل چوکاټ په مېتود کولی شود کمپيوټرې سافتويرونو څخه په ډېراسانۍ سره ګټه واخيستل شي.

۳. د معادل چوکاټ طريقه يو نړيوا له طريقه ده ، چې نه يوا زې په (ACI code)کې دپوښښ تختو د محاسبو لپاره ترې ګټه اخيستل کېږي،بلکې په بريتانيايي(British Code)، په ايرو (Euro code) او په (IS)هندي(هندي ستنندردونو)کې ترې هم ګټه اخيستل کېږي.

۴. د معادل چوکاټ طريقې خطا کمه ده او د محا سبې د قت يي زيا ت دی.

ماخذونه:

1. AC I Committee 318 (2008) ,Building Code Requirement f or Structural Concrete (AC I 318 .2008) and Commentary , American Concrete Institute Farmington HillsMI p (238 : 1
2. Ghosh Moy Karuna (2011). Practical Design of Reinforced Concrete Structures. New Delhi Phi Learning Private Limited . Pp (22.23)
3. Khurmi, R.S. (1992). Theory of structures . Seventh Edition. Ram Nagar .New Delhi. S . Chand Company (Pvt) . Ltd. Pp (535,556)
4. McCormac , C . jack and Browr , H . Kussell {2014).Design of Reinforced Concete . Ninth Edition . United State of Amerca . Pp(491,492,495, 538)
5. Megson , T.H.G .Dr (2010) Structural and Stress Analysis . Second Edition. China. Elsevier l.td P (517)
6. Mosley BILL Bungey John and Hulse Ray (2007). Reinforced Concrete Design to Euro code2.sixth Edition . London and New yurk . Palgrave Macmillarm l.td P(228, 229)
7. Nillson , H. Arthur and Darwin David (1997). Design of Concrete Structures . Twelfth Edition .Florida . The McGraw Hill Companies. Inc. P p{394,427-428,431,435, 436)
8. Syal I,C . and Goel,A.K . (2008) Reinforced Concrete Structures. Ram Nagar .New Delhi. S . Chand Phl Learning Private Limited. Pp(180,181,182)
9. Wight , K .Jemes and Macgregor, G . Jemes (2009). Reinforced ConcreteMechanics and Design.Fifth Edition . Ney Jersey. Pearson Education .Inc .P p(622,624,,639,641,642,643-

,657,658,665.668,669)

پوهنمل حبيب الله (حيدری)
پوهنځی تعليم و تربيه
ديپارتمنت تاريخ
تقريظ دهنده: پوهنوال مستعلی نيازی
استاد پوهنځی تعليم و تربيه

زمامداری حبیب الله کلکانی

خلاصه:

حبیب الله کلکانی در سال)۱۲۲۸)هـ ش ، در قلعه عظیم کلکان کوهدامن تولد گردیده، پدرش امین الله نام داشت در وقت عسکری در قلات وظیفه آب رسانی قطعه عسکری خویش را داشت. در سال های (۱۹۲۵-۱۹۲۸) میلادی در داخل کشور زنده گی می کرد ، و بعدیک مدت زمان را در ولایت شمال غربی هند و سرحد آزاد سپری نمود. حبیب الله در سال های (۱۲۹۸-۱۲۹۹)هـ ش، به باغداری و انگور فروشی، و در زمستان به هیزم چینی مشغول بود ، در اواخر سال(۱۲۹۹)هـ ش ، به خدمت عسکری جلب گردیده. در سال (۱۹۲۸)میلادی، هنگامی که امان الله خان به مسافرت کشور های اروپایی مصروف بود ، حبیب الله پس از یک سلسله عملیات ناکام که تعدادی از همکاران وی، توسط قوای امنیتی وقت دستگیر شدند. بناء بر روابطی که با روحانیون داشت، آشتی واقعی بین او و امان الله خان دشوار بود ، بلکه اشتباه اصلی به شخص شاه و ریس تنظیمه راجع می شود که او را با پول و سلاح تقویت کردند.

از سال (۱۳۰۳)هـ ش ، به بعد به دلیل ترک خدمت عسکری با اسلحه مورد تعقیب دستگاه امانی بود ، بعد از این واقعه او در جای معین زندگی نداشت. در این وقت به پشاور رفت و در بازگشت به کوهدامن دسته ی مسلحی که تعداد ایشان ۸۰ نفر بود یکجا شدند ، حبیب الله دسته و باند سید حسین را تقویت بخشید ، به همان ترتیب موافقت نامه در حاشیه قران کریم نوشته شد. حبیب الله با ۱۰۰ نفر خود به حکومت تسلیم شدند ، و برای حبیب الله و سید حسین رتبه نظامی غند مشری اعطا گردید.

در ۲۴ قوس(۱۳۰۷)هـ ش ، قوای کمکی برای کلکانی از شمالی رسید ، و بار دیگر به حمله پرداخت. حبیب الله کلکانی مجبور به عقب نشینی در باغ بالا شد. در ۳ جدی همان سال حبیب الله کلکانی با شیرجان صاحبزاده، و محمد کریم صاحبزاده در باغ بالا بود توسط فیرتوپ دولتی به چانه خویش زخم برداشت، که بعداً به سفارت انگلیس پناه برد و انجا تداوی گردید. علمای شمالی به ضد امان الله خان فتوای کفر دادند. شب ۲۴جدی همان سال حمید الله به طرف شهر کابل در حال پیشروی بود ، امان الله خان در شب۲۴ جدی خلع خود را اعلان و زمام اموردولت را به برادر خود عنایت الله سپرد. در ۲۵ جدی یک تعداد حاضر باشها سوار موتر های وزارت دربار، به حسین کوت نزد حبیب الله آمده و خبر فتح کابل را به او رسانیدند. حبیب الله سوار موتر امان الله خان شد وبه طرف کابل آمد و در قصر باغ بالا جابجا شد ، مردم شهر به تبریکی و دیدن شاه جدید به باغ بالا امدند.

کابینهٔ حبیب الله کلکانی یک کابینه کوچک و محدود بود ، چور، چپاول، به نکاح در آوردن اجباري دختران کابل، کاسهٔ صبر مردم را لبریز ساخته بود. شاه ولی خان با قوای تازه دم وزیری و یک تعداد اقوام جاجی ها مستقیماً به سوی کابل پیشروی نمودند. حبیب الله از ارگ فرارنموده، به طرف کوهدامن رفت و مي خواست از آنجا به مقابله ادامه بدهد ، ولې نادر خان به تاریخ ۱۵ اکتوبر سال(۱۹۲۹)م به کابل رسیده و واک را در دست گرفت.

مقدمه:

اصلاحات دوره سلطنت امیر امان الله خان یک سلسله نارضایتی های اقشار مختلف جامعه را به میان اورد ، زیرا اصلاحات مذکور به امتیازات اقشار خوانین، روسای قبایل، روحانیون بزرگ محافظه کار، از امتیازات خویش چون

داشتن دسته های نظامی،آزاد بودن مکلفیت عسکری، داشتن دستهای آزاد محاکم و دیگر امتیازات آنها صدمه وارد مي نمود. بزرگترین طبقه، جامعه یعنی دهاقین نیز از اصلاحات امان الله خان کدام مفاد به دست نیاوردند، که سبب نارضایاتی ها در مقابل حکومت امان الله گردید.

دیگر اینکه دولت انگلیس جواسیس خویش را در لباس روحانیت در بین آنها مي فرستاد تا در مغشوش ساختن اذهان مردم در مقابل امان الله خان فعالیت نمایند. باید یاد آور شد که علیه شاه امان الله خان مخالفت ها روز تا روز افزایش پیدا میکرد، که در نتیجه درفصل خزان(۱۹۲۸ م) در ولایات مشرقی علیه دولت امان الله خان شورش بر پاشد، که در راس آن روحانیون قرار داشتند. در این وقت یک گروپ دیگر به تحریک حبیب الله کلکانی در ولایت پروان و کاپیسا فعالیت داشتند، حکومت جهت مفاهمه و آرام ساختن گروپ مذکور هیئت را که در راس آن احمد علی خان قرار داشت به ولایات کاپیسا و پروان اعزام نمود.

پس از مذاکره و مطالعه وضع در قسمت شمال کابل، هیئت پیشنهاد نمود، تا حکومت با گروپ حبیب الله کلکانی داخل مذاکره شود و گروپ او را شامل اردو سازد این پیشنهاد ازطرف امان الله خان پذیرفته شد. پذیرفتن پیشنهاد مذکور، اعتبار حبیب الله کلکانی را در بین مردم بیشتر ساخت. از طرف دولت امان الله خان کوشش های زیاد صورت گرفت، تا حبیب الله کلکانی را دستگیر نماید و روحانیون پرنفوذ شمالی کابل را در پهلوی خویش قرار دهد، ولی به نتیجه نرسید.

حبیب الله کلکانی طبق معلومات موجوده و قبلی آنعده مامورین را که بالای دهاقین ظلم و ستم میکردند به قتل میرسانید ودارایی اشخاص ثروتمند را به غارت مي بردند، و آنرا در بین دهاقین فقیر و نادار توزیع مي نمود. شاید علت اساسي که دولت امان الله خان به دستگیری کلکانی موافق نشد این بود که حبیب الله کلکانی از طرف دهاقین حمایت میگردید.

هدف:

۱. معلومات مختصر پیرامون به قدرت رسید حبیب الله کلکانی.
۲. معرفی و شناسایی عوامل قیام حبیب الله کلکانی.

شخصیت حبیب الله کلکاني

حبیب الله کلکانی در سال(۱۳۲۸)هـ ش، در قلعه عظیم کلکان کوهدامن تولد گردیده، پدر شان امین الله نام داشت در وقت عسکری در قلات وظیفه آب رسانی قطعه عسکری خویش را داشت. پدر حبیب الله کلکاني را رفقایش بنام، سقاو یاد میکردند. پدرش باغبان مستوفی محمد حسین خان (وزیر مالیه وقت امیر الله حبیب الله در سال های(۱۲۹۴-۱۲۹۷هـ ش،) بود.

حبیب الله در سن (۳) سالگی نزد ملای محل غرض یاد گرفتن درس و تعلیم به مسجد رفت از این که بسیار شوخ و بیباک بود، چیزی یاد نه گرفت، در کار های خویش قاطع بود، از شجاعت خاص بر خوردار بود، اکثر دوره جوانی خویش را در کار های زمین و انگور داری سپری نمود. حبیب الله در ایام جوانی با دختر خواجه خان گل کلکانی ازدواج نمود، که وی بعد ها از سبب دلیری و شجاعت ایکه داشت و همیش در جنگها شرکت می نمود به نام بی بی سنگری شهرت یافت. حبیب الله در اواخر سال (۱۲۹۹)هـ ش، به خدمت عسکری جلب گردید. در سال (۱۳۰۰)هـ ش، حبیب الله کلکانی به کمک و یاری مولوی عبدالحی پنجشیری با عدهء از یاران خود به شهر، دوشنبه جمهوری تاجکستان رفت، در همان جا با دسته انور پاشا ترک، که علیه روسها می جنگید یکجا شد.(۱۰: ۴۲۹-۴۳۰).

بین سال های(۱۹۲۵-۱۹۲۸)در داخل کشور زندگی مي کرد و بعداً یک مدت زمان را در ولایت شمال مغربی هند وسرحد آزاد سپری نمود. در سال(۱۹۲۸)هنگامی که امان الله خان به مسافرت کشور های اروپا مصروف بود، حبیب الله پس از یک سلسله عملیات های ناکام که تعدادی از همکاران وی توسط قوای امنیتي وقت دستگیر شدند.

بعد حبیب الله و سید حسین هر دو به سرحد رفتند، در همین وقت وزارت خارجه افغانستان فهرست یک تعداد ازدزدان را که این دو تن هم شامل همین فهرست بودند، به سفارت برتانیه مقیم کابل تسلیم داد، از دولت مذکور تقاضاً نمود تا

اشخاص مذکور را زندانی ساخته، و یا از سرحد خروج نماید. به همین اساس پولیس پشاور دو نفر شان را به نامهای عظیم و عثمان گرفتار نمودند. و هر یک را به مدت (۳) سال زندانی نمود.

سید حسین پیش از گرفتاری فرار نمود، اما پولیس از دستگیر نمودن حبیب الله و برادرش حمید الله که در نمک مندوی پشاور دکان سماوار داشتند، به دلیل نداشتن اسناد علیه ایشان خود داری نمود و چندی بعد آنان پشاور را ترک نمودند.

به هر حال این نکته مورد توجه بود که با در نظر گرفتن شرایط آن زمان، و پیوند نزدیک ایکه حبیب الله با روحانیون داشت، اشتی واقعی بین او و امان الله خان دشوار بود، بلکه اشتباه اصلی به شخص شاه و رئیس تنظیمه احمد علی خان راجع می شود، که او را با پول و سلاح تقویت کردند ۵۷۴:۹-۵۷۵).

عوامل جبهه گیری حبیب الله کلکانی علیه دولت شاه امان الله خان:

وقتیکه حبیب الله کلکانی از قطعه عسکری رخصتی گرفته بود، با تفنگ دست داشته خود در دشت قلعه حاجی، با دسته دزدان و رهزنان روبرو میگردد، به وی اخطار می دهند که تفنگ را به زمین اندازد، حبیب الله اصرار می ورزد که تفنگ مال دولت و مردم است فردا، آن را از من می خواهد. بین دزدان و حبیب الله برخورد مسلحانه صورت می گیرد، در نتیجه از دزدان به نامهای افضل و پاچا ،کشته و دو نفر دیگر زخمی و متباقی انها فرار می کنند.

وقتیکه حبیب الله از طرف دولت امان الله، اعلان در بدل کشته شدگان فی نفر(۳)هزار افغانی خبر شد، به این فکر شد که شاید از حکومت دریافت نماید، مستقیم به اداره کوتوالی کابل آمد، کوتوال او را حبس کرده و به مقامات بالا خبر داده، که افراد او دو نفر از دزدان را کشته و حبیب الله را با سلاح دستگیر کرده و چند میل سلاح را از نزد دزدان گرفته است.

از سال (۱۳۰۳)هـ ش، به بعد به دلیل ترک خدمت با اسلحه ،مورد تعقیب دولت امانی بود، بعد از این واقعه او در جای معین زندگی نداشت، بلکه به صورت فراری ومخفی در این جا و آن جا زندگی می کرد، در این وقت با دولت عقده گرفته بود، وبه ایجاد گروه و دسته ای پرداخت که در سال های(۱۳۰۳-۱۳۰۴)هـ ش، شهرت زیاد پیدا کرد، دسته ی رهزنان او که اکثراً اموال سرمایه داران را تاراج میکردند، رنگ سیاسی به خود گرفت. در همین وقت آن عده از روحانیون که با رژیم امان الله مخالفت داشتند با حبیب الله یکجا شدند.

در سال(۱۳۰۴)هـ ش، والی احمد علي خان به شمالی رفت در(۱۳۰۲)هـ ش، حبیب الله چند بار خواست، خود را تسلیم مقامات دولت امانی نماید. یک روز حبیب الله و سید حسین خان تا پل محمود خان و منار یادگار آمدند. اما محمد ولی خان از دیدن و رسانیدن شان به نزد شاه معذرت خواست.

در این وقت آنها به پشاور رفتند، و در بازگشت به کوهدامن دسته مسلح که تعداد ایشان (۸۰)نفر بود، یکجا شدند، حبیب الله دسته و باند سید حسین را تقویت بخشید، در این وقت شهرت زیاد کسب کرد. در عقرب سال (۱۳۰۷)هـ ش، راه کابل و شمالی را مسدود کرد.

شیر جان خان، که مرد مجرب بود، و در حکومت شمالی سابقه کاری داشت، بر علاوه کندک نظامی، به تشکیل گروه داوطلبان قومی اقدام کرد، به همین ترتیب چندین بار حبیب الله و رفقایش را مجبور به فرار کرد. در این وقت ریس تنظیمه جدید شمالی احمد علی خان از کابل رسید، و شیر جان خان را برطرف نموده، احمد علی خان راه مصالحه و مفاهمه را در پیش گرفتند.

حبیب الله و سید حسین به سرای خواجه، غرض ملاقات نزد احمد علی خان آمدند، بعد از مذاکره احمد علی خان، به جبل السراج رفت، و به حکومت اطلاع داد که او مصالحه کرده است و افراد محبوس حبیب الله مانند ملک محسن و غیره رها شوند (۴۳۰:۱۰-۴۳۲).

اغاز جنگ

در جبل السراج احمد علی خان، ضمن جرگه با موسفیدان و نوجذبی های عسکری راجمع و به کابل فرستاد، اما حبیب الله که به ضعف دولت پی برده بود فعالیت خویش را گسترش داد، و بالای سربازان نوجذبی که عازم کابل بودند، حمله کرد که چندین سرباز دولتی کشته شدند.

بار دیگر احمد علی خان، به مذاکره حاضر شده البته به میانجیگری قاضی غلام حضرت قره باغی با حبیب الله و سید حسین در باغ عارف ملاقات کردند ، مگر حبیب الله کلکانی گفت که بالای حکومت اعتماد ندارد. به همین ترتیب موافقت نامه در حاشیه قرانکریم نوشته شد.

حبیب الله با(۱۰۰) نفر خود به حکومت تسلیم شدند ، از طرف شاه امان الله نظر به پیشنهاد احمد علی خان، برای حبیب الله و سید حسین رتبه نظامی (غند مشری)اعطا گردید ، به اندازه(۸۲)میل تنفگ (۳۰۳)بر انگلیسی، مقدار کافی کارتوس و معاش سالانه برای فی نفر مبلغ (۳۰۰۰ افغاني) داده می شد که این کار به شهرت شان افزود.(۱۰:۴۳۲).

احمد علی خان، که به تاریخ ۱۹ قوس سال ۱۳۰۷ هـ ش ، طرف کوهستان برای نو جذبی ها رفت و در آنجا جرگه کوهستانی ها و تگابی ها را دایر نمود. ولی آنها از دادن جلبی ها رضایت نشان ندادند ، و گفتند حاضر نیستند در برابر برادران خود بجنگند. طرفداران حبیب الله، ملاها ، خوانین و تفنگ داران کوهدامنی در قلعه ملاویس الدین خان جمع شدند تصمیم گرفتند تا قطعات نظامی حکومتی را در کوهدامن خلع سلاح نمایند.

حبیب الله کلکانی به یک حمله، به برج شهرارا نزدیک شد ، در همین وقت محمد ولی خان کفیل شاه و عبدالعزیز خان وزیر حربیه، با عدهء از افراد و عده یی از طلاب عسکری به شهرآرا رفتند ، در زد و خورد کلوله پشته چهار نفر حبیب الله اسیر و چندین تن زخمی و یک نفر کشته شد.

در(۲۴)قوس(۱۳۰۷)هـ ش ، قوای کمکی برای کلکانی از شمالی رسید و بار دیگر به حمله پرداخت، اما قوای دولت به ضد حمله پرداختند ، حبیب الله کلکانی مجبور به عقب نشینی در باغ بالا شد.

در(۳)جدی همان سال حبیب الله کلکانی با شیر جان صاحبزاده، و محمد کریم صاحبزاده، در باغ بالا بود ، توسط فیر توپ دولتی به چانه خویش زخم برداشت، که بعداً به سفارت انگلیس برده شد ، و آنجا تداوی گردید. در ناحیه بره کی یک طیاره انگلیس ها توسط افراد حبیب الله کلکانی اشتباهاً سقوط داده شد ، که انگلیس ها توسط طیاره دیگر اخطاریه ها پخش کردند ، که هر نوع اقدام خلاف اتباع و دولت انگلیس به شدت مجازات خواهد شد.(۹:۴۳۵).

جزئیات مسایل که امان الله خان را به دلیل کفر متهم نموده بودند قرار ذیل بود:

۱-لباس جدید ، تراشیدن ریش،۲-تاسیس مکاتب زنانه ، ۳-دور نمودن برقعه،۴-اعزام دختران به خارج فرستاد ،۵-مخالفت با علمای دین، در مکاتب انگلیس تحصیل کردن، ۶- سنۀ قمری را به شمسی مبدل ساختتن،۷- تاریخ و سنه انگلیس را اعلان نمودن، ۸-رخصتی جمعه را به پنجشنبه تخصیص دادن، ۹-معاش ملا امام و موذن ها را موقوف کردن، ۱۰-ملا های شورشی پکتیا را اعدام کردند ،پس اعمال امان الله خان خلاف شرع بوده ، لهذا بیعت خود را با او ساقط نموده و به امیر حبیب الله خان کلکانی بیعت نمودیم (۴:۲۴۰).

اعلان پادشاهی و ترکیب کابینه دولت حبیب الله کلکانی

علمای شمالی به ضد امان الله خان فتوای کفر دادند ، شب(۲۴)جدی همان سال حمید الله به طرف شهر کابل در پیشرفت بود ، امان الله خان در شب(۲۴)جدی خلع خود را اعلان و زمام امور دولت رابه برادر خویش عنایت الله سپرد. ماموران ملکی و نظای همه به او بیعت کردند ، شما نیز بیعت کنید ، در غیر ان قوای دولت بالای شمال حمله خواهد کرد. حبیب الله کلکانی کردند به عطاءالحق صاحبزاده به قهر گفت: اگر از شمالی نمی بودی با تفنگچه خود همین لحظه ترا می کشتم.

(۲۵)جدی یک تعداد حاضر باشها سوار موتر های وزارت دربار، به حسین کوت نزد حبیب الله امده و خبر تسخیر کابل را به او رسانید. حبیب الله سوار، موتر امان الله خان شد به طرف کابل آمده و در قصر باغ بالا جابجا شد ، مردم شهر به تبریکی و دیدن شاه جدید در باغ بالا آمدند ، که در جمله برادر امان الله خان و پسران نصر الله خان و شخصیت مشهور آغا سید احمد صاحب شامل بودند.

(۲۷)جدی روز پنجشنبه عنایت الله خان خلع خود را امضاء کرد و استعفا نامه خود را نوشته بود: اکنون که مي بیند خون مسلمانان نا حق و بیهوده میریزد ، بنا بر آن از حکومت دست کشیده به حبیب الله بیعت مینماید در این موافقت نامه، عنایت الله خان، محمد ولی خان، عبدالعزیزخان، احمد علی خان، غلام دستگیر خان، عبدالغیاث خان، عطاء الحق خان،

سلطان محمد خان ،عبدالوهاب خان، عبدالرب خان، سید قاسم خان، شاه محمود خان، سید عبدالله خان ، میر علی احمد خان و محمد اکرم خان نیز امضاء کرده بودند.

روز جمعه (۲۸)جدی همان سال به اساس جانبین و هیئت میانجی و موافقت قبلی، دو طیاره انگلیسی به ساعت ۱۰ بجه روز به میدان هوایی کابل نشست، و به ساعت ۲ بجه بعد از ظهر طیاره به قصد پشاور پرواز کرد که عنایت الله خانواده اش، اقارب نزدیک، محمد ولی خان و عبدالعزیز خان نیز با آنها بودند. (۴۳۷-۱۰:۴۳۲).

در کابل وظایف عمده دولتی در بین دو دسته اشخاصي که قبلاً به آن اشاره شد ، تقسیم گردیده بود ، سید حسین همکار درجه یک حبیب الله به عنوان نایب السلطنه، وزیری وزارت حربیه را به عهده گرفت.

کابینه حکومت حبیب الله خادم دین رسول الله

یک کابینه محدود و کوچک بود اعضای کابینه قرار ذیل بود.

۱. سید حسین، نایب السلطنه و وزیر جنگ.

۲. محمد محفوظ خان میعن وزارت.

۳. حمید الله (برادر حبیب الله) معین سلطنت.

۴. عبدالغفور خان تگابی وزیر داخله.

۵. عطاء الحق صاحبزاده وزیر امور خارجه.

۶. شیر جان صاحبزاده وزیر دربار.

همچنان اشخاص دیگر بلند پایه حکومت حبیب الله کلکانی قرار ذیل است.

۱. محسن خان والی کابل.

۲. عبدالغنی کلابیگی

۳. میرزا محمد یوسف خان برادرد محمد حسین خان مستوفی الملک

۴. سرمنشی صاحبزاده

۵. عبدالغفور خان رئیس گمرک کابل

۶. ملا برهان الدین کشککی مدیر مسؤل جریده حبیب الاسلام و غیره...

همچنان یک تعداد سرداران واعضای خاندان اشراف کابل که عبارت بودند از:

۱. محمد کبیر سراج

۲. حیدر اعتمادی (پسر عبدالقدوس خان اعتمادی).

۳. سردار محمد عثمان خان

۴. محمد سامی نایب سالار دوره امانی و غیره همراه شان بود (۲-ص۴۱۵-۴۱۶).

وزیر معارف با یک تعداد دیگر در مجالس تامین امنیت عضویت یافتند. فرق بین افراد عادی و افراد عالی رتبه دولتی این بود ، که افراد عالي رتبه همراه با خود حاضر باش داشتند و حاضر باشها همرای خود یک نفر جابر و ظالم داشته، و هرکس که طبعیتاً به نظر حاضر باش خوش نمی خورد ، توسط همان شخص، وی را بیحد و بی اندازه لت و کوب میکرده. حتی استخوان های او را می شکستاندند. کابینۀ حبیب الله کلکانی یک کابینه کوچک و محدود بود. چور، چپاول، دختران کابل را به زور و تهدید ، نکاح میکردند ، این وضع کاسه صبر مردم را لبریز ساخته بود. (۲۰۴:۲).

سقوط حکومت حبیب الله کلکاني

در ماه میزان لیل(۱۹/۱۸) سال (۱۳۰۸)هـ ش ، یک هیئت از طرف حبیب الله کلکانی از ارگ به نزد شاه ولی خان آمد ، که مرکب بودند از سردار علی خان و یک شیخ دو نفر ملا علم های سفید در دست داشته آمدند و علی شاه خان گفت: حبیب الله کلکانی زولانه را شکسته و این پیام را ذریعه من به شاه ولی خان فرستاده است که گفته است: عنقریب تمام ارگ خواهد سوخت و خانواده شما یان (برادران نادر) هم از بین خواهد رفت. در غیر ان ۳-۲ ساعت بعد همه ایشان در اتش سوخته جز

خاکستر بدست تان نمی اید ، شاه ولی خان با شاه محمود خان و دیگران مشوره کرده ، که دو ساعت طول کشیده تا بالاخره فیصله کردند که پیشنهاد حبیب الله سقاو را قبول نمودند. علی شاه خان را نزد خود نگاه داشتند ، ساعت ۱۲ بجه شب یکی از ملا ها پیش شاه ولی خان آمد و گفت که حبیب الله ما را فریب داده بود ، همین که ما را نزد شما فرستاد و شما هم مردم را به مشوره خواستید از موقع استفاده کرده به افراد خود از راه دروازه شمالی ارگ بر امده و جانب کوهدامن رفتند(۵۰۳:۱۰-۵۰۴).

شاه ولی خان با قوای تازه دم وزیری و یک تعداد اقوام جاجي از راه دوبندی به وادی لوگر وارد شده و بدون اعتنا به نیروی حبیب الله در گردیز وسایر نقاط مستقیماً به سوی کابل پیشروی نمود. حبیب الله مي خواست که در داخل ارگ به مقاومت خود دوام داده تا رسیدن قوای ایکه از مزار شریف و دیگر نقاط به کمک خود خواسته بود ، که یک بار دیگر با حریفان خویش دست و پنجه نرم کند ، اما یکی از افسران او به نام پردل خان در حالیکه به ارگ نزدیک میشد ، به ضرب گلوله به قتل رسید و همکار دیگر او سید حسین در رسانیدن کمک به او تعلل ورزید. و حبیب الله از ارگ فرار نموده ، به طرف کوهدامن رفت و می خواست از آنجا به مقابله ادامه بدهد ، اما محمد نادر خان که به تاریخ ۱۵ اکتوبر سال ۱۹۲۹ م به کابل رسیده بود تعدادی از علما و روحانیون را نزد حبیب الله کلکانی فرستاده و او را دعوت کرد در عوض وعده داد که جرایم گذشته او و همراهانش را عفو میکند ، ولی این وعده را نادر خان مراعت نکرده و به تاریخ ۲ ماه نومبر سال(۱۹۲۹) م کلکانی را در ارگ شاهی سنگسار نمود (۷: ۱۲-۱۷).

معروف است که این تعهد در حاشیه قرآن کریم نوشته شده بود و به امضاء شخص نادر خان رسیده بود ، ارسال نمود ، تعهد گردیده بود که در صورت تسلیمی حبیب الله و همراهانش از اسیب دولت در امان می مانند ، ولی همین که حبیب الله کلکانی بروی تعهدی که در قرآن مجید با وی امضاء شده بود با همه اعضای کابینه و مامورین عالی رتبه خود به شهر کابل امده و پادشاهی نادر را به رسمیت شناخته و تسلیم شدند ، نادرشاه با گذشت چند روز پس از تسلیم شدن ان ها همه را تیر باران نموده واجساد آنها را برای چندین هفته در چار راه عام حلق اویز گذاشت، تا مردم این وحشت را یک یک مشاهده نمایند (۱۱۰:۳-۱۱۱).

بی بی سروری، مشهور به بی بی سنگری همسر حبیب الله کلکانی بعد از قتل شوهرش بیست روز در زندان مشقت بار دهمزنگ کابل سپری میگرد ، می گوید:شوهرم به خاطر دین خود را به کشتن داد ، شوهرم خود را سر دین کشته، سر همین افغانستان. (۵۹:۵).

در قدم اول آنعده اشخاصیکه توسط محمد نادرخان به دار آویخته شد ، عبارت بودند ، حبیب الله کلکانی، حمید الله برادر حبیب الله، حسین وزیر جنگ، ملک محسن والی کابل، شر جان وزیر دربار، محمد صدیق خان فرقه مشر پکتیا ،عبدالغنی خان، محمد محفوظ هندوستانی قوماندان امنیه (۲:۲۱۴).

به قول ظفر کاکاخیل: نادر خان ازحبیب الله و سید حسین،درخانه حضرت شیراقای مجددي، پذیرایی کرد ، در این ملاقات حبیب الله به نادر خان گفت:(من نزد تو مانند بهادر ، نزد بهادر امده ام، خدای تعالی به من چند روزی امکان داد حکومت کنم، من در جریان ۹ ماه پادشاه این مملکت بودم، امروز تاج سلطنت به تو تعلق دارد. و توبه شوق خود پادشاهي کن، این کشور را تو به زور شمشیر گرفته ای، وحق داری پادشاه ان باشی. پس از این حبیب الله و سید حسین مهر های خود (مهر امارت، وزارت حربیه، و ریاست تنظیمه ای شمالی را) به نادر خان تسلیم کردند. روز بعد حبیب الله و یارانش به ارگ آورده شد و در یک قطعه مضبوط تحت نظارت گرفته شدند ، بعد از چندی نادر خان به تعهد اش پشت پا کرد و آنان را تسلیم ملیشه های قبایلی کرد. ملیشه های وزیری و جنوبی جمعاً ۱۷ تن (نخست ۹ نفر را و بعدا ۸ نفر را) را به شکل فجیع با سنگ چوب و ا سلحه از بین برده و کشتند.(۱:۱۹۰).

نتیجه:

به تاریخ ۱۱ دسمبر سال(۱۹۲۸)م مجلس که در کلکان دایر گردیده بود حبیب الله کلکانی را به نام حبیب الله غازی به حیث امیر کشور اعلان نموده بزودی سرای خواجه و جبل السراج را تسخیر نمودند و به طرف کابل حرکت کرد.

در کابل قوای کافی نظامی وجود داشت و لی این قوا در مقابل طرفداران حبیب الله کلکانی بنا بر دلایل ذیل مقاومت نشان ندادند.

۱.عساکر اردو را فرزندان شورشیان تشکیل میداد ،که به طرفداری حبیب الله کلکانی شورش نموده بودند.

۲.حکومت امان الله خان بر وعده خود مبنی بر بلند بردن معاشات عساکراز(۲ روپیه به ۲۰ روپیه)عملی نکرده بود.

۳.تبلیغات زهراگین روحانیون محافظه کار، علیه حکومت امان الله خان که گویا فعالیت حکومت افغان خلاف اصول دین اسلام میباشد، تا اندازه یی اردو را در مقابل امان الله خان قـــرار داده و حبیب الله کلکانی به حیث مدافع دین اسلام معرفی گردیده بود.

دولت انگلیس جواسیس خود را در لباس روحانیت داخل کشور نموده، و فعالیت تخریبی خویش را علیه سیاست حکومت مستقل جوان افغان تشدید بخشیده بود تا حکومت مذکور را از قدرت بر کنار سازد.

۴.بتاریخ ۱۴ جنوری سال(۱۹۲۹)م امان الله خان به نفع برادرش عنایت الله خان از سلطنت دست کشید و خود به قندهار رفت.

۵.نارضایتی اقشار مختلف جامعه در مقابل اصلاحات مترقی امان الله خان بزرگترین طبقه کشور دهاقین نیز از اصلاحات مذکور نفع بدست نیاورده بودند .

نا رضایتی ها که در این دوره در جامعه وجود داشت، تا اندازه یی در فرمان حبیب الله کلکانی انعکاس یافته بود که شامل موارد ذیل میباشد.

۱.تمام باقیات سال های گذشته لغو گردید.

۲.جلب عسکری سابقه لغو و هر نفر تنها داوطلبانه برای دولت خدمت میکند و برای عسکر ماهانه (۲۰) روپیه و(۴)سیر گندم پرداخته مي شود وغیره.

به همین طور حبیب الله کلکانی در سیاست داخلی خود به وعده هایش وفا نکرده نه تنها دارائی طرفداران امان الله خان را بلکه دارایی تجار ملی را نیز مصادره نموده، تجار ملی را در برابر خود قرارداد.در سلطنت حبیب الله کلکانی تمامی پروگرام های دوره امان الله خان از بین رفت.

ماخذ

۱.بارش، وداد ، خلیل الله(۱۳۸۷)هـ ش. زمامداری حبیب الله کلکانی.ناشر: کابل انتشارات سعید.

۲. پیغام،جان محمد(۱۳۹۰)هـ ش.د شلمی پیړۍ په لومړیو دریو لسیزو کې افغانستان د سیاسي او فرهنگي بهیر څېړنه. مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

۳. چرخی، خالد صدیق(۱۳۹۰)هـ ش..برگی چند از نهفته های تاریخ در افغانستان. چاپ: المان.

۴. خوگیانی، صدیق الله(۱۳۸۷)هـ ش.انسان و زندگی. چاپ پشاور.

۵. طنین ،ظاهر(۱۳۸۴)هـ ش. افغانستان در قرن بیستم. چاپ: تهران.

۶. عطائی، محمد ابراهیم(۱۳۸۲)هـ ش. د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه. انشارات میوند.

۷. عصاره از لکچر های تاریخ نوین افغانستان(۱۳۶۴)هـ ش. ماه سرطان. طبع کابل.

۸. غبار، میر غلام محمد(۱۳۴۶)هـ ش. افغانستان در مسیر تاریخ.طبع: مطبع دولتی کابل.

۹. فرهنگ، میر محمد صدیق(۱۳۶۷)هـ ش. افغانستان در پنج قرن اخر جلد ۲ چاپ پشاور.

۱۰. مجددی،عبدالحق و فضل الله(۱۳۷۸)هـ ش.حقیقت التواریخ افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر. انتشارات میوند

پوهنيار محمد قايم محمودي
ژبو او ادبياتو پوهنځی
پښتو ژبې او ادب څانګه
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی فضل ولي ناګار
د ژبو او ادبياتو پوهنځي استاد

د پښتو ادب په تاريخ کې د خوشحال پېژندنې ارزښت

لنډيز:

د پښتو ادب تاريخ منځنۍ دوره کابو نيمه د خوشحال او دده د کورنۍ له غړو بحث کوي. که خوشحال نه وای، نو پښتو به اوس د نورو ګاونډيو ژبو له سيالۍ ډېره وروسته پاتې وه. همدی و چې مسجع نثر يې په ساده نثر بدل کړ، پښتو شعر يې په ډېرو ژانرونو کې ځای کړ. دا سمه ده، چې روښاني غورځنګ څه کم يوه پېړۍ مغلي امپراتوري لړزولې، خو کوم ادب يې چې تخليق کړی، يوا ځې هنري او تصوفي ارزښت لري، خو خوشحال په پښتو ادب کې د يوه داسې مکتب خښته ايښي، چې پښتو ژبه يې له خپلو سيالانو ډېره مخکې بېولې ده، او بيا د همدغې نابغه شخصيت زامنو او لمسو دده پل نيولی، هم يې توري وهلي، او هم يې د علم و فرهنګ مشالونه ځلولي دي.

سريزه:

پښتو ژبه د پښتنو د جغرافيايي موقعيت له مخې چې تل يې د منځنۍ او جنوبي اسيا د پراخو ځمکو پر وړاندې د دروازې حيثيت لري، د زمانې له هېښندو او عجيبو پېښو سره لاس و ګرېوان شوې، د سيمې سوق الجيشي ارزښت که پښتانه ساه اخيستلو ته ندي پريښي، خو برعکس يې په ملي روايتو او د کلتور تر ټولو ستر استازي ((شعر)) کې د پېښو او حالاتو انعکاس د پام وړ نوښتونه ځلولي دي، چې د بېلګې په توګه خوشحال بابا ته ګوته نېولی شو.

قدرت ته منظوره وه، چې پر پښتو ادب يو داسې شخصيت ولوروي، چې پر شعري نبوغ سربېره د توري او ډګر قهرمان هم وي. د خوشحال بابا د شخصيت د افاقيت مثال دده په عصر کې نه موندل کېږي، تر دې چې څېړونکي يې په لويديځ کې هم بېلګه نه لري. او دا کومه دعوه نه ده، چې خوشحال بابا پخپله د خپل ځان مثال دی.

موخې:

- د ځوانانو په تېره بيا د ادبياتو پوهنځي محصلينو د خوشحال پېژندنې مطالعې سره مينه او علاقه زياتيدل.
- د ليکوال له پاره د يو فرعي اثر په توګه ترې ګټه پورته شي.

د پښتو ادب په تاريخ کې د خوشحال پېژندنې ارزښت

د پښتو ادب تاريخ د خوشحال له مطالعې پرته نېمګړی څه چې د نشت برابر دی، دا سمه ده، چې روښاني غورځنګ څه کم يوه پېړۍ مغلي امپراتوري لړزولې، خو کوم ادب يې چې تخليق کړی، يوا ځې هنري او تصوفي ارزښت لري، خو خوشحال په پښتو ادب کې د يوه داسې مکتب خښته ايښي، چې پښتو ژبه يې له خپلو سيالانو ډېره مخکې بېولې ده، او بيا د همدغې نابغه شخصيت زامنو او لمسو دده پل نيولی، هم يې توري وهلي، او هم يې د علم و فرهنګ مشالونه ځلولي دي. د خوشحال همه ګير شخصيت يوا ځې تر پښتنو محدود ندی، بلکې ډېر بهرني فرهنګيالي او علما يې تر اغېز لاندې راغلي دي. د شلمې پېړۍ نوميالي فيلسوف او شاعر اسلام علامه اقبال د اسلامي اقوامو د ادب او فلسفې د مطالعې په ترڅ کې له خوشحال بابا نه د عقيدت تر حده اغېزمن ښکاري، اقبال د خوشحال سمبولونه په لږ توپير کټ مټ را اخلي، او ځينو ته لږ څه فلسفيانه

رنگ ورکوي، لکه د خوشحال باز اقبال په شاهين اړوي، او د ځينو څېړونکو په وينا د خوشحال ننگ او پښتو په اقبالياتو کې په خودۍ اوښتې ده. اقبال د خوشحال هنري انتقادي تگلاره ډېره خوښوي او خپلوي:

راز قومی دید و بی باکانه گفت
حرف حق با شوخی یی رندانه گفت

د علامه اقبال په شاعرۍ کې د خوشحال فني روح ځپاند او حتی ژباړې يې هم تر سترگو کېږي.
خوشحال بابا وايي:

د درويش په زړه کې کل کتاب مرقوم دی
که په خوله يې د عربو لغت نه زده

د اقبال اردو شعر:

قلندر جز دو حرف لا اله کچھ بھی نھین دیکھتا

دا د خوشحال بابا شاعرانه افاقيت او نبوغ دی، چې پخپل گفتار او کردار د شلمې پېړۍ فيلسوف متأثر کوي، او تر وړانگو لاندې يې راولي.
د خوشحال بابا د څېړنې له پاره د يوې اکاډمۍ اړتيا ده، چې هر اړخيز کار پرې وکړي. خوشحال له شک پرته يو داسې نابغه دی، چې د ژوند پر هر اړخ ځانله مطالعه او نظريه لري. خوشحال که په موروثي ډول تر يوه وخته د مغلو پلوي پاتې شوی، خو د هغه له اسمانځکو ارادو او ولولو دا په ډاگه ښکاري، چې يوه مشخصه تگلاره او د خپل قام او هيواد د ستونزو په وړاندې ځرگند ملي او ټولنيز ايډيال لري. او همدغه ايډيال د خوشحال بابا په شعري او نثري فنپارو کې گام پر گام ځلاند او ځپاند دی.
د پښتو ادب په تاريخ کې خوشحال پېژندنه يو داسې ارزښتمن باب دی، چې له ادبي مطالعې سره يې د پښتنو گرد تاريخ انعکاس مومي، نو ځکه د خوشحال مطالعه د پښتو ادب او تاريخ د يوې داسې دورې څېړنه ده، چې د پښتنو سياسي او ادبي ژوند يې پر نورو لارو (جديديت او جدت) ورگډ کړی، او همدغو نوښتونو د خوشحال بابا او د هغه د مکتب څېړنې ته په پښتو ادب کې د پام وړ امتياز ور په برخه کړيدی. د علامه اقبال په وينا:

مغل شهسوارو سی کمتر نهین
کهستان کا یه بچه ارجمند

د ((خوشحال ختک)) لنډه پېژندگلوي:
خوشحال بابا په يوه قصيده کې خپله پېژندگلوي داسې رابښيي:

زه خوشحال د شهباز خان يم – چې تورزن يم کان په کان
شهباز خان د يحيی خان و – چې بل نه ؤ هسې ځوان
يحيی خان د اکوړې ؤ – چې په توره شو سلطان
د اکبر بادشاه په دور – شو د خپل ولس تور خان
د هجرت زر دوويشت سن ؤ- چې زه راغلم په جهان
هغه کال پوره پنځوس ؤ – چې شهيد شو شهباز خان
د هغه دور بادشاه ؤ – قدر دان شاه جهان
د پلار ځای يې وما راکړ – په ولس شوم حکمران

خوشحال بابا د هند د مغلي پاچا نورالدين جهانگير د واکمنۍ پر وخت د ۱۰۲۲ هـ ق کال د دوهمې خور (۱۶۱۳ م، مې- جون) د اکوړې په سرای کې زېږېدلی دی، ملک اکوړې د اکبر پاچا په دور کې د خپل لياقت له کبله د ختکو مشر وټاکل شو، دخوشحال پلار شهباز خان او نيکه يې يحيی خان د مغلي امپراتورۍ منصبداران وو.

جلال الدين اکبر ملک اکوړي ته له خيرابادہ تر نوښاره سيمه په جاګير کې ورکړې وه. پر دې سربېره يې دا امتياز هم لاره، چې پر يادہ شاهي لاره د ځارويو د تګ راتګ محصول ټول او سرک وساتي. خوشحال په شپږ کلنۍ کې په لنډي سيند کې وغورځيد، خو نجات يې وموند. په اته کلنۍ کې پرې له څپر نه يو کاڼي راپرېوت؛ او تندی يې سخت ژوبل شو، تر يوې اونۍ له مرګ سره لاس و ګرېوان او بيا مخ په رغېدو شو.

خوشحال د يارلس کلن ؤ، چې بهاکو خان يوسفزي د ختکو د بولاقو پر کلي يرغل وکړ، شهباز خان له لږ لښکر سره چې خوشحال هم پکې ؤ، مقابلې ته ورغی دواړه خواوې په جهانګيري کلي کې مخامخ شوې، په لومړي سر کې ختک غالب معلوميدل، خو په پايله کې يې ماته وخوړه. د ختکو او يوسفزو تر منځ د دښمنۍ يو علت دا ؤ، چې ختکو د يوسفزو د سيمې څه برخه نيولې وه، او بله دا چې ختک د مغلو پلويان او يوسفزي يې مخالف وو.

خوشحال په شل کلنۍ کې په شعر ويلو پيل کړی:

په شل کاله کې ديګ زما د شعر په اور بار شو

پدا دور مې پوخ کړ چې شپيته کاله مې تللي

هغه وخت چې خوشحال د خپل پلار په امر د کوهاټ د ختکو سيمې (څوترې) ته لاړ، له هغه ځايه يې پر عيسی خېلو برید وکړ، خوشحال په دې جګړه کې څرګند بری وګاټه، زياتې روپۍ او ولجه يې تر لاسه کړه.

په (۱۰۵۰) هـ ق کال اکاخېلو له مالیې ورکولو انکار وکړ، شهباز خان له خوشحال سره يوځای د يوسفزو پر اکاخېلو هجوم وروړ، د مردان سيمې ((تورو)) او ((مايارو)) ته نزدې جګړه ونښته، ختکو ماتې وخوړه. شهباز خان په پښه کې د غشي لګېدو له امله پنځه ورځې وروسته مړ شو. خوشحال هم ټپي او له پښتنۍ نه يې غشی په انبور وويستل شو. تاريخ مرصع د دې جګړې په باب وايي، چې د اسې ختک نه ؤ، چې بې پرهاره کور ته ستون شوی وي.

د شهباز خان له مرګ وروسته خوشحال د مشرۍ پګړۍ وتړله، پر يوسفزو يې برید وکړ، او ماتې يې ورکړه. دا وخت شاه جهان پادشاه هم په يوه فرمان کې د خوشحال مشري ومنله. په ۱۰۵۱ کې راجه جګهت سنګهه په ختيځ پنجاب کې باغي شو، پاچا د خپل کشر زوی مرادبخش په مشرۍ لښکر ورولېږه، خوشحال هم له دوه زره لښکر سره په سنګر کې ؤ. او خپله مېړانه يې وښوده. د تاراګړ له نيول کېدو وروسته خوشحال ته انعام ورکړ شو، ترفيع يې هم واخيستله. په (۵۲-۱۰۵۵) کې يې د بلخ او بدخشان په پېښو کې د پام وړ ونډه واخيسته.

په (۱۰۵۹) هـ = ۱۶۴۹ م کې چې شاه جهان له صفويانو څخه د کندهار د نيولو په تکل کابل ته روان شو، خوشحال يې مخې ته ورغی، او تر ډکې پورې ورسره ملګری ؤ. شاه جهان ورته د يوسفزو د سيمې چارې وروسپارلې.

که څه هم ده پخپله وظيفه کې کفايت وښود، خو څرنګه چې شهزاده داراشکوه د بهاکو خان پلوي ؤ. نو شاه جهان د خپل زوی په سپارښت د يوسفزو علاقه بېرته له خوشحال نه واخيستله. په (۲۳-۱۰۶۴ م) کې د خوشحال خان لښکرو درې ځلې بنګښو ته ماتې ورکړه.

د شاه جهان له مړينې وروسته اورنګزيب پاچا شو. په پيلامه کې د خوشحال او اورنګ مناسبات عادي وو. خو وروسته دا فضا خړه شوه، چې په پايله کې خوشحال د (۱۰۷۴) د څلورمې خور په مياشت کې بندي او دوه مياشتې وروسته له پېښوره ډهلي ته واستول شو. خوشحال نزدې دوه نيم کاله په ډيلي او د جېپور د رياست د رنتهبور په جېل کې تېر کړل. او بيا اګرې ته واستول شو، او هماغلته له بنده خوشې شو.

د خوشحال د زنداني کېدو ربړه د مؤرخانو له پاره يوه په زړه پورې موضوع ده، ځينې وايي، چې د اورنګزيب د سلطنت په پيل کې بحري لارو ډېر ارزښت موندلی ؤ، پاچا د رعيت د خوښۍ له پاره د عمومي لارو محصول او ګمرکي عوايد معاف کړل. د خوشحال کورنۍ چې د ملک اکوړي له وخته د لارې باج اخيسته، پدې حکم زيانمنه شوه. او ښايي په يوه او بله بهانه يې نارضايت ښودلی وي. ځينې اټکل کوي، چې د کابل صوبه دار سيد امير خوافي د خپل ځان د کلکوالي له پاره زيار ګاله چې خوشحال له ډګره وباسي. خو غالب ګومان دادی، چې خوشحال بابا په پټه د خپل ټولنيز او ملي ايډيال د تحقق له پاره چې د پښتني امپراتورۍ احياء وه، مبارزه کوله.

پايله:

خوشحال پېژندنې په اړه ليکوالو ډېر کتابونه ليکلي. په دې مقاله کې يوازې د خوشحال پېژندنې ارزښت او اهميت په اړه بحث وشو. که څوک غواړي د پښتو ادبياتو تاريخ په اړه پوهه تر لاسه کړي، مجبور دي چې خوشحال په بشپړه توګه وپېژني، ځکه چې د خوشحال پرته پښتو ادبياتو تاريخ نيمګړی څه، چې د نشت برابر دی.

ماخذونه:

۱. پوهنوال شاه ولي خان. (۱۳۹۱). خوشحال پېژندنه. ختيځ خپروندويه ټولنه: جلال اباد.
۲. ختک، اقبال نسيم. (۱۹۸۷). خوشحال او جماليات. پېښور: جدون پريس
۳. خوشحال ختک. (۱۳۴۵). دستارنامه، د پوهاند رښتين سريزه. کابل: پښتو ټولنه.
۴. زېور، پوهاند ډاکټر زيورالدين. (۱۳۹۰). د پښتو ادبياتو منځنۍ دوره. مومند خپروندويه ټولنه: جلال اباد.
۵. ناګار، پوهندوی فضل ولي. (۱۳۹۱) د بايزيد روښان عرفاني – ادبي ښوونځی. ناګار خپروندويه ټولنه: ننګرهار.
۶. ختک، خوشحال.(۱۳۸۷ل). د خوشحال خان ختک کليات. د عبدالقيوم زاهد ،مشواني په زيار. کابل: اسد دانش مطبعه.
۷. ناګار، پوهندوی فضل ولي. (۱۳۹۰ل). عرفان او پښتو ادب کې يې څرګونه. ناګار خپرندويه ټولنه: جلال اباد
۸. صميم، محمد آصف. (۱۳۷۸ل) ګام پر ګام د خوشحال سره. دانش خپرندويه ټولنه: پېښور

پوهنمل ملالۍ ساپۍ
ښوونې او روزنې پوهنځۍ
د جغرافيې څانګه
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال عزت الله
د ښوونې او روزنې پوهنځي استاد

د ډاګونو او بيابانونو د رامنځته کېدو لاملونه

لنډيز:
صحرا يا صحرايي چاپېريال کې د ژوندیو موجوداتو فعاليت نه ليدل کېږي، د صحرا يا ډاګ د رامنځته کېدو لامل د هوا لوړ او ټيټ فشار مرکزونو موجوديت، د بادونو تګ لوری، په يوه شپه او ورځ کې د تودوخې د درجې پر توپير او اختلاف باندې مهمه اغېزه لري.
يا په بل عبارت چېرته چې د تودوخې د درجې اختلاف زيات، دبادونو د فعاليت غوره مرکز او کلنی اورښت يې له (۲۵) ملي مترو څخه لږ له نباتي او حيواني ژوند څخه خالي وي، د صحرا په نامه يادېږي. په دغه برخه کې د ډاګونو او بيابانو د رامنځته کېدو لاملونه، د ډاګونو جوړښت او ډولونه د صحراګانو فزيکي ځانګړتياوې او د ډاګونو موقعيت په اړه معلومات وړاندې شوي دي.

سريزه:
د ډاګ يا بيابان کلمه هغې سيمې ته ويل کېږي، چې د تودوخې د درجې بدلون په يوه شپه او ورځ کې فوق العاده زيات وي، اورښت پکې په نامنظمه توګه وي، په يو کال کې له يو (۱) نه تر (۱۵) پنځلسو ساتني مترو څخه نه زياتېږي، نباتات د زيرو فايټ يانې ټيټ قدي او اغزي لرونکي بوټي په بڼه کې شنه کېږي، چې د تودوخې د درجې اختلاف د ډېرو د ماتېدو سبب ګرځي او شګلنې ساحې په ډاګونو کې رامنځته کوي.
په صحرايي سيمو کې د حيواناتو او نباتاتو د فعاليت ساحې ډېرې محدودې دي، حتی په ځينو مواردو کې هېڅ کوم ژوندی موجود هم نه ليدل کېږي.
د بادونو تګ لوری د ډاګونو په رامنځته کېدو کې يو غټ لامل ګڼل کېږي او د (Dune) په نوم شګلنې لوړې او ژورې غونډۍ ګانې په بيابانونو او ډاګونو کې منځ ته راوړي.
د صحراګانو موقعيت عموماً د استوا د کرښې په (۱۵ او ۳۵) درجو عرض البلدونو کې قرار لري، يانې د سرطان او جدي کرښو په شاوخوا کې ليدل کېږي، پر دې سربېره د ډاګونو په رامنځته کېدو کې د هوا لوړ او ټيټ فشار مرکزونه هم ډېر مهم رول لري، لکه په افريقا کې د صحرايي اعظم، کالاهاري په آسيا کې د شام صحرا، د عربستان سعودي بيابانونه، د ګوبي صحرا او د استراليا لوی ډاګ د يادولو وړ دی.

موخې:
د دې مقالې له ليکلو څخه مې موخه دا ده، چې ډاګونه او بيابانونه د يوې طبيعي پديدې په حيث د ځمکې پر مخ شتون لري، د هغې په جغرافيايي موقعيتونو او توپوګرافي جوړښت او د هغې د رامنځته کېدو عوامل او ډلبندۍ په اړه لوستونکو ته معلومات وړاندې کړم.
د ډاګ يا صحرايي محيط تعريف
صحرايي محيط هغه چاپېريال ته وايي، چې هلته د ژوندیو موجوداتو فعاليت نه ليدل کېږي، له اوبو او نباتي پوښښ څخه خالي او د اتموسفير اورښت اندازه يې نسبت تبخير ته څو واره لږه وي، د شپې او ورځې د تودوخې ترمنځ ډېر توپير دی. د

صحرايي محيط تر ټولو مهمه ځانګړنه دا ده، چې د مرطوبو سيمو پرخلاف د صحرايي سيمې سيندنۍ شبکې سمندر يا سمندرګيو ته نه رسېږي. او صحرايي رسوبات هم له صحرايي محيط څخه دباندې نه وځي، بلکې د صحرايي محيط په دننه په ټيټو برخو کې رسوب کېږي، مګر يوازې د صحرايي سيمې د خاورې ذرې کېدای شي، چې د سختو بادونو په وسيله له صحراګانو څخه خارج شي، د صحرايي سيمې د ځمکې مخ د تبخيري رسوبي موادو، لکه کلولايدونه او سلفايدونو پواسطه پوښل شوي وي، چې په ځينو ځانګړو صحراګانو کې د مالګو د طبقو پنډوالی لسګونو مترو ته رسېږي. (۲: ۱۰۰-۱۰۱)

په نړيوال مقياس کې د بادونو تخريبي کړنې د اوبو ترجيولوژيکي فعاليت او کړنو لږې نه وي، ولې د نړۍ په ځينو ځانګړو سيمو کې لکه د مرکزي چين صحرا، د کاناډا د هېواد غربي څړ ځايونه او د متحده ايالاتو په پراخو ډاګونو کې د بادي تخريب ميزان او اندازه تر اوبيز تخريب زيات او د ليدو وړ اغېزې را منځته کوي، بادي تخريب د نړۍ په ځينو خاصو برخو کې مخ په زياتېدو دی، چې اصلي لامل يې د څارويو د بيا بيا څرېدنه، د ونو او بوټو له منځه وړل، د انساني ټولنې د زياتېدو له کبله له ځمکې څخه زياته ګټه پورته کول او داسې نور علتونه دي. په دې ډول په نړيوال ډګر کې خاورينې منابع په چټکۍ او له پخوا څخه زياتې مخ په تخريبېدو دي. (۴: ۳_۴)

په وچو سيمو کې د بادونو تخريبي کړنې د اصلي عامل په توګه شمېرل کېږي، په دغو سيمو کې د اوبو تخريبي کړنې د لويو سيلابونو په شکل وي، چې په پايله کې د خندقونو د تخريب لامل ګرځي. (۱: ۱۹۷)

پر پورتنيو مسايلو سربېره اوبه هم د خاورو په تخريب کې ډېر مهم رول لري، دغه تخريباتي کړنې د باران او لويو سيلابونو په شکل وي او يا که د واورې او يخچالونو په شکل وي، پر دې سربېره تودوخې د نباتاتو پوښ او بادونه هم هغه اغېزمن عوامل دي، چې د خاورې په تخريب کې عمده رول لري. (۳: ۴۴_۴۷)

د ډاګونو يا صحراګانو د منځ ته راتګ لاملونه

د بياباني کېدنې اصطلاح Desertification لومړی ځل په (۱۹۴۹ز) کال کې د ابراويل (Abibrerile) له خوا کارول شوې ده. بياباني کېدنه د مختلفو پوهانو له خوا په بېلابېلو ډولونو تعريف شوې، ولې کوم تعريف، چې په (۱۹۹۰ز) کال کې د متحده قومونو له خوا وړاندې شوی، داسې دي.

بيابان کېدنه په وچو، نيمه وچو او مرطوبو سيمو کې د ځمکې د مخ تخريب ورته وايي، چې د اقليمي بدلونونو او انساني مداخلې په پايله کې را منځته کېږي، چې په عمومي ډول لږ اوربښت او نباتي پوښښ لرونکې سيمې بياباني کېدنې ته پوره وړتيا لري. (۵: ۸۲)

